

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

دين او سياست

آيا دين او سياست بېلي بېلي مؤلفې دي؟
څوک دين او سياست سره بېلوي او ولي؟
آيا غير سياسي الهي دين شته؟
اسلامي نظام به څنګه وي؟
مشر به ئې څنګه غوره کېږي؟

حکمتيار

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

بسم الله الرحمٰن الرحيم

مقدمه

يوه له هغو قضاياوو چې دښمنان پرې ډېر ترکيز کوي او خپل اجير مبلغين ئې ګمارلي چې په اړه ئې تبليغات وکړي؛ دا ده چې ثابته کړي دين او سياست سره بېل بېل دي. ګواکې دين د بنده او خداى ترمنځ يوه شخصي علاقه ده؛ بايد په همدې محدوده کې پاته شي او د ټولنې په چارو کې له ښکېل کولو ئې ډډه وشي.

په دې کتاب کې په دې ارتباط بحث شوى چې آيا اسلام د حکومتولۍ، سياسي او اجتماعي زعامت او د ټولنې د چارو د سمبالولو په ارتباط څه لري که نه؛ آيا اسلام د هغو قضاياوو په اړه بحث کړى او لارښوونې لري که نه چې په سياسي او اجتماعي نظام پورې مربوط دي؛ لکه قانون، اداره، اقتصاد، قضاء، محکمه، د جائز او ناجائز په اړه احکام، مجازات او مکافات، د حکومت داخلي او خارجي سياست او نور.

دا کتاب د هغو ۱۸ درسي حلقو د بحثونو او سؤال - ځواب مجموعه ده چې د دين او سياست تر عنوان لاندې؛ د حزب اسلامي په مرکزي دفتر کې او هره اونۍ دوه ځلي ترسره شوې؛ هري حلقې يو نيم ساعت وخت نيولى، ګڼ شمېر مينه والو پکې شرکت کړى؛ د بريا تلويزيون له لورې خپره شوې او دا دئ اوس د کتاب په بڼې کې خپرېږي.

له deenodanish.com څخه ښکته شوى Deen-o-Danish

د اسلامي نظام په اړه څو ابتدائي پوښتني چې له هر مسلمان او غیر مسلمان سره شته؛ دا دي:

مشر به ئې څوك وي؟ مواصفات به ئې څه وي؟ د چا له لوري او د څومره مودې لپاره به غوره کېږي؟ صلاحیتونه ئې کوم، مسئولیتونه ئې کوم او امتیازات ئې کوم دي؟ اسلام دا ټول ټاکلي؛ که تاسو د إسلامي لارښوونو، معیارونو او احکامو په رڼا کي؛ زمونږ اوسني زعماء او تصرفات ئې؛ وڅیړئ؛ نو نه یوازي د دوی تصرفات به سل په سلو کې د اسلامي احکامو او لارښوونو خلاف وموئ بلکي د إسلامي حکومتونو په ټول تاریخ کي به ئې څوک یوه بېلګه هم وړاندي نه کړی شي!!! دوی چې په تېرو څو لسیزو کې؛ کوم خیانتونه، لوټمار او غارت کړی، ملي شتمنۍ ئې تالان کړې، شخصي او دولتي زمکي ئې غصب کړې، بانکونه ئې لوټ کړي، د ۹۱ کود له آدرسه ئې په ملیونونو ډالر حیف و میل کړي، له اشغالګرانو سره ئې د افغانستان د پلورلو معاهدې کړې، دوی ته ئې نه یوازي د هېواد په هر ګوټ کې د اډو جوړولو مجوز ورکړی؛ بلکې د هر افغان د نیولو، د خپلو اډو په زندانونو کې د ساتلو، تعذیبولو، وژلو، بهرنیو زندانونو ته د انتقال، واك او اختیار ئې ورکړی؛ فضاء او زمکه ئې د دوی په واك کې ورکړې وه، په هر ځای، کلي، جومات، مارکیټ، د ښونو او راکټونو ورولو حق ئې ورکړی وو، کوردینات او آدرس دوی ورکول او راکټونه هغوی ورول. په داسي حال کې چې اسلام هیڅ ته د اسلامي هېواد د یوه انچ خاوري پلورلو او په اسلامي هېواد کې د دښمن د یوه سرتېري پاته کېدو منلو اجازه او حق نه دئ ورکړی!!

آیا څوك کولی شي امیر عزل کړي؟ د عزل موجبات ئې کوم دي؟ د عزلولو صلاحیت ئې چا ته سپارل شوی؟ کومه مرجع به ئې عزل کوي؟ که شرائط د عزل فراهم شوو او یو شرعي امیر چې د بیعت له لاري ټاکل شوی؛ د دې وړ وو چې هغه عزل شي؛ دا فیصله به څوک کوي؟ که خلکو غوره کړی وي خو وروسته وګوري چې هغه د خپلو تصرفاتو، د خپل عمر ډېروالي

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

او زړښت، د خپل جسمي یا رواني تکلیف او بېماري له کبله د مشرۍ وړ نه دئ او عزلول ئې وغواړي؛ څنګه به ئې عزلوي، څوك به ئې د عزلولو پرېکړه کوي؟

آیا په دې نظام کې شوری شته که نه؟ شوری به څنګه جوړېږي؟ غړي به ئې د چا له لوري غوره کېږي؟ دا شوری د ولس استازیتوب کوي که غړي ئې د مشر مشاورین دي؛ چې په خپله خوښه ئې غوره کوي؟ لکه اوس چې ګورو د پارلمان تر غړو د جمهور رئیس او د اجرائیه رئیس مشاورین زیات دي؛ داسي مشاورین چې کلونه کلونه ئې معاش او نور امتیازات له دولت اخیستي؛ خو جمهور رئیس په ټوله دوره کې له هغه سره په یوه موضوع هم مشوره نه ده کړې؛ حتی د ملاقات فرصت ئې هم نه دئ موندلی. آیا د شوری پرېکړې ملزِمي دي او مشر د هغوی په وړاندي مکلف دئ او مخالفت ئې نشي کولی؟ او که ئې پرېکړې غیرملزمي دي او د مشر توافق او خوښي ته پرېښودل شوې؟

متأسفانه چې ځینې تش په نامه علماء؛ دا ادعاء کوي چې إسلامي شوری به همدغسي وي لکه د اوسني جمهور رئیس د مشاورینو شوری؛ نه د پارلمان شوری؛ کله ئې چې زړه وغواړي راغوښتلی ئې شي او مشوره تري اخیستلی شي؛ خو مکلف نه دئ چې د هغوی په مشورو عمل وکړي.

آیا په اسلامي نظام کې انتخابات شته؟ دا انتخابات او د ملت رأی ته رجوع کول د سیکولرانو او دیموکراتانو ابتکار دئ؛ او که بنسټ ئې اسلام ایښی دئ؟ د لومړي ځل لپاره په تاریخ کې کله انتخابات ترسره شوي؟ دا چې خلک راغونډ شوي او یو امیر ئې په اتفاق او مشوري سره غوره کړی؛ د دې بنسټ په تاریخ کې چا ایښی؟ دیموکراتانو؛ سیکولرانو غرب او که اسلام؟؟ آیا انتخابات د بیعت بدیل ګڼلی شو؟ آیا مشر د عام بیعت له لارې ټاکل کېږي که هغه د خواصو له لوري او له نورو لارو غوره کېږي او عام ولس له هغه سره په بیعت کولو مکلف دئ؟

deenodanish.com څخه ښکته شوی له Deen-o-Danish

آیا د زور او ځواک په کارولو سره قدرت ترلاسه کول جائز دي؟ لکه کودتا؛ دا چې څو افسران سره یوځای کېږي؛ کودتا کوي، ارګ اشغالوي او یو نوی نظام اعلانوي؛ آیا دا په اسلام کي شته؟ داسي کار جائز دئ که نه؟ اسلام هم په دې ارتباط کومه لارښوونه کړي او که نه؟ غرب هم وایي کودتایي نظامونه نه منو؛ ولي په اسلامي نړۍ کی خو پرېږده په ټوله نړۍ کي که دوی د کوم حکومت حمایت او ملاتړ کوي؛ اکثر ئې کودتایي نظامونه او د تقلب له لاري قدرت ته رسېدلي حکام دي؛ غرب په اسلامي نړۍ کي تقریبا د ټولو هغو نظامونو مرسته کړې ده چې د کودتا له لاري او د استعماري ځواکونو په لاس قدرت ته رسېدلي دي؛ او منتخب جمهور رئیسان ئې نه یوازي دا چې عزل کړي؛ بلکي زندان ته ئې استولي او په شهادت ئې رسولي دي؛ د مستبدو جنرالانو کودتا ګانو حمایت او ملاتړ ئې کړی. نړدې مثال ئې هم مصر دئ؛ فرانسه چې د اروپا د دیموکراسۍ مور ځان ته وایي؛ اما نن د یوه جابر کودتایي نظام جمهور رئیس؛ د مصریانو قاتل؛ السیسي ملاتړ او استقبال کوي؛ آیا په زور قدرت ته رسېدلی واکمن شرعي امیر ګڼلی شو؟ آیا د ده اطاعت واجب دئ او مخالفت ئې ناروا؟ تاسو به وګورئ چې په مسلمانانو کي داسي خلک او ډلي هم شته چې کودتایي نظام ته د ورته نظام حمایت او ملاتړ لازم ګڼي.

دا پوښتني باید ځواب شي، ټول هغه خلك باید دې پوښتنو ته واحد ځواب ولري چې په افغانستان کې د یوه واقعي اسلامي نظام قائمول ئې د ژوند او جهاد سټره موخه او هدف دئ.

مورِ به إن شاء الله په دغو درسي حلقو کې دغو او دې ته ورته نورو پوښتنو ته تفصیلي او د قرآني لارښوونو، نبوي سنت او د صحابه وو د منهج په استناد واضح او مستدل ځوابونه وړاندي کوو. تر نن وړاندي هم دغو پوښتنو ته د ځواب په موخه د حزب اسلامي له لوري د اسلامي دولت اساسي قانون خپور شو او په هغه کې دغو پوښتنو ته په ایجاز او اختصار

deenodanish.com ځخه ښکته شوی Deen-o-Danish

سره ځواب وویل شو، د اساسي قانون ترځنګ د (کوم اساسي قانون د منلو وړ دئ؛ د طالبانو که د اوسني حکومت؟) په نامه یوه رساله هم خپره شوه؛ د دې لپاره چې د دغو قوانینو هغو برخو ته د افغان خدای پال ولس توجه معطوف کړو چې هم له اسلام سره مغایرت لري او هم د روان بحران د ختمولو په ځای مزید ستونزي راولاړوي.

د اسلامي دولت اساسي قانون چې اوس د دوهم ځل لپاره چاپ شو او یو بل کتاب (کوم اساسي قانون د منلو وړ دئ؛ د کابل حکومت أساسي قانون او که د طالبانو اساسي قانون؟)؛ په دې کتابونو کې پر دواړو باندي تفصیلي بحث شوی. هیله ده دواړه کتابونه؛ مخصوصاً د اسلامي دولت اساسي قانون؛ مطالعه او تر نورو ئې ورسوئ؛ د کابل دولت له اساسي قانون؛ د طالبانو له اساسي قانون او د شاهي نظام له اساسي قانون سره ئې مقایسه کړئ؛ وبه ګوري چې له نورو اساسي قوانینو سره؛ د دې اساسي قانون توپیر او امتیاز څومره ژور او پراخ دئ. د اسلامي دولت اساسي قانون؛ هم د محتوی له پلوه او هم د إنشاء او ادبیاتو له پلوه د کابل دولت تر أساسي قانون ډېر لوړ او ښایسته دئ. د دې نظام مهم او څه ناڅه پوه شخصیتونه په دې اعتراف کوي چې د کابل دولت اساسي قانون نه یوازي دا چې د محتوی له پلوه کافي مشکلات لري بلکي د ادبیاتو له پلوه هم ډېري ستونزي لري. هیله مو دا ده چې د حزب اسلامي له لوري وړاندي شوی اساسي قانون؛ په راتلونکي کې د اسلامي دولت د اساسي قانون په توګه ومنل شي؛ إن شاء الله دا کار کېدونکی دئ.

په دې کتاب (دین او سیاست) کې به إن شاء الله تاسو د خپلو ډېرو پوښتنو؛ مستند او مفصل ځوابونه وومونئ؛ که د کتاب د عناوینو فهرست له نظره تېر کړئ نو درته جوته به شي چې په دین او سیاست پوري مربوط؛ ټول مهم قضایا په دې کتاب کې څېړل شوي. هیله مو دا ده چې اسلامپال مبارزین، اسلام ته ژمن دعوتګران، د مستقل، آزاد او سرلوړي اسلامي

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

افغانستان د جوړولو په مبارزې بوخت شخصيتونه او سياسي او جهادي ډلې؛ د راتلونکي اسلامي نظام په اړه خپل نظريات توحيد او ګډ دريځ غوره کړي او دا توفيق ترلاسه کړي چې د دوی په لاس زموږ د شهيدانو سپېڅلي آرمانونه ترسره او نوي نسل ته سرلوړی؛ له جنګ فارغ اسلامي افغانستان په ميراث پرېږدو. و ما ذلك على الله بعزيز

حکمتيار

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

بسم الله الرحمٰن الرحیم

دین او سیاست

لومړی باید دا پوښتنه ځواب شي چې سیاست څه ته وایي؟

د سیاست اصطلاح؛ د حکومتولۍ منهج او د زعامت او قیادت اسلوب لپاره کارول کېږي؛ د حکومت او زعامت د کړنو او تګلارو څرنګوالي ته د سیاست نوم ورکړی شوی. د بحث موضوع ئې د واکمنۍ او واکمنو هغه چاري دي چې د ټولنې له داخلي او خارجي کړنلارو سره ټراو لري. ښه او موفق سیاست یعني د همدغو چارو سم او صحیح مدیریت.

بحث له دې ځای پیلوو چې یوه انساني ټولنه د بقاء او سالم پاته کېدو لپاره دریو اساسي شیانو ته ضرورت لري؛ او د همدغو دریو مجموعې ته د سیاست نوم ورکړی شوی: ۱- قیادت، ۲- قانون او ۳- حکومت. له دې پرته نه یوه ټولنه روغه پاته کېدی شي او نه متحده.

هغه دین او ایدیولوژي کامل ګڼلی شو چې همدا درې مهمې قضیې په سمه توګه احتواء کړي؛ کوم دین او ایدیولوژي چې دا درې برخي احتواء نه کړي؛ د زعامت او قیادت د لزوم او د هغه د انتخاب په اړه واضح لارښوونې او ارشادات ونه لري، د فرد او ټولنې د حقوقو په ارتباط عادلانه قوانین او ضوابط ونه لري او د دې لپاره چې قانون تطبیق او عدالت تأمین شي، د خلکو حقوق تضمین او د هغوی سر، مال او عزت له تعرض خوندي پاته شي؛ د حکومت جوړولو پر لزوم او ضرورت تأکیدات ونه لري؛ او د ښه حکومت

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

او حکومتولۍ رامنځته کولو وړتیا ونه لري؛ هغه یو ناقص دین او مذهب دئ.

د یوه حکومت اساسي دندي دا دي: قانون پلي کول، امنیت او عدالت تأمینول، د ظلم مخنیوی، د ظالم مؤاخذه، د مظلوم حمایت، د ولس د سر، مال او عزت ساتنه، د مجرمینو محاکمه، د لانجو د حل لپاره قضائي سیستم درلودل، د هېواد ملي حاکمیت، استقلال او ارضي تمامیت ساتل، او د ټولو هغو ارزښتونو حفاظت چې ولس ورته په درنه سترګه ګوري.

کوم دین او ایدیولوژي چې د امیر او امام انتصاب او انتخاب او د هغه بیعت او اطاعت لازمي بولي، د حلال او حرام، جائز او ناجائز په اړه لارښوونې لري، قوانین لري، حدود او احکام لري، د سزا او جزاء په اړه دساتیر لري، د فرد او اجتماع حقوق بیانوي، فردي او اجتماعي لانجو ته حل لاري وړاندي کوي، د محکمې او قضاء په شتون ټینګار کوي او له خپلو پلویانو غواړي چې په دغو به نه یوازي باور لري؛ بلکې عملاً به ورته تمکین کوي؛ د دې معنی دا ده چې دا دین او ایدیولوژي؛ یوازي یو فکري او اعتقادي مکتب او مذهب نه دئ او یوازي پر فکري او اعتقادي قضایاوو ئې بسنه نه ده کړې بلکې د حکومتولۍ او سیاسي چارو په اړه هم خپل لیدلوری او ځانګړې تګلاره لري. دغه حقیقت ته په پام سره وایو:

هر الهي دین په حقیقت کې یو سیاسي دین دئ

ځکه په الهي دین کې هم د فردي او اجتماعي ژوند د تنظیم لپاره قوانین او احکام شته، هم د حلال او حرام؛ جائز او ناجائز په اړه لارښوونې؛ هم ئې جرمونه بیان کړي او هم د هغه سزا، امر ئې کړی چې ټولنه باید زعیم او امیر ولري او د هغه اطاعت وشي، د حدودو او قوانینو د تطبیق او نافذولو مرجع ولري او قضایا هغه ته راجع شي. هر پیغمبر په حقیقت کې د ټولنې هم معنوي او فکري لارښود وو، هم سیاسي زعیم، هم د لانجو د حل

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

و فصل مرجع، الله تعالى نه کوم غيرسياسي دين رالېږلی او نه کوم غيرسياسي پيغمبر، هر الهي دين يو سياسي - معنوي دين وو، دين ئې د انسان د دنيا او آخرت سمبالولو لپاره رالېږلی، هدف ئې د انسان د فردي او اجتماعي امورو تنظيمول دي، هر پيغمبر؛ يو سياسي - معنوي زعيم وو؛ چې د سياست د ډګر له واکمنو او لوبغاړو سره په مبارزه بوخت وو، ټول پيغمبران د موسى عليه السلام په څېر د خپل دور له فرعون، هامان او قارون؛ د زر، زور او تزوير له بېلګو او د هر نظام له دريو اساسي اړخونو سره؛ لاس او ګرېوان ول. بايد متوجه وو چې فرعون، قارون او هامان اصلاً محض درې شخصيتونه نه؛ بلکې د دريو طبقو؛ زور، زر او تزوير استازي او بېلګي دي، پر ټولني د حاکمو دريو ډلو ممثلين، له سياسي، اقتصادي او فکري پلوه؛ يعني واکمن، شتمن، او له فکرى او سياسى پلوه د حاکم نظام مدافعين او توجيه کوونکي.

دا د حقيقت خلاف، بې بنسټه او کچه ادعاء ده چې ګواکې الله تعالى غيرسياسي او محض معنوي او اخلاقي دين رالېږلی او خلکو سياسي کړی؛ حقيقت د دې عکس دئ؛ هر دين يو سياسي دين هم وو؛ په غرض او مرض اخته وګړو او دين پلورونکو مذهبي پيشوايانو؛ اصلي الهي دين مسخ کړی؛ هغه ئې غيرسياسي کړی، د سياستوالو په پښو کې ئې ذبح کړی، د مسجد او معبد په کونج کې ئې زنداني کړی، په اورادو او اذکارو کې ئې خلاصه کړی او له اجتماع او د اجتماع له تنظيم ئې منزوي کړی.

ټولې هغه ادعاګاني چې وايي: دين غير سياسي دئ، دين او سياست سره بېل دي؛ دين بايد په سياست کې مداخله ونه کړي... دا او دې ته ورته ادعاګاني؛ له افتراء، تحريف، او مغالطې پرته بل څه نه دي. هيڅ الهي دين غيرسياسى نه دئ، هغه دين چې انسان ئې مخاطب دئ، د انسان لارښوونه کوي، غواړي د انساني ژوند چاري تنظيم کړي، هغه ته د ښه ژوند کولو لاري چاري وښيي؛ نشي کېدى غير سياسي وي؛ دين دوه اړخونه لري: ايمان او

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

اسلام، یوه برخه ئې عقائد او بله ئې قوانین، عقیده ئې د ایمان او باور غوښتنه کوي او قوانین او دساتیر ئې د انقیاد او تسلیمي (اسلام)، دین یعني هغه فکري خط چې د انسان پالونکي رب؛ د هغه په وړاندي د تګ لپاره ترسیم کړي، هغه دساتیر او قوانین چې د حلال او حرام؛ مفید او مضر؛ حدود او کرښې ئې مشخص کړي، هغه معیارونه چې د حق او باطل، عدل او ظلم، ښه او بد؛ د تشخیص او پېژندو لپاره کارول کېږي، دین یعني د ژوند په ټولو چارو، برخو او اړخونو کې د انسان لارښود.

راشئ وګورو اسلام د دغو دریو برخو؛ قیادت، قانون او حکومت؛ په ارتباط؛ مونږ ته څه لارښوونې کړې او قرآن څه فرمایلي.

قیادت

الله تعالی تل او د زمانې په هر پړاو کې انسانانو ته او د هغوی د لارښوونې او هدایت لپاره؛ خپل لارښود کتاب د یوه پیغمبر په لاس رالېږلی، د دوی له منځ ئې تر ټولو غوره او لوړ شخصیت؛ د خپل پیغام رسولو لپاره غوره کړی، هغوی ته ئې ویلي: که غواړئ د دنیا او آخرت سعادت مو په برخه شي؛ نو زما د کتاب او زما د پیغمبر اطاعت وکړئ، پیغمبر یعني د الله تعالی د کتاب عملي، مجسمه او ژوندۍ بېلګه؛ هغه چې د ده په شخصیت، افکار، اخلاق، وینا او کړنو کې د الله تعالی لارښوونې او هدایات تمثیل شوي او عملي تجسم ئې موندلی، پیغمبر یعني د خلکو لارښود او فکري او سیاسي زعیم.

قرآن د قیادت او زعامت د اهمیت په اړه فرمایي: د پیغمبر اطاعت یعني د الله تعالی اطاعت. د پیغمبر په غیاب کې د اولوالامر اطاعت واجب ګڼي او فرمایې: پیغمبر ځان ته ځای ناستی لري، هغه ته ئې د اولوالامر نوم ورکړی چې امور هغه ته سپارل شوي، د مسلمانانو د امورو متولي یعني زعیم، مشر او قائد؛ همداسي چې د پیغمبر په اطاعت ئې مونږ مکلف کړي

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

يو؛ د اولوالامر په درلودو او اطاعت ئې هم مکلف کړي يو. قرآن فرمايي:

وَمَآ أَرۡسَلۡنَا مِن رَّسُولٍ إِلَّا لِيُطَاعَ بِإِذۡنِ ٱللَّهِۚ النساء: ٦٤

او هيڅ پيغمبر مو نه دئ لېږلی مگر د دې لپاره چې د الله له حکم سره سم ئې اطاعت وشي.

قرآن د قيادت او زعامت د اهميت په اړه فرمايي: د پيغمبر اطاعت يعني د الله تعالی اطاعت.

...مَّن يُطِعِ ٱلرَّسُولَ فَقَدۡ أَطَاعَ ٱللَّهَۖ

څوك چې د پيغمبر اطاعت وکړي نو د الله اطاعت ئې کړی

د پيغمبر په غياب کې د اولی الامر اطاعت واجب ګڼي او فرمايي:

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَأَطِيعُواْ ٱلرَّسُولَ وَأُوْلِي ٱلۡأَمۡرِ مِنكُمۡۖ فَإِن تَنَٰزَعۡتُمۡ فِي شَيۡءٖ فَرُدُّوهُ إِلَى ٱللَّهِ وَٱلرَّسُولِ إِن كُنتُمۡ تُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِۚ ذَٰلِكَ خَيۡرٞ وَأَحۡسَنُ تَأۡوِيلًا. النساء: ٥٩

اې مؤمنانو! د الله اطاعت وکړئ او د پيغمبر او د خپلو چارواکو اطاعت وکړئ، نو که په کوم څه کې مو په خپلو کې شخړه وکړه، نو الله او پيغمبر ته ئې راجع کړئ، که پر الله او د آخرت پر ورځ ايمان لرئ، دا ډېر غوره دئ او د پايلې له پلوه ډېر ښايسته.

اسلام مورږ ته لارښوونه کړې چې هره ورځ پنځه ځلي د دې تمرين او ممارست وکړو چې جومات ته ولاړ شو، د يوه بل څنګ ته په منظمه توګه ودرېږو، په يوه امام او مقتدا پسې اقتداء وکړو او په خپل لمانځه کې په بشپړه توګه د هغه اطاعت وکړو، قيام، لاسونه لوړول، رکوع، سجده، قعده او سلام مو د هغه په غږ او له هغه سره يوځای وي، د هغه قرائت ته په بشپړ اهتمام سره غوږ ونيسو، يو ځای لمانځه ته داخل او يو ځای ترې فارغ

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

شو.

دا نه يوازي په ګډه او منظمه توګه د الله تعالى عبادت دئ بلکي د امام او قائد د اطاعت ممارست هم دئ.

رسول الله صلى الله عليه و سلم په جماعت او حزب کي اوسېدا او له يوه امير سره بيعت او د هغه اطاعت د يوه داسي مهمي ايماني دندي په توګه معرفي کوي چې ترې وتل له اسلام وتلو سره مترادف ګڼي او فرمايي:

عَنِ الْحَارِثِ قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " وَأَنَا آمُرُكُمْ بِخَمْسٍ أَمَرَنِي اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ بِهِنَّ: الْجَمَاعَةُ وَالسَّمْعُ وَالطَّاعَةُ وَالْهِجْرَةُ وَالْجِهَادُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَمَنْ فَارَقَ الْجَمَاعَةَ قِيدَ شِبْرٍ فَقَدْ خَلَعَ رِبْقَةَ الْإِسْلَامِ أَوِالْإِيمَانِ مِنْ عُنُقِهِ (أَوِ الْإِيمَانِ مِنْ رَأْسِهِ) إِلَّا أَنْ يُرَاجِعَ وَمَنْ دَعَا بِدَعْوَى الْجَاهِلِيَّةِ فَهُوَ مِنْ جُثَا جَهَنَّمَ " قِيلَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ وَإِنْ صَامَ وَصَلَّى قَالَ: «وَإِنْ صَامَ وَصَلَّى تَدَاعُوا بِدَعْوَى اللَّهِ الَّذِي سَمَّاكُمْ بِهَا الْمُسْلِمِينَ الْمُؤْمِنِينَ عِبَادَ اللَّهِ»

له حارث رضي الله عنه روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: او زه تاسو په پنځه ګونو ګمارم چې الله تعالى پرې ګمارلى يم؛ جماعت، سمع، طاعت، هجرت او د الله په لار کي جهاد؛ نو څوك چې له ګوند او جماعت د يوې لوښتي په اندازه لري شو يقيناً چې د اسلام يا ايمان کړۍ ئې له خپلې غاړې ايسته کړې، يا ئې ايمان له خپل سره لري غورځولى، مګر دا چې بېرته راستون شي، او څوك چې د جاهليت شعارونه ورکوي هغه به د دوزخ خاشاك وي، وويل شول: يا رسول الله! که څه هم روژه ئې نيولې او لمونځ ئې کړى؟ وئې فرمايل: که څه هم روژه ئې نيولې او لمونځ ئې کړى، په الهي بلني سره بلنه ورکړئ؛ هغه چې تاسو ئې پرې مسلمانان، مؤمنان او

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

د الله بندګان نومولي ئې.

قرآن په ټولنې کې د زعامت او مشرتابه د اهمیت په اړه د موسی علیه السلام په قصې کې مور ته په زړه پورې او دقیقه لارښوونه کوي؛ او فرمایي: الله تعالی د بني اسرائیلو د ژغورنې پرېکړه وکړه؛ خو د دې پرېکړې مطابق د دوی د ژغورنې لړۍ د موسی علیه السلام له پیدایښت پیل شوه؛ یعني لومړی باید دې مظلوم او متشتت قوم ته یو لارښود او زعیم ورپه برخه شي؛ بیا به د همده تر قیادت لاندې دا مظلوم او ځورېدلی ولس ژغورل کېږي او آزادي به ترلاسه کوي.

همدومره چې قیادت او زعامت د یوه نظام او حکومت جوړولو لپاره ضروري دئ؛ د ژغورنې د هر پاڅون او قیام د بریا لپاره هم ضروري دئ، له دې پرته نه قیام او پاڅون ممکن دئ او نه یو نظام رامنځته کول.

په قرآن کې د بني اسرائیلو عبرتناکه او له لوړو ژورو ډکه قصه د همدې لپاره په ډېر تفصیل سره راغلې، د دغې قصې ټول اړخونه او د دغه قوم د عروج او زوال ټولې پېښې ئې څېړلې او دا ئې مور ته روښانه کړې چې څرنګه او له کومه ځایه د دې قوم د شرف او عزت دوران پیل شوی، څنګه او د کومو عواملو په سبب د عزت لوړو پوړو ته رسېدلی، د زمکې خلافت، د پراخو شتمنیو وراثت او د نورو ولسونو امامت او مشري ئې په برخه شوې او د نړۍ پر ټولو قومونو هغوی ته فضیلت ورکړی شوی؟ او بیا څنګه د دغه قوم د زوال دور پیل شوی، د ذلت او سپکاوي په ژوري کندې کې پرېوتی، هر چا په سپکه سترګه ورته کتلې او د دوست او دښمن له لورې رټل شوی؟ د راپرېوتو او زوال عوامل ئې کوم وو؟ د کومو عواملو په سبب له ذلت، سپکاوي، فقر، مسکنت او د الله تعالی له غضب او لعنت سره مخامخ شوی او د نورو لپاره د پند وسیله ګرځېدلی؟! قرآن مور ته لارښوونه کوي چې د دې او بل هر قوم او ولس د عروج، عزت او فضیلت عوامل کوم دي او د زوال او سقوط اسباب ئې څه دي؟

deenodanish.com څخه ښکته شوی له Deen-o-Danish

عظيم الشأن قرآن د بني اسرائيلو د عروج او زوال قصه د يوې داسې لارښوونکې او تاريخي قصې په توګه څېړلې چې په ترڅ کې ئې ډېر ستر ستر حقائق، عبرتناك درسونه او جامع لارښوونې زموږ مخې ته ږدي. په دې قصې کې د ملتونو د عروج او زوال په اړه د الله تعالى سنن انځور شوي او اساسي عوامل ئې څېړل شوي.

قرآن موږ ته لارښوونه کوي چې د ولسونو د ژغورنې او عزت ته د رسېدو په اړه الهي سنت ثابت او تغيير نه منونکی دئ، د دې الهي سنت د تحقق لپاره د پيغمبر له بعثت او د قائد، مشر او زعيم له راپيدا کېدو وروسته پيل کېږي، قيادت او زعامت د دې کار مقدمه ده، د الله تعالى سنت او اراده د ولسونو د مقدراتو او برخليك په ټاکلو کې همداسې ده، خو د دې سنت د تطبيق کار چې له کومه ځايه پيل کېږي؛ هغه د پيغمبر بعثت او د قيادت رامنځته کېدل دي، له همدې ځايه د آزادۍ نهضتونه او د استبداد ضد خوځښتونه پيل کېږي.

وَنُرِيدُ أَن نَّمُنَّ عَلَى ٱلَّذِينَ ٱسْتُضْعِفُواْ فِى ٱلْأَرْضِ وَنَجْعَلَهُمْ أَئِمَّةً وَنَجْعَلَهُمُ ٱلْوَٰرِثِينَ ۝ وَنُمَكِّنَ لَهُمْ فِى ٱلْأَرْضِ وَنُرِىَ فِرْعَوْنَ وَهَٰمَٰنَ وَجُنُودَهُمَا مِنْهُم مَّا كَانُواْ يَحْذَرُونَ۝ القصص: ٦

او غواړو پر هغو پېرزوينه وکړو چې په زمکي کې ئې د بې وزلۍ لټه کېږي او پېشوايان ئې کړو او (د ټولو شتمنيو) وارثان ئې کړو او پر زمکي کې تمکين ورپه برخه کړو او له دوی هغه څه فرعون، هامان او لښکرو ته ئې وښيو چې ترې وېرېدل.

يعني دا د الله تعالى نه بدلېدونکی سنت دئ چې بې وزلې ولسونه به له اسارت او محکوميت ژغوري، له دوی به د لويو لويو مستکبرو طاقتونو د پرځولو او نسکورولو لپاره کار اخلي، تر ټولو د ستر مغرور ځواك د

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

نسکورولو لپاره به د نړۍ تر ټولو ضعیف او مستضعف قوم انتخابوي، فرعون به د خپلو غلامانو (بني اسرائیلو) په لاس له منځه وړي. الله تعالی به پرهغو کسانو احسان کوي چې په زمکې کې ضعیف شمېرل کېږي، د ضعف او ناتوانۍ لپاره ئې هڅه کېږي، استکباري نظامونو ځپلي، الله تعالی غواړي د داسي مظلومانو په لاس دا مغرور او مستبد ځواکونه نسکور کړي، دوی ته د نورو قومونو د قیادت او مشرۍ افتخار ورپه برخه کړي، نور ولسونه هم په دوی پسي اقتداء وکړي، د زمکو او شتمنیو وارثان ئې کړي، هغه درې طبقې چې په سیاسي، مذهبي او اقتصادي لحاظ پرخلکو حکومت کوي، د دوی هر څه دغو مظلومانو ته په میراث ورکړي، په زمکه کې اقتدار او تمکین دوی ته وسپاري، واك او صلاحیت دوی ته انتقال کړي، هغه ضعیف او بې وزلی ولس د دوی ځای ناستی کړي چې په وېرې او خوف کې ئې ژوند کاوو، حکومتونو د دوی د وېرولو او ضعیفولو هڅې کولې، د الله تعالی سنت داسي دئ چې لومړی له دغو بې وزلو او مستضعفینو په فکري او اخلاقي لحاظ امامان جوړ کړي، هاماني ډله د خلکو د فکري او مذهبي قیادت له مقامه خلع کړي او دا قیادت مستضعفینو ته وسپاري، فرعونیان د ولس له سیاسي او اجتماعي قیادت عزل کړي او دا قیادت بې وزلو ته وسپاري او په پای کې د قارون د ډلې شتمنۍ دوی ته په میراث ورکړي. فرعون، هامان او لښکري ئې چې له څه وېرېدل او تل ئې حذر ترې کاوو، رنګ رنګ تدابیر ئې نیول چې دا بې وزلي راویښ نه شي، یو بل ته لاس ورنه کړي، د نظام په ضد پاڅون ونه کړي، الله تعالی غواړي چې دوی ته همدا وروښیي، دوی له دې وېرېدل چې بې وزلي او مظلومان قوت ونه مومي، قیام ونه کړي او د خپل حق د لاس ته راوړلو لپاره د واکمنانو په خلاف راولاړ نه شي او د همدې لپاره ئې په استضعاف او ناتوانۍ کې ساتل، خو د الله تعالی سنت دا دئ چې پر مظلومانو او مستضعفانو به پېرزوینه او احسان کوي او فرعونیانو ته به هرو مرو هغه څه ښیي چې ترې وېرېدل.

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

د دې الهي سنت له بيان وروسته؛ او په همدې پسې متصل؛ د بني اسرائيلو د راتلونکي زعيم؛ موسى عليه السلام په ارتباط فرمايي:

وَأَوۡحَيۡنَآ إِلَىٰٓ أُمِّ مُوسَىٰٓ أَنۡ أَرۡضِعِيهِۖ فَإِذَا خِفۡتِ عَلَيۡهِ فَأَلۡقِيهِ فِي ٱلۡيَمِّ وَلَا تَخَافِي وَلَا تَحۡزَنِيٓۖ إِنَّا رَآدُّوهُ إِلَيۡكِ وَجَاعِلُوهُ مِنَ ٱلۡمُرۡسَلِينَ ٧

القصص: ٧

او د موسى مور ته مو وحي وکړه چې ټي ورکړه او کله چې پرې ووېرېدې نو سيند ته ئې وغورځوه، مه وېرېږه او مه غمجنه کېږه، موږ ئې حتماً بېرته ستا خوا ته راګرځوونکي او د پيغمبرانو له ډلې ئې ګرځوونکي يو.

الله تعالى د موسى عليه السلام د مور په زړه کې دا خبره واچوله چې د فرعون جلادانو ته ئې ونه سپاري، پټ ئې وساتي، تر هغه ئې پټ وساتي او ټي ورکړي چې کولى شي، کله چې پوه شي نور ئې پټولى نشي نو د لرګي په صندوق کې ئې کښېږدي او په سيند کې ئې پرېږدي، زړه ته ئې دا خبره لوېدلې وه چې الله تعالى به ئې بېرته روغ رمټ ورته راوګرځوي او له ده به پيغمبر او د بني اسرائيلو ناجي جوړ کړي. دې همدا کار وکړ، څه موده ئې په پټه ټي ورکړ، خو کله چې خطر زيات شو هغه ئې د الله تعالى په نامه او د ژوندي پاته کېدو په هيله په صندوق کې د نيل څپو ته وسپارو.

د قرآن له دې او په همدې اړه له نورو مبارکو آيتونو څو خبري معلومېږي:

- د بني اسرائيلو لپاره د مصر وضعيت داسې وو چې مېندو خپل ماشومان په خپلې غېږ کې نه شو ساتلى، دا پرېکړه شوې وه چې د دوى نارينه ماشومان به وژل کېږي.
- الله تعالى د موسى عليه السلام د مور په زړه کې دا خبره واچوله چې دى تر هغه وپاله چې خطر احساس کړې، د خطر په صورت کې ئې سيند ته

deenodanish.com ځخه ښکته شوى Deen-o-Danish

وغورځوه او ډاډه اوسه چې نه یوازې ښځه به ئې روغ رمټ درته راوګرځوو بلکې هغه به د پیغمبر په توګه غوره کړو.

- مور ئې دی په صندوق کې ایښی او په سینه کې ئې پرښی، بایبل وایي چې هغه ئې په یوه شکور کې ایښي، خو قرآن دا ادعاء ردوي او ښایي د همدې ادعاء د تردید لپاره د صندوق یادونه شوې وي، حقیقت همدا دئ چې شکور نه یو ماشوم د اوبو پر سر ساتلی شي او نه د هغه لپاره خوندي او مصون ګڼل کېدی شي!!

قیادت د هر نهضت پیلامه

قرآن عظیم الشأن فرمایي چې د دې الهي سنت د تحقق لړۍ د پیغمبر له بعثت او د قائد، مشر او زعیم له راپیدا کېدو وروسته پیل کېږي، قیادت او زعامت د دې کار مقدمه ده، د الله تعالی سنت او اراده د ولسونو د مقدراتو او برخلیك په ټاکلو کې همداسي ده، خو د دې سنت د تطبیق کار چې له کومه ځایه پیل کېږی؛ هغه د پیغمبر بعثت او د قیادت رامنځ ته کېدل دي، له همدې ځایه د آزادۍ نهضتونه او د استبداد ضد خوځښتونه پیل کېږي.

قرآن د مصر د هغه مهال حالت داسي انځوروي چې په ټول مصر باندي د شدید اختناق توري وربڅي خورې وې، د اختناق حالت دومره شدید او خوف وېره دومره خوره وه چې حتی د موسی علیه السلام په شمول د بني اسرائیلو هر ماشوم هم د خپلو مېندو په غېږ کې خوندي نه وو، د فرعون جلادان د بني اسرائیلو د هر نوي زېږېدونکي ماشوم لپاره توره په لاس ولاړ ول، موسی علیه السلام په داسي سختو حالاتو کې نړۍ ته راغی چې مور ئې له دې عاجزه وه چې دی په خپلې غېږ کې وروزي، د قوم، ملت او ولس تأیید او ملاتړ خو پرېږده، حتی د خپلې مور له هغې لومړنۍ غېږې هم محروم شو، مور ئې مجبوره وه چې دی د ماشومتوب په حالت کې د

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

اوبو څپو ته وسپاري!! خو قرآن فرمايي چې د الله تعالی سنت نه بدلېدونکی دئ، هيڅوك ئې د تحقق مخه نه شي نيولی، د چا په اړه چې الله تعالی غوښتي وي د يوه بې وزلي او مظلوم ولس د پاڅون لارښوونه وکړي، په طوفانونو او د څپاندو او مستو سيندونو په څپو کې به ئې وساتي، د فرعون په کور کې به ئې ستر کړي، د دښمن په خوا کې او حتی د هغه په لاس به ئې روزنه وکړي!!

الله تعالی غوښتل چې موسی عليه السلام داسي وروزي چې د ولس د مشرۍ وړتياوي په ده کې وده وکړي او د ضعف او حقارت هغه احساس په ده کې راپيدا نه شي چې عادتاً په يوې مظلومي او بې وزلي کورنۍ کې د روزل شوي انسان په زړه او دماغ توره پرده غوړوي. د يوه مظلوم ولس قيادت او مشري هغه څوك نه شي کولی چې په خپله د حقارت احساس کوي، په کوم چاپېريال کې چې فقر او مسکنت وي، وېره او خوف وي او د قوم بچيان په مظلوميت، بې وزلۍ او خوف کې پيدا کېږي او ستر کېږي، گرانه ده چې په دغسي چاپېريال کې د روزل شوي او ستر شوي انسان پر زړه او دماغ د حقارت احساس وزر ونه غوړوي، د همدې لپاره حکيم خدای موسی عليه السلام د خپلي مور له غېږي جلا کړ او د فرعون کور ته ئې ولېږو چې هلته وروزل شي او د مشرتابه اړوند ځانګړتياوي ورپه برخه کړي.

د اسلام له نظره د زعيم او مشر ټاکل دومره اهميت لري او مسلمانانو دومره اهتمام ورته کړی چې د رسول الله صلی الله عليه و سلم له وفات وروسته؛ او مخکې له دې چې د هغه د تکفين او تدفين مراسم بشپړ شي؛ د مسلمانانو لومړی کار دا وو چې ځان ته امير وټاکي، رسول الله صلی الله عليه و سلم داسي روزلي وو چې د امت تر ټولو افضل شخصيت ئې په همداسي حالت کې له ځنډ پرته؛ په اتفاق سره د امير په توګه غوره کړ.

په قرآن کې د ۲٤ پيغمبرانو نومونه راغلي؛ که ذا الکفل هم شامل کړو نو ۲۵ کېږي؛ هر يو ئې د خپلي زمانې؛ يو ستر او منلی فکري، اجتماعي او

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

سياسي لارښود او زعيم وو؛ له خرافاتو، اوهامو، شرك، ظلم او فساد سره ئې مقابله کړې، د سترو سترو فکري، اجتماعي او سياسي انقلابونو لارښوونه ئې کړې، ظالم او مستبد حکومتونه ئې نسکور کړي، شړېدلې او په رنګ رنګ اختلاف اخته ټولنې او ولسونه ئې متحد کړي، له قومونو ئې ملتونه او له ملتونو ئې امتونه جوړ کړي، ځواکمن حکومتونه او نظامونه ئې رامنځته کړي، په ټولنې کې ئې عدالت او امنيت تأمين کړی.

قرآن د دغو پيغمبرانو يادونه د کومې قصې په توګه نه کوي؛ بلکې په دوی، د دوی شخصيت، د دوی دعوت او مبارزو کې ئې زموږ مخې ته د تقليد او متابعت وړ زعامتونه انځور کړي او خپل مخاطب ته وايي: په دوی او د دوی په کړنو او مبارزې کې ستاسو لپاره غوره اسوه او قدوه ده. لکه چې فرمايي:

قَدْ كَانَتْ لَكُمْ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ فِيٓ إِبْرَٰهِيمَ وَٱلَّذِينَ مَعَهُۥٓ إِذْ قَالُواْ لِقَوْمِهِمْ إِنَّا بُرَءَٰٓؤُاْ مِنكُمْ وَمِمَّا تَعْبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ كَفَرْنَا بِكُمْ وَبَدَا بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمُ ٱلْعَدَٰوَةُ وَٱلْبَغْضَآءُ أَبَدًا حَتَّىٰ تُؤْمِنُواْ بِٱللَّهِ وَحْدَهُۥٓ... الممتحنه: ٤

بې شکه چې تاسو ته په ابراهيم او د ده په ملګرو کې غوره بېلګه شته؛ هغه مهال چې خپل قوم ته ئې وويل: له تاسو او له ټولو هغو معبودانو بې زاره يو چې تاسو ئې له الله پرته لمانځئ، له تاسو منکر يو، زموږ او ستاسو ترمنځ به عداوت او دښمني د تل لپاره او تر هغه څرګنده وي چې تاسو يوازې پر يوه الله ايمان راوړئ،....

دلته د مخکينيو اساسي مطالبو لپاره يوه تاريخي بېلګه زموږ په وړاندي انځور شوې، د کافر او مشرك قوم او خپلوانو په وړاندي د ابراهيم عليه السلام او د ده د موحدو ملګرو دريځ زموږ مخې ته ږدي چې په ترڅ

deenodanish.com ځخه ښکته شوی Deen-o-Danish

کي ئې د موالات په څرنګوالي ښه پوه شو او د هر ډول ابهام او شك مجال له منځه ولاړ شي، مورږ ته وايي:

- د ابراهيم عليه السلام او د ده د خداى پالو ملګرو په تګلاري کي د مؤمنانو لپاره غوره بېلګه شته؛ راشئ وګورو چې د خداى پالو او موحدينو ستر جد ابراهيم عليه السلام چې قرآن د خليل الله لقب ورکړى، ستر موحد، د مسلمان ملت جد، د تاريخ اتل بت ماتوونکى، د بيت الله معمار، د حج لومړنى مؤذن، د خلکو امام او لارښود، په سختو سختو الهي آزمويښو کې بريالى، او د ده رښتيني او مؤمنو ملګرو له خپل مشرك قوم او کافرو خپلوانو سره څه کړي او قرآن مورږ ته د دوى د قصې په ترڅ کې څه درس راکوي؟! څه دريځ او تګلاره ئې غوره کړې؟ قرآن مورږ ته وايي چې دوى خپل قوم ته وويل: له تاسو او له ټولو هغو معبودانو بې زار يو چې تاسو ئې له الله پرته لمانځئ، يعني له دې وروسته له ټولو هغو اړيکو بې زار يو چې تر نن پورې مو له تاسو سره درلودې، نور زمورږ او ستاسو تر منځ د دوستۍ او خپلوۍ هيڅ اړيکه نشته، ټولې اړيکې مو شلولې دي، ستاسو له دروغجنو آلهه او معبودانو کرکه لرو، له هر هغه څه خپل برائت او بېزاري اعلانوو چې تاسو ئې له الله تعالى پرته لمانځئ. گورئ چې ابراهيم عليه السلام او د ده خداى پال او مؤمن ياران هم له (مشرك قوم) خپله بې زاري اعلانوي او هم د دوى له (کاذبو معبودانو او اصنامو)، نور نو نه قومي او نسبي اړيکو ته ارزښت ورکوي او نه د مشرك قوم معبودانو ته احترام او درناوى!! داسي نه وايي چې د (نمرود) په خلاف د (ولس) د حمايت او مرستي ترلاسه کولو لپاره که د ولس پر (اصنامو) د درناوي څادر وغوړوو او د گلانو گډۍ ئې مخي ته کښېږدو دا کار جائز دئ او کومه شرعي مانع نه لري!!!

لَّقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ ٱللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِّمَن كَانَ يَرْجُواْ ٱللَّهَ وَٱلْيَوْمَ ٱلْآخِرَ وَذَكَرَ ٱللَّهَ كَثِيرًا ﴿٢١﴾ الاحزاب: ۲۱

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

يقيناً چې تاسو ته د الله په استازي کې نېکه بېلګه او اسوه ده. هغه چا ته چې الله او د آخرت ورځې ته هيله ساتي او الله زيات يادوي.

په دې مبارک آيت کې مورږ ته لارښوونه شوې چې رسول الله صلى الله عليه و سلم د مؤمنانو لپاره داسې ځلانده قدوه دئ چې پر الله تعالى او آخرت باندې د ايمان او الله تعالى او آخرت ته د طمعې او هيلې ساتلو څرنګوالى د هغه په سنت او کړنلارې کې پېژندى شي، يعنې څوک چې غواړي الله تعالى ته د هيلې درلودو په څرنګوالي وپوهېږي او هغه عملونه وپېژني چې له کبله ئې انسان د الله د مرستې، رعايت او عنايت طمع او هيله کولى شي، نو دا دي له پيغمبر عليه السلام زده کړي، څوک چې غواړي وپوهېږي آخرت ته هيله او طمع درلودل يعنې څه؛ او غواړي هغه عملونه وپېژني چې په آخرت کې به ګټه ورسوي او له دې لارې کولى شي د نېک آخرت طمع ولري نو هغه دي آخرت ته د طمعې او هيلې څرنګوالى له پيغمبر صلى الله عليه و سلم زده کړي او څوک چې غواړي د الله د زيات ذکر په څرنګوالي پوه شي بايد په دې کې د پيغمبر عليه السلام متابعت وکړي، پيغمبر بايد د ده لپاره اسوه او قدوه وي او د هغه په شخصيت کې او د ده د اخلاقو او کړنو په رڼا کې د دې خبرو په حقيقت ځان پوه کړي، د ژوند په ټولو مسائلو کې بايد پيغمبر عليه السلام مورږ ته بېلګه، اسوه او قدوه وي، الله ته د هيلې درلودو په څرنګوالي کې، د آخرت په نسبت ايمان درلودلو، د اعمالو د نتائجو په اړه آخرت ته طمع او هيله ساتلو او د الله د زيات يادولو او ذکر په څرنګوالي کې بايد پيغمبر زمورږ قدوه او اسوه وي.

دلته بايد څو مهمې خبرې په پام کې ولرو: دا موضوع د داسې بحث په ترڅ کې راغلې چې يو ستر جنګ او په هغه کې د بېلو بېلو ډلو دريځونه څېړل شوي، د دې معنى دا ده چې دلته پر الله تعالى ايمان او هغه ته طمع او هيله درلودل، په آخرت باور او اخروي سعادت ته هيله درلودل؛ هغه مهال حقيقي ايمان او پر ځاى طمع او هيله ده چې د جنګ په سخت حالت

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

کې د انسان دریځ داسې وي لکه د رسول الله صلی الله علیه و سلم دریځ، څوک چې پر الله تعالی او آخرت د ایمان دعوی کوي، ګمان او انګېرنه ئې دا وي چې ایمان ئې د الله تعالی په وړاندې مقبول او هیله ئې پر ځای ده؛ خو نه د دین دښمنو ځواکونو په ضد هغه څه کوي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم کړي او نه د جګړو په سختو حالتونو کې داسې دریځ غوره کوي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم غوره کړی؛ نه ئې د ایمان دعوی ارزښت لري او نه ئې هیلې او ګمانونه صحیح او پر ځای دي.

قانون

قانون د یوه نظام او ټولنې بل مهم اړخ دئ، یوازې په جامع او کامل قانون او د هغه په تطبیق سره کولی شو؛ یوه داسې ټولنه رامنځته کړو چې عدالت په کې تأمین شوی وي او د خلکو سر، مال او عزت له تېري او تجاوز خوندي وي.

د دین یوه لویه برخه شریعت او قانون دئ، د قرآن نږدې پنځه سوه آیتونه داسې قوانین او احکام زموږ مخې ته ږدي چې د انساني ژوند د ښېلو ښېلو اړخونو د تنظیم لپاره راغلي، او د همدغو آیتونو شرح او تفصیل د فقهي په لسګونو ضخیمو کتابونو کې توضیح شوي، د قوانینو له پلوه هومره چې اسلام غني او مخکښ دئ؛ هیڅ نظام، دین، او مسلك ورسره پرتله کېدی نشي.

که څوك اسلامي قوانین او اصلي مراجع ئې؛ قرآن او د رسول الله صلی الله علیه و سلم احادیث؛ په غور سره له نظر تېر کړي؛ نو وبه ګوري چې د انساني ژوند د هري برخې په اړه ډېر مفصل او جامع قوانین او لارښوونې د مخاطب مخې ته ږدي؛ د فرد له شخصي ژوند نیولې د اجتماع تر ملي او بین المللي پېچلو قضایاوو پورې، د دوو تر منځ له نکاح؛ بیا د دوو هېوادونو ترمنځ جنګ او صلح، د لاسونو او غاښونو له مینځلو؛ تر نړۍ والو سیاسي،

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

اجتماعي او اقتصادي مسائلو پوري، د دوو انسانانو تر منځ له سلام او روغبړ؛ تر دې پوري چې دوی دواړو تر منځ به اقتصادي راکړه ورکړه، تجارت، مضاربت، د پېر پلور معامله، قرض، شهادت او ګواهي، د پېر پلور او پور سند؛ د اسنادو څرنګوالی، سود، احتکار، انحصار، غل و غش، او دې ته ورته مسائل؛ څنګه وي؛ په اقتصادي برخي کې به داسي مسئله ونه مومئ چې اسلامي شريعت دي د هغې په اړه واضح لارښوونه او قوانين ونه لري. د اجتماعي او سياسي قضاياوو په برخه کې به داسي مسئله ونه مومئ چې اسلام ئې په اړه داسي ارشادات او لارښوونې ونه لري چې د حقانيت او عدالت کمال او انتهاء په کې نه وي مراعات شوي.

راشئ د قرآن ځينو هغو څرګندو لارښوونو ته ځير شو چې په دې ارتباط زمونږ مخي ته اېښودل شوي:

وَأَنزَلۡنَآ إِلَيۡكَ ٱلۡكِتَٰبَ بِٱلۡحَقِّ مُصَدِّقٗا لِّمَا بَيۡنَ يَدَيۡهِ مِنَ ٱلۡكِتَٰبِ وَمُهَيۡمِنًا عَلَيۡهِۖ فَٱحۡكُم بَيۡنَهُم بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُۖ وَلَا تَتَّبِعۡ أَهۡوَآءَهُمۡ عَمَّا جَآءَكَ مِنَ ٱلۡحَقِّۚ لِكُلّٖ جَعَلۡنَا مِنكُمۡ شِرۡعَةٗ وَمِنۡهَاجٗاۚ وَلَوۡ شَآءَ ٱللَّهُ لَجَعَلَكُمۡ أُمَّةٗ وَٰحِدَةٗ وَلَٰكِن لِّيَبۡلُوَكُمۡ فِي مَآ ءَاتَىٰكُمۡۖ فَٱسۡتَبِقُواْ ٱلۡخَيۡرَٰتِۚ إِلَى ٱللَّهِ مَرۡجِعُكُمۡ جَمِيعٗا فَيُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمۡ فِيهِ تَخۡتَلِفُونَ ٤٨ المائده: ٤٨

او تا ته مو دا په حق ولاړ کتاب نازل کړ، د هغو کتابونو تصديقوونکی چې ترې د مخه وو او پرې احتواء کوونکی، نو د دوی ترمنځ په هغه څه حکم کوه چې الله نازل کړي او تا ته د راغلي حق په معامله کې د دوی د هوی او هوس متابعت مه کوه، ستاسو هر يوه ته مو خاص شريعت او تګلاره ټاکلې او که الله غوښتلی نو تاسو ټول به ئې يوه ډله ګرځولې وئ، خو (غواړي) په

deenodanish.com څخه ښکته شوی له Deen-o-Danish

هغه سره مو وآزمویي چي درکړي ئې دي، نو د ښېګڼو په لوري تلوار وکړئ، ستاسو ټولو ورتګ د الله لوري ته دئ، نو په هغه څه به مو خبر کړي چي اختلاف مو په کې کاوو.

یعني رسول الله صلی الله علیه و سلم ته داسي په حق ولاړ کتاب ورکړی شوی چي هم د ټولو مخکینیو کتابونو تصدیق کوونکی دئ او هم پر دغو کتابونو او محتوی ئې احتواء کوونکی او مهیمن دئ؛ د مخکینیو کتابونو هدایات، احکام او لارښوونې ئې احتواء کړي؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم ته لارښوونه شوې؛ د خلکو ترمنځ به په هغه څه حکم کوي چي د الله تعالی کتاب کې راغلي؛ د حق په معامله کي به د هیڅا د هوی او هوس متابعت نه کوي؛ مکلف شوی چي په هیڅ څه کي به د چا لپاره له حق تنازل، معامله او سازش نکوي؛ ټینګ به ودرېږي؛ همغه څه به عملي کوي چي پرې مأمور شوی.

الله تعالی د مسلمانانو او تر دوی وړاندي د هر امت لپاره خاص شریعت او منهج ټاکلی؛ شریعت یعني قانون او منهج یعني تګلاره؛ دین په دغو دوو برخو شامل دئ: شریعت یعني قانون، ضوابط، دساتیر، احکام او حدود؛ او منهاج یعني اسلوب، طریقه او تګلاره؛ په دین کي دا دواړه دي؛ هم قانون دئ او هم تګلاره او سیاست، هم هدایت دئ او هم دین حق او کتاب؛ د قرآن په ډېرو آیتونو کي چي د کتاب یادونه شوې؛ مراد ترې احکام دي، نو په دین کي هم لارښوونې دي او هم احکام؛ هم شریعت دئ او هم منهج.

که الله تعالی غوښتلی چي ټول انسانان دي متحد وي او ترمنځ ئې هیڅ اختلاف نه وي؛ همداسي به ئې دوي متحد پیدا کړي وو؛ د الله تعالی سنت دا نه دئ! الله تعالی خلک خپلې مخي ته پرېږدي چي له دوو لارو یوه په خپله خوښه غوره کړي، که الله تعالی غوښتلی له ټولو به ئې یو امت جوړ کړی وو، د دوی ترمنځ به هیڅ اختلاف نه وو؛ خو غواړي په هغه څه

deenodanish.com څخه ښکته شوی له Deen-o-Danish

سره مو وآزمويي چې درکړي ئې دي، نو د ښېګڼو په لور تلوار وکړئ؛ الله تعالی انسان داسي پيدا کړی چې هغه ته ئې اختيار او د انتخاب واک ورکړی؛ د هغه د آزمويلو فيصله ئې کړې ده؛ چې معلومه شي له خپل واک او اختيار سمه استفاده کوي او که غلطه؟ آزمويته د هغه چا په ارتباط تحقق مومي او مصداق لري چې اختيار هم ولري؛ جامدات او بې اختيار اشياء چې محکوم او مجبور دي؛ همغه څه کوي چې پرې مکلف دي؛ له هغه عدول نه شي کولی؛ د دوی په اړه نه آزمويته مطرح ده او نه مجازات او مکافات؛ معنی او مصداق لري.

د دې مبارك آيت اساسي مطالب دا دي:

- محمد عليه السلام ته قرآن ورکړی شو، چې مخکني نازل شوي کتابونه تصديقوي، د هغوی په ټولو مطالبو احتواء لري. د الله تعالی له لوري نازل شوي کتابونه د اساسي مطالبو له پلوه ټول سره ورته دي، په قرآن کې ټول هغه اساسي مطالب راغلي چې په مخکينيو کتابونو کې راغلي وو.
- پيغمبر عليه السلام په دې مأمور شوی چې د خلکو ترمنځ د قرآن له احکامو سره سم حکم وکړي، دا د پيغمبر يوه دنده ده؛ پيغمبر يو حاکم دئ؛ هغه به د خلکو د قضاياوو او لانجو ترمنځ حکم کوي؛ دين راغلی د حکومت کولو لپاره؛ پيغمبر عليه السلام هم په دې مامور شوی چې د الهی دين او احکامو مطابق به د خلکو د شخړو او منازعاتو په ارتباط حکم کوي، يعني هغه حاکم دئ؛ هغه د حکومت جوړولو او حکومت کولو لپاره راغلی، د دې معنی دا ده چې دا کتاب د حکومت کولو او حکميت لپاره نازل شوی، د دې لپاره چې د خلکو ټول خپلمنځي منازعات د دغه کتاب مطابق حل و فصل شي. دا يوازي د تلاوت لپاره نه بلکې د تلاوت ترڅنګ د قضاوت او حکميت لپاره راغلی.
- په هيڅ څه کې به د خلکو هوی، هوس او نفسي غوښتنو ته نه تسليمېږې، داسي نه چې د دوی د خوشحالولو لپاره په کوم حکم عمل کول

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

پرپردې!

- الله تعالى د زمانې په هر پړاو کې او هر امت ته د دوی له وضعيت او شرائطو سره سم هادي پيغمبر او لارښود کتاب لېږلی، دا الهي لارښوونې دوه برخې لري: شريعت يعني قوانين او ضوابط، او منهاج يعني تګلاره او کړنلاره، داسې نه ده چې يوازې مقررات او قوانين لېږل شوي وي او د دغو مقرراتو او احکامو د تطبيق طريقه په خپله د خلکو خوښې ته پرېښودل شوې وي، بلکې د قانون تر څنګ دا هم ورته ويل شوي چې د ژوند لپاره به کومه تګلاره غوره کوي. الهي اديان د انساني ژوند ټول اړخونه احتواء کوي او ټولو اړتياوو ته ځواب وايي.
- که الله تعالى غوښتلی ټول انسانان به ئې داسې پيدا کړي وو چې له فکري او اعتقادي پلوه په دوی کې هيڅ توپير او اختلاف نه وی، د ټولو دين او مذهب يو وی، خو الله تعالى انسان داسې پيدا کړی چې کولی شي له دوو لارو يوه په خپله خوښه غوره کړي، له نورو مخلوقاتو د ده توپير په دې کې دئ چې (اراده) او (اختيار) ورکړی شوی، (محکوم) او (مجبور) ئې نه دئ پيدا کړی، دغه (واك) او (اختيار) د ده د امتحان او آزمېښت مجال دئ، چې معلومه شي دی له خپل (اختيار) او (آزادي) څنګه استفاده کوي.
- الله تعالى په دې راضي کېږي چې انسان د ښېګڼو په لوري تلوار ولري، خپل استعدادونه، واك او اختيار په دې لار کې وکاروي.
- په پای کې د ټولو ورتګ د الله لوري ته دئ، په هغه څه به ئې خبر کړي چې اختلاف ئې په کې کاوو، د قيامت ورځ او مکافات او مجازات ئې د دې لپاره ټاکل شوي چې هر چا ته د خپل آزمېښت پاڼه په لاس کې ورکړی شي، د انسانانو ترمنځ د اختلافاتو حقيقت څرګند شي او هرڅوك د خپلې عقيدې او عمل حقيقي پايله او سزا وګوري.

قرآن د مصر د يوه شاهی نظام؛ حاکم قانون د (دين الملك) په نامه يادوي؛ او فرمايي:

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

.... كَذَٰلِكَ كِدۡنَا لِيُوسُفَۖ مَا كَانَ لِيَأۡخُذَ أَخَاهُ فِي دِينِ ٱلۡمَلِكِ إِلَّآ أَن يَشَآءَ ٱللَّهُۚ .... يوسف: ٧٦

... همداسي مو يوسف ته تدبير وروښود، خپل ورور ئې د پاچا د دين له مخي نه شو نيولى، مگر دا چې الله غوښتي وى، ...

گورئ چې په دې مبارك آيت كې قرآن د مصر د هغه مهال شاهي نظام ته اشاره كړې چې د يوسف عليه السلام په زمانې كې پر مصر حاكم وو؛ د دې شاهي نظام قانوني جوړښت ئې د (دين الملك: يعني د پاچا دين) په نامه ياد كړى؛ او ويلي ئې دي چې يوسف عليه السلام نشو كولى خپل ورور د پاچا د دين له مخي ونيسي؛ يعني د هغه مهال قانون دا اجازه نه وركوله. د دې معنى دا ده چې د قرآن له مخي د ټولنې د مكافات او مجازات قانون په حقيقت كې د هغې ټولنې دين دئ؛ دين يعني د مكافات او مجازات قانون. دې ته په پام سره؛ ويلى شو د قرآني مفاهيمو له مخي هره ټولنه ځانته دين لري، دين ئې همغه دود، دستور، قانون او عرف دئ چې ولس ئې ورته تمكين كوي او خپلې شخړې ئې له مخي حلوي. نو هغه سيكولران چې وايي: دين او سياست بېلې بېلې مؤلفې دي؛ دين بايد په اجتماعي قضاياوو كې مداخله ونه كړي، بايد يوازې په شخصي او انفرادي ژوند پورې اړوند مسائلو كې محدود او منحصر پاته شي؛ دا كمعقلان نه د دين په معنى پوهېږي او نه په دې پوهېږي چې فرد او ټولنه او د دوى اړوند قضايا او مسائل ئې داسي سره نښتي دي چې بېلول ئې قطعاً ممكن نه دي؛ هره انساني قضيه دوه اړخه لري: فردي اړخ او اجتماعي اړخ؛ د ټولنې قوانين دواړه اړخونه هممهاله احتواء كوي؛ او دين يعني د ټولنې د قوانينو مجموعه؛ نه بې دينه فرد موندلى شو او نه بې دينه ټولنه؛ سيكولران دروغ وايي چې هيڅ دين نه لري؛ د دين په معنى نه پوهېږي؛ په كومې ټولنې كې چې اوسي او قوانينو ته ئې درناوى او تمكين لري؛ همدا قوانين ئې دين دئ.

له deenodanish.com څخه ښكته شوى Deen-o-Danish

حکومت

که تاریخ ته رجوع وکړو نو راته جوته کېږي چې هر پیغمبر او امت ئې؛ له بریا او غلبې وروسته؛ ستر او مضبوط حکومت جوړ کړی؛ داؤد علیه السلام، زوی ئې سلیمان علیه السلام، او محمد علیه السلام ئې څرګندي ښلګي دي.

د محمد علیه السلام په لاس جوړ شوی حکومت؛ له هره پلوه دومره ستر وو چې د بشریت په تېر تاریخ کې ئې ښلګه نشو موندلی. له مراکش تر اندونیزیا؛ له قفقاز تر یمن، د چین له ترکستان تر هسپانیا؛ په سلګونو قومونو، توکمونو او ژبو مشتمل ستر امت او په ډېرو اوسنیو هېوادونو شامل ستر او پراخ هېواد، د ټولو قبله یوه، دین ئې یو، قوانین ئې ورته، ډېری ئې د یوه مرکزي حکومت تابع، هغه ته ئې زکات او عشر ورکولو؛ دولتي مالیه؛ اما د یوې ديني فریضې په توګه.... آیا د داسي حکومت ښلګه په تاریخ کې موندلی شو؟ دا هر څه د کوم امپراطور د جاه طلبۍ له کبله نه؛ بلکې د ديني لارښوونو په حکم؛ د حکومت جوړول هم د دین په امر او له زعیم سره ئې بیعت او د هغه اطاعت هم د ایمان په حکم. د دې معنی څه ده؟ آیا له دې پرته بل تعبیر او معنی لري چې دین د حکومت کولو لپاره راغلی؟

ځیني غربپال سیکولران او په غرض او مرض اخته کړۍ؛ د دین په اړه په مجموع کې او د اسلام په اړه په خاصه توګه؛ دا تبلیغات کوي چې دین باید په سیاست کې ښکېل نشي؛ دین ښل دئ او سیاست ښل!! په داسي حال کې چې پوهېږي دروغ وایي او د حقیقت خلاف خبره کوي؛ پوهېږي چې اسلام او مسلمانانو د تاریخ تر ټولو ستر حکومت جوړ کړی؛ د دوی په ځواب کې وایو: د حکومت، حکومتي چارواکو او حکومت ولۍ په ارتباط چې نن د سیاست، سیاستوال او سیاستولۍ اصطلاح کارول کېږي؛ دا نه د غربپالو او سیکولرانو اختراع او ابتکار دئ او نه د دوی د استادانو؛ دا اصطلاحات په

deenodanish.com څخه ښکته شوی له Deen-o-Danish

اسلام کې ژوري جړې لري؛ دا غربپالو او سيکولرانو او د دوی استادانو له موږ زده کړې؛ زموږ پيغمبر څوارلس پېړۍ وړاندې کارولې؛ رسول الله صلی الله عليه و سلم همغه مهال فرمايلي چې تر ده وړاندې د يهودانو ټول انبياء سياستوال وو او د خپل امت سياسي چارې ئې سمبالولې:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِنَّ بَنِي إِسْرَائِيلَ كَانَ يَسُوسُهُمُ الْأَنْبِيَاءُ كُلَّمَا مَاتَ نَبِيٌّ قَامَ نَبِيٌّ.

له ابوهريره رضي الله عنه روايت دئ چې رسول الله صلی الله عليه و سلم وفرمايل: بني اسرائيل داسي وو چې انبياءو به د دوی سياسي چارې ترسره کولې؛ کله چې به يو نبي وفات شو؛ بل نبي به پاځېد.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ بَنِي إِسْرَائِيلَ كَانَتْ تَسُوسُهُمْ أَنْبِيَاؤُهُمْ كُلَّمَا ذَهَبَ نَبِيٌّ خَلَفَ نَبِيٌّ وَإِنَّهُ لَيْسَ كَائِنٌ فِيكُمْ يَعْنِي نَبِيًّا» قَالُوا: فَمَا يَكُونُ يَا رَسُولَ اللَّهِ قَالَ: «تَكُونُ خُلَفَاءُ وَتَكْثُرُ» قَالُوا: كَيْفَ نَصْنَعُ قَالَ: «أَوْفُوا بِبَيْعَةِ الْأَوَّلِ فَالْأَوَّلِ وَأَدُّوا الَّذِي عَلَيْكُمْ وَسَيَسْأَلُهُمُ اللَّهُ عَنِ الَّذِي عَلَيْهِمْ»

له ابوهريره رضي الله عنه روايت دئ چې رسول الله صلی الله عليه و سلم وفرمايل: بني اسرائيل داسي وو چې انبياءو به ئې سياسي چارې ترسره کولې؛ کله چې به يو نبي ولاړ (وفات شو) بل نبي به ئې ځای ناستی شو، او دا کار په تاسو کې کېدونکی نه دئ؛ (يعني په تاسو کې به بل نبي نه وي)؛ صحابه وو وويل: نو څه به وي؛ يا رسول الله؟ وئې فرمايل: خلفاء (د پيغمبر او د امت ځای ناستي) به وي او ډېر به شي؛ دوی وويل: موږ څه وکړو؟ وئې فرمايل: له لومړني لومړني سره پر خپل بيعت وفا وکړئ او هغه حق اداء کړئ چې پر تاسو لازم دئ، الله تعالی به له امراءو د هغه څه پوښتنه کوي چې پر دوی

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

لازم دئ.

لکه چې ګورئ په دې حدیث کې د امیر او زعیم لپاره د خلیفه اصطلاح کارول شوې؛ دا د پیغمبر ځای ناستی او نائب هم دئ؛ او د امت او ولس نائب هم دئ؛ الله تعالی؛ آدم علیه السلام او د هغه ټول اولاد؛ د زمکې پر سر د خلیفه په توګه ټاکلي او د زمکې چاري ئې هغوی ته سپارلې؛ مسلمانان د خپل نیابت له حقه تېرېږي او یو چاته ئې سپاري؛ دغه یو کس خلیفه، امیر او زعیم په اصل کې د ولس خلیفه، وکیل او نائب هم دئ؛ هغه آمر ندئ، حاکم ندئ، سلطان ندئ، پاچا ندئ؛ بلکې خلیفه دئ؛ د پیغمبر ځای ناستی هم او د ولس او د امت ځای ناستی هم دئ؛ د هغوی د وکیل په توګه دنده سر ته رسوي؛ له پیغمبر وروسته به خلیفه وي او تعداد به ئې هم ډېر شي؛ دوی وویل: که د خلفاءو تعداد په عین وخت کې ډېر او د دوی ترمنځ نزاع رامنځ ته شي مور څه وکړو؟ وئې فرمایل: له لومړني لومړي سره پر خپل بیعت وفا وکړئ او هغه حق اداء کړئ چې پر تاسو لازم دئ، د هغه اطاعت، د هغه مرسته، د خیر په کار کې د هغه څنګ کې ودرېدل، هغه ته نېکه مشوره ورکول، دا هغه حق دئ چې پر تاسو باندې دئ، څوک چې لومړی امیر وي تاسو ورباندې غوند شوی یئ، تاسو ورسره بیعت کړی وي، تاسو را وړاندې کړی وي، تاسو ورباندې اعتماد کړی وي؛ د هغه اطاعت او ملګرتیا وکړئ، الله تعالی به له امراءو هم د هغه څه پوښتنه کوي چې پر دوی لازم دي.

دا روایت مور ته ښیي چې تر رسول الله صلی الله علیه و سلم وړاندې؛ د یهودو ټولو انبیاءو د دوی سیاسي چاري سمبالولې؛ عیسی، موسی، سلیمان، داؤد، یوسف، یعقوب او اسحاق علیهم السلام؛ هم پیغمبران ول او هم سیاستوال، هم ئې د دوی دیني چاري سمبالولې او هم سیاسي او اجتماعي چاري، یعني چې هر پیغمبر یو سیاسي زعیم دئ او هر دین یو سیاسي دین.

دا مور نه وایو؛ ستاسو په خاطر ئې هم نه وایو؛ دا زمور پیغمبر او

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

لارښود ۱۴۵۰ کاله مخکې ويلي: تر ما وړاندې چې په يهودو کې څومره پيغمبران تېر شوي ټول سياستوال ول؛ او د خپل امت او يهودانو چې څومره سياسي امور ول هغوی مديريت او سمبالول.

ابن حبان په خپل کتاب کې يو باب ايښی چې د سايس (سياستوال) او يسوس (سياست کول)؛ الفاظ ئې کارولي؛ او ليکي:

ذِكْرُ الِاسْتِحْبَابِ لِلْإِمَامِ إِذَا أَرَادَ بَعْثَ سَرِيَّةٍ أَنْ يُوَلِّيَ عَلَيْهَا أُمَرَاءَ جَمَاعَةٍ وَاحِدًا بَعْدَ الْآخَرِ عِنْدَ قَتْلِ الْأَوَّلِ لِكَيْ لَا يَبْقَى الْمُسْلِمُونَ بِلَا سَايِسٍ يَسُوسُهُمْ وَلَا أَمِيرٌ يَحُوطُهُمْ . صحيح ابن حبان

د دې ذکر چې امام ته مستحب او غوره ده چې کله غواړي کوم جهادي ټولی ولېږي؛ نو څو تنه امراء يو په بل پسې پرې وګماري؛ داسې چې که يو وژل کېږي بل ئې ځای ونيسي؛ دا د دې لپاره چې مسلمانان بې له داسې سايس (سياستوال او چارواکي) پاته نشي چې د دوی د چارو مديريت کوي او بې له داسې امير چې د دوی ساتنه او حفاظت کوي.

يعني د امير لپاره دا يو غوره کار دئ چې د غازيانو او مجاهدينو د قيادت لپاره څو تنه امراء تعيين کړي؛ داسې چې اول به دا وي ورپسې دا او ورپسې دا؛ که يو شهيد شي بل ئې ځای ونيسي. هغه دا باب ايښی او وجه ئې هم وايي: دا ځکه چې مسلمانان بې له سايس او سياستوال؛ چې د دوی سياسي چاري او امور اداره کوي؛ پاته نه شي. سيکولرانو ته وايو: تاسو يو وار زموږ کتابونو ته رجوع وکړئ چې پوه شئ دا صيغې چا کارولې؟ بنسټ ئې چا ايښی دئ؟ تاسو او ستاسو استادانو له چا نقل او تقليد کړې دي؟

تر دې باب لاندې ئې دا روايت راوړی:

عن بن عُمَرَ قَالَ أَمَّرَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِى غَزوَةِ مُؤتَةَ زَيدَبنَ حارِثَةَ وَقَالَ: "إِنْ قُتِلَ زَيْدٌ فَجَعْفَرٌ وَإِنْ قُتِلَ جَعْفَرٌ فَعَبْدُ اللَّهِ بْنُ رَوَاحَةَ"

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

قَالَ عَبْدُ اللَّهِ: كُنْتُ مَعَهُمْ تِلْكَ الْغَزْوَةِ فَالْتَمَسْنَا جَعْفَرَ بْنَ أَبِي طَالِبٍ فَوَجَدْنَاهُ فِي الْقَتْلَى وَوَجَدْنَا فيما نيل من جسده بضعا وسبعين ضربة ورمية. صحيح ابن حبان

له ابن عمر رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم د مؤته په غزوه کي زيد بن حارثه د امير په توګه وټاکو؛ او وئې ويل: که زيد ووژل شو نو جعفر او ورپسې عبدالله بن رواحه؛ عبدالله بن عمر وويل: زه په دې غزوه کي له دوی سره وم؛ نو د جعفر لټه مو وکړه؛ په وژل شوو کي مو وموند؛ د هغه په بدن کي مو څو اويا د تورو او د غشو د ګوزارونو پرهارونه وموندل.

همدا راز که قرآن ته ځير شو نو وبه ګورو چي حکومت کول، د خلکو تر منځ د لانجو، شخړو، منازعاتو او مشاجراتو د حل و فصل لپاره حکميت کول؛ د پيغمبرانو د مأموريت او رسالت؛ اساسي او محوري برخه ښودل شوې. لکه چي الله تعالى خپل رسول؛ محمد عليه السلام ته فرمايي:

إِنَّآ أَنزَلۡنَآ إِلَيۡكَ ٱلۡكِتَٰبَ بِٱلۡحَقِّ لِتَحۡكُمَ بَيۡنَ ٱلنَّاسِ بِمَآ أَرَىٰكَ ٱللَّهُۚ وَلَا تَكُن لِّلۡخَآئِنِينَ خَصِيمٗا ١٠٥ النساء: ١٠٥

بې شکه چي تا ته مو دا په حقيقت ولاړ کتاب نازل کړ، چي د خلکو ترمنځ د هغه څه مطابق حکم وکړې چي الله درښودلي او د خائنانو لپاره مدافع او شخړه کوونکی مه شه.

د قرآني لارښوونو له مخي د هغه چا ايمان د منلو وړ نه دئ او د ايمان ادعاء ئې په الهي معيارونو کي هيڅ وزن او ارزښت نه لري چي د طاغوت حاکميت مني او د تحاکم او د خپلو منازعاتو د حل و فصل لپاره هغه ته رجوع کوي، طاغوت يعني ظالم او مفسد حاکم او واکمن؛ داسي حاکم منل؛

deenodanish.com ځخه ښکته شوی له Deen-o-Danish

هغه ته غاړه ایښودل؛ د تحاکم او حکمیت لپاره هغه ته رجوع کول؛ خپل منازعات او شخړې هغه ته راجع کول؛ او بیا د هغه په فیصلې راضي کېدل او د هغه اطاعت کول؛ دا الله تعالی د ایمان منافي ګڼي؛ قرآن په صریح الفاظو وایي چې دا له ایمان سره اړخ نه لګوي؛ څوک چې مؤمن وي داکار به نه کوي؛ څوک چې مؤمن وي د طاغوت حکومت به نه مني؛ طاغوت یعني هغه واکمن چې د الله تعالی د دین مطابق حکم نه کوي؛ د دې لارښوونې په رڼا کي تاسي ډېر په آساني سره طاغوت پیژندلی شئ. طاغوت بت او شیطان نه دئ؛ لکه ځیني ئې چې فکر کوي؛ طاغوت هغه ظالم، مفسد او بې دین حاکم دئ چې د الله تعالی د دین مطابق حکم نه کوي؛ قضاوت ئې په منازعاتو او شخړو کي؛ د دین مطابق نه وي؛ قرآن فرمایي:

أَلَمۡ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ يَزۡعُمُونَ أَنَّهُمۡ ءَامَنُواْ بِمَآ أُنزِلَ إِلَيۡكَ وَمَآ أُنزِلَ مِن قَبۡلِكَ يُرِيدُونَ أَن يَتَحَاكَمُوٓاْ إِلَى ٱلطَّٰغُوتِ وَقَدۡ أُمِرُوٓاْ أَن يَكۡفُرُواْ بِهِۦ وَيُرِيدُ ٱلشَّيۡطَٰنُ أَن يُضِلَّهُمۡ ضَلَٰلَۢا بَعِيدٗا ٦٠ النساء: ٦٠

آیا هغه دي ونه لیدل چې ګمان کوي هم پر هغه څه ایمان لري چې پر تا نازل شوي او هم پر هغه څه چې تر تا د مخه نازل شوي، خو غواړي چې د تحاکم لپاره طاغوت ته ورشي، حال دا چې ورته امر شوی چې له هغه به انکار کوي او شیطان غواړي چې په ژوري تېروتني سره ئې تېرباسي.

آیا هغو ته دي پام نده کړی چې ګمان کوي په ټولو الهي کتابونو باور او ایمان لري؛ اما سره له دې غواړي د تحاکم او حکمیت لپاره طاغوت ته رجوع وکړي. په داسي حال کي چې هغوی ته امر شوی چې له طاغوت به منکر وي؛ شیطان غواړي چې دوی په همدغه غلط زعم، ګمان او تخمین کي؛ له حق په ډېر لري واټن کي بېلاري کړي؛ یعني دا خلک له حق ډېر لري پرېوتي، سخت بېلاري شوي او په ژور ضلالت کي غرق دي.

deenodanish.com څخه ښکته شوی له Deen-o-Danish

حكام په دوه ډوله دي يو هغه چې په ما انزل الله حكم كوي او بل هغه چې حكم ئې د ما انزل الله مطابق نه وي؛ يعني د الله تعالى د كتاب مطابق نه وي؛ د هغه چا (جمهور رئيس، زعيم، پاچا، واكمن، واكدار او حاكم) چې حكم ئې د الله تعالى د دين مطابق نه وي؛ هغه طاغوت دئ او مسلمان مأمور شوى او دا ئې دنده او الهى مسئوليت دئ چې له هغه به منكر وي؛ هغه به نه مني؛ هغه ته به سر نه ټيټوي؛ د تحاكم او حاكميت لپاره به هغه ته رجوع نه كوي؛ يعني خپلې شخړې او منازعات به د حل و فصل لپاره د هغه محكمو ته نه راجع كوي.

د دې آيت له مخې د هغه چا د ايمان دعوى د منلو نه ده چې طاغوت ته خپلې شخړې راجع كوي، څوك چې د طاغوت واكمنۍ ته غاړه ږدي او د خپلو مشاجراتو په اړه د هغه پرېكړې مني، هغه سخت تېروتى، شيطان دوكه كړى، د ايمان دعوا ئې د اعتبار وړ نه ده، حتى كه پر ځان ئې دا گمان هم وي چې هم پر قرآن ايمان لري او هم پر مخكينيو كتابونو. تر هغه چې ته له طاغوت انكار ونكړې؛ الله تعالى ستا ايمان نه قبلوي.

دا آيت نه يوازې د ايمان حقيقت مورِ ته راښيي بلكې د طاغوت معنى هم راښيي، طاغوت هغه دئ چې خلك د خپلو شخړو د حل و فصل لپاره ورته رجوع كوي، واكمن، حاكم او قاضي دئ؛ خو پرېكړې ئې د الله د دين مطابق نه دي او په ماانزل الله حكم نه كوي، طاغوت شيطان نه بلكې شيطان ته منقاد حاكم دئ.

همداراز قرآن په ډېر تأكيد سره وايي چې د هغه چا ايمان هيڅ ارزښت نه لري چې پيغمبر عليه السلام او د ده په لاس لېږل شوى دين؛ د حكميت يوازينۍ مرجع نه گڼي، فرمايي:

فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ حَتَّىٰ يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لَا يَجِدُواْ فِيٓ أَنفُسِهِمْ حَرَجًا مِّمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُواْ تَسْلِيمًا ﴿٦٥﴾ النساء: ٦٥

له deenodanish.com څخه ښكته شوى Deen-o-Danish

نو نه؛ ستا په رب قسم اې محمده!چې تر هغه ئې ایمان نه دئ راوړی چې تا په خپلمنځیو شخړو کې حکم ونه گرځوي، بیا ستا د پرېکړي په اړه په خپلو زړونو کې تنگوالی ونه مومي او په بشپړه توگه تسلیم نشي.

الله تعالی محمد علیه السلام ته وایي: ای محمده! ستا په رب دي قسم وي! ستا رب شاهد دئ؛ په دې شهادت ورکوي چې دوی ایمان نه راوړي؛ تر هغه چې تا په خپلمنځیو شخړو کي حکم ونه گرځوي؛ یعني شخړي او منازعات تا او ستا دین ته راجع نه کړي؛ بیا ستا د پرېکړي په اړه په خپلو زړونو کي تنگ والی ونه مومي؛ یعني راضي او قانع وي؛ د حکمیت لپاره یوازي رجوع کفایت نه کوي؛ بلکه ستا د پرېکړي په نسبت به راضي او قانع وي؛ په زړه کي به کوم حرج او تنگي نه احساسوي؛ او په بشپړه توگه تسلیم نه شي؛ درېیم شرط دا دئ چې ستا پرېکړه عملي کړي؛ یعني که چا غلا وکړه؛ د غلا قضیه به ئې شریعت ته راجع کېږي؛ شریعت چې د ده د لاس قطع کولو پرېکړه کوي؛ په دې فیصلي به راضي وي؛ د ځان او ټولنې خیر به په همدې کي ګڼي؛ اعتراض او شک به نه لري؛ د زړه سلول سلول به ئې د دې ګواهي او شهادت ورکوي چې حق فیصله همدا ده؛ او زه د همدې سزا مستحق یم؛ خو دا هم کافي نه ده؛ دې ته به چمتو کېږي چې لاس ئې قطع شي؛ عملاً به دې پرېکړي ته غاړه ږدي.

یعني؛ اې محمده! ترهغه چې د ایمان مدعیان؛ تا په خپلو شخړو کې حکم ونه نیسي؛ بیا ستا په پرېکړي راضي نشي، په خپلو زړونو کې هیڅ حرج احساس نه کړي او عملاً انقیاد ونکړي، مؤمنان نشي بلل کېدی او د ایمان ادعاء ئې نشي قبلېدی.

له دې آیت په ډېر وضاحت سره معلومېږي چې د ایمان د قبلېدو لاندې درې اساسي شرائط دي:

- شخړي او منازعات شریعت ته محول کول.
- د اسلام په هري پرېکړي رضایت.

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

- او هر حكم ته ئې عملاً غاړه ايښودل.

يو دين چې د منازعاتو په ارتباط ئې لارښوونه دا وي؛ د هغه چا د ايمان دعوى د اعتبار وړ نه ګڼي چې خپل ټول منازعات او شخړې دين ته راجع نه کړي او پرېکړو ته ئې التزام او تمکين ونه لري؛ يعني دا يو سياسي دين دئ؛ دا د حکميت او حکومت کولو دين دئ...

قرآن هغه څوك كافر، ظالم او فاسق ګڼي چې په ماانزل الله حكم نه كوي.

وَمَن لَّمْ يَحْكُم بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْكَٰفِرُونَ ﴿٤٤﴾ المائده: ٤٤

او څوك چې د هغه څه مطابق حكم ونه كړي چې الله رالېږلي؛ همدا دوى كافران دي.

وَمَن لَّمْ يَحْكُم بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلظَّٰلِمُونَ ﴿٤٥﴾ المائده: ٤٥

او څوك چې د هغه څه مطابق حكم ونه كړي چې الله رالېږلي؛ همدا دوى ظالمان دي.

وَمَن لَّمْ يَحْكُم بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْفَٰسِقُونَ ﴿٤٧﴾ المائده: ٤٧

او څوك چې د هغه څه مطابق حكم ونه كړي چې الله رالېږلي؛ همدا دوى فاسقان دي.

په مخكني آيت كې ويل شوي چې څوك د الله تعالى له لورې د لېږل شوي كتاب مطابق حكم ونه كړي؛ كافر دئ، ورپسې ويل شوي چې ظالم دئ او وروسته ويل شوي چې فاسق دئ، د دې معنى څه ده؟ كوم يوه ته ئې كافر ويلى شو او چا ته ئې ظالم او فاسق؟ ځيني مفسرين دا درې حكمونه كفارو ته راجع ګڼي، ځيني ئې د شخص په عقيدې پورې مربوط بولي او وايي چې كه په ما انزل الله باور ونه لري كافر دئ، كه باور ولري او حكم پرې نه كوي؛ نو ظالم او فاسق دئ، خو كه لږ غور وكړو دا راته څرګندېږي

deenodanish.com خخه ښکته شوی له Deen-o-Danish

چې حکم او قضاوت يا په اعتقادي مسائلو پورې مربوط وي، يا په حقوقي او يا په اخلاقي مسائلو پورې، که څوک په اعتقادي مسائلو کې په ماأنزل الله حکم ونکړي؛ کافر کېږي، په حقيقت به پرده اچوي او د هغه خلاف به حکم کوي، که په حقوقي قضاياوو کې په ما أنزل الله حکم ونکړي؛ خامخا به ظلم وکړي او د چا حق به تلف کړي، او که په اخلاقي مسائلو کې په ما أنزل الله حکم ونکړي؛ خامخا به اخلاقي حدود ترپښو لاندې کړي او فاسق به شي. دې ته مو بايد پام وي چې قرآن د هغه چا ايمان هم د اعتبار وړ نه ګڼي چې د حکميت لپاره طاغوتي محکمې ته رجوع کوي.

قرآن د داؤد عليه السلام په اړه په صريحو الفاظو وايي چې هغه په زمکې کې د خليفه په توګه لېږل شوی او دنده ئې د خلکو ترمنځ د حق مطابق حکم کول وو. داؤد عليه السلام د يهودانو ستر پيغمبر او هغوی ته تر نورو پيغمبرانو زيات محبوب وو؛ د داؤد عليه السلام په ارتباط هم دا ويل شوي؛ چې ستا دنده د خلکو ترمنځ د حق مطابق حکم کول دي؛ يعني د حکومت زعيم او حاکم وو او دنده ئې دا چې د ولس مشاجرات او منازعات به په حقه او سمه توګه حل و فصل کوي.

د داؤد عليه السلام د رسالت او بيا هغه لويه پاچاهي او حکومت چې هغه جوړ کړ؛ په دې ارتباط هم په قرآن کې ډېر تفصيلي بحث راغلی؛ لا نوی ځوان وو چې په يوه جنګ کې ئې برخه واخيسته؛ د خپلو مشرانو وروڼو له خبرولو پرته؛ د دښمن هيبتناک افسر، د ستر لښکر سرلښکر؛ په زړه کې پټ؛ د ده په لاس ووژل شو؛ د خپلې مچلوغزي د تيرې په وار سره ئې ووژلو؛ او د دښمن د ماتې باعث شو؛ له همدې کبله د خپل قوم له لوري د زعيم په توګه غوره شو او بيا ئې د رسالت مقام په برخه شو. قرآن په دې ارتباط فرمايي:

يَٰدَاوُۥدُ إِنَّا جَعَلۡنَٰكَ خَلِيفَةٗ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَٱحۡكُم بَيۡنَ ٱلنَّاسِ بِٱلۡحَقِّ

deenodanish.com له ډېره ښکته شوی

وَلَا تَتَّبِعِ ٱلۡهَوَىٰ فَيُضِلَّكَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِۚ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَضِلُّونَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ لَهُمۡ عَذَابٞ شَدِيدُۢ بِمَا نَسُواْ يَوۡمَ ٱلۡحِسَابِ ٢٦ ص: ٢٦

اې داؤده! يقيناً چې ته مو په زمکې کې خليفه ګمارلی يې، نو د خلکو ترمنځ په حقه پرېکړه کوه، د هوی او هوس متابعت مه کوه چې د الله له لاري به دي تېرباسي، يقيناً هغه چې د الله له لاري منحرف شي؛ په دې سبب دوی ته سخت عذاب (ټاکل شوی) دئ چې د حساب ورځ ئې هېره کړې.

څوک چې د حساب ورځ هېره کړي؛ د ګناهونو لړۍ ئې له همدې ځای پيل کېږي؛ په آخرت باور، په مکافات او مجازات باور؛ په داسي يو خدای يقين چې هغه له انسان سره محاسبه کوي او د هغه ټول عملونه څاري او د قيامت په ورځ به د هغه د ټولو کړنو په ارتباط له هغه سره محاسبه کوي؛ دغه باور دئ چې مورِ له ګناه، ظلم، تېري او فساد منع کوي؛ که دا باور نه وي؛ هيڅوک او هيڅ څه؛ انسان له ظلم فساد او تېري نشي منع کولی؛ اروپايي ټولنې همداسي دي؛ هلته چې په خدای باور نشته؛ که يوه شپه؛ د کومي حادثې له کبله؛ برق قطع شي؛ امنيتي کامرې له کاره ولوېږي؛ اشرار، اوباشان او کاوبايان احساس کړي چې نه ئې څوک څاري او نه ئې مخنيوی کولی شي؛ نه د نيول کېدو وېره لري او نه د محاکمې او مجازات؛ داسي غارت او لوټمار ترسره شي چې څوک ئې تصور نشي کولی؛ يو ځل نيويارک کي؛ د عمومي واټ ژړ ته پلي روان وو؛ چا راته وويل: دلته څوک له ځان سره لاسي بکس نه شي ګرځولی؛ له عمومي سړک يوې خوا بلې خوا کوڅي ته په اطمئنان سره نه شي ننوتلی؛ که کوڅي ته داخل شي نو فوراً د اوباشانو له برید سره مخامخ کېږي؛ چاقوګان پرې راباسي او هر څه ترې اخلي؛ لکه دا نن چې دلته په کابل کي وينو چې مېرمني په دست کول؛ خلک او ځوانان په يوه موبايل وژل کېږي، هلته هم همداسي حالت دئ؛ فقط دا ايمان دئ چې د ګناه؛ ظلم او تېري مخه نيسي؛ په آخرت او په خدای

deenodanish.com څخه ښکته شوی له Deen-o-Danish

تعالی باور دئ چي انسان له ګناه او ظلم ساتي؛ غربي ښارونو کي پراخ او ځواکمن پوليسي او امنيتي نظام؛ په هرو څو ګامونو کي مخفي کامرې؛ پرېمانه استخباراتي شبکې؛ دا باعث شوي چي ظاهري امنيت تأمين وي؛ له دې پرته امنيت او مصونيت نشته.

د حکومتولۍ اړوند بله مهمه موضوع دا ده چي زعيم او حاکم به ئې څنګه ټاکل کېږي. د زعيم ټاکلو څو جائز او غيرجائز صورتونه مومو:

اول- موروثي زعامت:

دا چي قيادت او زعامت له شته امير، زعيم، پاچا او رئيس؛ په يوه کورنۍ کي د هغه اولاد ته انتقال شي؛ آيا دا شرعي منشأ لري؟ اسلام دا تائيدوي؟ دا کار کېدلی شي؟ جائز دئ او که نه؟

که څه هم د تاريخ په اوږدو کي د نړۍ اکثر زعامتونه موروثي وو؛ نن هم او په ډېرو هېوادو کي د حکومتونو او د سياسي او حتی مذهبي فرقو زعامتونه؛ په موروثي توګه له پلار اولاد ته انتقالېږي. له پير؛ پير او له مرشد؛ مرشد او له پاچا؛ پاچا زېږي؛ اوس هم د اکثرو سياسي ګوندونو زعامتونه موروثي دي؛ ډېر لږ له دې حالت مستثنی دي؛ هغه هم فقط اسلامي او ديني ګوندونه؛ د نورو زعامتونه موروثي دي؛ خو دا طريقه د الهي دين له لارښوونو سره اړخ نه لګوي. دين له يوې خوا اهليت او وړتيا شرط ګڼي او له بلي خوا د ولس موافقه او رضايت.

که له تاريخي پلوه دا موضوع وڅېړو نو ګورو چي رسول الله صلى الله عليه و سلم تر رحلت وړاندي؛ نه له خپلي کورنۍ څوك د ځای ناستي په توګه وټاکو او نه ئې د چا په اړه خپل امت ته سپارښتنه وکړه؛ اتفاقي خبره همدا ده؛ څوک چي د دې خلاف خبره کوي؛ هغوی شاز او نادره خبره کوي؛ اکثريت په همدې رأيه دي؛ دقيقه رأيه همدا ده؛ پيغمبر عليه السلام د هيچا په ارتباط نه سپارښتنه کړې او نه ئې څوک ځای ناستی ټاکلی؛ دا ئې نه دي

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

ويلي چې له ده وروسته فلانی د مشر په توګه غوره کړئ؛ بلکه دا ئې د امت خوښي ته پرېښوده. هغه چې د ده په لاس روزل شوي وو؛ د ده له هغو اعتقادي يارانو ئې تر ټولو افضل د امير په توګه غوره کړ چې له ده سره ئې يو ځای هجرت کړی وو، نه چا ورسره رقابت کړی او نه هم مخالفت؛ پر زعامت ئې بشپړه اجماع رامنځته شوې.

د صدر اسلام د څلورو خلفاءو له منځه؛ له هيڅ يوه ئې؛ زعامت او امارت د هغه اولاد ته په موروثي توګه نه دئ انتقال شوی. يعني چې زعامت کوم ميراثي توکی نه دئ چې له پلار اولاد ته انتقال شي، داسي انتقال هم د سنت خلاف دئ؛ دا ځکه چې رسول الله صلی الله عليه و سلم د خپلې کورنۍ کوم غړي ته انتقال نه کړ، همداراز دا د صحابه وو او راشدينو خلفاءو د منهج خلاف دئ؛ ځکه هيڅ يوه ئې امارت خپل اولاد ته نه دئ انتقال کړی، د خپل اولاد لپاره ئې له چا بيعت نه دئ اخيستی. عمر رضي الله عنه خو حتی په صريح الفاظو وويل: چې زما زوی؛ عبدالله بن عمر؛ چې په اوه کسانو کې به شامل وي؛ خو د امارت حق نه لري؛ زما له کورنۍ يوازي همدا زه بس يم.

عظيم الشأن قرآن د ابراهيم عليه السلام په اړه فرمايي:

وَإِذِ ٱبۡتَلَىٰٓ إِبۡرَٰهِـۧمَ رَبُّهُۥ بِكَلِمَٰتٖ فَأَتَمَّهُنَّۖ قَالَ إِنِّي جَاعِلُكَ لِلنَّاسِ إِمَامٗاۖ قَالَ وَمِن ذُرِّيَّتِيۖ قَالَ لَا يَنَالُ عَهۡدِي ٱلظَّٰلِمِينَ * البقره: ١٢٤

او کله چې خپل رب ئې ابراهيم؛ په څو خبرو وآزمويلو، نو هغه ترسره کړې، وئې فرمايل: زه خو دي د خلکو لپاره د يوه امام او پيشوا جوړوونکی يم، وئې ويل: او زما له اولاد هم، وئې فرمايل: زما ژمنه ظالمانو ته نه رسېږي.

ابراهيم عليه السلام له ګڼ شمېر الهي آزموينو سره مخامخ شو، د پلار او قوم مخالفت، لوی، ستر او لومړی مصيبت همدا دئ چې يو کس په کورنۍ کې د خپل پلار له مخالفت سره مخ شي؛ زندان ته تګ، په اور کې

deenodanish.com ځخه ښکته شوی Deen-o-Danish

لوېدل، یوازي او د سفر له دوو ملګرو؛ مېرمن ئې سارا او وراره ئې لوط علیه السلام سره هجرت او وطن پرېښودل، د مکې په وېرووونکې وچې بیدیا کې هاجر او اسمعیل یوازي پرېښودل، د اسمعیل په ذبح کولو ئې ګمارنه، هغه هم د ده د زړښت په وخت کې؛ چې زوی ته سخت محتاج وو؛ او زوی ئې هم نوی ځوانۍ ته رسېدلی وو؛ په همدغسي وخت کې د خپل زوی (اسمعیل) د ذبح کولو خوب ویني... هغه په ټولو دغو الهي آزموینو کې بریالی شو، د دې بریا بدله او جزاء دا وه چې د خلکو د امامت او پیشوایي مقام ئې په برخه شي، الله تعالی ورته وفرمایل چې اوس نو ته د خلکو د امامت وړ یې، دا مقام تا ته سپارم. ټمنا ئې وکړه چې کاش د خلکو د لارښوونې دا مقام د ده اولاد ته هم ورپه برخه شي! الله تعالی وفرمایل: زما په دې فرمان کې ظالمان نه دي شامل، ظالمان که څه هم ستا زامن وي؛ د دې جلیل مقام وړ نه دي.

بني اسرائیل په دې غره وو چې د ابراهیم علیه السلام اولاده دي، ګڼ شمېر پیغمبران په دوی کې مبعوث شوي، دوی د دغو پیغمبرانو ورثه دي، د خلکو امامت او پیشوایي د دوی حق دئ، دوی د جنت لپاره او جنت د دوی لپاره پیدا شوی، حتی ویل به ئې چې موږ د خدای زامن او د الله تعالی تر ټولو نږدې دوستان او محبان یو... دلته د دوی د دې غلطو او بې بنسټه تصوراتو او انګېرنو د نفي لپاره ویل شوي چې له ابراهیم علیه السلام سره د الله تعالی په هغي وعدې کې چې د خلکو امامت به د ده اولاد ته سپاري، ظالمان نه دي شامل، تاسو د ابراهیم علیه السلام له طریقې عدول کړی، ستاسو ظلم او شرک تاسو د هغه له وراثت او امت ایستلي یئ، د الله په وړاندي د خپلوې اړیکي، قومي او نسلي تعلقات؛ هیڅ ارزښت نه لري، په دې اساس د خلکو په اړه فیصله نه کوي، ټول ئې له یوې مادې او له یوې جوړې پیدا کړي، له بندګانو سره د الله معامله د دوی د ایمان او عمل له مخې وي، نه د جاه او نسب له مخې.

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

ابراهیم علیه السلام له کړاوونو او ستونزو سره مخامخ شو؛ پلار او قوم ئې د ده مخالفت وکړ، پلار وګواښلو چې که له خپل دعوت او مبارزې لاس وانه خلي له کور به ئې وشړي او حتی رجم به ئې کړي؛ خو ده د دغو ګواښونو او مخالفتونو پروا ونه کړه، د نظام او واکمنو مخالفتونو او تهدیدونو د ده عزم سست نه کړ او په زړه کې ئې وېره راپیدا نشوه، نمرود وګواښلو چې وژنې ئې او په اور کې ئې سوزوي؛ له دې ئې هم پروا نه وه چې د اور کنده ئې ورته تیاره کړې ده؛ د اور لمبې هم په خپلو سترګو ګوري، په منجنیق کې ئې کښېنوي او په اور کې ئې اچوي؛ په روایاتو کې راځي چې په همدې وخت کې د اور مأمور فرشته ورته راځي؛ ورته وایي: یا ابراهیم! زه د اور مامور فرشته یم؛ څه غواړې؟ ابراهیم علیه السلام ورته وایي: له تا هیڅ نه غواړم؛ او له خپل رب مې؛ هغه مې ګوري؛ نمرود وګواښلو چې وژنم دي؛ هغه ورته وایي چې زه په هغه رب ایمان لرم چې مرګ او ژوند د هغه په لاس کې دئ؛ خو له مبارزې ئې لاس وانه خیست؛ تر هغه چې د اور په کندې کې ئې وغورځولو؛ الله تعالی وژغورلو؛ له ټولو عراقیانو یوازې دوو کسانو پرې ایمان راوړ او له ده سره یو ځای هجرت ته چمتو شول؛ ابراهیم علیه السلام د دغو ټولو سختو سختو آزموینو او ابتلاءاتو په وړاندې ناهیلی نه شو، ظلم ته تسلیم نشو، خپله لار ئې پرې نښوده، بالآخره ئې د هجرت لار غوره کړه، دی په یوې سیمې کې مېشت او په دعوت بوخت شو او وراره ئې لوط علیه السلام چې له هغه سره ئې یو ځای هجرت کړی وو په بلې سیمې کې، په زړښت کې الله تعالی ورته زوی ورکړ، خو دا زوی هم د مزید آزموینو وسیله شو، د الله تعالی له لوري مأمور شو چې همدا زوی او مور ئې هاجر؛ په داسې حال کې د مکې په هغې وچې، بې اوبو او بې سکنې وادي کې یوازې پرېږدي چې نه په کې وني او بوټي وو، او نه انسان، حیوان او مرغان، کله چې دی د زړښت پای ته او همدا زوی ئې تنکی ځوانۍ ته ورسېد؛ نو په خوب کې ئې مکرر ولیدل چې همدا زوی ذبح کوي، وئې پتېیله چې الله

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

تعالی همدا ترې غواړي؛ نو د زوی ذبح کولو ته په داسې حال کې چمتو شو چې د زړښت له کبله ډېر ورته اړ وو، الله تعالی ئې قرباني قبوله کړه؛ د زوی ذبح کول ئې د پسه په ذبح کولو تعویض کړ او په دې سره ئې د جاهلیت د دور هغه دود د تل لپاره له منځه یووړ چې خلکو به د الله تعالی د رضاء ترلاسه کولو لپاره خپل لومړنی زوی یا قرباني کولو او یا به ئې معبد ته وقف کولو.

په دې توګه په ټولو الهي آزموینو او ابتلاءاتو کې بریالی شو؛ نو الله تعالی د دې بریا په نتیجه کې هغه ته د امامت ستر مقام ورکړ.

متأسفانه؛ ځینې؛ د دې پر ځای چې دا الهي آزموینې؛ همغه وګڼي چې په قرآن کې راغلې دي، برعکس د نوکانو د قطع کولو او د اضافې ویښتانو د خرڅیلو په څېر څو کارونه ئې ګڼي!!

دا الهي لارښوونې موږ ته ښیي چې امامت او زعامت به نه موروثي توکی ګڼو او نه به ئې غیرمستحق ته سپارو؛ مستحق یوازې هغه دئ چې عملاً او د آزموینو په ترڅ کې ئې وړتیا جوته او ثابته شوې وي. دا د قرآن مهمه لارښوونه ده؛ موږ ته وایي: داسې څوک زعیم وټاکئ چې تاسو ته ئې امتحان درکړی وي او په سترو سترو آزموینو کې بریالی شوی وي؛ په الهي معیارونو کې اعتقادي نسبتونه او اړیکې ارزښت لري؛ نه نسبي اړیکې، دومره چې اعتقادي اختلاف؛ د وینې او نسب روابط هم منتفي او بې ارزښته کوي؛ مسلمان له کافر او کافر له مسلمان میراث نه وړي.

قرآن د نوح علیه السلام په قصې کې موږ ته همدا لارښوونه کوي او فرمایي: هغه مهال چې نوح علیه السلام له خپلو معدود شمېر یارانو سره په کښتۍ کې سپرېدو او خپل زوی ئې ولید چې وروسته پاته شو او د طوفان څپه د ده او زوی تر منځ حائله شوه؛ نو د دعاء لاسونه ئې اوچت کړل او وئې ویل: اې زما ربه! زما زوی خو زما له کورنۍ دئ، او ستا وعده رښتینې ده، او ته تر ټولو غوره حکم کوونکی یې، یعني تا راسره وعده کړې وه چې

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

ما او ټبر به مي له غرقېدو ژغورې؛ خو دا دئ هغه غرق شو!! الله تعالى وفرمايل:

قَالَ يَٰنُوحُ إِنَّهُۥ لَيۡسَ مِنۡ أَهۡلِكَۖ إِنَّهُۥ عَمَلٌ غَيۡرُ صَٰلِحٖۖ فَلَا تَسۡـَٔلۡنِ مَا لَيۡسَ لَكَ بِهِۦ عِلۡمٌۖ إِنِّيٓ أَعِظُكَ أَن تَكُونَ مِنَ ٱلۡجَٰهِلِينَ ٤٦

هود: ٤٦

وئې فرمايل: اې نوح! هغه ستا له ټبره نه دئ، هغه يو ناصالح شى دئ، نو له ما د هغه څه په اړه مه پوښته چې نه پرې پوهېږې، زه د دې وعظ درته کوم چې (داسې نه چې) له جاهلانو شې!

قرآن نه يوازې يو غيرصالح زوى؛ د صالح پلار له اهل مستثنى کوي؛ نوح عليه السلام ته وايي چې دا ستا غيرصالح زوى؛ ستا له ټبره نه دئ؛ يعني چې د ويني او نسب تعلق ارزښت نه لري؛ بلکه د ايمان او د صالح عمل اړيکه ارزښت لري؛ جاهلان نسب ته ارزښت ورکوي؛ اما مؤمن؛ ايمان او صالح عمل ته.

گورئ چې د دغو دواړو قصو په ترڅ کې موږ ته لارښوونه شوې چې د انسان مقام او منزلت د باورونو او عملونو له مخې ټاکل کېږي نه د ټبر او نسب له مخې.

له تاريخي پلوه هم گورو چې د صحابه وو په دور کې زعامت او امامت؛ په موروثي توگه له يوه بل ته نه دئ انتقال شوى، نه د رسول الله صلى الله عليه و سلم په کورنۍ کې او نه له ده وروسته د ده د څلورو يارانو په کورنۍ کې.

موروثي امامت؛ اسلامي بنسټ نه لري؛ له تاريخي پلوه هم او له اصولي پلوه هم؛ د امامت او زعامت لپاره داسې مواصفات ضروري دي چې له مخې ئې يو کس وړ او مستحق ګڼل کېدى شي.

عملاً مو ليدلي چې زموږ ائمه؛ له داسې چا سره له بيعت ډډه کړې چې

له deenodanish.com څخه ښکته شوى Deen-o-Danish

په موروثي توګه د زعامت پر ګدۍ کښېنول شوی؛ امام حسين رضي الله عنه له يزيد سره بيعت ونکړ، دا ځکه چې يزيد په موروثي توګه امير شوی وو؛ پلار ئې معاويه رضی الله عنه چې لا ژوندی وو؛ خلک ئې راغونډ کړل او د يزيد لپاره ئې له هغوی بيعت واخيست؛ د سنت خلاف کار شوی دئ؛ اما دا چې څه دې ته اړ کړ دا اشتباه او د سنت خلاف کار وکړي؛ ښايله خبره ده؛ معاويه رضی الله عنه لوی شخصيت وو؛ د ده په دوره کې ډېر لوی لوی فتوحات شوي وو؛ خو امام حسين رضی الله عنه د يزيد سره چې په موروثي توګه انتخاب شوی وو؛ بيعت ونه کړ؛ سره له دې چې د همدې عدم بيعت له کبله؛ دی، ملګري ئې او د کورنۍ نږدې اويا غړي ئې شهيدان شول.

امام ابوحنيفه رحمه الله؛ له همداسې واکمن سره له مرستې او ملتيا ډډه وکړه؛ زندان ئې ومنلو خو له ظالم سره ملګرتيا ته چمتو نشو، نه يوازې همکاري ئې ونکړه بلکې له هغو سره ئې له فکري او مالي پلوه مرسته وکړه چې د همدې واکمنو په خلاف پاڅېدلي وو. د محمد نفس زکيه تر مشرۍ لاندې پاڅون ئې حمايت کړ او خپلو پلويانو او شاګردانو ته ئې سپارښتنه وکړه چې مرسته او ملتيا ئې وکړي.

ټول دغه دلائل ثابتوي چې په اسلام کې نه موروثي سياسي زعامت شته، نه مذهبي او نه اجتماعي، فقط د اهليت او استعداد له مخې بايد له يوه بل ته انتقال شي.

دوهم- د خواصو په خوښه او رأيه د امير ټاکل

ځيني داسې انګېري چې ګواکې د امير ټاکل د خواصو او نخبه وو کار دئ نه د عوامو او ټولو مسلمانانو!! د (اهل حل و عقد) په نامه يوه عربي اصطلاح هم کاروي؛ همغسې لکه چې يوې ډلې په هرات کې څو تنه راغونډ کړل او د شورای اهل حل و عقد نوم ئې ورکړ؛ د جمعيت له لوري جوړه شوې وه؛ غوښتل ئې رباني د جمهور رئيس په توګه غوره کړي!! خو په خلکو

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

کې دا غونډه د شورای پول نقد په نامه مشهوره شوه. راشئ وګورو چې دا رأی او دا اصطلاح کوم شرعي بنسټ هم لري که نه.

لومړی باید دا واضح کړو چې د اهل حل و عقد اصطلاح نه په قرآن کې مومو، نه د رسول الله صلی الله علیه و سلم په احادیثو کې او نه د صحابه وو د دور په روایاتو او اصطلاحاتو کې؛ دا اصطلاح هغه مهال وزېرېده چې امارت موروثي او خاندانې شو؛ د سنت خلاف د ځای ناستو ټاکلو بدمرغه بدعت رامنځته شو؛ امراءو وغوښتل چې د درباریانو پرېکړه د ټول امت پرېکړه وګڼل شي او د دوی بیعت د ټول امت د بیعت ځای ناستی!! له عام ولس سره د مخامخ کېدو جرأت او جسارت ئې نه کولو؛ پوهېدل چې عام ولس په دوی باندې باور نه لري او رأیه نه ورکوي؛ په زور پرې تپل شوي وو؛ د همدې لپاره ئې دا حق له عوامو سلب کړ؛ خواصو، نخبه وو او درباریانو ته ئې انتقال کړ؛ او په دې توګه په جومات کې د امیر د ټاکلو هغه شرعي منهج؛ چې د اسلام څلور رشید خلفاء یو په بل پسې په جومات کې غوره شوي وو؛ په قصرونو کې د امیر د ټاکلو په غیرشرعي دود بدل شو!! همدا مهال ځینو درباري علماءو دا اصطلاح اختراع او له ځانه جوړه کړه او واکمنو د خپلو پراخو تبلیغاتو په مټ هغې ته داسې مذهبي او شرعي رنګ ورکړ چې عوام ئې د قرآن آیت او د پیغمبر حدیث وګڼي!! اوس هم چې څوک له قرآن او حدیث خبر نه وي او څوك ئې په وړاندې دا عربي اصطلاح وکاروي؛ فکر کوي چې دا اصطلاح به حتماً په قرآن یا احادیثو کې راغلې وي؛ حال دا چې دا اصطلاح د درباري علماءو له لوري ډېر وروسته د امویانو او عباسیانو په دوره کې رائج او رامنځته شوي ده.

د دې غلطي رأیي پلویان وایي: ابوبکر رضي الله عنه د سقیفه بني ساعده په غونډې کې د امیر په توګه غوره شو!! د دوی تر ټولو ډېر قوي او مضبوط دلیل همدا دئ؛ چې ګواکې په سقیفه بن ساعده کې یو تعداد خلک راټول شوي او ابوبکر رضی الله عنه ئې د خلیفه په توګه ټاکلی؛ په همدې

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

غلطي ادعاء استناد کوي او وايي چې امير به د معدود شمير خواصو او نخبه وو له لوري ټاکل کېږي؛ دا ادعاء هم کوي چې ګواکې په دې غونډې کې راغونډ شوي اشخاص؛ اهل حل و عقد وو!! په داسي حال کې چې اهل حل و عقد هغو ته ويل کېږي چې د خلکو ترمنځ پرېکړې او ټرونونه کوي او مشاجرات او اختلافي مسائل حل کوي؛ د عقد معنی غوټه کول او د حل معنی پرانيستل دي. حقيقت دا دئ چې دا خبره کاملاً بې بنسټه او بې دليله ادعاء ده؛ نه دا غونډه د اهل حل و عقد غونډه وه او نه ابوبکر رضی الله عنه په دې غونډې کې د امير په توګه غوره شوی او خلکو ورسره بيعت کړی؛ دا دواړه خبرې غلطي دي. دا ادعاء يوازې په هغه صورت کې د منلو وړ وه چې د صحابه څو معدود مشران، (د ټرلو دروازو ترشا) په داسي خاص ځای کې راغونډ شوي وی چې عامو خلکو ته د ورتلو او څه ويلو اجازه نه وه او د دوی له لوري ابوبکر رضی الله عنه انتخاب شوی او هملته له ده سره بيعت شوی وی او همدا بيعت کافي او نهائي ګڼل شوی وی!! حال دا چې خبره کاملاً د دې عکس ده، د سقيفه بني ساعده غونډه يوه ناڅاپي غونډه وه، نه له مخکې ورته څه تدابير نيول شوي وو، نه خلک ورته بلل شوي وو؛ ناڅاپي د پيغمبر عليه السلام د وفات خبر خپور شو؛ ځيني خلك په سقيفه بني ساعده کې راغونډ شول؛ غونډه هم د يوې قبيلې يعني د خزرجيانو له لوري جوړه شوې وه، غوښتل ئې خپل قومي مشر؛ سعد بن عباده رضي الله عنه د امير په توګه غوره کړي. د نورو قبيلو خلک هم نه وو ورته راغلي؛ مخصوصا د اوس قبيله؛ حتما خبر يئ چې په مدينه منوره کې دوه ستري قبيلې؛ اوس او خزرج اوسېدل؛ د خزرج قبيلې مشر سعد بن عباده رضی الله عنه او د اوس قبيلې مشر سعد بن معاذ وو؛ چې ډېر ستر شخصيت وو؛ مورِ ټول د هغه د احسان پوروړي يو؛ پيغمبر عليه السلام ته په حقيقت کې همدې سعد بن معاذ رضی الله عنه پناه ورکړې وه او د همده د ملګرتيا له کبله پيغمبر عليه السلام په مدينه منوره باندې مسلط شو؛ سعد بن معاذ رضی

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

الله عنه په ۳۰ کلنۍ کې ایمان راوړی او په ۳۶ کلنۍ کې په شهادت رسېدلی؛ نوموړي په همدغه ۶ کلونو کې دومره ستر ستر کارونه کړي چې مسلمانان به د قیامت تر ورځې د هغه مرهون او ممنون وي؛ په دې غونډې کې نه اهل حل و عقد وو، نه مهاجرین او د دوی مشران، نه د اوس قبیلې عام وګړي او مشران؛ که وو هم ډېر کم او د ګوتو په شمېر؛ په داسې حال کې چې دا غونډه صرف د یوې قبیلې غونډه وه او عشوائي او ناڅاپي غونډه وه؛ دې ته د اهل حل و عقد نوم ورکول؛ یوه قبیح مغالطه ده. ابوبکر، عمر او ابو عبیده بن جراح رضی الله عنهم هم په پیل کې دي غونډه کې نه وو؛ ډېر وروسته ورغلي، علي رضی الله عنه او د رسول الله صلی الله علیه و سلم نور خپلوان هم په دې غونډه کې شرکت نه ده کړی؛ دا ځکه چې هغوی د رسول الله صلی الله علیه وسلم د غسل او تکفین په چارو مصروف وو، د غونډې غوڅ اکثریت برخه وال؛ انصار او په ځانګړې توګه خزرجیان ول، په دې غونډې کې د خلیفه د تعیین په اړه ېبل ېبل نظریات وړاندې شوي، په پای کې د غونډې برخه والو د ابوبکر رضی الله عنه په خلافت توافق کړی، خو هغه د دې غونډې د توافق له مخې د خلیفه په توګه نه دئ ټاکل شوی، بلکې هغه مهال د خلیفه په توګه غوره شو چې خلکو په جومات کې له ده سره بیعت وکړ، نه په سقیفه بني ساعده کې خاص مشران د اهل حل و عقد په نامه راغونډ شوي او نه په جومات کې؛ په دواړو کې عام خلک راغونډ شوي وو، د سقیفه بني ساعده غونډه ناڅاپي وه؛ هرڅوک ورته راغلي؛ ماشومانو او تنکیو ځوانانو هم پکې ګډون کړی وو؛ څوك چې د ابوبکر رضی الله عنه انتخاب د اهل حل و عقد له لوري ګڼې بې بنسټه، غیرعلمي او د حقائقو خلاف ادعاء کوي. ډېره ډېره عجیبه ده چې څوك په جومات کې د یوه چا انتخاب ته د اهل حل و عقد له لوري د انتخاب نوم ورکوي!!

جومات ته هر مسلمان تلی شي، دروازه ئې د هر چا پر مخ خلاصه وي، څوک ئې مخه نه نیسي؛ حتی ماشومان او تنکي ځوانان ورتلی شي؛ د

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

جومات غونډې ته د اهل حل و عقد او د نخبه وو او خواصو نوم ورکول؛ ستره مغالطه ده. په جومات کې چې کومه غونډه کېږي؛ هغه به هرو مرو عامه غونډه وي نه خاصه؛ صحابه وو به خپل کوچني ماشومان هم له ځان سره بېول، مېرمنو به لمانځه ته له ځان سره د غېږې ماشومان هم وړل؛ د مېرمنو د لمانځه لپاره په جومات کې خاص ځای ټاکل شوی؛ پیغمبر علیه السلام فرمایي: زه کله کله لمونځ د دې لپاره لنډ کړم چې د ماشوم د ژړا غږ واورم؛ څنګه به یو هوښیار، مؤمن او صادق انسان جسارت وکړي چې د جومات غونډې ته د خواصو غونډې نوم ورکړي.

مورږ خو د ابوبکر رضی الله عنه د انتخاب څرنګوالي ته په پام سره وایو چې د امیر انتخاب باید په جومات کې او د جومات په څېر ځای کې وي نه د ټرلو دروازو تر شا، باید د ټولو هغو مسلمانانو په خوښه وي چې جومات ته تلی شي؛ مورږ ته د صحابه وو منهج او په جومات کې د څلورو خلفاءو د ټاکلو طریقه همدا درس راکوي چې هر هغه څوک چې جومات ته تلی شي او د جماعت په لمانځه کې ګډون کولی شي؛ هغه د امیر په ټاکلو، له هغه سره په بیعت کولو او هغه ته د رأی ور کولو حق هم لري؛ د څو کسانو له لوري د امیر ټاکل؛ هیڅ شرعي او عقلي مبنی نه لري او بې بنسټه رأیه ده؛ زمورږ لپاره معیاري مرحله او د امیر د انتخاب غوره طریقه همغه ده چې څلور خلفاء پرې ټاکل شوي او استناد به مو یوازي په همدې مرحلې وي نه له دې وروسته مرحلو؛ امیر به په جومات کې او د جومات په څېر عامه غونډه کې غوره کېږي؛ د معلن او غیر مُکرَه بیعت په نتیجه کې به امیر کېږي؛ نه له بیعت مخکې یا له بیعت پرته.

دا جنابان دي هغه روایت هم په پام کې ولري چې وایي: عمر رضي الله عنه د سقیفه بني ساعده غونډه یوه عشوائي او ناڅاپي غونډه بولي او وایي: الله تعالی د هغې له شره وژغورلو!! او که له شره ئې نه وی ژغورلی نو ډېري خطرناکي پایلې به ئې درلودلې. او هغه روایت هم چې وایي: ابوبکر رضی

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

الله عنه تر هغه ځان خليفه ونه ګڼلو چې د يمن خلکو هم خپل بيعت ورته راولېږو.

عمر رضي الله عنه ته د حج په موسم کې چا اطلاع ورکړه چې ځينې وګړي وايي: که عمر رضي الله عنه وفات شو نو موږ به له فلان کس سره بيعت کوو؛ هغه ورته وويل: سبا خلك راغونډوم او هغوی ته په خطبه کې څه وايم؛ عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه؛ چې ډېر ستر شخصيت، جليل القدر صحابي او د عشره مبشره له لس کسيزې ډلې وو؛ پيغمبر عليه السلام هغه ته د امت د امين لقب ورکړی وو؛ د حزم او درايت خاوند صحابي؛ عمر رضی الله عنه ته وويل: داسې مه کوه؛ دلته د حج په موسم کې ډول ډول عوام او ساده خلك هم راغونډ شوي، له دې خبرې به غوغا جوړه کړي، صبر وکړه چې مدينې ته ستون شوې؛ هلته ئې وکړه؛ همداسي ئې وکړل؛ مدينې ته له ستنېدو وروسته ئې په خپلې خطبې کې وويل: ...

... إِنَّهُ بَلَغَنِی أَنَّ قَائِلاً مِنْكُمْ يَقولُ: وَاللهِ لَوْ مَاتَ عُمَرُ بايَعْتُ فُلانًا فَلا يَغْتَرَّنَّ امرُؤٌ أَنْ يَقولَ: إِنَّمَا كَانَتْ بَيْعَةُ أَبِی بَكْرٍ فَلْتَةً وَتَمَّتْ أَلا وَإِنَّهَا قَدْ كَانَتْ كَذَلِكَ وَلَكِنَّ اللهَ وَقَى شَرَّهَا وَلَيْسَ مِنْكُمْ مَنْ تُقْطَعُ الأَعْنَاقُ إِلَيْهِ مِثْلُ أَبِی بَكْرٍ مَنْ بَايَعَ رَجُلاً عَنْ غَيرِ مَشُورَةٍ مِنَ المسْلِمينَ فَلا يُبَايَعُ هُوَ وَلا الَّذی بَايَعَهُ تَغِرَّةً أَنْ يُقْتَلا:

خبر شوی يم چې ځيني خلك وايي: په خدای قسم که عمر وفات شو نو موږ به له فلان سره بيعت وکړو؛ پام چې څوك په دې دوکه نشي چې وايي: له ابوبکر سره بيعت ناڅاپي وو او ترسره شو او ومنل شو، هو؛ همداسي وو؛ خو الله تعالی د دې پېښې شر دفع کړ؛ او په تاسو کې داسي څوك نشته چې د ابوبکر په څېر خلك ورته تسليم وي؛ څوك چې د مسلمانانو له خوښي او مشورې پرته له چا سره بيعت وکړي نو نه دي له ده او نه له هغه چا سره

deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

بيعت کېږي چې ده ورسره بيعت کړی؛ ښايي داسي تېروتنه د دواړو د وژل کېدو باعث شي!!

درېيم-د وليعهد او ځای ناستي تعيين

ځيني داسي انګېري چې د ځای ناستي ټاکل نه يوازي جائز دي بلکې مفيد او ضروري هم دي!! ادعاء يا ګمان کوي چې په دې سره کېدی شي د هغو احتمالي منازعاتو او لانجو مخنيوی وشي چې د يوه زعيم له تلو او د بل تر راتلو پوري؛ رامنځته کېږي او ګواکې د ځای ناستي په ټاکلو سره به ئې مخنيوی وشي!! استدلال ئې په ظاهر کي ښه برېښي؛ اما د سنت، د صحابه وو د منهج او د الله تعالی د لارښوونو خلاف دئ؛ مور د دين له صحابه وو زده کړی؛ مور ته د الله تعالی د خوښي کارونه؛ پيغمبر عليه السلام په خپل قول او عمل سره معرفي کړي دي.

دوی ته په ځواب کې وايو: که ستاسو دا استدلال او واهمه پر ځای او د ځای ناستي ټاکل يقيناً مفيد وی نو رسول الله صلی الله عليه و سلم به حتماً او تر رحلت ډېر وړاندي دا کار کړی وو؛ يو ځای ناستی به ئې ټاکلی وو او په واضحو الفاظو به ئې صحابه وو ته ويلی وو چې له ما وروسته به دا کس ستاسو خليفه او امير وي. خو په دې اړه نږدې د ټولو علماءو اجماع ده چې رسول الله صلی الله عليه و سلم د هيڅا په اړه سپارښتنه نه ده کړې، نه صريحاً او نه تلويحاً؛ د پيغمبر عليه السلام په څېر يو مدبر شخصيت؛ د خدای پيغمبر چې هر کار د وحي په حکم کوي؛ که ئې غوښتلی دا کار وکړي؛ نو ډېر د مخه به ئې يو کس نومولی وو او له صحابه وو به ئې د هغه لپاره بيعت هم اخيستی وو؛ داسي چې د ده تر رحلت وړاندي به ټولو ته معلوم وو او د رحلت په ورځ به خلك په سقيفه بني ساعده کې د دې لپاره نه راغونډېدل چې ځينو غوښتل سعد بن عباده د امير په توګه اعلان کړي، ابوبکر رضي الله عنه؛ عمر او ابو عبيده بن جراح رضي الله عنهما د دې

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

منصب لپاره وړ وګڼي، او عمر ده ته د بیعت لپاره لاس اوږد کړي، او له کافي بحثونو وروسته ټول په دې سلا شي چې ابوبکر رضي الله عنه تر ټولو غوره انتخاب دئ.

په دې غونډې کې؛ نوري خبرې هم شوې وې؛ یوه رأیه دا وړاندې شوې وه چې یو امیر دي له مهاجرینو او یو دي له انصارو وي؛ بله رأیه دا چې امیر دي له یوې ډلې او معاون او وزیر دې له بلې ډلې وي؛ یعني یو له انصارو او بل له مهاجرینو؛ دا رأیې ټولې رد شوې دي او په پای کې ټولو اتفاق کړی چې ابوبکر رضی الله عنه د دې کار لپاره تر ټولو غوره، وړ، مناسب او افضل شخصیت دئ؛ اسلام دوی داسې روزلي وو چې افضل او تر ټولو ښه به غوره کوي؛ له علمي پلوه هم چې په دین ښه پوه وي؛ د توانمنیو، وړتیاوو، د خپلو تجربو، پوهې، حکمت او مدیریت له پلوه هم؛ هغوی له قران دا زده کړې وو چې د امیر په انتخاب کې به کوم کوم مواصفات په نظر کې نیسي؛ داسې روزل شوي وو چې امیر به د کومو ښو صفاتو له مخې غوره کوي.

همداراز؛ لکه چې رسول الله صلی الله علیه و سلم تر رحلت وړاندې؛ نه کوم ځای ناستی وټاکو او نه ئې د چا په اړه سپارښتنه وکړه؛ عمر رضي الله عنه هغه مهال چې له زخمي کېدو وروسته؛ ځینو صحابه وو ترې وغوښتل چې ځای ناستی وټاکي؛ نو د رسول الله صلی الله علیه و سلم په همدې سنت ئې تمسك او استدلال وکړ او وئې ویل: که زه کوم ځای ناستی ونه ټاکم؛ نو د هغه چا په سنت به مي عمل کړی وي چې تر ما غوره وو؛ یعني د پیغمبر علیه السلام په سنت، او که د چا په اړه سپارښتنه وکړم نو د هغه چا په سنت به مي عمل کړی وي چې هغه هم تر ما غوره وو؛ یعني ابوبکر رضي الله عنه؛ دا ځکه چې هغه د جلیل القدرو اصحابو په مشوره؛ د عمر رضي الله عنه په اړه سپارښتنه کړې وه؛ ځیني د عمر رضي الله عنه له انتخاب سره کاملاً موافق وو؛ خو ځینو څه ملاحظات درلودل او ویل ئې: هغه لږ جدي

deenodanish ځخه ښکته شوی deenodanish.com له

او متشدد دئ؛ ابوبکر رضي الله عنه هغوی ته هم قناعت ورکړ؛ عمر رضي الله عنه دې ته ترجیح ورکوله چې د چا په اړه له سپارښتني ډډه وکړي؛ د صحابه وو د الحاح او اصرار په نتیجه کې مجبور شو څه ووایي؛ خو د دې په ځای چې د کوم مشخص کس په اړه سپارښتنه وکړي؛ د شپږو جلیل القدرو صحابه وو نومونه ئې واخیستل چې هر یوه په صحابه وو کې ګڼ شمېر پلویان درلودل؛ دوی به یو کس غوره کوي؛ د خپل زوی عبدالله بن عمر یادونه ئې هم وکړه خو دا شرط ئې وضع کړ چې دی به د امیر په توګه نه غوره کېږي؛ او وئې ویل: د ابن خطاب له کورنۍ همدا زه کافي وم!! عمر رضی الله عنه ډېر لوی او ستر شخصیت تېر شوی؛ د ستر حکومت د زعیم په توګه ئې؛ ډېر ستر ستر کارونه کړي؛ د عدالت او درایت سمبول وو او په دین ډېر کلک ولاړ؛ په دین ډېر ښه پوه؛ د اسلام په خورېدو او عام کېدو کې د ده ډېره ستره ونډه وه؛ کله چې عمر رضی الله عنه ایمان راوړ؛ د مسلمانانو په وضعیت کې ژوره تبدیلي راغله.

د مسلمانانو لومړنی خلیفه په جومات کې او په یوې داسي عام، آزاد او معلني اجتماع کې د امیر په توګه غوره شو چې هر لمونځ کوونکي مسلمان په کې شرکت کولی شو، نه د خواصو او نخبه وو په غونډې کې او نه د ټرلو دروازو تر شا په کوم قصر کې، تر دې وړاندي د سقیفه بني ساعده په داسي عام ځای او عام غونډې کې د نوماند په توګه غوره شو چې د مدینې فرد فرد کولی شو شرکت وکړي، دې ته مو باید پام وي چې یو په نوماند باندي د خلکو توافق دئ او بل له بیعت وروسته په امیر باندي د خلکو توافق؛ لکه چې د سقیفه بن ساعده په غونډه کې ابوبکر رضی الله عنه د نوماند په توګه غوره شو؛ او بیا په جومات کې له بیعت وروسته د امیر په توګه غوره شو. نن هم د ځینو هیوادونو په انتخاباتي سیستم کې؛ کله چې د هېواد جمهور رئیس ټاکل کېږي؛ همداسي کوي. د سقیفه بني ساعده په اجتماع کې؛ بېل بېل وړاندیزونه او نظریات وړاندي شوي؛ انصارو غوښتل امیر د خزرج

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

قبيلې له منځه وي، که سعد بن معاذ ژوندی وی نو د اوس قبيلې به ويلې وو چې دی د امارت لپاره تر ټولو مناسب او وړ دئ؛ او څه چې ما د سعد بن معاذ په ارتباط لوستلي او اورېدلي؛ او پيغمبر عليه السلام چې څومره د هغه ستاينې کړې؛ باور مي دا دئ چې که هغه ژوندی وی؛ نو پيغمبر عليه السلام به هغه د خليفه په توګه ټاکلی وو او ټولو مهاجرينو او انصارو به د هغه زعامت او امارت منلی وو.

مهاجرينو غوښتل چې امير بايد يو مهاجر وي؛ دا ځکه چې نهضت د دوی په لاس پيل شوی؛ ځينو ويل چې امير له يوه لوري او وزير له بل لوري، په پای کې ابوبکر رضي الله عنه وويل: پر يوه انصاري امير توافق ګران دئ؛ بايد د مهاجرينو له منځه څوک غوره شي؛ د عمر او ابو عبيده بن جراح رضي الله عنهما نومونه ئې واخيستل او وئې ويل: له دوی دواړو يو غوره کړئ، خو عمر رضي الله عنه وويل: چې ابوبکر صديق وي ما ته صبر دئ؛ هغه تر ټولو افضل او د رسول الله صلی الله عليه و سلم د هغه تاريخي سفر ملګري وو چې په قرآن کې ئې يادونه شوې، لاس ئې د ابوبکر لوري ته اوږد کړ چې بيعت ورسره وکړي. د غونډې ټولو برخه والو د ده له نظر سره اتفاق وکړ، خو دا توافق د امارت لپاره کافي نه وو؛ بايد نور اقدامات ترسره شي چې امارت ئې مُحرز او قطعي شي، په جومات کې څرګنده او عامه غونډه دائر‌ېږي، له ابوبکر رضي الله عنه غوښتل کېږي چې د غونډې په وړاندې ودر‌ېږي او دا ووايي چې که دی امير شو نو څه به کوي؛ هغه د خپلې تاريخي وينا په ضمن کې وويل: زه ستاسو د ډلې يو فرد يم، تر تاسو غوره نه يم، که مي سم کار کولو زما مرسته وکړئ او که مي اشتباه وکړه ما اصلاح کړئ. د ده له وينا وروسته؛ د غونډې فرد فرد بيعت وکړ؛ د بيعت له مراسمو وروسته؛ ابوبکر رضي الله عنه رسماً د امير په توګه وټاکل شو. که د سقيفه بن ساعده په غونډې کي ابوبکر رضی الله عنه امير ټاکل شوی وی نو بيا دوهمي غونډې ته ضرورت نه وو؛ خو روايات وايي چې ابوبکر رضي الله

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

عنه؛ سره له دې چې نه ئې رقیب او سیال درلود او نه کوم مخالف؛ ټولو په اتفاق سره دی د امیر په توګه ومنلو او بیعت ئې ورسره وکړ؛ خو ده تر هغه ځان امیر نه ګڼلو چې د یمن خلکو هم خپل بیعت اعلان کړ؛ یمن د اسلامي خلافت یوه وړه او لرې پرته سیمه وه؛ ابوبکر رضي الله عنه؛ د دې سیمې له بیعت وروسته په رسمي او ډاډه توګه خپل کارونه پیل کړل.

که رسول الله صلی الله علیه و سلم کوم ځای ناستی ټاکلی وی؛ نو هیڅکله به هغو صحابه وو چې پر ده ئې ایمان راوړی وو او د ده په لاس روزل شوي وو؛ د امیر په اړه ېهل ېهل نظریات نه وو ورکړي؛ دا موضوع مهمه ده؛ متأسفانه ځیني سره له دې ټولو څرګندو حقائقو؛ اوس هم داسې ګومان کوي چې ګواکې علي رضی الله عنه د امارت مستحق وو؛ پیغمبر علیه السلام د هغه په اړه سپارښتنه کړې وه؛ ګواکې د هغه په ارتباط صریح نص شته؛ یعني هغه منصوصي امیر دئ؛ ګواکې دا منصب مختص د اهل بیت دئ او له اهل بیت هم د دوی مراد؛ یوازي علي رضی الله عنه او د فاطمي رضی الله عنها اولاد دي!!؛ هغوی ته وایو: جنابانو دا د اهل بیت اصطلاح چې په قرآن کي راغلې؛ مراد ئې یوازي او فقط د پیغمبر علیه السلام مېرمني دي نه بل څوک؛ د ابراهیم علیه السلام په قصه کي هم عین خبره (د اهل البیت) صیغه راغلې چې مراد ترې د إبراهیم علیه السلام مېرمن ده؛ کله چې د ده کور ته فرشتې د تنکیو ځوانانو په بڼه کې راغلې؛ د ابراهیم علیه السلام په څېر ستر شخصیت؛ ونه پېژندې او پوه نشو چې کور ته ئې فرشتې راغلې؛ د مېلمنو ګمان ئې پرې وکړ؛ کور ته ننوځي؛ سخوندر ذبح او بیا ئې وریتوي؛ او د مېلمنو مخي ته ئې ږدي!! ناڅاپه متوجه کېږي چې هغوی له خوراک ډډه کوي؛ او لوښي ته لاس نه وړاندي کوي؛ ابراهیم علیه السلام داسې انګېري چې ښایي مېلمانه ئې له بد نیت سره راغلي؛ وېرېږي؛ خو فرشتې اطمئنان ورکوي او ورته وایي: مه وېرېږه؛ مونږ د الله تعالی له لوري رالېږل شوې یو؛ تا ته د زوی زېری درکوو؛ مېرمن ئې ولاړه وه؛ د زېري په اورېدو

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

سره خپل تندی په څپېړه وهي او وايي: زه او أولاد! مېړه مي شيخ او زوړ؛ زه عقيمه او له اولاده لوېدلې؛ نو ما ته به څنګه اولاد راکول کېږي؟! فرشتې ورته وايي: يا اهل بيت! دا د الله تعالى فيصله ده؛ يعني د قرآن قاموس کي له اهل بيت مېرمن مراد ده نه بل څوک. دې ته مو بايد پام وي چې په دې قصې کې موږ ته دوه نوري مهمي لارښوونې هم شوې: ١- د إبراهيم عليه السلام په څېر ستر شخصيت هم له غيب خبر نه وو؛ پر فرشتو ئې د ځوانانو ګمان وکړ او د زوی زېږی ورته دومره عجيب معلوم شو چې دی او مېرمن ئې ورته حيران شول. او ٢- په مصيبتونو آزمېښت هغه مهال لا دروند او ګران وي چې انسان ئې له پايلو هم بې خبر وي؛ إبراهيم عليه السلام له دې خبر نه وو چې په اور کې د غورځېدو پايله به ئې روغ وتل وي او د زوی ذبح کول به ئې د پسه په ذبح کولو تعويض کېږي؛ ځکه چې هغه په غيب نه پوهېدو؛ په غيب له الله تعالى پرته هيڅوک نه پوهېږي.

په قرآن باندې تر موږ صحابه ډېر ښه پوهېدل؛ که د علي رضی الله عنه او د هغه د أولاد په ارتباط؛ قرآن او رسول الله صلى الله عليه و سلم کومه لارښوونه او سپارښتنه کړې وی؛ نو ټول به ترې خبر وو؛ لږ تر لږه يوه خو به ويلي وو چې رسول الله صلى الله عليه و سلم فلان وخت او په فلان ځای کې؛ فلانی د ځای ناستي په توګه معرفي کړ!! نه به د سقيفه بني ساعده غونډه دائرېده او نه به مختلف وړاندیزونه، دا غونډه او دا بېل بېل نظريات او وړاندیزونه ښيي چې پيغمبر عليه السلام؛ نه څوک د ځای ناستي په توګه معرفي کړی او نه ئې د چا په اړه سپارښتنه کړې.

دا تاريخي بهير او اړوند دلائل ئې ښيي چې:

د امير د انتخاب طريقه ثابته او يوه ده؛ او هغه د جومات په عامه او معلنه غونډې کې معلن بيعت؛ د مسلمانانو له لوري او د دوی په خوښه او رضايت، يوازې همداسي بيعت دئ چې امارت ته مشروعيت ورکوي؛ اما د نوماندانو غوراوی او شمېر ئې مسلمانانو ته پرېښودل شوی؛ کېدی شي يو

deenodanish.com له Deen-o-Danish څخه ښکته شوی

کس وي او یا تر یوه زیات، کېدی شي شته امیر ئې وړاندي کړي او یا یوه مجموعه، کېدی شي شته امیر کوم نوماند معرفي نه کړي؛ همغسي لکه چې رسول الله صلی الله علیه و سلم هیڅوک معرفي نه کړ؛ کېدی شي یو کس معرفي کړي؛ لکه ابوبکر رضي الله عنه چې معرفي کړ او کېدی شي تر یوه زیات معرفي کړي لکه چې عمر رضي الله عنه معرفي کړل، کېدی شي د نوماند معرفي کولو دنده یوه معتبر او مطمئن هیئت ته محول شي؛ لکه چې عمر رضي الله عنه همداسي وکړل.

د رسول الله صلی الله علیه و سلم سنت او د صحابه وو منهج ته په پام سره ویلی شو چې د ځای ناستي نه ټاکل د پیغمبر علیه السلام سنت دئ، او دا د الله تعالی لویه پېرزوینه وه چې رسول الله صلی الله علیه و سلم نه ځای ناستی وټاکو او نه ئې د چا په اړه سپارښتنه وکړه؛ که خدای مه کړه دا کار ئې کړی وی؛ نو تر ده وروسته به هر امیر او زعیم همدا کار کولو؛ امارت به موروثي کېدو؛ هر امیر به په همدې سنت استدلال کولو او خپل زوی به ئې ځای ناستی ټاکلو؛ زعامت او امارت به نااهلو ته سپارل کېدو او فتنې به راولاړېدې. داسي فتنې لکه چې د یزید له ټاکلو وروسته راولاړي شوې؛ څومره نااهله امراء به پر مورِ مسلط او ټاکل شوي وو؟ هر واکمن به خپل زوی ځای ناستی ټاکلو او دلیل به ئې هم دا وو چې پیغمبر علیه السلام همدا کار کړی؛ دا خو د رسول الله صلی الله علیه و سلم سنت دئ؛ درباري علماءو به هم ویل: پاچا خو د ځای ناستي په ټاکلو سره د پیغمبر علیه السلام په سنت عمل کړی؛ ولې اعتراض کوئ؟ دا خو د هغه شرعي حق دئ. امارت به موروثي کېدو؛ هر امیر به په همدې سنت استدلال کولو او خپل زوی به ئې د امیر په توګه معرفي کولو؛ طبیعي ده چې ده ته به خپل زوی تر بل هر چا غوره او وړ شخصیت معلومېدو؛ اکثر انسانان داسي دي چې هم خپل ځان تر نورو غوره او وړ بولي او هم خپل زوی تر نورو ورته غوره برېښي. کومي فتني چې د یزید له ټاکلو راولاړي شوې؛ تر ننه ئې لړۍ روانه

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

ده؛ دا نن هم؛ په محرم کي يوه ډله تور تور بيرغونه لوړوي، ماتمونه نيسي، ځانونه په زنځيرونو وهي؛ د دې ماتمونو بنسټ؛ د ځای ناستي په توګه د يزيد د ټاکلو په ورځ ايښودل شوی. دغو ماتم نيوونکو ته دا مهمه نه ده چي د پيغمبر عليه السلام يو مليون امتيان په عراق کي؛ دوه مليونه په افغانستان کي وژل کېږي؛ نه ماتم پرې کوي او نه تور بيرغونه رپوي؛ خو د ځوارلس پېړۍ وړاندي؛ يوه زړه قضيه؛ چي د اويا تنو په شهادت منتج شوې؛ دومره ورته مهمه ده چي هر کال ئې بايد ولمانځي!!!

د داسي نوماند معرفي کول چي مسلمانان به ئې په اړه وروستی تصميم نيسي او د دوی په رأی، خوښه او بيعت به امير کېږي؛ او دا چي بيعت به ځنګه ترسره کېږي؛ مخامخ او لاس په لاس؛ او که له لري، د تحريري او شفوي پيغام له لاري؛ دا قضايا د مسلمانانو ظروفو، شرائطو، شمېر، حالت او خوښي ته پرېښودل شوي؛ که دوی دوه درې نفره وي او په سفر روان وي؛ نو کولی شي د خپلمنځي توافق له لاري يو تن د سفر موقت امير کړي، که د يوه کلي خلك وي؛ کولی شي په جومات کي راغونډ شي او يو تن غوره کړي او مخامخ ورسره؛ لاس په لاس بيعت وکړي، پيغمبر عليه السلام فرمايي: تر هغه وخته پوري يو امام په جومات کي امامت کولی شي چي خلک تري راضي وي او که خلک تري راضي نه وي او دی پر خپل امامت ټينګار کوي؛ نو داسي امام د خدای تعالی د لعنت وړ دئ.

که د مسلمانانو تعداد زيات وي؛ نو کولی شي د استفتاء (شفوي رأی معلومولو) له لاري هغه څوك غوره کړي چي د دوی اکثريت ئې د امارت لپاره وړ ګڼي؛ همغسي لکه چي د عثمان رضي الله عنه انتخاب تر سره شو؛ له شپږو نوماندانو درې ئې يو د بل لپاره تېر شول، څلورم ئې عبدالرحمن بن عوف رضی الله عنه وو؛ يو له عشره مبشره؛ هغه چي رسول الله صلی الله عليه و سلم د امين امت لقب ورکړی؛ هغه وويل: زه هم تېرېږم؛ خو پاته دوه دي ما ته دا اختيار راکړي چي وګورم د مدينې اکثر مسلمانان د چا په

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

امارت راضي دي. ټولو په همدې توافق وکړ؛ ده درې شپې ورځې د مدينې له اوسېدونکو پوښتني ګروېږني کولې؛ له مسافر هم او له مقيم هم، له نارينه وو هم او له ښځينه وو هم، له هر يوه ئې پوښتل چې عثمان رضی الله عنه غوره او د امارت لپاره وړ بولي که علی کرم الله وجهه؟ په پای کې ئې خلك جومات کې راغونډ کړل او وئې ويل: ما ته دا دنده وسپارل شوه چې وګورم د مدينې ډېری وګړي څوك د امارت لپاره وړ او مناسب بولي او پرې راضي دي؛ ما ته معلومه شوه چې ډېری ئې د عثمان رضی الله عنه پلوي کوي؛ نو زه هغه تاسو ته وړاندي کوم؛ د غونډې ټولو برخه والو؛ د علي رضي الله عنه په شمول؛ په اتفاق سره عثمان رضي الله عنه د امير په توګه ومنلو او د هغه په لاس ئې بيعت وکړ.

له دې تاريخي جرياناتو څو مسلم درسونه اخيستی شو:

- يوازي د مسلمانانو څرګند او له اکراه او اجبار پرته بيعت؛ کولی شي د چا امارت ته مشروعيت ورکړي؛ له داسي بيعت پرته امارت؛ هيڅ مشروعيت نه لري، هم د قرآن د هغي لارښوونې خلاف دئ چې د امير غوراوی ئې د مؤمنانو حق او دنده ګڼلې، هم د رسول الله صلی الله عليه و سلم د سنت خلاف او هم د صحابه وو د منهج خلاف.
- بيعت به څرګند وي نه په پټه.
- د جومات په څېر ځای کې به وي؛ نه د ټرلو درواز شا ته او په قصرونو کې.
- مخامخ به د عام ولس له لوري وي نه د خواصو او نخبه وو له لوري او د عام ولس په استازيتوب.
- که مخامخ او لاس په لاس بيعت ممکن نه وي؛ نو په شفوي او تحريري توګه هم ترسره کېدی شي.
- که د يوه کس له لوري؛ شفوي استفتاء او د ولس رأی معلومول جائز وي؛ نو د يوه هيئت په ذريعه او په تحريري توګه اولی او لا زيات

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

ډاډمن او مناسب کار دئ.

- داسي بيعت چې يا عام نه وي او يا په پټه ترسره شي؛ نه يوازي جائز نه دئ بلکې بدي پايلي لري، دوه مثالونه ئې څرنګوالی راښيي:

د عثمان رضي الله عنه له شهادت وروسته؛ ځيني صحابه د علي رضي الله عنه کور کې راغونډ شول او غوښتل ئې هملته له ده سره بيعت وکړي؛ هغه ورته وويل: دا په ټولو مسلمانانو پوري مربوط کار دئ؛ پرېکړه ئې بايد په جومات کې وشي. همداسي وشول؛ هغه په جومات کې د امير په توګه غوره شو. دوهم ئې د يزيد ځای ناستی کېدا او هغه بدي پايلي دي چې پرې مرتب شوې.

بيعت تر امارت وړاندي دئ که وروسته؟

ځيني داسي انګېري چې ګواکې لومړی به امير ټاکل کېږي او بيا به بيعت ترسره کېږي؛ حال دا چې حقيقت د دې کاملاً خلاف دئ؛ لومړی بيعت ترسره کېږي؛ په نتيجه کې ئې امارت رامنځته کېږي او له دې وروسته د غوره شوي امير اطاعت لازمېږي. بيعت هم د امارت د مشروعيت منشأ ده او هم د مشروع امير د اطاعت بنسټ او اساس، خبره قطعاً داسي نه ده چې امير به له کومي بلي لاري ټاکل کېږي او بيا به مسلمانان لزوماً د هغه په لاس بيعت کوي، اصلاً بيعت د امارت لپاره يو لازمي او لابدي شرط دئ، هغه څوک قطعاً شرعي او مسلم امير نه دئ چې مسلمانان په خپله خوښه له هغه سره بيعت ونه کړي، له بيعت پرته چې څوک له هري بلي لاري امارت او زعامت ترلاسه کړي؛ غيرمشروع امير دئ.

دا هم ضروري نه ده چې له امير سره بيعت به حتماً مخامخ او لاس په لاس وي، له لري او په شفوي او ليکلي توګه هم ترسره کېدی شي؛ لکه چې د يمن او نورو سيمو رالېږلی بيعت معتبر ګڼل شوی، اساساً بيعت د چا په امارت باندي رضايت څرګندول دي؛ په هره بڼه چې وي.

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

آيا اقليت دا حق لري چې د اکثريت پرېکړه ونه مني؟

که د ټولنې د اکثريت په خوښه يو څوک د امير په توګه وټاکل شي او د ټولنې يو اقليت هغه د امير په توګه و نه مني او بيعت ور سره ونه کړي؛ آيا دوی دا حق لري چې د همدې اکثريت پرېکړه ونه مني؟ ځواب ئې دا دئ:

يو هغه قضايا دي چې په هغه کې هيڅوک د څه ويلو حق نه لري؛ شريعت په هغه کې آخري پرېکړه کړې او مور ئې په بشپړ اطاعت مکلف يو؛ نه مشوره هغه بدلولی شي او نه هم ظروف او شرائط؛ خو ځينې مسائل هغه دي چې پرېکړه ئې مسلمانانو ته پرېښودل شوې ده؛ مخصوصا د هغو اجتماعي قضاياوو چې په ټولنې پورې مربوطي دي او په اړه ئې هره پرېکړه د ټولو توافق او رضايت ايجابوي؛ هر تصميم مسلمانانو او د مسلمانانو د ټولنې د اکثريت رأيې ته پرېښودل شوی؛ لکه د امير ټاکل او دې ته ورته نور مسائل.

يوازې د امير ټاکل نه دي؛ ګڼ شمېر نور مسائل دي چې د مسلمانانو له مشورې او توافق پرته؛ هيڅوك حق نه لري په خپل سر د هغه په اړه تصميم ونيسي؛ مثلا مسلمانان د جنګ پرېکړه کوي؛ وخت، ځرنګوالی، دا چې د جنګيالیو شمېر به څومره وي، ټول به وځي او که يو شمېر؛ ډلې ډلې به وځي او که په ګډه او يو ځايي؛ دا مسائل مسلمانانو او د هغوی ظروفو او شرائطو ته پرېښودل شوي؛ مسلمانان په خپلو منځونو کې کښيني او په دې ارتباط به وروستی تصميم نيسي؛ الله تعالی او د هغه دين؛ داسې اجتماعي أمور او په اړه ئې پرېکړه؛ مسلمانانو ته پرېښې دي؛ د امير ټاکل هم يو له دغو امورو دئ؛ امارت نه موروثي دئ او نه منصوصي؛ چې الله تعالی د کوم چا په اړه ملسلمانانو ته امر کړی وي؛ چې فلان کس ستاسو امير دئ؛ بلکې د صالح او وړ زعيم مواصفات ئې راښودلي؛ د دي مواصفاتو تطبيق او له مخې ئې د

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

امیر ټاکل مسلمانانو ته پرېښی دئ.

که د ټولني د اکثریت په خوښه یو امیر غوره شي آیا اقلیت حق لري چې د دوی پرېکړه ونه مني؟ ځواب ئې دا دئ:

په هغو اجتماعي قضایاوو کې چې په ټولو مسلمانانو پوري تعلق او تړاو لري؛ او پرېکړه ئې د مسلمانانو د اکثریت رأیې ته مفوض شوې وي؛ لکه د امیر ټاکل او دې ته ورته مسائل؛ په داسي مواردو کې هر مسلمان هغې پرېکړې ته په التزام او تمکین مکلف دئ چې د اسلامي ټولني اکثریت پرې توافق کوي، له داسي پرېکړې مخالفت ګناه او جرم تلقي کېږي؛ یو عملي مثال ئې د احد جنګ دئ؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم او ځینو جلیل القدرو صحابه وو غوښتل چې د مدینې له منځه د قریشو د برید مقابله وکړي؛ دا رأی له نظامي پلوه ارجح او غوره وه؛ ځکه له یوې خوا دښمن ته کوڅه په کوڅه جنګېدل ګران وو او له تلفاتو سره توأم؛ له بلې خوا به د مدینې ټولو اوسېدونکو په جنګ کې ناچار برخه اخیسته؛ هم منافقینو او هم یهودانو؛ قریشو ته د مسلمان او غیر مسلمان تفکیك هم ګران وو. خو د مدینې زلمیانو دا ځان ته پېغور ګڼلو چې دښمن پرېږدي مدینې ته راننوځي او بیا ورسره وجنګېږي؛ په دوی کې هغه زلمیان هم شامل وو چې د بدر په جګړې کې د شرکت افتخار نه وو ورپه برخه شوی؛ کله چې رسول الله صلی الله علیه و سلم دا حالت ولیدو چې ډېری ځوانان په دې ټینګار کوي چې له مدینې بهر او د احد په لمنو کې؛ د قریشو له درې زره کسیز فوځ سره مقابله وکړي؛ نو له خپلې رأیې تېر شو او د هغوی رأی ئې ومنله او د احد په لوري د وتلو امر ئې وکړ؛ د لارې په نیمایي کې؛ عبدالله ابن ابي ابن سلول؛ د منافقینو سالار؛ له درې سوو کسانو سره؛ په شا شو؛ استدلال ئې هم دا وو چې دا پرېکړه صحیح نه ده؛ د بې تجربې زلمیانو احساساتي پرېکړه ده چې پر نورو تحمیل شوه!! د دې تصمیم نتائج هم منفي وو؛ مسلمانان هم له ماتې سره مخامخ شول او هم ئې کافي تلفات درلودل. رسول الله صلی الله

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

علیه و سلم؛ له جګړې وروسته دې نتیجې ته رسېدلی وو چې بیا به له داسې ځوانانو سره له مشورو ډډه کوي!! خو الله تعالی هغه ته وفرمایل:

فَبِمَا رَحْمَةٍ مِّنَ ٱللَّهِ لِنتَ لَهُمْ ۖ وَلَوْ كُنتَ فَظًّا غَلِيظَ ٱلْقَلْبِ لَٱنفَضُّوا۟ مِنْ حَوْلِكَ ۖ فَٱعْفُ عَنْهُمْ وَٱسْتَغْفِرْ لَهُمْ وَشَاوِرْهُمْ فِى ٱلْأَمْرِ ۖ فَإِذَا عَزَمْتَ فَتَوَكَّلْ عَلَى ٱللَّهِ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلْمُتَوَكِّلِينَ ﴿١٥٩﴾ آل عمران: ١٥٩

نو د خپل رب د رحمت په وجه ورته نرم شوې او که ته بدخولی او سخت زړی وی، نو ستا له شا او خوا به خواره شوي وو، نو دوی ته عفو وکړه، بخښنه ورته وغواړه او په کارونو کې مشوره ورسره کوه، او چې عزم دي وکړ بیا خو پر الله توکل کوه، یقیناً چې الله توکل کوونکي خوښوي.

د دې مبارك آیت لارښوونې دا دي: د قائد له لوري له خپلو ملګرو سره نرمي کول؛ د الله پېرزوینه ده، ته اې محمده! د دغې الهي پېرزویني په سبب په خپل امت زړه سوانده او مهربان یې، د بدخولو او سخت زړو مشرانو په څېر نه یې، د داسې مشرانو په څنګ کې یوازې ذلیل انسانان راغونډېږي، که په تا کې دا نیمګړتیاوې وی نو دا ستا په شا او خوا کې راغونډ شوي مسلمانان به ټول درنه خواره شوي وو، داسې نه چې د دوی اشتباهات د دې باعث شي چې د نرمي پر ځای سختي وکړې، د خوږو خبرو پر ځای ئې په ترخو او توندو خبرو استقبال کړې او د لطف او مهربانۍ پر ځای ئې په خپلو غلطیو سخت ونیسې، د دوی پر غلطیو سترګې پټې کړه، له الله ورته مغفرت وغواړه. مبادا د دوی اشتباهاتو ته په پام سره دا فیصله وکړې چې له دې وروسته به له دوی سره مشوره نه کوم، نه په کارونو کې مشوره ستا واجب او د دوی حق دئ، ته مکلف یې چې له دوی سره به مشوره کوې، حتی له هغو سره هم چې مشورې ئې کمزورې دي او د مخکینیو کمزورو مشورو په سبب ئې څه ستونزې هم راولاړې کړې دي. د مشورې په نتیجه

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

کې چې کومه پرېکړه په لاس درغله، د پلي کولو لپاره ئې ملا وتړه او پر الله توکل وکړه، داسې متوکلين د الله خوښ وي.

که په دې آيت کې لږ غور وکړئ نو د اسلام له نظره به د شورى په څرنګوالي او اهميت ښه پوه شئ، په دې مبارك آيت کې څو اساسي ټکي زموږ مخي ته راځي:

پيغمبر عليه السلام ته امر شوى چې مشوره به کوې، که الله تعالى خپل پيغمبر؛ په مشوره مکلف کوي او دا د ده واجب ګڼي؛ نو د عادي مشر په اړه به د دې حکم مقتضيات څه وي، چې نه وحي ورته کېږي، او نه خلک په هغه باندې د پيغمبر په توګه ايمان لري، د نورو په څېر يو عادي انسان دئ؛ د الله تعالى د دين مقتضيات به د دغسې انسان په اړه څه وي؟ هغه چا ته چې الله وحي کوي او د ټولې نړۍ لپاره ئې لارښود لېږلى، امت وربانديې ايمان لري او د ده په اطاعت مکلف شوي، که ده ته د مشورې کولو امر کوي، نو بل څوك به څه حيثيت لري چې له مشورې ځان مستثنى او لوړ وګڼي.

دا د مشورې حکم د هغو کسانو په اړه راغلى چې ځيني اشتباهات ترې شوي، داسې اشتباهات چې د احد په جګړې کې د ماتې باعث وو، د دوى له اشتباهاتو سره سره؛ الله تعالى پيغمبر ته امر کوي چې له همدغو سره به هم مشوره کوې.

پيغمبر عليه السلام ته ويل شوي چې تصميم به له مشورې وروسته نيسې، داسې نه چې مخکې له مشورې کومه فيصله له ځان سره وکړې او بيا نور هسې د خوشحالولو لپاره راوغواړې او د خپلې رأيې په ګټه ترې تأييد ترلاسه کړې.

له مشورې چې کومه فيصله راوځي؛ که څه هم ستا د رأيې خلاف وي او ته په هغې کې مصلحت نه ګورې؛ له څه تزلزل او اندېښنې پرته ئې د عملي کولو لپاره ملا وتړه او پرالله توکل وکړه.

له deenodanish.com څخه ښکته شوى Deen-o-Danish

د الله محبوب متوکل هغه دئ چې مشوره کوي؛ له مشورې د راوتلې فیصلې د عملي کولو لپاره ملا تړي او پر خپل رب توکل کوي.

متأسفانه ځینې د مشورې داسې تفسیر او تعبیر وړاندې کوي چې له دې څرګندې الهي لارښوونې سره اړخ نه لګوي؛ او د دیکتاتورانو او مستبدو واکمنو ډېر خوښېږي، دوی اکثراً د همدغو واکمنو د خوشحالولو لپاره دا تعبیر او تفسیر وړاندې کوي؛ هغوی وایي چې د عزم په صیغه کې خطاب مفرد ته متوجه دئ او له دې معلومېږي چې د پرېکړې واک زعیم ته ورکړی شوی!! حال دا چې دا ډېر کمزوری تعبیر دئ، دوی دې ته پام نه کوي چې عزم له شوری وروسته ذکر شوی او د دې خبرې معنی دا ده چې عزم او پرېکړه به د مشورې نتیجه وي، شوری به د فیصلو مرجع وي او د مشر تصمیم به هم د شوری له منځه راوتلی وي، په دې آیت کې شوری له عزم مخکې ذکر شوې او د البقرې په سوره کې مزید وضاحت شوی او د مشورې یو بل ضروري اړخ او شرط په ګوته شوی او ویل شوي: وروستۍ فیصله به د طرفینو په (مشوره) او (رضایت) وي، په کومې مشورې کې چې د طرفینو رضایت شرط نه وي، یو طرف یوازې خپله رأیه څرګندوي او د وروستي تصمیم په نیولو کې څه حق او وینه نه لري او بل طرف یوازې د بل رأیه اوري او فیصله په خپل سر کوي، د مشاور له رضایته پرته، دا د استبدادي نظامونو شوری ده؛ نه اسلامي شوری، دا مبارک آیت دغه غلط تعبیر له بنسټه ردوي.

اسلام له تې د ماشوم د بېلولو په اړه ښځې او مېړه ته وایي: په خپلو کې د (مشورې او رضایت) په نتیجه کې چې د خپل ماشوم د بېلولو په اړه کومه فیصله وکړئ؛ له تې ئې بیل کړئ؛ نو څه الزام او ګناه دربانديې نشته او له مشورې پرته یا د یوه طرف د عدم رضایت په صورت کې هره پرېکړه د ګناه پرېکړه ده. هلته ویل شوي: که مور پلار وغواړي چې د کوم ضرورت یا مصلحت له مخې ماشوم ته د تې ورکولو موده رالنډه کړي؛ نو په دوه شرطه

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

دا کار کولی شي: دواړه به په دې کار راضي وي او په خپلو کې به ئې مشوره کړې وي. مشوره او د دواړو رضایت او موافقه ئې شرط کړې.

د قرآن الفاظ دا دي:

... فَإِنْ أَرَادَا فِصَالًا عَن تَرَاضٍ مِّنْهُمَا وَتَشَاوُرٍ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَا ... البقره: ٢٣٣:

که دواړه په مشوره او رضایت سره؛ له تې د پرې کولو اراده وکړي؛ نو کومه ګناه پرې نشته.

الفاظ واضح دي؛ یعني که فیصله د دواړو له رضایت او مشورې پرته وشوه؛ نو ګناه ئې کړې؛ او که له مشورې او رضایت وروسته فیصله وشوه؛ بیا کومه ګناه پرې نشته؛ اسلام د ژوند د ټولو قضایاوو په ارتباط؛ ډېر تفصیلي بحثونه کړي؛ هیڅ مسئله ئې نه ده پرېښې؛ ډېرو ته به د ماشوم له تې د ښلولو موضوع ډېره عادي برېښي او هغه به کورنۍ او شخصي مسئله ګڼي؛ حال دا چې که په انساني ټولنې کې کومه قضیه تر نورو زیات اهمیت لري نو هغه همدا ده؛ چې د ټولنې بقاء ورپوري تړلې ده؛ یوازې د ماشوم نه؛ بلکې د ټولې ټولنې بقاء ورپوري تړلې ده؛ په دغسې مسائلو کې هم اسلام واضح هدایات لري؛ او په سترو سترو بین المللي قضایاوو او پېښو کې او د سترو نښتو او جنګونو په ارتباط هم؛ هیڅ انساني قضیه ئې نده پرېښې، د غاښونو له مسواك او د لاسونو له مینځلو نیولې؛ حتی د غاښونو له ټومبلو او خلال نیولې؛ د لویو لویو هیوادونو ترمنځ پېچلو، اقتصادي، اجتماعي او سیاسي مسائلو پورې؛ د ټولو په ارتباط ئې واضح لار ښوونې کړې؛ هیڅ قضیه ئې مهمل نه ده پرېښې.

له دې آیت؛ د اسلام له نظره د مشورې حقیقت څرګندېږي، له مشورې به هغه پرېکړه راوځي چې دواړه خواوې پرې راضي او متفق وي، مشوره دا نه ده چې یو طرف به له بله فقط نظر او رأیه غواړي او وروستۍ پرېکړه به

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

دی په خپله کوي، مشوره د بل د رأيي معلومولو لپاره نه وي، داسي مشوره هيڅ ارزښت نه لري چي يو دي د نورو رأيه واوري؛ خو پرېکړه دي په خپله او د نورو له موافقې او رضايت پرته وکړي، مشوره دې ته ويل کېږي چي د تفاهم او بحث په نتيجه کې د طرفينو د خوښي هغه پرېکړه ترې راووځي چي دواړه پرې راضي او متفق وي.

که پلار خپل اولاد ته د تې ورکولو په اړه په دې مکلف وي چي له خپلې مېرمني سره به مشوره کوي، په خپل سر به فيصله نه کوي، او مور به دې ته نه اړ کوي چي حتماً به تې ورکوي، هره پرېکړه به د دواړو په مشوره او رضايت وي، نو امير څنګه دا حق لري چي د عام ولس د شتمنيو او په دوی پوري اړوند قضاياوو کې په خپل سر او د نورو له مشورې او رضايت پرته فيصله وکړي؟!! په ټولنې کي د پلار حيثيت او د امير د حيثيت ترمنځ ډېر تفاوت دئ؛ د امير حيثيت او مقام په هيڅ صورت کي هومره نه دئ لکه د پلار او ميړه مقام او حيثيت په خپلې کورنۍ کي؛ اسلام خو امير ته د قيم په ځای د خليفه او امين نوم ورکړی؛ او پلار ته ئې په کورنۍ کي د قيم او مدير نوم ورکړی؛ دا دواړه (قيم او امين) په خپلو کي ژور توپير لري؛ دا ښيي چي د پلار حيثيت او مقام تر هغه ډېر لوړ دئ چي امير ئې په اجتماع او ټولنه کي لري؛ يو په خپلې وړي کورنۍ او ټولنې کي قيم دئ؛ د کورنۍ قيموميت او مديريت هغه ته سپارل شوی؛ اما بل خليفه او د نورو نائب دئ؛ نورو خپل اختيار هغه ته امانتاً انتقال کړی دئ؛ هغه ئې د خپل ځان د وکيل او کفيل په توګه ټاکلی دئ؛ هغه د صلاحيتونو امين دئ؛ د ولس د امانتونو او شتمنيو امين دئ؛ د دوی له مشورې پرته او په خپل سر تصرف نه شي کولی؛ ځکه دا شيان په اصل کي؛ په ټول ولس پوري مربوط دي؛ دی د دې ټولنې يو فرد دئ؛ او د ولسي امانتونو امين ټاکل شوی؛ خو ميړه ئې د کورنۍ د قيم په نامه ياد کړی.

د مشورې اصل ښيي چي هر مسلمان؛ هغې پرېکړې ته په التزام او

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

تمکين مکلف دئ چې د مشورې اړوند قضاياوو په ارتباط د اکثريت له لورې صادره کېږي. بايد فرد فرد دې پرېکړو ته التزام ولري او له مخالفت ئې ډډه وکړي.

رسول الله صلى الله عليه و سلم زمونږ پيشوا او لارښود؛ چې د هغه په اطاعت مکلف شوي يو؛ او هغه څه د ده په کړنو او ويناوو کې لټوو چې الله تعالى پرې راضي کېږي؛ هغه تر هر چا زياته مشوره کوله؛ صحابه وو ويلي چې رسول الله صلى الله عليه و سلم به تر هر چا زياته مشوره کوله؛ او د مشورې په نتيجه کې به ئې د همغه لورې پرېکړه منله چې تر بل لورې به ئې شمېر زيات وو؛ که له دوو تنو سره ئې مشوره کړې او د هغوی دواړو رأيه به د ده د رأيې خلاف وه؛ نو د هغوی رأی ئې منلې.

د خندق په جنګ کې همداسې وشول؛ رسول الله صلى الله عليه و سلم غوښتل د غطفان هغه قبيله قانع او له قريشو سره له ملګرتيا ئې راوګرځوي چې د مسلمانانو په ضد جنګ کې ئې د هغوی د ملګرتيا پرېکړه کړې وه؛ پيغمبر عليه السلام غوښتل دوی ته د مدينې د خرما يو کلن حاصل په عوض کې ورکړي؛ خبرې مخکې تللې وې؛ حتى په ځينو روایاتو کې راځي چې توافق ليکل شوی وو او فقط لاسليک ته معطل وو؛ دا مهال پيغمبر عليه السلام له دوو سترو مشرانو؛ د اوس قبيلې سعد بن معاذ او د خزرج قبيلې سعد بن عباده سره مشوره وکړه، هغوی ورته وويل: يا رسول الله! آيا دا الهي وحي ده که ستا خپل نظر؛ که وحي وي نو آمنا و سلمنا؛ رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: دا زما خپل نظر دئ؛ دوی وويل: نو بيا زمونږ رأی دا ده: مونږ په جاهليت کې چا ته جزيه نه ده ورکړې؛ اوس چې الله تعالى مونږ ته په اسلام سره عزت راکړ؛ څنګه به دوی ته جزيه ورکوو؛ رسول الله صلى الله عليه و سلم د دوی په دې ځواب ډېر خوښ شو او وئې فرمايل: ستاسو لپاره مي هغوی ته دا وړانديز کړی وو؛ غوښتل مي چې تاسو ته صدمه ونه رسېږي؛ ستاسو لپاره مي دا فيصله کړې وه؛ ويل کېږي چې د غطفان له قبيلې سره

deenodanish.com څخه ښکته شوی له Deen-o-Danish

معاهده ليکل شوې وه او امضاء ته معطله وه؛ هغه ئې وشکوله؛ يعني د دوو يارانو د رأيې لپاره له خپلې رأيې تېر شو.

همدا راز قرآن د هغو په اړه چې د احد د جنګ په ارتباط ئې د اکثريت له پرېکړې مخالفت وکړ او له جنګ په شا شول؛ داسې فرمايي:

وَلِيَعْلَمَ ٱلَّذِينَ نَافَقُواْۚ وَقِيلَ لَهُمْ تَعَالَوْاْ قَٰتِلُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ أَوِ ٱدْفَعُواْۖ قَالُواْ لَوْ نَعْلَمُ قِتَالًا لَّٱتَّبَعْنَٰكُمْۖ هُمْ لِلْكُفْرِ يَوْمَئِذٍ أَقْرَبُ مِنْهُمْ لِلْإِيمَٰنِۚ يَقُولُونَ بِأَفْوَٰهِهِم مَّا لَيْسَ فِي قُلُوبِهِمْۚ وَٱللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا يَكْتُمُونَ* آل عمران: ١٦٧

او چې هغه هم معلوم کړي چې منافقت ئې وکړ او چې ورته وويل شوو: راشئ يا د الله په لار کې وجنګېږئ يا له مدينې دفاع وکړئ! وئې ويل: که په کوم جنګ پوهېدی؛ حتماً مو ستاسو متابعت کاوو!! دوی په دغه ورځ کفر ته ډېر ورنږدې وو، تر هغه واټن چې له ايمانه ئې درلود، په خوله ئې هغه څه ويل چې په زړونو کې ئې نه وو او الله په هغه څه ډېر ښه پوه دئ چې دوی ئې پټوي.

دلته د احد د ماتې په اړه ويل شوي: د ماتې او د هغو تلفاتو پرېکړه الله کړې وه، املونه ئې تاسو په خپله برابر کړي وو، هر څه د الله د سننو مطابق واقع کېږي، الله غوښتل چې په دې سترې ابتلاء سره د واقعي مؤمنانو او منافقينو ترمنځ تفکيک وشي، هغه منافقين راڅرګند شي چې نه د الله په لار کې جنګ ته تيار وو او نه له مدينې دفاع ته، د دوی پېژندنه ضروري وه، دا ځکه چې په راتلونکي کې نه د الله په لار کې د جنګ په اړه په دوی حساب وکړئ او نه له مدينې د دفاع په اړه، تاسو په خپلو سترګو وليدل چې د جهاد او دفاع په اړه د منافقينو ځواب څه وو؟ انکار، خو دا انکار په داسې الفاظو سره چې د دوی په ځېر؛ دوه مخی دئ، په ظاهر کې ئې معنی يو څه او په

deenodanish.com خخه ښکته شوی Deen-o-Danish

حقیقت کې ئې معنی بل څه، په ظاهر کې د دوی د وینا معنی دا ده: که پوهېدی چې جنګ واقع کېږي نو حتماً مو ستاسو په څنګ کې برخه اخیسته، د دې الفاظو یوه بله توجیه هم شوې خو مخکنۍ ترې غوره او دقیقه ده او هغه دا چې: که مورږ په جنګ پوهېدی نو زمورږ مشورو ته به مو اعتناء کړې وه او د مدینې له داخل به مو د دښمن مقابله کړې وه، که داسې شوې وی مورږ به هم ستاسو په څنګ کې وو.

د دوی د الفاظو ظاهر ښه برېښي او ساده لوح کسان پرې غولولی شي، خو الله تعالی ته د دوی د زړونو هغه نفاق څرګند دئ چې دوی ئې له نورو پټوي.

دې ته مو هم باید پام وي چې دلته په جګړې کې د دغو منافقینو دا برخه نه اخیستل داسې ګڼل شوې چې دوی په دې کار سره کفر ته تر ایمان ډېر ورنږدې وو. دې ته هم باید متوجه وو چې په اصل کې دغو منافقینو له دې پرته بل کار نه وو کړی چې د مسلمانانو د شورى له پرېکړې ئې مخالفت کړی وو. غلطي او ګناه ئې همدا وه چې د اکثریت له پرېکړې سره ئې مخالفت کړی وو؛ له دې پرته ئې بله ګناه نه وه کړې؛ د دې اقدام لپاره ئې توجیه او دلیل هم وړاندې کولو؛ ویل ئې: مورږ د پیغمبر علیه السلام له رأی دفاع کوو؛ غوره او صحیح رأی دا وه چې په مدینه کې پاته شوې وی او د مدینې له منځه مو د قریشو د برید مقابله کړې وی. احساساتي تنکیو ځوانانو خپله غلطه رأیه پر پیغمبر علیه السلام تحمیل کړه؛ او له مدینې بهر؛ د احد په ډنه کې د قریشو مقابله کولو ته ئې اړ کړ. په دې سره ئې غوښتل وښیي چې د احد په جګړې کې نه شرکت ئې منافقت نه بلکې د پیغمبر علیه السلام په رأیې د ټینګار له کبله وو؛ خو الله تعالی د دوی منافقانه استدلال او عدم مشارکت داسې ګڼي چې په دې سره؛ او د اکثریت د پرېکړې په مخالفت سره ئې داسې کار کړی چې کفر ته تر ایمان ډېر ورنږدې شوې؛ یعني چې کله د مسلمانانو په ټولنې، حزب او ګوند کې؛ د اکثریت له لورې

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

کومه پرېکړه صادره شي؛ د هغه منل او مراعات واجب ده او مخالفت ئې ناروا؛ مخالفت ئې داسي دئ لکه د منافقینو مخالفت؛ د احد د پرېکړې په ارتباط. که څه هم دا پرېکړه د پیغمبر علیه السلام د خپلې رأیې خلاف پرېکړه وه!! له دې وینا؛ په اسلام کې د شورى اهمیت معلومولی شئ؛ هغو چې د اکثریت له پرېکړې ئې سرغړاوی وکړ؛ قرآن د منافقینو په نامه یاد کړل او له ایمان ئې کفر ته نږدې وګڼل.

څلورم- آیا موجود خلیفه؛ کولی شي راتلونکی خلیفه وټاکي

ځینې ګمان کوي او یا ادعاء؛ چې شته امیر کولی شي او حق لري راتلونکی امیر وټاکي. دوی د ابوبکر رضي الله عنه له لورې د عمر رضي الله عنه نومول او د ده په اړه مسلمانانو ته سپارښتنه؛ همداسي تعبیروي!!

په دې کې شک نشته چې ابوبکر رضی الله عنه له ډېرو جلیل القدر صحابه وو سره له مشورو او د دوی د تشویشونو له رفعه کولو او قناعت ترلاسه کولو وروسته؛ مسلمانانو ته وصیت او سپارښتنه وکړه چې عمر رضی الله عنه د خلیفه په توګه غوره کړي؛ خو پوښتنه دا ده چې آیا عمر رضی الله عنه له همدې سپارښتني وروسته د خلیفه په توګه غوره شوی؛ که په جومات کې د ټولو حاضرو مسلمانانو له بیعت وروسته؟! حقیقت دا دئ چې د ابوبکر رضی الله عنه سپارښتنه او وصیت ملزِمه او واجبي سپارښتنه نه وه، عمر رضی الله عنه د دې سپارښتني په اساس نه دئ خلیفه شوی؛ بلکې له هغه وروسته امیر شو چې د خلکو بیعت ئې ترلاسه کړ، د ابوبکر رضي الله عنه لخوا د ده انتخاب یوازې یو وړاندیز وو، هغه ولس ته د عمر رضي الله عنه د غوره کولو وړاندیز وکړ، خلکو دا وړاندیز قبول کړ، عمر رضی الله عنه ئې د خلافت لپاره تر ټولو غوره وګڼلو، په خپله خوښه ئې له هغه سره بیعت وکړ او له همدې بیعت وروسته هغه د مسلمانانو خلیفه شو. څوک چې له دې پرته بل تعبیر وړاندې کوي؛ یقیناً چې اشتباه ئې کړې؛ له هغو

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

چې دا رأیه لري؛ څو پوښتنې ترې لرو: که بالفرض؛ ابوبکر رضی الله عنه خپل زوی ځای ناستی ټاکلی وی او مسلمانانو له هغه سره بیعت نه وی کړی او تر هغه ئې عمر رضی الله عنه غوره ګڼلی وی او له ده سره ئې بیعت کړی وی؛ نو کوم یو به شرعي او قانوني خلیفه وو؟ یقینا چې عمر رضی الله عنه به شرعي خلیفه وو؛ نه هغه چې ابوبکر رضی الله عنه وړاندې کړی او مسلمانانو نه دئ منلی؛ تر ده ئې وړ او مناسب شخص په مسلمانانو کې موندلی دئ؛ او که احیاناً عمر رضی الله عنه په جومات کې داسې څه ویلې وی چې مسلمانان ترې ناراضه شوي وی او له ده سره ئې بیعت نه وی کړی؛ مور ته ووایئ چې آیا له دې سره سره به عمر رضی الله عنه قانوني او شرعي خلیفه وو؟ که ستاسو دا ادعاء ومنو نو بیا خو به یزید ته هم د قانوني او شرعي خلیفه په سترګه ګورو؛ دی د لوی شخصیت او جلیل القدر صحابي معاویه رضی الله عنه له لوري ټاکل شوی وو؛ چې په مکه کې تر ایمان وړاندې او د شرک په دوران کې هم د قوم منلی مشر وو او چې ایمان ئې راوړ هم د قوم مشر وو؛ د هغه دا پربکړه به ټولو مسلمانانو منلې وه؛ ټولو به له یزید سره بیعت کړی وو؛ هغه ته به ئې د مشروع خلیفه په سترګه کتلې وو او له عدم بیعت به ئې ډډه کړې وه؛ ځکه چې د موجود امیر لخوا انتصاب شوی وو!! بیا به د هغو صحابه وو دا موقف څنګه توجیه کوو چې له یزید سره ئې بیعت ونه کړ؟! آیا دوی د بیعت نه کولو حق درلود؟ که دا منې بیا خو بیعت کول د خلکو حق دئ، دوی حق لري چې د نومول شوي کس اهلیت ته په پام سره پربکړه وکړي، عمر رضی الله عنه ئې اهل ګڼلی؛ بیعت ئې ورسره وکړ او چا چې یزید نااهله ګڼلی له بیعت ئې ډډه کړې، په دې کار سره ئې ګناه نه بلکې د ثواب کار کړی!! که داسې نه وي نو بیا به د حسین رضی الله عنه په اړه څه وایو چې له بیعت ئې ډډه وکړه، شهادت ئې قبول کړ؛ خو د یزید په لاس بیعت ته تیار نشو؟!! د دې معنی خو دا ده چې یو کس هغه مهال د موجود امیر له لوري د سپارښتنې په نتیجه کې

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

شرعي امير کېدی شي چې: ۱-د خلافت اهل وي او ۲- خلك ورسره بيعت وکړي.

دا هم بايد په پام کې ولرو چې الله تعالی د امير ټاکلو حق مسلمانانو ته ورکړی؛ آيا څوك کولی شي او ورته جائز ده چې د الله تعالی د لارښوونې خلاف دا حق له مسلمانانو سلب کړي؟!! عمر رضي الله عنه خو همدې مسلم حق ته اشاره کوي او په هغو ئې رد کړی چې غوښتل ئې د ده له وفات وروسته؛ د خپلې خوښې له امير سره بيعت وکړي؛ کله چې د دوی له دې تصميم خبر شو؛ نو سخت غصه شو او د دوی تصميم ئې د مسلمانانو د يوه مسلم حق له غصبولو سره مترادف وګڼلو.

يوې بلې واقعې ته هم اشاره کوو: عمر رضی الله عنه ته اطلاع ورسېده چې ځينې خلک راټول شوي او وايي: که عمر رضی الله عنه وفات شو نو موږ به له فلان کس سره بيعت کوو؛ د دې خبرې په اورېدو سره عمر رضی الله عنه سخت غوصه شو او وئې ويل: روايت داسي دئ:

فَغَضِبَ عُمَرُ ثُمَّ قَالَ: إِنِّي إِنْ شَاءَ اللَّهُ لَقَائِمٌ العَشِيَّةَ فِي النَّاسِ فَمُحَذِّرُهُمْ هَؤُلاَءِ الَّذِينَ يُرِيدُونَ أَنْ يَغْصِبُوهُمْ أُمُورَهُمْ.

نو عمر رضي الله عنه په قهر شو او وئې ويل: که خدای کول زه به نن ماښتن خلکو ته وينا کوم او له هغوی به ئې په حذر کوم چې غواړي د دوی اړوند چارې ترې غصب کړي (له دوی سره له مشورې پرته کوم امير غوره او له هغه سره بيعت وکړي).

دا دئ ګورئ چې عمر رضي الله عنه؛ د دغو افرادو دا تصميم؛ د مسلمانانو د مسلم حق غصبول او په دوی پوري مربوط چارې سلبول بولي!!

که دا ومنل شي چې شته امير حق لري راتلونکی امير وټاکي؛ نو نتيجه به ئې دا وي چې هر زعيم به خپل زوی د ځای ناستي په توګه ټاکي او امارت به موروثي شي؛ په اصل کې دا نظريه د هغو له لوري وړاندي شوې چې د

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

سلاطينو درباري مفتيان ول؛ مأموريت ئې دا وو چې عوام ذهناً دې ته چمتو کړي چې په يوې کورنۍ کې د اقتدار او واك پاته کېدا د يوه مذهبي او مشروع اصل په توګه ومني او اعتراض ونه کړي!!

پنځم- څو نوماندان ټاکل چې يو ئې ترې امير شي

ځيني ادعاء کوي چې موجود خليفه کولی شي؛ يوه داسي ډله غوره کړي چې همدا دوی به له خپل منځه يو کس د امير په توګه غوره کوي؛ دوی د خپلې رأيې د اثبات لپاره د عمر رضي الله عنه په هغه تصميم استناد کوي چې همداسي ئې وکړل. په دې اړه دا وضاحت ضروري ګڼو: د عمر رضي الله عنه له ټپي کېدو وروسته او له شهادت مخکې؛ ځينو صحابه وو ترې وغوښتل چې د مسلمانانو لپاره خليفه وټاکي، هغه په ځواب کې ورته وويل: که زه څوك ونه ټاکم او لاړ شم نو د هغه چا په سنت به مي عمل کړی وي چې تر ما غوره وو (يعني رسول الله صلى الله عليه و سلم) او که ئې وټاکم د هغه چا په سنت به مي عمل کړی وي چې هغه هم تر ما غوره وو (يعني ابوبکر رضی الله عنه)، إراده ئې دا وه چې څوك ونه نوموي، خو د نورو د اصرار په وجه ئې هغه شپږ کسان ونومول چې د خلافت لپاره تر نورو غوره وو او هر يوه ډېر پلويان درلودل، خپل زوی ته ئې هم وويل چې په دې ډلې کې برخه واخلي؛ خو د امير کېدو حق به نه لري، دوی ته ئې وويل چې په خپل منځ کې پر يوه کس توافق وکړي او بيا دغه کس د بيعت لپاره ولس ته معرفي کړي. له دغو شپږو کسانو درې ئې د دريو نورو په ګټه تېر شول، عبدالرحمن بن عوف رضی الله عنه په دې شرط تنازل وکړ چې د پاته دوو په اړه به ده ته د پرېکړي صلاحيت ورکول کېږي، ده د عثمان رضي الله عنه او علي رضي الله عنه په اړه د مدينې له خلکو؛ د ښځو په شمول؛ تر درېو ورځو مسلسل پوښتني ګروېږني وکړې، د دوی رأيه ئې ځان ته معلومه کړه، په جومات کې ئې دا خبره اعلان کړه چې د مدينې ډېری خلك د عثمان رضي الله

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

عنه په امارت راضي دي، زه له دوی دواړو تاسو ته عثمان رضي الله عنه غوره کوم، خلکو توافق وکړ، بیعت ترسره شو او له دې وروسته عثمان رضي الله عنه خلیفه شو.

له دې بهیر چې کومې نتیجې ترلاسه کېدی شي هغه دا دي:

- که د امارت لپاره تر یوه زیات مستحق کسان موجود ول او هر یوه ئې یو شمېر پلویان درلودل او هغه ئې د امارت لپاره تر نورو غوره ګڼلو، د دوی له منځ د یوه انتخاب به داسي ترسره کېږي لکه د عثمان رضی الله عنه انتخاب، یا به د کاندیدانو تر منځ د توافق او په یوه کس د اتفاق کولو له لارې ستونزه حل کوو او یا به له خلکو پوښتنه کوو او هغه څوك به راوړاندي کوو چې د مسلمانانو ډېرى ئې تر نورو غوره ګڼي.
- دا د صحابه وو منهج دئ؛ که د امارت مدعیان او یا هغه چې خلک ئې د امارت وړ ګڼي؛ تر یوه زیات؛ دوه، څلور او تر شپږو پورې وو؛ لکه چې د درېیم خلیفه د ټاکلو په وخت کې؛ مسلمانان له همداسي حالت سره مخامخ شول؛ نو تیاره مثالي بېلګه ئې لرو؛ د صحابه وو څرګند منهج په واك کې لرو؛ که د مستحقو نوماندانو شمېر زیات وو؛ نو د دوی له منځ د یوه د انتخاب په اړه به همغه څه کوو چې صحابه وو کړي؛ په کومه طریقه چې هغوی یو تن غوره کړی؛ اسلامي طریقه همدغه ده؛ موږ به همدا طریقه غوره کوو؛ دا نن چې موږ له کوم حالت سره مخامخ یو؛ ملت مو په مختلفو ډلو وېشل شوی؛ هره ډله خپل مشر د امارت او زعامت لپاره تر نورو وړ او مستحق ګڼي؛ هغوی ته وایو: که رښتیا شریعت ته التزام لرئ!! نو د شریعت تقاضی او د صحابه وو منهج دا دئ چې د څو مستحق او وړ نوماندانو له منځ به یو داسي غوره کوو لکه چې عثمان رضی الله عنه غوره شو؛ همغه څوک به امیر وي چې د مسلمانانو ډېرى ئې د امارت اهل بولي او وربانديي باور لري؛ خو د ډېرى رأی معلومول به هم د عبدالرحمن بن عوف رضی الله عنه په څېر د یوه امین شخص په لاس ترسره کېږي؛ د اکثریت رأیه معلومول؛

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

د يوه امين شخص په لاس هم کېدی شي او د يوې امينې اداري؛ لکه د انتخاباتو کميسون؛ په واسطه هم کېدی شي. که په شفوي او تقريري توګه رأيه معلومول جائز وي؛ همغسي چې د عثمان رضی الله عنه په انتخاب کې ترسره شول؛ نو يقيناً چې په تحريري توګه استفتاء او رأی معلومول؛ غوره او ارجح دي.

- خو نه د کانديدانو خپلمنځي توافق کافي دئ او نه د هيئت له لوري د اکثريت رأيه معلومول او د يوه کس نومول، بلکې وروستۍ پرېکړه به په جومات کې او د عامو مسلمانانو په خوښه او توافق کېږي.
- له دې معلومېږي چې د (نومولو) او (ټاکلو) تر منځ فرق دئ، نومول يوه معنی او د چا انتخاب، تعيين او ټاکل بله معنی لري؛ ابوبکر رضی الله عنه يو تن نومولی وو او عمر رضی الله عنه شپږ تنه نومولي؛ له شپږو څلور تېر شوي؛ د دوو په اړه د مدينې له مسلمانو استوګنو استفتاء او رأی معلومول؛ ترسره شوي؛ خو تعيين او تقرر له عام بيعت وروسته محرز او محقق شوي، نو د انتخاب او تعيين او بيعت لپاره نومول شوي وړاندي کول بله معنی لري؛ نومول شوي کېدی شي تر يوه زيات وي؛ خو د دوی له منځه د يوه ټاکل به د مسلمانانو په خوښه، په معلني غونډې کې او له بيعت وروسته ترسره کېږي.

دا حقيقت د علي رضی الله عنه له هغې وينا هم معلومېږي چې د عثمان رضی الله عنه له شهادت وروسته ځيني خلك د ده کور ته ورغلل؛ په دې موخه چې هملته له ده سره بيعت وکړي؛ هغه په ځواب کې ورته وويل: دا د ټولو مسلمانانو په توافق او خوښي پوري مربوط دئ او پرېکړه ئې بايد په جومات کې وشي. همداسي وشول، علي رضي الله عنه په جومات کې او له بيعت وروسته خليفه شو.

دا بهير مونږ ته ښيي چې بيعت د امارت لپاره شرط دئ، يوازې له بيعت وروسته څوك امير کېدی شي نه له بيعت مخکې. له دې جريان دا هم

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

معلومېږي چې بيعت څرګند کار دئ نه پټ، د عامو خلکو کار دئ نه د خاصو، په جومات کې تر سره شوی؛ نه په کوم قصر کې، ټول هغه خلك په کې برخه اخيستی شي چې جومات ته ئې په راتلو بنديز نشته.

شپږم-د تغلب او استيلاء له لاري قدرت ته رسېدل

ځيني وايي: که داسي شخص چې د خلافت وړ وي او لازم مواصفات ولري؛ د غلبې او استيلاء له لاري اقتدار ترلاسه کړي؛ نو داسي امارت او خلافت مشروعيت لري!! ادعاء ئې دا ده چې له راشدينو خلفاءو وروسته؛ ټول يا اکثر امراء او خلفاء همداسي وو.

د دوی په ځواب کې بايد ووايو:

له څلورو خلفاءو وروسته چې کوم امیران مسلط شوي؛ هغه طريقه او اسلوب چې له مخې ئې دا امراء واك ته رسېدلي؛ يوه ئې هم شرعي طريقه او د رسول الله صلى الله عليه و سلم د سنت او د صحابه وو د منهج مطابق طريقه نه وه.

دا رأی او نظر؛ ومنل شي چې د تغلب او استيلاء له لاري قدرت ترلاسه کول جائز دي او که څوك له دې لاري اقتدار ترلاسه کړي نو اطاعت ئې پر مسلمانانو لازم دئ؛ دا رأی په حقيقت کې د وسلې په زور قدرت ته د رسېدو لپاره لار آواروي او هغو ته مجوز په لاس ورکوي چې غواړي د تغلب او استيلاء له لاري پر مسلمانانو مسلط شي.

همداراز د دې رأيي معنی؛ د عثمان او علي رضي الله عنهما په ضد پاڅون ته مجوز ورکول دي، د اميرالمؤمنين علي رضی الله عنه په ضد قيام او د هغه شهادت ته جائزه او شرعي بڼه ورکول؛ لوی جسارت دئ.

که استيلاء جائز وګڼو بيا خو به د داسي فتنو لپاره لار پرانستل کېږي چې د عثمان رضی الله عنه او علي رضی الله عنه په شهادت منتج شوې.

د نېك او صالح انسان هغه کار د تقليد او تأييد وړ دئ چې د شريعت

deenodanish.com څخه ښکته شوی له Deen-o-Danish

مطابق وي، د صحابه وو رضی الله عنهم په خپلمنځيو جګړو او د يزيد په څېر امراءو ټاکني باندي استناد کول او دې ته ورته کارونه جائز ګڼل؛ ستره اشتباه ده، هيڅ عالم او فقيه داسي غلطه خبره نه کوي.

دا ډېره د حيرانتيا خبره ده چې څوك هغه چا ته د (خليفه) نوم ورکوي چې پيغمبر عليه السلام د (ملك) نوم ورکړی، هغه چې په زور مسلط شوي، امارت ئې په ميراث ترلاسه کړی، په جومات کې نه بلکې په قصرونو کې اميران شوي.

دې روايت ته لږ ځير شئ:

عَنْ سَفِينَةَ مَوْلَى أُمِّ سَلَمَةَ رضی الله عنها قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم: " خِلَافَةُ النُّبُوَّةِ فِي أُمَّتِي ثَلَاثُونَ سَنَةً ثُمَّ يُؤْتِي اللهُ بَعْدَ ذَلِكَ مُلْكَهُ مَنْ يَشَاءُ (قَالَ سَعِيدٌ: ثُمَّ قَالَ لِي سَفِينَةُ رضی الله عنه: أَمْسِكْ عَلَيْكَ خِلَافَةَ أَبِي بَكْرٍ سَنَتَيْنِ وَخِلَافَةَ عُمَرَ عَشْرًا وَخِلَافَةَ عُثْمَانَ اثْنَتَيْ عَشْرَةَ وَخِلَافَةَ عَلِيٍّ سِتَّ سِنِينَ قَالَ سَعِيدٌ: فَوَجَدْنَاهَا ثَلَاثِينَ سَنَةً فَقُلْتُ لَهُ: إِنَّ بَنِي أُمَيَّةَ يَزْعُمُونَ أَنَّ الْخِلَافَةَ فِيهِمْ فَقَالَ: كَذَبَ بَنُو الزَّرْقَاءِ بَلْ هُمْ مُلُوكٌ مِنْ شَرِّ الْمُلُوكِ.

عَنْ سَفِينَةَ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم قَالَ:" الْخِلَافَةُ ثَلاثُونَ سَنَةً وَسَايِرُهُمْ مُلُوكٌ".

وقال الترمذي: "وهذا حديث حسن، قد رواه غير واحد عن سعيد بن جمهان. له سفينه؛ د ام سلمه رضي الله عنها آزاد شوي غلام روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: زما په امت کې به د نبوت ځای ناسته (خلافت) دېرش کلونه وي؛ بيا به الله تعالى خپل ملك هغه چا ته وسپاري چې دى ئې غواړي؛ سعيد وايي: بيا ما ته سَفِينَة رضي الله عنه وويل: د

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

ابوبکر خلافت دوه کاله، د عمر خلافت لس کاله، د عثمان خلاف دولس کاله او د علي خلافت شپږ کاله درسره واخله؛ سعيد وايي: دا مي ټول دېرش کلونه ومونډل؛ بيا مي ورته وويل: بني اميه داسي انګېري چي خلافت په دوی کي دئ؛ نو سفينه وويل: دا بني زرقاء دروغ وايي؛ بلکي دوی ملوك دي؛ په ملوکو کي هم تر ټولو بد!! په بل روايت کي له سفينه رضي الله عنه روايت دئ چي وايي: رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: خلافت دېرش کلونه دئ نور ئې ملوك دي.

له دې رواياتو څو اساسي او مهمي خبري معلومېږي:

- خلافت او ملوکيت د محتوی او کيفيت له پلوه بېل بېل دي.
- په اسلام کي خلافت هغه ته ويل کېږي چي زعيم د ولس له لوري غوره شي او د هغوی وکيل، ځای ناستی او خليفه وي، ولس په خپله خوښه انتخاب کړی وي او له هغه سره ئې بيعت کړی وي.
- ملك هغه دئ چي يا ئې اقتدار په زور ترلاسه کړی يا په موروڼي توګه. نه ولس د ده په ټاکلو کي څه ونډه او اغېز درلود او نه دی ځان د ولس وکيل او خليفه ګڼي او نه ئې په وړاندي د مسئوليت احساس کوي.
- د راشدينو خلفاءو دېرش کلنه دوره د خلافت دوره وه؛ له هغه وروسته دوره د ملوکيت دوره وه.
- صحابه وو له ملوکيت کرکه درلوده او ملوك ئې غندل.

قرآن د خليفه او ملك (پاچا) په اړه څه وايي؟

قرآن هم موږ ته لارښوونه کوي چي خلافت بېل شئ دئ او ملوکيت بېل؛ آدم عليه السلام او داؤد عليه السلام د خليفه په نامه يادوي او د ملوکو په اړه وايي چي هري سيمي او هېواد ته چي دوی داخل شي؛ تباه ئې کړي او د هغه هېواد عزتمن وګړي سپکوي؛ لکه چي فرمايي:

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

قَالَتۡ إِنَّ ٱلۡمُلُوكَ إِذَا دَخَلُواْ قَرۡيَةً أَفۡسَدُوهَا وَجَعَلُوٓاْ أَعِزَّةَ أَهۡلِهَآ أَذِلَّةٗۚ وَكَذَٰلِكَ يَفۡعَلُونَ ٣٤ النمل: ٣٤

وئې ويل: يقيناً چې کله دا پاچايان کوم کلي ته ننوځي تباه ئې کړي او عزتمن ئې ذليل کړي، او همداسي کوي.

په دې آيت کې د سبأ د ملکې هغه وينا راغلې چې د سليمان عليه السلام د ليک ترلاسه کولو وروسته ئې خپلو درباريانو ته کړې؛ تفصيل ئې داسي دئ:

مَلِکې خپلو درباريانو ته وويل: د پاچايانو دود او خصلت دا دئ چې کله کوم ملك ته ننوځي او پرې مسلط شي نو تباه ئې کړي او د هغه عزتمن خلك سپك او ذليل کړي. د ملکې له دې وينا وروسته ويل شوي چې (او همداسي کوي)، ځينو درنو مفسرينو دا هم د ملکې وينا ګڼلې چې دا کمزورې رأيه ده؛ دقيق تعبير او تفسير دا دئ چې دا د الله تعالى له لورې ويل شوي او د پاچايانو په اړه د ملکې د دغې وينا تأييد ئې کړی. الفاظو ته په پام سره همدا رأيه غوره بريښي. د دې مبارك آيت الفاظ او انداز دومره جامع دئ چې د پاچايانو د معرفې لپاره همدا کفايت کوي، پاچايان او ملوك ئې داسي معرفي کړي:

کله چې کومې سيمې ته ننوځي او پرې مسلط شي؛ هلته تباهي خوروي، امنيت له منځه وړي، د ټولنې مخکنی اجتماعي، سياسي، مذهبي او اخلاقي نظام نسکوروي، د ولس شتمني غارتوي او داسي حالت راپيدا کوي چې نه د چا سر خوندي وي، نه مال او نه عزت.

د ټولنې عزتمن وګړي سپکوي، هغه چې د مفسدو ملوکو او پاچايانو تر تسلط وړاندې ئې سرلوړی ژوند او په ولس کې وقار او اعتبار درلود، د ټولنې مخور شخصيتونه ول او ولس د خپلو مشرانو په سترګه ورته کتل، هغه چې د ظلم او فساد مخالفت کوي، عزت النفس لري، زور او زياتی نه مني، د ولس

deenodanish.com ځخه ښکته شوی Deen-o-Danish

پر مال، سر او عزت تېرى نه زغمي، دوى د دغو ملوكو له لوري رټل كېږي، ځينې ووژني، ځيني زندان ته وليږي او ځيني له خپل هېواده وشړي، او د ټولني، سپك، رذيل او ذليل كسان راوړاندي كړي، هغه څوك پر ولس مسلط كړي او اقتدار وروسپاري چې نه عزت النفس لري، نه كوم دين او مذهب او نه په كوم سپېڅلي ارزښت باور، د ذليلو كرسيو او منحطو اغراضو لپاره هري ذليلي معاملې او سودا ته چمتو وي!! او دا همغه څه دي چې هر پاچا ئې له خپل ولس سره كوي او دا همغه څه دي چې ټولو استعماري ځواكونو په خپلو مستعمراتو كې كړي، پرون انگرېزانو او روسانو په افغانستان كې وكړل او نن ئې امريكايان كوي!!

ډېرى په دين پوه علماء؛ نه موروثي امارت او وليعهد ټاكل جائز ګڼي او نه د غلبې او استيلاء له لارې قدرت ترلاسه كول. د پاكستان مشهور عالم؛ مولانا محمد تقي عثماني وايي: ... خلافت ميراث نه دئ لكه څنګه چې په امپراطوريو كې دود دئ، او نه خلافت د عسكري ځواك په مټ ولاړو ديكتاتوريو په څېر بڼه لري... يعني تقي عثماني صاحب نه ميراثي خلافت مني او دې ته د خلافت په ځاى د امپراطوري نوم وركوي او نه په عسكري ځواك ترلاسه شوى خلافت مني!!

په اسلام كې د امير د ټاكلو يوازې يوه لار ده، او هغه څرګند او له اكراه او جبر پرته د مسلمانانو بيعت، نه بل څه. هره رأيه چې د دې خلاف وي هغه يوه غير اسلامي او غير مشروع لار ده؛ هم د قرآن د صريح نص خلاف، هم د رسول الله صلى الله عليه و سلم د لارښوونو خلاف او هم د صحابه وو د منهج خلاف.

د لومړي خليفه تعيين څنګه وو؟

د رسول الله صلى الله عليه و سلم وفات؛ ستره حادثه وه، مسلمانانو يوازې يو محبوب لارښود له لاسه نه وو وركړى؛ هغه چې الله تعالى د ده په

له deenodanish.com څخه ښكته شوى Deen-o-Danish

لاس له کفر، شرك، جهل، ظلم، ذلت، وحشت، او داخلي خونړیو جګړو وژغورل؛ بلکي له یوه داسي عظیم او رشید زعامت او ډاډمن محور محروم شوي وو چې دوی ئې راغونډ کړي وو، له دوی ئې یو نوی او سرلوړی ټولی او امت جوړ کړی وو؛ دوی ئې یو د بل وروڼه وروڼه کړي وو؛ په داسي حال کې چې تر ده وړاندي ئې زړونه یو بل ته له کرکې، نفرت او عداوت ډك وو؛ د ده د وفات عظیمه تشه ډکول ورته محال برېښېدو؛ نه ئې زوی وو او نه ورور چې د ده د احتمالي ځای ناستي؛ طمع ئې کړې وی، او د احتمالي پېښو په اړه ئې د دوی وېره او اندېښنه راکمه کړې وی؛ ځواکمن دښمنان؛ د حجاز دننه او بهر؛ روم او فارس؛ په کمین کې؛ ټول دې ته منتظر چې له دې پېښې او فرصت اعظمي استفاده وکړي؛ نه دوستانو ته د دې تشي ژر ډکول ممکن برېښېدو او نه په کمین کې ناست دښمنانو ته؛ هیڅا ګمان نه کولو چې مسلمانان به وتوانېږي؛ له دې سختي آزموینې بریالي ووځي او د دې پېښې احتمالي خطرناك عواقب؛ مهار کړی شي. خو راشئ وګورو چې مسلمانان څنګه وتوانېدل؛ د دوی د یوالي، عزت او برم؛ د دې ډاډمن محور له لاسه ورکولو سره سره؛ هم خپل یووالی وساتي او هم د مخکې تلو او د نړۍ ګوټ ګوټ ته د اسلام د رسولو هغه بهیر ته دوام ورکړي چې د رسول الله صلی الله علیه و سلم تر زعامت لاندې پیل شوی وو؟ څنګه وتوانېدل د پیغمبر علیه السلام د وفات په ورځ او تر دې وړاندې چې د ده د تکفین او تدفین مراسم بشپړ شي؛ د خپل لارښود داسي ځای ناستی په اتفاق سره غوره کړي چې سیال ئې نه وو؛ هیڅا ئې مخالفت ونه کړ؛ او دا په داسي حال کې چې رسول الله صلی الله علیه و سلم نه کوم ځای ناستی ټاکلی وو او نه ئې د چا په اړه صراحتاً یا اشارتاً کومه سپارښتنه کړې وه!!

راشئ وګورو چې د ابوبکر رضي الله عنه انتخاب؛ څنګه ترسره شو؛ مسلمانان څنګه وتوانېدل له هیڅ نزاع او شخړې پرته؛ ستونزه حل او د خپل ګران پیغمبر؛ خلیفه او صالح ځای ناستی غوره کړي؛ او په دې توګه الله تعالی

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

دوی ته دا ستر فضیلت او شرف ورپه برخه کړي چې همدا تاریخي ابتکار او ایماني تدبیر ئې؛ د ټولو انسانانو لپاره؛ تر قیامته؛ ځلانده اسوه او بېلګه شي.

ځیني ادعاء کوي چې ابوبکر رضي الله عنه؛ په سقیفه بني ساعده کې د اهل حل و عقد له لوري د امیر په توګه غوره شو!! یعني دا چې ګواکې په سقیفه بني ساعده کې د مدینې ټول قومي او مذهبي مشران، جهادي سالاران، مخور او اغېزمن شخصیتونه؛ راغوند شوي او ابوبکر رضي الله عنه ئې د خلیفه په توګه ټاکلی!!

دا یوه مغالطه او د حقیقت خلاف ادعاء ده چې ګواکې ابوبکر رضی الله عنه د علماءو، قبایلي مشرانو او فوځي چارواکو له لوري غوره شوی!! حقیقت دا دئ چې ابوبکر رضی الله عنه د سقیفه بني ساعده په یوې عامي او آزادي غونډې کې د امارت لپاره نومول شوی او په جومات کې د امیر په توګه ټاکل شوی. له ده وروسته خلفاء هم په جومات کې او د بیعت له لاري غوره شوي، د دوی د انتخاب ترمنځ یوازي د نومولو په طریقه کې څه توپیر وو؛ نه د ټاکلو په څرنګوالي کې، د ټاکلو لار یوه ده او هغه د مسلمانانو عام او بلا اکراه بیعت دئ نه بل څه.

که چا په قرآن، حدیث او د صحابه وو د دور په روایاتو او لیکنو کې چیرې هم د (اهل الحل و العقد) اصطلاح او د معدودو مشخصو اشخاصو له لوري په کوم خاص ځای او د ټرلو دروازو تر شا؛ د کوم امیر د انتخاب بېلګه وښوده؛ نو ادعاء ئې د منلو وړ ده، او که دا اصطلاح د امویانو او عباسیانو د دور زېږنده وي، هغه مهال رامنځته شوې وي چې امارت موروثي شو، اموي او عباسي شو، که داسي وي چې د معدودو اشخاصو له لوري د امیر انتخاب د دې دور بدعت وي، دا اصطلاح سرکاري مفتیانو د موروثي قیادت د توجیه لپاره کارولې وي، بیا خو حقیقتاً چې ټګمارانو یوې عربي اصطلاح ته داسي رنګ ورکړی چې ګواکې دا د کوم آیت یا حدیث برخه ده.

پوښتنه دا ده چې د اسلامي شریعت له مخي ولس د امیر په ټاکلو کې

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

څه حق او څه وجيبه لري؟ د امارت دنده د چا له لوري چا ته سپارل کېږي؟ د امارت د اهل تشخيص د چا کار دئ؟ آيا د ولس له بيعت او رضايت پرته د چا امارت شرعي مجوز لري؟ آيا د زور او جبر امارت جائز دئ؟ امير په جومات کې او د عوامو په خوښه ټاکل کېږي که په قصرونو کې او د تړلو دروازو تر شا د خواصو لخوا؟ ابوبکر، عمر، عثمان او علي رضي الله عنهم په جومات کې د ټولو لمونځ کوونکو له بيعت وروسته د اميرالمؤمنين په توګه غوره شول که د خاصو اشخاصو له لوري؟

آيا د عمر رضي الله عنه هغه وينا مو اورېدلې چې د سقيفه بنی ساعده په غونډې کې ئې وکړه: " مَنْ بَايَعَ رَجُلًا عَنْ غَيْرِ مَشُورَةٍ مِنَ الْمُسْلِمِينَ فَلاَ يُبَايِعُ هُوَ وَلاَ الَّذِي بَايَعَهُ، تَغِرَّةً أَنْ يُقْتَلاَ: که څوك د مسلمانانو له مشورې پرته له کوم امير سره بيعت وکړي؛ نه د ده بيعت ارزښت لري او نه د هغه چا چې بيعت ئې ورسره کړی، د دې وېره شته چې دواړه ووژل شي"!! د عمر رضي الله عنه دا وينا ډېر پرېکنده او قاطع حجت دئ؛ د هغه چا په ضد چې د ټولو مسلمانانو له موافقې او مشورې پرته؛ د څو کسانو بيعت د امارت لپاره کافي ګڼي، دا يوازي د درباري مفتيانو رأيه کېدی شي نه په دين د يوه پوه انسان رأيه. دا رأيه د سلاطينو په خدمت کې بوختو مفتيانو هغه مهال ورکړه چې د امير انتخاب له جومات؛ قصرونو ته او له عوامو؛ درباري خواصو ته انتقال شو او په نتيجه کې ئې امارت موروثي او کورنی شو او يزيد اميرالمؤمنين!! شو.

په دې اړه روايت داسي دئ:

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: ... فَبَيْنَمَا أَنَا فِي مَنْزِلِهِ بِمِنًى وَهُوَ عِنْدَ عُمَرَ بْنِ الخَطَّابِ فِي آخِرِ حَجَّةٍ حَجَّهَا إِذْ رَجَعَ إِلَيَّ عَبْدُ الرَّحْمَنِ فَقَالَ: لَوْ رَأَيْتَ رَجُلًا أَتَى أَمِيرَ المُؤْمِنِينَ اليَوْمَ فَقَالَ: يَا أَمِيرَ المُؤْمِنِينَ هَلْ لَكَ فِي فُلاَنٍ يَقُولُ: لَوْ قَدْ مَاتَ

deenodanish.com خخه ښکته شوی له Deen-o-Danish

عُمَرُ لَقَدْ بَايَعْتُ فُلاَنًا فَوَاللَّهِ مَا كَانَتْ بَيْعَةُ أَبِي بَكْرٍ إِلَّا فَلْتَةً فَتَمَّتْ فَغَضِبَ عُمَرُ ثُمَّ قَالَ: إِنِّي إِنْ شَاءَ اللَّهُ لَقَائِمٌ العَشِيَّةَ فِي النَّاسِ فَمُحَذِّرُهُمْ هَؤُلاَءِ الَّذِينَ يُرِيدُونَ أَنْ يَغْصِبُوهُمْ أُمُورَهُمْ. قَالَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ: فَقُلْتُ: يَا أَمِيرَ المُؤْمِنِينَ لاَ تَفْعَلْ فَإِنَّ المَوْسِمَ يَجْمَعُ رَعَاعَ النَّاسِ وَغَوْغَاءَهُمْ فَإِنَّهُمْ هُمُ الَّذِينَ يَغْلِبُونَ عَلَى قُرْبِكَ حِينَ تَقُومُ فِي النَّاسِ وَأَنَا أَخْشَى أَنْ تَقُومَ فَتَقُولَ مَقَالَةً يُطَيِّرُهَا عَنْكَ كُلُّ مُطَيِّرٍ وَأَنْ لاَ يَعُوهَا وَأَنْ لاَ يَضَعُوهَا عَلَى مَوَاضِعِهَا فَأَمْهِلْ حَتَّى تَقْدَمَ المَدِينَةَ فَإِنَّهَا دَارُ الهِجْرَةِ وَالسُّنَّةِ فَتَخْلُصَ بِأَهْلِ الفِقْهِ وَأَشْرَافِ النَّاسِ فَتَقُولَ مَا قُلْتَ مُتَمَكِّنًا فَيَعِي أَهْلُ العِلْمِ مَقَالَتَكَ وَيَضَعُونَهَا عَلَى مَوَاضِعِهَا. فَقَالَ عُمَرُ: أَمَا وَاللَّهِ - إِنْ شَاءَ اللَّهُ - لَأَقُومَنَّ بِذَلِكَ أَوَّلَ مَقَامٍ أَقُومُهُ بِالْمَدِينَةِ. صحيح ابن حبان

له ابن عباس رضي الله عنهما روايت دئ چي وئې ويل: هغه مهال چي زه په منىٰ کې د عبدالرحمن بن عوف په هستوګنځي کې وم او دی د عمر خوا کې وو؛ په هغه وروستي حج کې چې ده وکړ؛ کله چې راستون شو؛ نو راته وئې ويل: کاش هغه سړی دي ليدلی وی چې اميرالمؤمنين ته راغی او وئې ويل: اې! اميرالمؤمنينه! آيا د هغه چا په اړه څه وايې چې وئې ويل: که عمر وفات شي نو زه به حتماً له فلان سره بيعت کوم؛ او قسم په خدای چې د ابوبکر بيعت ناڅاپي بيعت وو او ترسره شو!! نو عمررضي الله عنه غصه شو او وئې ويل: زه ماخستن خلکو ته وينا کوم او خبرداری ورکوم چې ځيني خلك غواړي په دوی پوري اړوند کار (د دوی حق) ترې غصب کړي، عبدالرحمن وايي ما ورته وويل: اې امير المؤمنينه! دا کار دلته مه کوه، دلته عام او ساده خلك راغونډ شوي، کله چې د خلکو منځ کې ودرېږې نو همدا به ستا خواته

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

راغونډېږي، ستا د خبرې په مطلب به سم پوه نشي، په ناسمه توګه به ئې تعبیر او نورو ته انتقال کړي، نه به سم پرې پوه شي او نه به ئې په سمه وکاروی شي؛ صبر وکړه؛ تر هغه چې مدینې ته ستون شې؛ مدینه د هجرت او سنت ټاټوبی دئ، هلته پوهان او مخور خلك راغونډ کړه؛ او څه چې غواړې وئې وایه؛ د علم خاوندان به ستا د خبرې په مطلب پوه شي او په سمه توګه به ئې تعبیر کړي، نو عمر رضي الله عنه وویل: په خدای قسم چې إِنْ شَاءَ اللَّهُ زه به په مدینه کې په خپلې لومړۍ وینا کې دا خبره کوم... همداسي وشول، هغه په مدینه منوره کې د لومړۍ جمعې په خطبه کې د نورو خبرو په ضمن کې وویل:

ثُمَّ إِنَّهُ بَلَغَنِي أَنَّ قَايِلًا مِنْكُمْ يَقُولُ: وَاللَّهِ لَوْ قَدْ مَاتَ عُمَرُ لقد بايعت فلانا فَلاَ يَغْتَرَّنَّ امْرُؤٌ أَنْ يَقُولَ: إِنَّمَا كَانَتْ بَيْعَةُ أَبِي بَكْرٍ فَلْتَةً وَتَمَّتْ أَلاَ وَإِنَّهَا قَدْ كَانَتْ كَذَلِكَ وَلَكِنَّ اللَّهَ وَقَى شَرَّهَا وَلَيْسَ فِيكُمْ مَنْ تُقْطَعُ إِلَيْهِ الْأَعْنَاقُ مِثْلَ أَبِي بَكْرٍ وَإِنَّهُ كَانَ مِنْ خَيْرِنَا حِينَ تُوُفِّيَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ بَايَعَ رَجُلًا عَنْ غَيْرِ مَشُورَةٍ مِنَ الْمُسْلِمِينَ فَلاَ يُبَايَعُ هُوَ وَلاَ الَّذِي بَايَعَهُ تَغِرَّةً أَنْ يُقْتَلاَ.

ما ته دا خبره رسېدلې چې ستاسو یو ویناوال وایي: قسم په خدای که عمر مړ شو نو له فلاني سره به بیعت کوو، هیڅوك دي په دې نه غولېږي چې ووایي: د ابوبکر بیعت همداسي ناڅاپي او غیرمترقبه وو، هو؛ همداسي وو، خو الله ئې له شره وژغورلو، خو اوس په تاسو کې د ابوبکر په څېر داسي څوك نشته چې ټول پرې قانع وي، .چا چې له کوم کس سره د مسلمانانو له مشورې پرته بیعت وکړ؛ نو نه دي له ده سره بیعت کېږي او نه له هغه سره چې ده ورسره بیعت کړی؛ احتمالاً چې دا تېروتنه به باعث شي چې دواړه ووژل شي!!

deenodanish.com ځخه ښکته شوی له Deen-o-Danish

ګورئ چې دلته عمر رضی الله عنه د ځینو کسانو دا وینا غندي چې غواړي د سقیفه بني ساعده په څېر؛ څوك راوړاندي کړي او بیعت ورسره وکړي، دا خطرناکه لوبه ګڼي، غواړي خلکو ته ووایي چې مه پرېږدئ ستاسو حق د ځینو کسانو له لوري غصب شي، د سقیفه بني ساعده غونډه هم یوه ناڅاپي، غیر مترقبه او عجولانه غونډه بولي، وایي چې الله تعالی په خپل فضل سره د هغې له شره وژغورلو، دا خبره هم کوي چې د ابوبکر په څېر داسي شخصیت نه مومو چې ټول خلك پرې قانع او راضي وي، او په پای کې وایي: که څوك د مسلمانانو له مشورې پرته له کوم امیر سره بیعت وکړي؛ نه د ده بیعت ارزښت لري او نه د هغه چا چې بیعت ئې ورسره کړی، د دې وېره شته چې دواړه ووژل شي"!!

آیا عوام د امیر په ټاکلو کې د څه ویلو حق نه لري؟

ځیني وایي: عوام د امیر په ټاکلو کې د څه ویلو حق نه لري، په دوی کې ځیني دومره غلو کوي چې عوامو ته د جاهلانو او احمقانو خطاب کوي او وایي چې د امیر د انتخاب حق جاهلانو او احمقانو ته نه دئ سپارل شوی!!

ځیني خو به دا خبره په ښه نیت کوي خو په دې نه پوهېږي چې د ښه نیت خبره باید په ښو الفاظو وکړي او داسي څه ونه وایي چې الله او د هغه پیغمبر نه وي ویلي او د عوامو زړه له اسلام؛ تور کړي!! دې دوستانو ته وایو:

مور خو ټول قرآن په ډېر دقت سره لوستلی، ستاسو دا وینا مو نه صراحتاً او نه اشارتاً په کې موندلې، صحاح سته مو لوستلې؛ داسي حدیث مو نه دئ لیدلی چې ستاسو دغه وینا تأیید کړي چې عوام احمقان دي او د امیر په غوره کولو کې د څه ویلو حق نه لري!! قرآن خو وایي چې الله تعالی د یوه (امي) قوم له منځه یو (امي) پیغمبر غوره کړ، د دې لپاره چې د ټولې نړۍ غوره امت ترې جوړ شي، او همداسي وشول، همدا امي او په لیك لوست نه

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

پوهېدونکی قوم؛ د ټول عالم لارښود شو، قرآن خو د اهل کتابو هغه علماء او مشایخ په سختو الفاظو رټي چې ځان ئې تر نورو غوره ګڼلو او ویل به ئې: زموږ سینې له علومو ډکې دي!! حتی د اهل کتابو همدا علماء ئې له هغو خرو سره تشبیه کړې چې کتابونه پرې بار وي!! قرآن خو ایمان او عمل د فضیلت لامل ګڼي نه بل څه، څلور راشد خلفاء خو په جومات کې د هغو خلکو لخوا غوره شوي چې د اهل کتابو احبارو به عوام کالانعام ورته ویل، همغه اصطلاح چې نن ئې د دوی ملګري کاروي!!

امیر په اصل کې د مسلمانانو خلیفه، وکیل، کفیل او ځای ناستی دئ؛ هر مسلمان که هغه عالم وي او که عالم نه وي؛ د خپل وکیل د ټاکلو حق لري.

همداراز د امیر د اهلیت په اړه رأی ورکول؛ په اصل کې شهادت او ګواهي ده؛ رأی ورکوونکی په حقیقت کې شهادت او ګواهي ورکوي چې دا شخص د امارت لپاره اهل او وړ شخص دئ. په شهادت ورکولو کې نه ديني علم شرط دئ او نه دنیایي علم؛ اصلاً علم په ديني او غیر ديني وېشل په خپله قبیح بدعت دئ، نه قرآن وېشلی او نه رسول الله صلی الله علیه و سلم؛ دین ټولو علومو ته شامل دئ او هر علم د الله تعالی پېرزوینه ګڼي؛ د وکالت او شهادت لپاره د هغه چا په اړه علم درلودل کافي دي چې وکیل ټاکل کېږي او رأی ورکول کېږي؛ په شهادت کې الله تعالی له فاسق د رأی ورکولو او ګواهي ورکولو حق سلب کړی او مؤمنانو ته ئې فرمایلي چې ګواهي ئې مه منئ؛ هغه ئې د فاسق په نامه یاد کړی چې پر پاك لمنو مؤمنو مېرمنو د زنا داسي تور لګوي چې د اثبات لپاره ئې څلور شاهدان نه دي وړاندي کړي.

د دې رأی خاوندان؛ د یوه آیت دا برخه د مخاطب مخي ته ږدي او وایي:

هَلۡ يَسۡتَوِي ٱلَّذِينَ يَعۡلَمُونَ وَٱلَّذِينَ لَا يَعۡلَمُونَۗ

آیا هغه چې پوهېږي له هغو سره برابر دئ چې نه پوهېږي؟

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

دوی ته په ځواب کې وایو: راشئ د دغه آیت په وړاندې لږ مکث وکړو او وګورو چې د بحث موضوع ئې څه ده او له کومه پلوه دا دواړه برابر نه بولي؛ آیت داسي دئ:

أَمَّنْ هُوَ قَٰنِتٌ ءَانَآءَ ٱلَّيْلِ سَاجِدًا وَقَآئِمًا يَحْذَرُ ٱلْءَاخِرَةَ وَيَرْجُواْ رَحْمَةَ رَبِّهِۦ ۗ قُلْ هَلْ يَسْتَوِى ٱلَّذِينَ يَعْلَمُونَ وَٱلَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ ۗ إِنَّمَا يَتَذَكَّرُ أُوْلُواْ ٱلْأَلْبَٰبِ ۝٩ الزمر: ۹

آیا هغه چې د شپې له لورې په داسي حال کې سجده کوونکی او قیام کوونکی وي چې (خپل رب ته) قانت (غاړه ایښودونکی) وي، له آخرت وېرېږي او د خپل رب د رحمت هیله لري، ووایه: آیا هغه چې پوهېږي او هغه چې نه پوهېږي سره برابر دي، یقیناً چې یوازې عقلمن وګړي پند اخلي.

په دې مبارك آیت کې داسي پوښتنه له مخاطب شوې چې ځواب ئې څرګند دئ؛ پوښتنه دا ده: آیا هغه چې د شپې له لورې په عبادت بوخت وي؛ خپل رب ته مطیع وي، له آخرت وېرېږي او د خپل رب رحمت ته هیله لري؛ علم او پوهې دا خصلتونه او ځانګړتیاوي ورپه برخه کړې؛ آیا دا پوه انسان؛ له هغو سره برابر دئ چې نه پوهېږي او دا ځانګړتیاوي نه لري؟!! د دې پوښتنې ځواب څرګند دئ، د هیڅ معیار له مخې دا دواړه نشي سره برابرېدی، دا دواړه ډلې نه د شخصیت له پلوه سره برابرېدی شي او نه د خپلو کړنو له پلوه، یو به هرو مرو نېك وي او له ګناه، ظلم او د بل پر حق له تېرې به ډډه کوي او بل به له دغو ټولو وړتیاوو او ځانګړتیاوو محروم وي، له بلې خوا ویل شوي چې یوازې عقلمن وګړي پند اخلي. دلته هغه څوك د عالم په نامه یاد شوی چې مواصفات ئې وړاندې یاد شوي او له لایعلمون مراد هغه دي چې دا ځانګړتیاوي نه لري.

قرآن په بل ځای کې هم؛ هغه څوك د عالم په نامه یادوي چې له خپل

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

رب ډېر وېرېږي.

إِنَّمَا يَخۡشَى ٱللَّهَ مِنۡ عِبَادِهِ ٱلۡعُلَمَٰٓؤُاْ فاطر: ۲۸

يقيناً چې له الله يوازې د ده عالم بندګان وېرېږي.

دا هم بايد په پام کې ولرو چې قرآن په علم کې فضيلت د امارت لپاره ضروري شرط ګڼي؛ نه په شهادت کې او نه د کفيل او وکيل په ټاکلو کې.

دا دوستان دې ته متوجه نه دي چې احتياط بايد په دې کې وشي چې نومول شوي اشخاص اهل او د امارت وړ وي، نه دا چې څوک رأيه ورکوي. که له دوو داسې اهل شخصيتونو چې د امارت لپاره وړ او مناسب وي، ټول ضروري مواصفات ولري، د علم، تقوى، امانت او اهليت په ګاڼې سمبال وي، يو ئې د عوامو په خوښه او د اکثريت په رأيه غوره شي، څه تاوان مو کړی؟ اشکال خو هغه مهال راولاړېږي چې اهليت په پام کې ونه نيول شي او يوازې د رأيو اکثريت ته اعتبار ورکړی شي. او متأسفانه دا کار اکثراً د ټولنې عوامو نه بلکې سوء او درباري علماءو کړی!! د اشغال د دوران جمهور رئيسانو ته عوامو رأی نه ده ورکړې؛ درباري علماءو ئې ملګرتيا کړې او په تقلبي رأيو ئې بريالی اعلان کړی.

اووم- د زعيم ټاکلو په اړه د قرآن لارښوونه

قرآن موږ ته لارښوونه کوي چې څوک به د امير په توګه ټاکو؛ د هغه مواصفات به څه وي او دنده ئې څه؛ دغو دوو مبارکو آيتونو ته ځير شئ:

إِنَّ ٱللَّهَ يَأۡمُرُكُمۡ أَن تُؤَدُّواْ ٱلۡأَمَٰنَٰتِ إِلَىٰٓ أَهۡلِهَا وَإِذَا حَكَمۡتُم بَيۡنَ ٱلنَّاسِ أَن تَحۡكُمُواْ بِٱلۡعَدۡلِۚ إِنَّ ٱللَّهَ نِعِمَّا يَعِظُكُم بِهِۦٓۗ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ سَمِيعَۢا بَصِيرٗا ٥٨ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَأَطِيعُواْ ٱلرَّسُولَ

deenodanish.com خخه ښکته شوی له Deen-o-Danish

وَأُوْلِي ٱلۡأَمۡرِ مِنكُمۡۖ فَإِن تَنَٰزَعۡتُمۡ فِي شَيۡءٖ فَرُدُّوهُ إِلَى ٱللَّهِ وَٱلرَّسُولِ إِن كُنتُمۡ تُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِۚ ذَٰلِكَ خَيۡرٞ وَأَحۡسَنُ تَأۡوِيلًا ٥٩

النساء: ۵۸

يقيناً چې الله تاسو ته د دې امر کوي چې امانتونه خپل اهل ته وسپارئ او کله چې د خلکو ترمنځ پرېکړه کوئ نو په عدل سره پرېکړه وکړئ، بې شکه چې الله په ډېر غوره څه تاسو ته نصيحت کوي، يقيناً چې الله بصير اورېدونکی دئ. اې مؤمنانو! د الله اطاعت وکړئ او د پيغمبر او د خپلو چارواکو اطاعت وکړئ، نو که په کوم څه کې مو په خپلو کې شخړه وکړه، نو الله او پيغمبر ته ئې راجع کړئ، که پر الله او د آخرت پر ورځ ايمان لرئ، دا ډېر غوره دئ او د پايلې له پلوه ډېر ښايسته.

په دغو دوو آيتونو کې د اسلامي نظام په اړه څو داسي اساسي لارښوونې شوې چې که په ټول قرآن کې يوازې همدا آيتونه راغلي وی نو د دې نظام د معرفې لپاره کافي وو. په دې آيتونو کې لاندې مطالب راغلي:

- الله تعالی ټول اسلامي امت ته امر کوي چې امانتونه خپل اهل ته وسپاري. د امانت معنی عامه هم کېدی شي او په هر مادي او معنوي امانت ئې هم اطلاق کېدی شي، خو دلته له امانت؛ د واکمنۍ او اقتدار امانت مراد دئ. دا ځکه چې ورپسې متصل؛ د خلکو ترمنځ د حکميت يادونه شوې، او بيا حکم شوی چې د الله تعالی، د هغه د رسول او د اولوالامر اطاعت وکړئ.
- د اسلام له نظره اقتدار يو امانت دئ او د اقتدار خاوند د خلکو د امانتونو يو امين.
- دا (امانت) به د مسلمانانو لخوا هغه چا ته سپارل کېږي چې (اهليت) ئې ولري. او دا د ټول اسلامي امت مأموريت او الهي فريضه ده چې د اقتدار امانت او په هغه پوري مربوط ټول امانتونه به داسي چا ته

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

سپاري چې د دې وړتيا او اهليت په کې وي.

- لکه څنګه چې د هر امانت اصلي خاوند دا حق لري چې خپل امانت په کومو شرائطو او د څومره مودې لپاره (امين) ته وسپاري او کله ئې بېرته ترې واخلي، همداراز دا د خلکو حق دئ چې د امارت امانت چا ته، تر کله سپاري او کله ئې بېرته ترې واخلي.
- دغه امين ته چې کوم صلاحيتونه او امکانات سپارل کېږي؛ که زکات او عشر دئ، که غنيمت يا فئ دئ، که له کورنيو او بهرنيو لوريو سره کومه معامله وي، د جنګ يا د صلحې؛ دا د ټول ولس (امانتونه) دي، په دې امانتونو کې هر راز تصرف به د ولس په مشوره کوي، هر هغه تصرف چې د ولس د مشورې خلاف ئې کوي؛ خيانت دئ، دا د ولس حق دئ چې ده ته څومره واك وركوي او تر کله ئې وركوي او کله ئې بېرته ترې اخلي. دی د ولس خادم، وکيل او کفيل دئ نه آقا او بادار.
- چا ته چې د امارت او واکمنۍ امانت وسپارل شي؛ هغه به په دې امانت کې د يوه امين په څېر تصرف کوي، نه د يوه مطلق العنان حاکم په څېر.
- دا د امانتونو امين په دې مکلف دئ چې د خلکو ترمنځ به ئې هر قضاوت پر عدالت ولاړ وي.
- که د دې امين (امير) او د امانت د اصلي خاوندانو (خلکو) ترمنځ په کوم څه کې اختلاف راولاړ شي، نو منازعه به د الله کتاب او د رسول سنت ته راجع کېږي، وروستۍ پرېکړه به د قرآن او سنت له مخې کېږي.
- د قانون په وړاندې ټول برابر دي، هيڅوك دا حق نلري چې ځان تر قانون اوچت وګڼي، قانون ځان ته تابع او ځان د وروستۍ پرېکړې وروستۍ مرجع وګرځوي.

يعني دا چې: اسلام د امير انتخاب هم د مسلمانانو وجيبه ګڼي او هم ئې حق. د خلکو لخوا (څرګند) او (پخپله خوښه) بيعت ئې د امارت لپاره

deenodanish.com خخه ښکته شوی Deen-o-Danish

شرط ګرځولی.

له امیر سره د خلکو بیعت داسي نه دئ چي لومړی به هغه له کومي بلي لاري امیر کېږي او بیا به خلك د بیعت شکلي مراسم د دې لپاره ترسره کوي چي د ده په وړاندي د خپل اطاعت څرګندونه وکړي، خبره داسي نه بلکي برعکس ده، دا بیعت دئ چي په هغه سره څوك امیر کېدی شي، تر هغه چي خلك له چا سره بیعت ونه کړي امارت ئې نشي مسلم کېدی، امیر هغه دئ چي خلك ورسره بیعت وکړي، له بیعت پرته مسلط شوی واکمن یو جابر او غاصب حاکم دئ.

ابوبکر رضي الله عنه هلته امیر شو چي خلکو په جومات کي له ده سره بیعت وکړ، عمر رضي الله عنه له هغه وروسته امیر شو چي د خلکو بیعت ئې ترلاسه کړ، د ابوبکر رضي الله عنه لخوا د ده نومونه یوازي یو وړاندیز وو، او عمر رضي الله عنه تر خپل شهادت مخکي شپږ کسان د دې لپاره غوره کړل چي له خپل منځ به یو کس انتخابوي او بیا به دغه کس د بیعت لپاره ولس ته معرفي کوي.

د پیغمبر علیه السلام سنت او د اصحابو رضي الله عنهم منهج ته په پام سره ویلی شو چي:

۱- اسلام موږ ته امر کړی چي لومړی به انقلاب راولو، غیراسلامي ټولنه به د جهاد له لاري په اسلامي ټولني بدلوو او اقتدار به له ظالمانو اخلو او صالح کسانو ته به ئې انتقالوو، خو د انقلاب له راتلو او د اسلامي ټولني له جوړېدو وروسته به قدرت ته د رسېدو هره هڅه حرامه ګڼو، هلته به وسلې ته لاس کول او یا د زور او سازشونو له لاري قدرت ته د رسېدو هڅه نه کوو، اقتدار به د مسلمانانو امانت او دا به د خلکو حق ګڼو چي قدرت د خپلي خوښي صالح او اهل کس ته وسپاري، دلته به امیر د مسلمانانو په خوښه او د دوی د بیعت له لاري ټاکل کېږي.

۲- د امیر انتخاب د ټولني د ټولو مسلمانانو کار دئ نه د څو معدودو

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

کسانو کار، دا ځکه چې خلفای راشدین په جومات کې غوره شوي، نه د ټرلو دروازو تر شا او د څو کسانو په خوښه.

۳- د امارت لپاره تر یوه زیات کسان هم نومول کېدی شي، داسي لکه چې عمر رضي الله عنه ونومول.

٤- که تر یوه زیات کسان د امارت لپاره راوړاندي کړی شول، د استفتاء او د خلکو رأیي ته د مراجعي له لارې کولی شو د دوی له منځه هغه څوك غوره کړو چې د مسلمانانو اکثریت ئې د امارت لپاره اهل ګڼي.

٥- د امارت لپاره خاص مواصفات ټاکل شوي، د دغو مواصفاتو له مخې به اهل کسان نومول کېږي، خو د اهل کسانو له منځه د یوه انتخاب به د مسلمانانو د اکثریت په رأیه ترسره کېږي.

دا ډېره عجیبه ده چې د دغو څرګندو نصوصو په موجودیت کې او په داسي حال کې چې د راشدینو خلفاءو د انتخاب څرنګوالی ئې په مخکې پروت دئ، ځینې امارت موروثي حق ګڼي، یوازې د علي او د ده د اولاد رضي الله عنهم مسلم حق؛ او وایي چې دوی د الله له لورې غوره شوي، که دا خبره سمه وی نو لومړی خو به په قرآن کې حتماً په دې اړه صریح آیت راغلی وو، پیغمبر علیه السلام به خلکو ته په واضح الفاظو ویلي وو، صحابه وو به هغه د لومړي خلیفه په توګه او د ده اولاد له ده وروسته د امراءو په توګه غوره کړي وو، علي رضي الله عنه به له مخکینیو خلفاءو سره بیعت نه کاوو او تر ټولو مهمه خبره دا چې په قرآن کې به دا آیت نه راتلو چې اې مسلمانانو! الله تاسو ته امر کوي چې د امارت امانت اهل ته وسپارئ، که امارت موروثي وی او امیر د الله او پیغمبر له لورې غوره کېدی نو مسلمانانو ته به ولې دا خبره کېده؟! او که موروثي وی نو میراث خو ورثه وو ته پرته له دې سپارل کېږي چې وګوري هغه ماشوم دئ که ستر، هغه روغ دئ که ناروغ، عقل لري که بې عقله دئ، په میراث کې خو د اهلیت شرط نشي وضع کېدی. آیا تاسو نه ګورئ چې د نړۍ په ظالمانه موروثي نظامونو کې دې خبرې ته څوك نه ګوري

deenodanish.com څخه ښکته شوی له Deen-o-Danish

چې د واکمن وارث د دې منصب اهل دئ که نه، زوی، لور او ښځې ته ئې په میراث پاته کېږي. د قرآن په لسګونو آیتونه د اهل کتابو د دغې غلطې انګېرنې د تردید لپاره راغلي چې دوی په موروثي نظام او له پلاره اولاد ته د مذهبي مقام او منزلت په انتقال باور درلود.

دا هم ډېره عجیبه ده چې ځینې وایي: د یو چا د امارت لپاره د پنځو کسانو بیعت هم کافي دئ، که له ټول امت یوازې پنځه کسان او حتی یو کس له چا سره بیعت وکړي هغه مسلم امیر دئ او په ټولو ئې اطاعت واجب!!

دا هسې بې بنسټه او چټې خبرې دي هم د څرګندو نصوصو خلاف او هم د صحابه وو د منهج خلاف. دا خبرې یا هغه څوک کولی شي چې تر ستونې په جهل کې غرق وي او دومره جهالت هم کولی شي چې دا ټول حقائق له پامه وغورځوي او یا هغه چې د کوم دربار مفتي وي.

له دې حکم چې د امیر او خلکو ترمنځ اختلافي قضایا به قرآن او سنت ته راجع کېږي، دا حقیقت په ډاګه معلومېږي چې امیر په مشوره مکلف دئ، د اختلاف په صورت کې ده ته د وروستۍ پرېکړې حق نه دئ ورکړی شوی، وروستۍ فیصله به د قرآن او سنت له مخې کېږي. او همدا پر الله او د آخرت پر ورځې د ایمان مقتضی ګڼل شوې.

خو دلته له (اولوالامر منکم) د مسلمانانو کوم چارواکي مراد دي؟ هر آمر که یوازې خلیفه او امیرالمؤمنین؟ که څه هم د اولي الامر منکم اطلاق په هر امیر کېدی شي، خو په دوه دلیله په اطمئنان سره ویلی شو چې مراد ترې د مسلمانانو عمومي امیر دئ؛ دا ځکه چې:

- له الله او پیغمبر وروسته ئې ذکر شوی.
- له نورو امراءو او چارواکو اطاعت په اصل کې له عمومي امیر اطاعت دئ.

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

دې ته مو هم پام وي چې د دې مبارك آيت د شأن نزول په اړه ځيني په يوه ضعيف روايت استناد کوي او وايي: د مکې له فتحي وروسته رسول الله صلى الله عليه و سلم د کعبې کلياني ببرته هغه عثمان بن طلحه ته وسپارلې چې تر دې وړاندې دا دنده د هغه کورنۍ ته سپارل شوې او ګواکې همدا د دې شأن نزول دئ!! دا رأيه په بشپړه توګه ناسمه ده، دا ځکه چې د النساء د سورې ېلې ېلې برخې له درېيم هجري کال تر پنځم پورې نازلې شوې او دا ښيي چې دا آيت به د مکې له فتح او عثمان بن طلحة رضى الله عنه ته د کعبې د کليانو له سپارلو نږدې شپږ کاله وړاندې نازل شوى وي، نو څنګه ومنو چې دا پېښه د دې آيت شأن نزول ده؟!! شأن نزول خو هغې پېښې او هغه حالت ته وايي چې د قرآن کوم آيت د هغه په ارتباط او همغه مهال نازل شوى وي، که څوك ووايي: د کليانو سپارل د دې آيت يو مصداق وو، کېدى شي ادعاء ئې سمه وي، خو د شأن نزول نوم ورکول په قطعي توګه غلطه خبره ده، عثمان بن طلحة رضى الله عنه ته د کليانو سپارل د دې آيت مصداق هم نشو ګڼلى، دا ځکه چې کلياني نه د ده شخصي مال وو او نه دى تر نورو د دې کار لپاره اهل، دى د مکې له فتح وروسته مسلمان شوى، څنګه به ئې تر هغو مسلمانانو د دې دندې لپاره اهل ګڼو چې مکه د دوى په لاس فتح شوه او دى د هغوى په لاس مسلمان شو؟! رسول الله صلى الله عليه و سلم د خاص مصلحت لپاره دا کلياني ببرته ده ته وسپارلې، دې ته مو پام وي چې کعبې ته دروازه جوړول، قفل (کلپ) وراچول، کلياني ئې په جيب کې ګرځول د مشرکو قريشو بدعت وو چې شرعي اصل نه لري، کعبه د خداى کور دئ، دروازه به ئې د ټولو پر مخ تل پرانيستې وي، ابراهيم عليه السلام داسې جوړه کړې وه چې د ننوتو او وتو دوه لارې ئې درلودې، دروازو ئې نه درې درلودې او نه بندېدې، درشل ئې له زمکې سره برابر وو، قريشو د کعبې سطح لوړه کړه، يوه دروازه ئې په ډبرو بنده کړه، بلې ته ئې دړه او قفل واچاوو، موخه ئې دا وه چې کعبې ته

deenodanish.com خخه ښکته شوى Deen-o-Danish

ننوتل د دوی په واك كې وي، د خپلې خوښې خلكو ته د ننوتو اجازه ورکړي!! رسول الله صلى الله عليه و سلم غوښتل ښځه ئې په ابراهيمي بڼې كې اعمار كړي خو حالت ته په پام سره ئې دا كار ونه كړ. كلياني عثمان بن طلحه رضى الله عنه ته سپارل همداسې د يوه خاص مصلحت له مخې شوى.

له هغو سره به څه كېږي چې له بيعت ډډه كوي؟

مختصر او د صحابه وو د منهج په رڼا كې ئې ځواب دا دئ چې له دوى سره به همغه معامله كوو چې له ابوبكر رضي الله عنه او نورو سره يو شمېر افرادو له فوري بيعت ډډه كړې او لږ وروسته ئې بيعت وكړ؛ د دې تأخير له كبله او په همدې موده كې؛ هغوى نه باغي ګڼل شوي او نه كومه سزا ورکړى شوې.

لږ شمېر مسلمانانو له ابوبكر رضي الله عنه سره؛ د لنډې مودې لپاره؛ له بيعت ډډه وكړه؛ څه ملاحظات ئې درلودل؛ خو همدا بيعت نه كوونكي؛ د هيڅا له لوري باغيان ونه ګڼل شول او كوم عكس العمل ئې په خلاف نه دئ ښودل شوى؛ نه د دې عدم بيعت له كبله څوك زنداني شوى، نه د وژلو مستحق ګڼل شوى او نه بيعت ته اړ كړى شوى؛ بلكې د دوى د اقناع هڅه شوې؛ ډېر ژر قانع شوي او بيعت ئې كړى.

له دې معلومېږي چې عدم بيعت بايد بغاوت تلقي نشي، له امير په اطاعت به هم يوازي هغه مهال يو څوك مكلف او ملزم ګڼل كېږي چې بيعت ئې كړى وي.

موږ په خپلو حزبي اساساتو او اصولو كي دا لرو چې كه څوك له امير سره موافق نه وي، ملاحظات پرې لري، د هغه تګلاري باندې قانع نه وي؛ نو سره له دې كولى شي په حزب كي پاته وي؛ د حزب غړى به ګڼل كېږي؛ د امير په اطاعت هم مكلف نه دئ؛ خو په هيڅ دندي نه شي ګمارل كېدى؛ مخصوصاً په داسې دندي به نه ګمارل كېږي چې د امير د تګلاري د پلي كولو

له deenodanish.com څخه ښكته شوى Deen-o-Danish

دنده ئې پر غاړه وي؛ په اطاعت باندي هغه څوک مکلف دئ چې بيعت ئې کړی وي؛ بيعت په اصل کي هغه تعهد، معاهده او ژمنې ته وايي چې له يوه داسي چا سره کېږي چې د امير په توګه ئې مني.

دا هم بايد په پام کي ولرو چې اسلام هيڅا ته دا جواز نه دئ ورکړی او هيڅ مسلمان دا حق او اجازه نه لري چې له اسلامي صف او ډلې بېل او له امير سره ئې له بيعت پرته پاته شي؛ که دوه نفره وي، درې وي، وړه ټولنه وي يا لويه؛ اسلام ورته حکم کړی چې ټولنه ئې بايد منظمه وي؛ بايد امير ولري، لمونځ ئې هم بايد منظم وي او په يوه امام پسي اقتداء وکړي او په اجتماعي امورو کي هم بايد د يوې منظمې او متحدې ټولنې په توګه عمل وکړي او امير او قيم ولري؛ انفرادي ژوند نشته؛ له صف بېل پاته کېدل نشته؛ له يوه امير سره له بيعت پرته ژوند نشته؛ که سنګر ته درومي يا په سفر ځي؛ بايد امير او قائد ولري.

رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايي: څوك چې له كوم امير سره له بيعت پرته ومري؛ مرګ ئې د جاهليت مرګ دئ.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَنْ خَرَجَ مِنَ الْجَمَاعَةِ قِيدَ شِبْرٍ فَقَدْ خَلَعَ رِبْقَةَ الْإِسْلَامِ مِنْ عُنُقِهِ حَتَّى يُرَاجِعَهُ» قَالَ: «وَمَنْ مَاتَ وَلَيْسَ عَلَيْهِ إِمَامُ جَمَاعَةٍ فَإِنَّ مَوْتَتَهُ مَوْتَةٌ جَاهِلِيَّةٌ»

له عبدالله بن عمر روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: څوك چې له جماعت د يوې لوښتي په اندازه ووځي؛ نو يقيناً چې د اسلام کړۍ ئې له خپلې غاړې وايستله؛ يعني له اسلامه وتلی؛ تر هغه چې بېرته ورستون شي. او وئې ويل: څوك چې په داسي حال کي ومري چې د جماعت کوم امير ئې نه وي؛ نو يقيناً چې مرګ ئې د جاهليت مرګ دئ.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

deenodanish خځه ښکته شوی له deenodanish.com

يَقُولُ: «مَنْ خَلَعَ يَدًا مِنْ طَاعَةٍ لَقِيَ اللَّهَ لَا حُجَّةَ لَهُ وَمَنْ مَاتَ لَيْسَ فِي رَقَبَتِهِ بَيْعَةٌ مَاتَ مَوْتَةً جَاهِلِيَّةً»

له عبدالله بن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چي وئې ويل: له رسول الله صلى الله عليه و سلم مي واورېدل چي ويل ئې: چا چي له اطاعت لاس واخيست؛ له الله تعالى سره به په داسي حال کي مخامخ شي چي (د منلو وړ) هيڅ حجت به ئې نه وي؛ او څوك چي په داسي حال کي ومري چي هيڅ بيعت ئې په غاړه نه وي؛ نو يقيناً چي مرګ ئې د جاهليت مرګ دئ.

يعني کېدی شي يو کس مرور او خفه شي؛ خو له صف د وتلو لپاره هيڅ حجت او جواز نه لري؛ مورِ ته په لمانځه کي دا درس راکړل شوی چي هره ورځ په يوه امام پسي پنځه ځله اقتداء کوو؛ که مو امام داسي ومونډ چي په تلاوت کي ئې اشتباه وکړه او يا په لمانځه کي غلط شو؛ ته حق نه لرې چي له صف ووځي؛ له همدې غلطي او اشتباه سره سره به تر آخره لمونځ ته دوام ورکوې؛ که امام سجده سهوه وکړه؛ همدا ستا او د امام لپاره کافي ده؛ داسي نه چي په لمانځه کي سلام وګرځوې او بېل لمونځ وکړې؛ انتظار به کوې تر هغه چي امام سلام وګرځوي؛ البته فتح ورکولی شې؛ فتح ورکول هم ځان ته اداب لري؛ فتح به هغه څوک ورکوي چي په لمانځه کي ورسره شريک وي؛ که څوک په لمانځه کي ورسره شريك نه وي او په صف کي ورسره ودرېدلی نه وي؛ ترې بهر وي؛ د فتح ورکولو حق نه لري او که ئې امام ته فتح ورکړه او هغه قبوله کړه؛ نو لمونځ ئې فاسد شو؛ د هغه چا فتح به قبلوې چي د لمانځه په صف کي درسره ولاړ وي؛ له صف د وتلي کس هيڅ اعتراض، انتقاد، ملاحضه او فتحه به نه اوري او نه به ئې قبلوې؛ د لمانځه يو هدف هم دا دئ چي په صف کي د پاته کېدو ممارست او تمرين وکړو؛ صف کي بايد دغسي اوسو لکه په لمانځه کي چي ودرېږو؛ منظم به ودرېږو؛ امام پسي به اقتداء کوو؛ د هغه وينا ته به غوږ نيسو او که اشتباه ئې هم

deenodanish.com خخه ښکته شوی Deen-o-Danish

کوله؛ تر پایه به ورسره دروموِ؛ مجال به ورته ورکوو چې خپله اشتباه تصحیح کړي او که تصحیح ئې کړه؛ په سجده سهوه سره؛ نو زموږ لمونځ هم ورسره تصحیح شو.

څوک چې د خپل پیغمبر او لارښود؛ دا ویناوي اوري؛ خو سره له دې هم له بیعت بهر پاته کېږي او وایي چې زه په هیڅ سیاسي ګوند کي نه یم؛ ګواکي بې طرف یم؛ او افتخار هم پرې کوي؛ معنی ئې دا ده چې هغه یا په دین پوه نه دئ او یا د پیغمبر علیه السلام لارښوونو ته هیڅ اعتناء او اهتمام نه کوي او ارزښت نه ورکوي.

له چا سره به بیعت کوو؟

اسلام موږ ته لارښوونه او امر کړی چې د خپلې ټولنې افضل به د امیر په توګه غوره کوو؛ هغه مواصفات او ځانګړتیاوي ئې هم په تفصیلي توګه زموږ مخي ته اېښي چې یو امیر او زعیم باید پرې متصف وي او له مخي ئې مسلمانان وکولی شي افضل او غوره شخصیت تشخیص کړي. موږ ته ئې په ډېر تفصیل سره ښودلي چې یو امیر باید کوم مواصفات ولري؟ د پنځه ویشتو پیغمبرانو یادونه په قرآن کي راغلې؛ دا هریو د دې لپاره یاد شوی چې د هغه په ژوند کې د قیادت او زعامت؛ یوه برخه مواصفات او خصلتونه بیان شوي؛ هر یو ئې زموږ لپاره اسوه او قدوه وي؛ او د همدې په رڼا کې تشخیص کړو چې د اسلامي صف امارت؛ باید کوم مواصفات او ځانګړتیاوي ولري؟ په قرآن کي د پیغمبرانو یادونه د دې لپاره نه ده شوي چې موږ ته د هغوی قیصې بیان کړي؛ بلکه موږ ته ئې عملي، تاریخي او عیني بېلګي او د اسلامي صف د زعامت ځانګړتیاوي انځور کړي؛ د همدې په رڼاکي موږ تشخیصولی شو چې کوم شخص د اسلامي امارت لپاره وړ او مستحق دئ؟ رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایي: چا چې د افضل په شتون کې تر هغه ټیټ او مفضول غوره کړ او هغه ته ئې پر افضل ترجیح ورکړه؛ هغه له

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

خدای، پیغمبر او له ټولو مسلمانانو سره خیانت کړی.

عن ابنِ عباسٍ رضى الله عنهما عن رسولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم قال: "مَنِ استَعمَلَ عامِلًا مِنَ المُسلِمينَ وهو يَعلَمُ أن فيهِم أولَى بذَلِكَ مِنه وأعلَمَ بكِتابِ اللهِ وسُنَّةِ نَبيِّه فقَد خانَ اللَّهَ ورسولَه وجَميعَ المُسلِمينَ"

له ابن عباس رضي الله عنهما روایت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمایل: چا چې له مسلمانانو کوم عامل او آمر توظیف کړ؛ په داسي حال کې چې پوهیږي په دوی کې بل داسي کس شته چې د دې کار لپاره تر ده غوره او د الله په کتاب او د پیغمبر په سنت؛ زیات پوه وي؛ یقیناً چې له الله، د ده له رسول او له ټولو مسلمانانو سره ئې خیانت کړی.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ «مَنِ اسْتَعْمَلَ عَامِلًا عَلَى قَوْمٍ وَفِي تِلْكَ الْعِصَابَةِ مَنْ هُو أَرْضَى لِلَّهِ مِنْهُ فَقَدْ خَانَ اللَّهَ وَخَانَ رَسُولَه وَخَانَ جَمِيعَ الْمُسْلِمِينَ».

له ابن عباس رضي الله عنهما روایت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمایل: چا چې کوم عامل او آمر پر یوه قوم مأمور او توظیف کړ؛ په داسي حال کې چې په دې ولس کې تر ده بل څوک؛ الله تعالى ته زیات محبوب او مقبول شخص وي؛ یقیناً چې له الله سره ئې خیانت کړی، د ده له رسول سره ئې خیانت کړی او له ټولو مسلمانانو سره ئې خیانت کړی.

قال عمرُ بنِ الخَطَّاب رضى الله عنه: مَن استعمل رجلاً لِمودَّةٍ أو لِقَرابةٍ لا يستعملُهُ إلا لذلك فقد خان اللهَ ورسولَه والمؤمنين.

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

عمر رضي الله عنه فرمايلي: چا چې کوم سړی د دوستي له کبله، يا د خپلوي له کبله توظيف کړ؛ نه ئې ګماري مګر له همدې کبله؛ يقيناً چې له الله، د ده له رسول او له ټولو مسلمانانو سره ئې خيانت کړی.

د دې لارښوونو په رڼا کې د هغو په اړه قضاوت کولی شو چې د يوه نااهل، مفسد، سيکولر او حتی ملحد لپاره انتخاباتي کمپاين کوي، رأی ورکوي، ملاتړ ئې کوي، او دا حمايت او ملاتړ هم د همدې نااهل کس؛ د افضل سيال په خلاف؛ په داسي حال کې چې دواړه پېژني؛ او تفاوت ئې ورته معلوم؛ او که اقتدار په لاس ورشي؛ د شخصي دوستي او خپلوي له کبله؛ نااهل ته پر اهل شخص ترجيح ورکوي!! زمونږ لارښود پيغمبر فرمايي: دې کس؛ په دې کار سره؛ هم له خپل رب سره خيانت کړی، هم د هغه له رسول سره او هم له ټولو مسلمانانو سره.

له دوهم امير سره به څه کېږي؟

رسول الله صلى الله عليه و سلم په دې اړه هم مورږ ته لارښوونه کوي چې که مؤمنان متحد وي، له يوه امير سره ئې بيعت کړی وي؛ او کوم څوک راشي؛ له دې امير سره نزاع وکړي؛ او په مسلمانانو کې د اختلاف، شخړو او جګړو باعث شي؛ نو هغه ووژئ او سر ئې غوڅ کړئ؛ فرمايي:

عن الأَعْمَشِ قال قال رسول الله صلى الله عليه و سلم "ومَن بايَعَ إمامًا فَأَعْطَاهُ صَفْقَةَ يَدِه وَثَمَرَةَ قَلْبِهِ فَلْيُطِعْهُ مَا اسْتَطَاعَ فإن جاءَ أَحَدٌ يُنازِعُه فاضربوا عُنُقَ الآخَرِ". قال: فدَنَوتُ مِنه فقُلتُ: أَنشُدُكَ باللهِ أنتَ سَمِعتَ هذا مِن رسولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فأَومَا إلَى أُذُنَيه وقَلبِه بيَدَيه فقالَ: سَمِعَتْه أُذُنايَ ووَعاه قَلبِي. رَواه مُسلِمٌ

له اعمش رضي الله عنه روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

فرمايلي: او چا چې له امام او امير سره بيعت وکړ؛ هغه ته ئې د خپل لاس ټرون او د خپل زړه ټمره او خوښه ورکړه؛ نو تر هغه دي د ده اطاعت کوي چې په وس کې ئې وي؛ او که کوم کس راغی چې له ده سره شخړه او منازعه کوي؛ نو د دې وروستي سر غوڅ کړئ. وئې ويل: راوي ته ورنږدې شوم او ورته ومي ويل: په الله لوړه درکوم؛ آيا تا په خپله دا له رسول الله صلى الله عليه و سلم واورېدل؟ نو هغه په خپلو لاسونو خپلو غوږونو او زړه ته اشاره وکړه او وئې ويل: زما دواړو غوږونو اورېدلې او زړه مي درک کړې او ساتلې.

بايد متوجه وو چې دا حکم د هغه چا په اړه دئ چې د مشروع امير خلاف بغاوت کوي، وسله کاروي او په داسې حال کې په مسلمانانو کې فتنې او جګړې راولاړوي چې دوی متحد دي او چارې ئې د اهل امير په لاس کې دي.

هغه څوک چې وايي په اسلام کې سياست نشته؛ هغه دي مور ته ووايي: د سياست کومه قضيه او اړخ د اسلام له ارشاداتو او لارښوونو بهر پاته ده او په ارتباط ئې اسلام واضح لارښوونه نه ده کړې؟!! د دې درسي حلقو په پای کې به تاسو ته جوته شي چې د سياست هيڅ بعد او قضيه له ديني لارښونو بهر نه ده پاته شوې.

له باغيانو سره څه کېدی شي؟

باغي هغه څوک دئ چې د اسلامي حکومت او امير په ضد وسله وال پاڅون کوي؛ که دا باغيان پر يوې سيمې مسلط شي؛ جګړه پيل شي؛ د اسلامي امارت مدافع ځواکونه؛ د جګړې په موخه؛ هغې سيمې ته ننوځي؛ دغو مجاهدينو ته د اسلام هدايات او لارښوونې دا دي:

- د باغيانو کورونو ته له ننوتلو ډډه وکړئ؛ حتى که د دوی مېرمني د بامونو له سره؛ تاسو ته ښکنځلي کوي او په ډبرو مو ولي. د کور حرمت ته په

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

کتو سره اسلام امر کوي چې د باغي کور ته به نه ننوځئ؛ حتی که دا باغي په کور کي پټ وي.

د دې فقهي لارښوونو مرجع؛ د ټولو فقهاءو لپاره؛ د علي کرم الله وجه هغه منهج او سلوک دئ چې د باغیانو خلاف ئې غوره کړ؛ ځکه مخکي له دې بغاوت نه وو؛ بغاوت دغه مرحله پیل شوی.

- وسله او نوري شتمنۍ به ئې غنیمت نه ګڼئ؛ هیڅوک ئې د غنیمت ګڼلو، غصب او اخیستلو حق نه لري. هر څه ئې د ورثه وو حق دئ.
- تښتېدونکي به ئې نه تعقیب کېږي.
- زخمي افراد به ئې تداوي کېږي.
- که تسلیم شول نو د مخکني بغاوت په جرم به نه محاکمه او نه مجازات کېږي.

د باغیانو په ارتباط د اسلام لارښووني او له دوی سره د مسلمانانو انساني او له ترحم او پېرزویني ډک سلوک؛ داسي دي چې په ټول انساني تاریخ او په هیڅ مذهب، نظام او ایډیولوژي کي ئې مثال او بېلګه نشو موندلی؟ دا نن زمونږ هېواد کي؛ د سیکولرانو او دیموکراتانو په واکمنۍ کي؛ چارواکي د منبر په سر د یوه دیني عالم؛ حقه وینا نه شي زغملی؛ څومره علماء کرام د ارګ شاوخوا او د هېواد په مختلفو سیمو کي سیکولرانو ترور کړل؛ په کال کي ئې تر ۱۱۰۰ زیات علماء ترور کړل؛ د کابل پوهنتون محصلین دوی ووژل؟ په کابل ښار باندي ۲۳ ړانده راکیټونه په یوځایی توګه چا توغولي؟ د دې پېښو مسئولین معلوم دي؛ دا نه طالب کړي، نه داعش کړي او نه کومي بلي ډلي؛ د دې پېښو مسئولین هر هوښیار أفغان ته معلوم دي.

د مخکني عنوان خلاصه دا ده چې د ځای ناستي ټاکل او د هغه لپاره؛ په زور او جبر یا له خپل اثر او رسوخ په استفادې سره؛ له مسلمانانو بیعت

deenodanish.com له Deen-o-Danish څخه ښکته شوی

اخيستل؛ ناجائز، د رسول الله صلى الله عليه و سلم د سنت او د صحابه وو د منهج خلاف عمل دئ.

د اسلامي نظام په اړه مختلف نظريات

يوه مسئله دا ده چې متأسفانه نن؛ د مسلمانانو په صفوفو کې؛ د إسلامي نظام د څرنګوالي په اړه؛ له مختلفو او متعارضو نظرياتو سره مخامخ يو؛ عامل ئې هم ډېر زيات جوت او څرګند دئ؛ مسلمانان؛ د إسلامي خلافت له ړنګېدو وروسته؛ اوږده موده؛ له اسلامي حکومت محروم پاته شوي؛ او که ئې حکومتونه خپل وو؛ ډېرى ئې؛ داسي وو چې نه ئې د راتلو طريقه کاملاً إسلامي وه او نه ئې سياستونه په بشپړه توګه إسلامي؛ له دواړو اړخونو ئې ستونزي درلودې. نږدې يوه پېړۍ خو داسي وه چې نه يوازې عملاً اقتدار د دوى په لاس کې نه وو؛ او حکومتونه د دوى په خوښه نه دي جوړ شوي؛ د پردیو له لوري پرې تحميل شوي؛ بلکي وضعيت داسي وو چې حتى زموږ په ديني مدرسو او تعليمي مراکزو کې هم د اسلامي نظام په ارتباط بحثونه نه دي شوي.

ځيني وايي: د امارت لپاره موده ټاکل جائز نه دي!!

دا خبره به مو ډېر ځله اورېدلې وي؛ چې امير بايد دائم العمر وي؛ له هغه ورځې چې ټاکل شوى وي تر هغې ورځې چې عزرائيل ئې عزل کوي؛ بس دائم العمر دئ؛ بل څوک ئې د عزل کولو حق نه لري؛ آيا دا صحيح ده؟

- همداراز وايي: امير د شورى په وړاندې دا مکلفيت نه لري چې د اکثريت رأيې ته به درناوى کوي او هغه به وروستۍ پرېکړه ګڼي؛ بلکي د شورى د غړو آراء به اوري او پرېکړه به دى په خپله کوي!!
- وايي: د امير ترڅنګ صدراعظم درلودل نه يوازې جائز دي بلکي د خلافت عامه په دور کې دا کار شوى او ځينو خلفاءو دا کار کړى!! له خلافت

له deenodanish.com څخه ښکته شوى Deen-o-Danish

عامه د دوی مراد هغه څلور راشد خلفاء نه دي؛ بلکه تر دوی وروسته دوره ده.

- دا هم وايي: اوس موږ له نويو نويو قضاياوو سره مخامخ يو چې تر نن وړاندي مخکني مسلمانان ورسره مخامخ نه وو؛ نو ځکه مجبورېږو چې د نويو قضاياوو په اړه نوې نوې پرېکړې وکړو!! ګواکي اوس موږ په دنيا کي ګورو چې حکومتونه داسي دي چې جمهور رئيس او صدراعظم لري؛ نو موږ هم دې ته اړ يو همدا کار وکړو؛ وضعيت او ايجابات ئې همدا غوښتنه کوي!! اوس وضعيت بدل شوی؛ دنيا کي معمول دا ده چې دوه نفره د نظام په رأس کي وي؛ يا ملکه او صدراعظم وي؛ لکه د بريتانيا نظام؛ يا جمهور رئيس او صدراعظم وي لکه د پاکستان او هندوستان نظامونه؛ او يا هم يوازي جمهور رئيس خو په خوا کي ئې قوي او مقتدر معاون وي لکه د امريکا؛ او معاون ئې هم د جمهور رئيس سره يو ځای په انتخاباتو کي تعيين کېږي؛ نو دوی فکر کوي چې موږ هم کولی شو چې همداسي يو کار وکړو؛ دا ګواکي د اوسني وضعيت او اوسني اجتماع تقاضی ده؛ دا نوې قضيه ده؛ د نويو قضاياوو په ارتباط موږ کولی شو نوې نوې پرېکړې وکړو؛ ګواکي په قرآن او حديث کي د دغو قضاياوو لپاره لارښوونې نه مومو او اجتهاد ته اړ کېږو!!
- ځيني وايي: د نظام د څرنګوالي په اړه پرېکړه او خاص نوم ورته غوره کول؛ مسلمانانو ته پرېښودل شوي چې د خپلو شرائطو مطابق به په دې اړه مناسب تصميم نيسي!!

ځيني بيا د دې نظر خلاف دي او وايي: د اجتهاد لړۍ؛ ډېر د مخه پای ته رسېدلې، مخکينيو مجتهدينو شريعت بشپړ کړی او اوس هيڅا ته د دې حق نشته چې د هغوی د آراءو په اړه څه ووايي؟! او بيا انجنير او ډاکټر خو قطعاً د دې حق نه لري؛ دا يوازي د يوي خاصي کړۍ حق دئ؛ چې هغوی اجتهاد کولی شي؛ او دا د اجتهاد لړۍ هم بشپړه شوې ده؛ دا خبره مي د دې لپاره ذکر کړه چې ځيني د دې پرځای چې زما په کتابونو سالم نقد او اعتراض

deenodanish.com له Deen-o-Danish څخه ښکته شوی

وکړي؛ وايي: د انجنیر ئې له قرآن، تفسیر او حدیث سره څه؟ دا خبره د پیغمبر علیه السلام په ارتباط هم کېدله؛ او ویل به ئې چې د یوه امي ئې له پیغمبري سره څه؟ ولې به یو امي د پیغمبر په توګه غوره کېږي؟ د پیغمبرۍ لپاره وړ هغه دئ چې رسالت او دیانت؛ د ده په کورنۍ کې او له پلار نیکه ورته په میراث پاته شوی وي؛ باید د اهل کتاب یوه لوړ شخصیت او منلي معروف عالم ته دا مقام سپارل شوی وی؛ نه یوه امي ته چې په لیک لوست نه پوهېږي!!؛ د دې پیړۍ د ډېرو مهمو شخصیتونو؛ چې د اسلامي تحریکونو بنسټګر او زعماء پاته شوي؛ د هغوي په ارتباط هم همداسي خبري کېږي؛ تاسو که د اوسنۍ پیړۍ اسلامي تحریکونه وګورئ؛ د اکثرو مشران یا ډاکټران او یا هم انجنیران دي او دین ئې هم د مبارزي په دوران کي زده کړی. که دا الباني دئ، که د مصر مرسي دئ، که د ترکیې نجم الدین اربکان او که د پاکستان مولانا مودودي دئ.

- ځینې بیا داسي دي چې خپلې انګېرنې او تصورات؛ داسي ورته سپېڅلي او مقدس برېښي چې ښایي سل په سلو کې به د اسلامي شریعت مطابق وي؛ د خپلو ناقصو انګېرنو او تصوراتو خلاف؛ د هیڅ خبري اورېدو ته هم چمتو نه دي، هغه څوك ورته په څلورو کتابونو له اسلام وتلی برېښي چې په دې اړه د دوی په څېر فکر نه کوي؛ د دوی د دې ناسم لیدلوري او دریځ وجه؛ یا له علمي پلوه کمزوري او له قرآن او سنت د دوی بې خبري ده او یا ناروا تعصب او غرض او مرض.

دغو ترخو واقعیتونو ته په پام سره؛ ضروري ده پر دغو مهمو قضایاوو بحث وکړو؛ د علم او قلم خاوندان باید راوړاندي شي او دا تشه ډکه کړي، په ځانګړې توګه په دې حساس پړاو کې چې إن شاء الله مور د اوسني حاکم امریکایي نظام د نړېدو او پر ځای ئې د یوه واقعي اسلامي نظام د قائمولو لپاره ملا تړلې او هغه ورځې رانږدې شوې چې إن شاء الله بهرني ځواکونه به

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

وځي او مجاهدين به د اسلامي نظام د جوړولو موقع ترلاسه کوي. ځيني دا تبليغات هم کوي چې مجاهدينو ته دا موقع په لاس ورغله خو متأسفانه ونه توانېدل؛ دوی قصداً او عمداً دروغ وايي؛ مجاهدينو ته دا فرصت په لاس نه دئ ورغلی؛ د شوروي اتحاد له لوري چې کوم جنګ په افغانانو تپل شوی؛ تر نن پورې دوام لري؛ هغه مهال موږ يوازي د شوروي خلاف جنګېدلو؛ اما د هغوی له وتلو وروسته موږ د کفر او نفاق له ګډې نړيوالې جبهې سره مخامخ شوو؛ ټول هغه هېوادونه چې د روسانو په خلاف ځې زموږ د آزادۍ او خپلواکۍ جنګ ملاتړ کولو؛ هغوی هم له روسانو سره لاس يو کړ او په ګډه ځې تصميم ونيولو چې په افغانستان کې د مجاهدينو په لاس د اسلامي حکومت جوړېدو مخه ونيسي؛ لکه چې نن روسيه په اوسني جنګ کې فعاله برخه لري؛ د افغانانو خلاف جګړه کي؛ د ناټو په څنګ کې ولاړه ده؛ د امريکايي او ناټو ځواکونو ټول اکمالات او تجهيزات د روسيې له لارې ترسره کېږي؛ اسلامي هېوادونه ټول ورسره يوځای شوي؛ دا ۴۸ هېوادونه څوک ول؟ يوازي اروپا او امريکا نه وه؛ اسلامي هېوادونه او زموږ ګاونډي هېوادونه؛ ټول په روان جنګ کې ورسره شريک شول؛ مجاهدينو ته يوه شېبه هم د اسلامي حکومت د جوړېدو موقع په لاس نه ده ورغلې؛ يو اشغالګر ځواک وتلی بل ځې تش ځای ډک کړی؛ يوه جبهه ړنګه شوې او بله پرانيستل شوې.

نن د ټولو هغو ترمنځ فکري يووالی او په دې اړه د نظرياتو توحيد ضروري دئ چې غواړي د هېواد راتلونکی نظام بايد اسلامي نظام وي، د اسلامي نظام په ارتباط بايد د دوی نظريات توحيد شي.

تاسو ووايئ: په هغه صورت کې به يووالی او وحدت څنګه راځي چې يو لوری وايي: د خواصو له لوري د امير ټاکنه صحيح نه ده او هيڅ شرعي مبنی نه لري، خو بل ورته د واجب په سترګه ګوري او ادعاء کوي چې امير به د خواصو او اهل حل و عقد له لوري ټاکل کېږي؛ خو دا هم نشي ويلی چې

deenodanish.com ځخه ښکته شوی Deen-o-Danish

اهل حل و عقد څوك دي، څوك به ئې غوره كوي، څنګه كېدی شي د دوی د غوراوي په اړه د ټولو توافق رامنځته شي؟ داسي وګړي هم شته چې وايي: كه پنځه تنه هم يو څوك د امير په توګه وټاكي او بيعت ورسره وكړي نو پر ټولو مسلمانانو واجبه ده چې له دې امير سره به بيعت كوي!!

مورږ داسي اميرالمؤمنين او خليفة المسلمين هم وليدو چې يو پلوي او امتي ئې درلود؛ دواړه مهاجر ول؛ افغانستان ته راغلي وو، په كنړ كي زمورږ اړوند د مرحوم مولوي صاحب فقير الله جبهې كي اوسېدل؛ يو ئې خليفه وو او بل ئې هم امتي؛ يو ځل ما ته راغلل؛ زه په نغلو كي وم؛ له محافظينو يو تن راغی او وئې ويل: دوه بهرنيان راغلي؛ غواړي له تا سره وګوري؛ ډېر نيكان دي؛ خلافت ئې اعلان كړی؛ خلک بلي چې له دې خليفه سره بيعت وكړي؛ ما ته هم د دې لپاره راغلي وو چې زه ورسره بيعت وكړم؛ د خبرو په دوران كي ئې په يوه آيت استناد كولو؛ د آيت په تلاوت كې ئې اشتباه وكړه؛ ما ورته تصحيح كړ..... دا د هغو يوه بېلګه ده چې وايي: د پنځو تنو بيعت كافي دئ چې د يوه خليفه او امير؛ خلافت او امارت ته مشروعيت وركړي!! او ګواكي داسي بيعت د ټولو مسلمانانو په استازيتوب كافي دئ. متأسفانه دا كسان د الفاظو په چكر كي پرېوتي، نه پوهېږي چې خلافت؛ تر واك لاندي سيمه، له خپلې سيمي او د اوسېدونكو له سر، مال، عزت او ارزښتونو د دفاع توان او د مسلمانانو د غوڅ اكثريت بيعت ايجابوي او همدا د هغه خلافت ته مشروعيت بخښي؛ نه د دوو پنځو تنو او د يوې وړې ډلې له لوري د خليفه او امير المؤمنين د لقب إعطاء.

يو وايي چې د امير لپاره موده ټاكل ضروري او مفيد ده او د هغو فتنو د تكرار مخه نيسي چې د عثمان او علي رضی الله عنهما په شهادت منتج شوې، خو بل وايي چې امير بايد دائم العمر امير وي او موده ورته ټاكل حرام دي!! يو وايي د شورى رأيه ملزِمه ده او په دې عقيده دئ چې امير له مسلمانانو سره په مشوره مكلف دئ؛ كه مسلمانان زيات وي او ټولول ئې

له deenodanish.com څخه ښكته شوی Deen-o-Danish

ستونزمن؛ نو بیا د ولس له معتمدو استازو سره په شوری مکلف دئ او د اکثریت پربکړي ته به هرومرو غاړه ږدي او خپله رأیه به پر نورو نه تحمیلوي، هغه امیر مستحق العزل ګڼي چي د مشورې اصل ته التزام نه لري او په عامه مهمو قضایاوو کي له مسلمانانو سره له مشورې پرته په خپل سر پربکړي کوي؛ واجب العزل دئ. د اسلام حکم او غوښتنه همدا ده چي هر هغه امیر واجب العزل دئ چي شوری ته التزام ونه لري. خو بل وایي چي امیر کولی شي ځان ته د خپلي خوښي شوری جوړه کړي، د هغوی رأی ځان ته معلومه کړي؛ خو پر دې مکلف نه دئ چي د اکثریت رأیه به مني؛ بلکي په خپله خوښه به وروستۍ پربکړه کوي!! که یو په دې عقیده وي چي امیر کولی شي خپل ځای ناستی وټاکی او بل په دې باور وي چي د وصیت په اړه د دې دوست انتباه غلطه ده، نه پیغمبر علیه السلام ځای ناستی ټاکلی او نه راشدینو خلفاءو، ابوبکر رضی الله عنه او عمر رضی الله عنه خپل ځای ناستي نه دي ټاکلي؛ بلکي د امارت لپاره ئې مناسب شخصیتونه نومولي، د دوی په اړه وروستۍ پربکړه په جومات کي او د مسلمانانو په اتفاق شوې، له بیعت وروسته امیران شوي؛ نه فقط د دوی له لوري په نومولو سره؛ یو وایي چي بیعت د امارت لپاره شرط دئ، یوازي د بیعت په نتیجه کي څوك امیر کېدی شي، نه دا چي یو څوك به له نورو لارو امیر کېږي او بیا به خلك د بیعت مراسم ترسره کوي!! خو بل وایي چي لومړی امیر ټاکل کېږي او بیا د بیعت مراسم ترسره کېږي، بیعت د امارت لپاره د شرط په توګه نه بلکي د خلکو د واجب په توګه وړاندي کوي .... آیا له داسي ژور اختلاف سره سره به د یووالي هیله څنګه ترسره کېږي؟! آیا له دې پرته بله چاره لرو چي لومړی دا اختلافات پای ته ورسوو، یو بل ته د وروروۍ لاس ورکړو او بیا په ګډه مخکي ولاړ شو؟!! تګلاره مو یوه وي؛ اهداف او ارمانونه مو یو وي؛ د اسلامي نظام په ارتباط مو نظر او لید لوری یو وي.

د همدې لپاره مو هغه نظریات وڅېړل چي د امیر د ټاکلو په اړه

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

وړاندي شوي؛ خلاصه ئې دا ده:

۱- هغه چې ادعاء کوي امیر د اهل حل و عقد له لوري ټاکل کېږي؛ ادعاء ئې بې بنسټه ده؛ دا خبره کاملاً ناسمه او بې دلیله ادعاء ده چې ابوبکر رضی الله عنه د اهل حل و عقد لخوا غوره شوی.

۲- د ولیعهد ټاکل هم د رسول الله صلی الله علیه و سلم د سنت او هم د خلفاء راشدین د منهج خلاف عمل دئ.

۳- د زور کارولو له لارې او د مسلمانانو له مشورې او موافقې پرته؛ اقتدار غصبول؛ ناجائز دي. حتی دا هم جائز نه دي چې څوک په خپله د امارت غوښتنه او مطالبه وکړي؛ څه دا چې په زور د قدرت غصبولو هڅه وکړي او وسله وکاروي. البته یو هغه حالت دئ چې زمور پر هېواد کافر او یرغلګر مسلط شي؛ په دې حالت کي دا پر مور فرض ده چې د یرغلګر خلاف وسله پورته کړو او تر هغه ورسره وجنګېږو چې هېواد مو آزاد شي؛ خو په هغه حالت کې چې هېواد مو آزاد او اقتدار د مسلمانانو په لاس کي وي؛ په دې حالت کي؛ نه یوازي دا چې وسله کارول حرام دي بلکي د امارت ترلاسه کولو لپاره هره هڅه او سعي حرامه ده؛ دې روایاتو ته لږ ځیر شئ:

عن أبي هريرةَ قال: قال رسولُ اللَّهِ رسول الله صلى الله عليه و سلم: "إنَّكُم سَتَحرِصونَ على الإمارَةِ وإنَّها سَتَكونُ يَومَ القيامَةِ حَسرَةً ونَدامَةً فنِعمَتِ المُرضِعَةُ وبِئسَتِ الفاطِمَةُ. رَواه البخاريُّ

له ابو هریره رضي الله عنه روایت دئ چې رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: تاسو به د امارت ترلاسه کولو حرص او تلوسه کوئ؛ خو دا به د قیامت په ورځ د حسرت او ندامت سبب وي؛ غوره ټی ورکوونکې او بده له ټي پرې کوونکې!!

یعني امارت داسي دئ لکه د مور ټی رودل او له لاسه ورکول ئې داسي

له deenodanish څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

لكه چې ماشوم له تې پرې شي.

عن عبدِ الرَّحمَنِ بنِ سَمُرَةَ قال: قال رسولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم: "يا عبدَ الرَّحمَنِ لا تَسأَلِ الإمارَةَ فإِنَّكَ إن أُعطِيتَها عن مَسأَلَةٍ وُكِلتَ إلَيها وإِن أُعطيتَها عن غَيرِ مَسأَلَة أُعِنتَ عَلَيها وإِذا حَلَفتَ على يَمين فرأيتَ غَيرَها خَيرًا مِنها فأْتِ الَّذِى هو خَيرٌ وكَفِّرْ عن يَمينِكَ". أخرَجَه مسلمٌ فى الصحيح

له عبدالرحمن بن سمرة روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: اې عبدالرحمن! د امارت غوښتنه مه کوه؛ که تا ته امارت د غوښتني له کبله درکړی شي نو هغه ته به وسپارل شې؛ او که له غوښتني پرته درکړی شي؛ اعانت به دي پرې وشي؛ او که دي پر کومي ژمني لوړه وکړه او بل څه دي تر هغه غوره وموندو؛ نو همغه څه وکړه چې ترې غوره وي او د خپل قسم کفاره اداء کړه.

قرآن دا د جنتيانو يوه ځانګړتيا ګڼي چې د خپلې لويي ثابتولو او پر نورو لوړوالي ترلاسه کولو هڅه نه کوي:

تِلْكَ ٱلدَّارُ ٱلْآخِرَةُ نَجْعَلُهَا لِلَّذِينَ لَا يُرِيدُونَ عُلُوًّا فِى ٱلْأَرْضِ وَلَا فَسَادًا ۚ وَٱلْعَٰقِبَةُ لِلْمُتَّقِينَ ـ القصص: ۸۳

د آخرت غوره مېشت ځای مو د هغو لپاره ټاکلی چې نه په زمکې کې د خپلې لويي په لټه کې وي او نه د فساد خورولو په لټه کې، د دنيا او آخرت نېکه پايله د هغو (متقيانو) ده چې (له کبر او فساد) ځان ساتنه کوي.

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

لومړي خليفه هيڅکله امارت نه دئ غوښتی

ابوبکر رضي الله عنه لوړه کړې چې نه مي کله هم کومه ورځ او شپه د امارت حرص کړی او نه ئې راغب وم؛ او نه مي په پټه يا ښکاره له الله تعالی غوښتی؛ دې روايت ته ځير شئ:

عن إبراهيمُ بن عبدِ الرَّحمَنِ بنِ عَوفٍ أن عبدَ الرَّحمَنِ بنَ عَوفٍ كان مَعَ عُمَرَبنِ الخطابِ رضی الله عنه .... ثُمَّ قامَ أبو بكرٍ رضی الله عنه فخَطَبَ النّاسَ واعتَذَرَ إلَيهِم وقالَ: واللَّهِ ما كُنتُ حَريصًا على الإمارَةِ يَومًا ولا لَيلَةً قَط ولا كُنتُ فيها راغِبًا ولا سألتُها اللَّه فی سِرٍّ ولا عَلانيَةٍ ولَكِنّی أشفَقتُ مِنَ الفِتنَةِ ومالِی فی الإمارَةِ مِن راحَةٍ ولَكِن قُلِّدتُ أمرًا عَظيمًا ما لِی به طاقَةٌ ولا يَدَانِ إلَّا بتَقويَةِ اللَّهِ ولَوَدِدتُ أنّ أَقْوَى النّاسِ عَلَيها مَكانِی عَلَيها اليَومَ. فقَبِلَ المُهاجِرونَ مِنه ما قال وما اعتَذَرَ به وقالَ علیٌّ والزُّبَيرُ رضی الله عنهما: ما غَضِبنا إلَّا لأَنّا أُخِّرنا عن المُشاوَرَةِ وإنّا نَرَى أبابكرٍ أَحَقَّ النّاسِ بها بعدَ رسولِ اللَّهِ صلی الله عليه وسلم إنّه لَصاحِبُ الغارِ وثانِی اثنَينِ وإنّا لَنَعرِفُ شَرَفَه وكِبَرَه ولَقَد أمَرَه رسولُ اللَّهِ صلی الله عليه وسلم بالصَّلاةِ بالنّاسِ وهو حَیٌّ.

له إبراهيم بن عبدِ الرَّحمَنِ بنِ عَوف روايت دئ چې عبدِ الرَّحمَن بنِ عَوف له عمر رضي الله عنه سره وو.... بيا ابوبکر رضي الله عنه پاڅېد او خلکو ته ئې وينا وکړه او دوی ته ئې خپل اعتذار وړاندي کړ او وئې ويل: پر الله قسم چې نه مي کله هم کومه ورځ او شپه د امارت حرص کړی او نه ئې راغب وم؛ او نه مي په پټه يا ښکاره له الله تعالی غوښتی؛ خو زه له فتنې ووېرېدم؛ ما ته له امارت هيڅ راحت نه دئ په برخه شوی؛ خو يو داسې ستر کار راپه

deenodanish.com ځخه ښکته شوی له Deen-o-Danish

غاړه شو چې نه مې توان درلود او نه لاسونه؛ مګر د الله په تقویې او توفیق سره؛ دا مې خوښېږي چې نن زما پر ځای له مهاجرینو تر ټولو قوي کس پرې ګمارل شوی وی؛ مهاجرینو د ده وینا ومنله خو د ده عذر ئې قبول نکړ. علي او زبیر رضي الله عنهما وویل: یوازي په دې خفه شوي یو چې له مشورې وروسته پاته شوو؛ مورږ خو ابوبکر؛ تر رسول الله صلی الله علیه و سلم وروسته؛ ترټولو خلکو د امارت لپاره مستحق او وړ ګڼو، هغه د غار ملګری دئ (په غار ثور کې د رسول الله صلی الله علیه و سلم ملګری) او ثانِی اثنَینِ دئ (له مکې د مدینې په لوري د رسول الله صلی الله علیه و سلم د هغه خطرناك سفر؛ دوهم ملګری)؛ مورږ ئې په شرف او سترواليِ پوهېږو؛ یقیناً چې رسول الله صلی الله علیه و سلم؛ هغه مهال چې لاژوندی وو؛ دی ئې وګمارو چې په لمانځه کې د خلکو امامت وکړي.

په زور مسلط شوی امیر؛ دوزخي دئ!!

مخکې له دې چې د نن ورځ درس ته داخل شو؛ د مخکینیو درسونو په ارتباط مو دوه عرائض درلودل؛ یو: درې تنه جلیل القدر صحابه؛ د تبوک په جګړه کې له برخې اخیستلو محروم شول؛ کله چې پیغمبر علیه السلام له تبوك راستون شو؛ نو دوی په خپلې اشتباه اعتراف وکړ؛ پیغمبر علیه السلام د دوی قضیه راتلونکې ته محول کړه؛ چې وګوري الله تعالی د دوی په اړه څه هدایت ورکوي؛ فیصله ئې وکړه چې له دوی سره به ټول مسلمانان مقاطعه کوي؛ هیڅوک به خبرې نه ورسره کوي؛ دې حالت ۵۰ ورځې دوام وکړ؛ دوی دومره مضطرب او پرېشان شوي وو چې قرآن ئې حالت داسې بیانوي: هم ئې خپلې سینې ورباندې تنګې شوې وې؛ او هم ټوله زمکه؛ پناه ځی ئې نه موندو؛ نتیجه ئې دا چې توبه اوباسي او الله تعالی ته رجوع وکړي؛ الله تعالی د دوی توبه قبوله کړه او وئې بخښل؛ د توبې سورت کې د دوی یادونه وشوه او دا مبارکه سوره د توبې په نامه یاده شوه؛ دوی په دومره اخلاص سره او

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

صادقانه توبه وایسته او پر خپلې اشتباه ئې اعتراف وکړ او الله تعالی د دوی توبې ته دومره ارزښت او مقام ورکړ چې د قرآنکریم په یوې سورې کې ئې د دوی یادونه وکړه.

دوهم: د مدینې هغه قبیله چې د خندق او احزابو په جنګ کې ئې د قریشو ملګرتیا کوله د مدینې اصلي اوسېدونکي او مشرکین وو؛ هم د قریشو ملګري وو او هم د یهودانو ملګري او مؤتلفین؛ غوښتل ئې د خندق په جنګ کې د قریشو مرسته او ملګرتیا وکړي؛ د مدینې په شرق کې پرته وه؛ د جنګ په دوران کې؛ د ځینو صحابه وو کورنۍ؛ د دوی سیمې ته انتقال شوې وې؛ د جنګ د ګواښونو او خطر له کبله؛ د دې قبیلې موقعیت ډېر حساس وو؛ که ئې د قریشو ملګرتیا کړې وی نو مسلمانان به له ډېر سخت حالت او وضعیت سره مخامخ شوي وو؛ پیغمبر علیه السلام غوښتل دا قبیله په کوم څه قانع او د قریشو له ملګرتیا ئې را وګرځوي؛ له هغوی سره ئې د مدینې د یوه کال خرما حاصل ورکولو وعده کړې وه.

مخکیني روایات مونږ ته ښیي چې د امارت ترلاسه کولو هیله، هوس او هڅه له اسلامي لارښوونو سره اړخ نه لګوي؛ الله تعالی ئې نه خوښوي؛ مسلمان باید ترې ډډه وکړي.

کله چې اسلامي ټولنه جوړه شي او اقتدار د مسلمانانو لاس ته ورشي؛ په دې وخت کې به څوک د اقتدار د لاس ته راوړلو لپاره رقابت نه کوي؛ څوک به هم د امارت غوښتلو هڅه او تلوسه نه کوي؛ هیله به ئې نه لري؛ له مسلمانانو به ئې غوښتنه نه کوي؛ حتی له الله تعالی به هم په دعاء سره غوښتنه نه کوي؛ ځکه چې دا ټول غیر مجاز دي. نو طبیعي ده چې په زور قدرت ترلاسه کول او وسله کارول به څنګه وي؟ چې هیله درلودل ئې ناروا وي؛ له زعیم او امیر دا غوښتنه کول چې ما پر فلان کار وګماره؛ دا هم ناروا وي؛ نو د وسلې کارول؛ په زور قدرت ته رسېدل؛ د مسلمانانو ویني تویول؛ کورونه ورانول؛ زور او ځواک کارول؛ هغه هم د پردیو د متو او وسلو په

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

زور؛ قدرت ته د رسېدو هڅه او د دې پروا هم نه کول چې د مسلمان وينه به توی شي؛ دا ګناه به څومره ستره وي؟

رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمايي چې په زور مسلط شوی امير به په هغو دريو دوزخيانو کې شامل وي چې له دوو نورو لومړنيو دوزخيانو سره به دوزخ ته ننوځي. يو له هغو دريو؛ هغه امير دئ چې په زور قدرت ته ورسېږي.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " أَوَّلُ مَنْ يَدْخُلُ الْجَنَّةَ ثَلَاثَةٌ: عَبْدٌ أَحْسَنَ عِبَادَةَ رَبِّهِ وَأَدَّى حَقَّ مَوَالِيهِ وَرَجُلٌ فَقِيرٌ عَفِيفٌ مُتَعَفِّفٌ وَرَجُلٌ قَاتَلَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ حَتَّى قُتِلَ وَأَوَّلُ مَنْ يَدْخُلُ النَّارَ ثَلَاثَةٌ: فَقِيرٌ فَخُورٌ وَأَمِيرٌ مُسَلَّطٌ وَذُو مَالٍ لَمْ يُؤَدِّ حَقَّ مَالِهِ "

له ابوهريره رضي الله عنه روايت دئ چې رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمايل: لومړني کسان چې جنت ته به ننوځي درې دي: هغه مريی چې په ښه توګه د خپل رب عبادت کوي او د خپل مالك حق اداء کوي، او هغه فقير سړی چې عفيف وي او د خپل عفت ساتنه کوي (له سؤال ډډه کوي)، او هغه سړی چې د الله په لار کې جنګېږي تر هغه چې ووژل شي، او لومړني کسان چې دوزخ ته ننوځي؛ درې دي: مغرور فقير، په زور مسلط شوی امير او هغه د مال خاوند چې د خپل مال حق (زکات، عشر، خيرات او صدقات) ئې نه دئ اداء کړی.

آيا دا روايت کافي نه دئ چې په زور او غلبې سره اقتدار ترلاسه کول ناجائز او داسې ستره ګناه ده چې عامل به ئې په لومړۍ ډلې کې دوزخ ته ننوځي.

اما دا چې له متغلب او په زور مسلط شوي حاکم او واکمن سره به څه کوو؛ ځواب ئې دا دئ: که دا مسلمان نه وي؛ سيکولر، ملحد او کمونست

deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

وي؛ نو امارت ئې منل او د هغه مرسته کول حرام دي؛ په دې ارتباط د ټولو علماءو او فقهاءو ترمنځ هيڅ اختلاف نشته؛ چېرې چې کفر حاکم وي هلته د مسلمانانو اوسېدل حرام دي؛ مګر د مجبوريت له کبله؛ او هغه چا ته چې بله چاره او د وتلو لار او امکانات نه لري؛ اما څوک چې د وتلو امکانات لري هغه ته په دارالکفر کي اوسېدل حرام دي؛ البته هغه ته هم په دارالکفر کي اوسېدل جائز دي چې هلته له اوسېدا د مبارزې او دعوت سنګر جوړ کړي؛ د نامسلمان زعيم حکومت او واکمني منل، مرسته او ملګرتيا ئې کول، حرام دي؛ که مسلمان وي خو اسلام ته التزام نه لري او د الله تعالى دين نه قائموي او پرېکړې ئې د ما انزل الله مطابق نه وي؛ بيا ئې هم نه امارت منل جائز دي او نه له هغه سره مرسته او ملګرتيا؛ خو که هغه مسلمان وي او اسلام ته التزام لري او پرېکړې ئې هم د الله تعالى د دين مطابق؛ خو قدرت ته رسېدا ئې د اسلامي لارښوونو خلاف او د زور کارولو له لاري او د مسلمانانو له رضايت او موافقې پرته وي؛ نو دا امير؛ واجب العزل دئ؛ بايد عزل شي، خو په دوو صورتونو کې کېدی شي د عزل پرېکړه او د هغه په خلاف عملي اقدام وځنډېږي: ۱- د عزلولو لپاره نه شرائط مساعد وي او نه کافي امکانات؛ دښمن تړې استفاده کوي، د عزلولو د اقدام تاوان ئې تر ګټې زيات وي. ۲- اسلام ته التزام لري، شريعت حاکم کړي، عدالت او امنيت تأمين کړي. د موقتي مودې لپاره د ده منل او زغمل داسي دئ لکه د اضطرار حالت کې؛ له مرګ د ژغورنې لپاره حرام توکي خوړل؛ لکه چې د داسي حرام توکي خوراك په دوه شرطونو موقتاً جائز ګرځي: ۱- د ضرورت او رفع حاجت په اندازه به خوړل کېږي ۲- مجبوريت او اضطرار به ئې باعث وي نه د بغاوت او عصيان اراده. لکه چې قرآن فرمايي:

إِنَّمَا حَرَّمَ عَلَيۡكُمُ ٱلۡمَيۡتَةَ وَٱلدَّمَ وَلَحۡمَ ٱلۡخِنزِيرِ وَمَآ أُهِلَّ بِهِۦ لِغَيۡرِ ٱللَّهِۖ فَمَنِ ٱضۡطُرَّ غَيۡرَ بَاغٖ وَلَا عَادٖ فَلَآ إِثۡمَ عَلَيۡهِۚ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

رَّحِيمٌ ﴿١٧٣﴾ البقره: ۱۷۳

خبره دا ده چې په تاسو مرداره غوښه، وينه، د خنزيرغوښه او هغه چې د غيرالله غږ پرې شوی وي (له الله پرته د بل چا په نوم ذبح شوی وي) حرام کړی شوي، او څوك چې اړ شو، په داسې حال کې چې نه باغي وي او نه تېری کوونکی، نو څه ګناه ورباندې نشته، يقيناً چې الله مهربان بخښونکی دئ.

همداسې د متغلب او په زور مسلط شوي امير منل او ملتيا ناجائز ده؛ مګر د اضطرار او مجبوريت حالت کې.

آيا د مشر لپاره موده ټاکل جائز دي؟

ځينې ادعاء کوي چې د امارت لپاره موده ټاکل جائز نه دي!! استدلال ئې هم دا دئ چې د څلورو خلفاءو لپاره وخت او موده نه وه ټاکل شوې؛ دوی ته بايد ووايو:

۱- لومړی بايد په دې پوه شو چې د شريعت له مخې حرام او ناجائز څه ته وايي؟ ټول فقهاء او علماء په دې متفق دي چې يوازې هغه څه ته حرام او ناجائز ويلی شو چې الله تعالی او د هغه پيغمبر حرام کړي وي او د هغه پر حرام والي صريح او واضح نص (د قرآن آيت او يا د رسول الله صلی الله عليه وسلم حديث) دلالت کوي. د کومې موضوع، کار او څه په باره کې چې د الله تعالی صريح حکم؛ د قرآن صريح نص او د رسول الله صلی الله عليه و سلم واضح حديث نه وي؛ هيڅوک حق نه لري چې هغه ته حرام ووايي.

۲- څوك چې د امارت لپاره توقيت ناجائز ګڼي بايد د تحريم نص ئې وړاندې کړي، په داسې حال کې چې په ټول قرآن او د پيغمبر عليه السلام په احاديثو کې هيڅ ځای نه صراحتاً او نه اشارتاً داسې نص موندلی شو چې توقيت (امير ته موده ټاکل) حرام وګڼي، نو دا ښاغلي ولې له خپله ځانه هغه

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

څه حرام بولي چې نه الله تعالی ورته حرام ویلي او نه د هغه پیغمبر علیه السلام؟! آیا دې ته متوجه نه دي چې جائز ته ناجائز ویل همدومره لویه ګناه ده لکه حرام ته حلال ویل.

۳- څوك چې وایي په دې دلیل دا کار ناجائز دئ چې صحابه وو نه دئ کړی!! دوی ته باید ووایو چې هیڅ په دین پوه عالم او فقیه دا خبره نه کوي چې کوم څه صحابه وو نه وي کړي هغه حرام دي!! ټول پر دې متفق دي چې پرته له هغه څه چې الله تعالی او د هغه پیغمبر حرام کړي؛ هر څه حلال دي، په حل او حرمت کې اصل دا دئ چې یوازي هغه څه حرام دي چې الله تعالی او د هغه پیغمبر حرام کړي. اصل دا نه دئ چې څه صحابه وو نه وي کړي هغه حرام دي، په سلګونو داسي کارونه شته چې صحابه وو نه دي کړي؛ لکه دا چې: دوی د پیغمبر علیه السلام احادیث د کتابونو په بڼې کې نه وو راغونډ کړي، حتی ځینې په دې باور دي چې د احادیثو لیکل هم منع وو؛ تر پایه پوري پیغمبر علیه السلام منع کړي وو؛ اختلاف په دې کې دئ چې ګواکې پیغمبر علیه السلام د خپل ژوند په آخري موده کې د لیکلو اجازه ورکړه؛ ځینې په دې باور دي نه ټول؛ هغوی د فقهي کتابونه نه وو لیکلي، په لوډسپیکر کې ئې آذان نه دئ کړی، په موټر، الوتکو او بېړیو کې حج ته نه دي تللي، زمونږ په څېر جامې، کمیس او پرتوګ ئې نه دي اغوستي، ټوپك، ټمونه، باروت ئې نه دي کارولي، داسي شهادت طلبانه عملیات ئې نه دي کړي چې له باروتو ډك واسکټ واغوندي او د دښمن خوا ته چاودنه وکړي، که دوی په ټولو فقهاءو کې داسي څوك په ګوته کړ چې ویلي ئې وي: څه چې صحابه وو نه دي کړي حرام دي؛ نو بیا دوی ملامت نه دي، خو که دا خبره ئې له ځانه کړې وي نو باید تجدید نظر وکړي.

حقیقت دا دئ چې ډېر مسائل داسي دي چې پرېکړه ئې مسلمانانو ته پرېښودل شوې؛ لکه دا چې څوك د امارت لپاره غوره کوي، کوم واکونه او صلاحیتونه ورکوي، څومره حقوق او امتیازات ورته ټاکي، د ابوبکر او عمر

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

رضی الله عنهما لپاره چې کوم میاشتنی معاش او مصارف ټاکل شوي وو؛ هومره نشو ورته ټاکلی؛ اوس حالت او غوښتني له هغه سره توپیر لري؛ د نن او هغه مهال؛ د یوه انسان متوسط ورځنی مصرف؛ کافي توپیر لري. او دا چې د څومره مودې لپاره ئې د امیر په توګه مني او څه شرائط ورته وضعه کوي. امارت د خلکو امانت دئ، دا د خلکو حق دئ چې چا ته ئې سپاري، تر کله ئې سپاري او کله ئې بېرته ترې اخلي. قرآن امارت د امانت په نامه یاد کړی؛ یعني چې امارت د ولس امانت دئ او امیر هم د ولس د امانتونو امین؛ او امانت هغه څه ته وایي چې امین به ئې د امانت ورکوونکي له خوښي او شرائطو سره سم ساتي؛ دا فیصله او اختیار د امانت ورکوونکي دئ چې چاته ئې سپاري، د څومره وخت لپاره ئې سپاري، کله ئې بېرته ترې اخلي او د څه ډول تصرف اختیار امین ته ورکوي.

څوک چې د اسلام په حقیقت پوه وي؛ هغه په دې عقیده دي چې د مسلمانانو مشر د دوی له لوري غوره کېږي، ده ته چې کوم صلاحیتونه او امکانات سپارل کېږي، که زکات او عشر دئ، که غنیمت یا فئ دئ، د عوائدو نور مدارك دي، که له کورنیو او بهرنیو لوریو سره کومه معامله وي، د جنګ یا د سولې، دا د ټول ولس (امانتونه) دي، په دې امانتونو کې هر راز تصرف به د ولس په مشوره کوي، هر هغه تصرف چې د ولس د مشورې خلاف ئې کوي؛ خیانت دئ، دا د ولس حق دئ چې ده ته څومره واك ورکوي او تر کله ئې ورکوي او کله ئې بېرته ترې اخلي. دی د ولس خادم، وکیل او کفیل دئ نه آقا او بادار.

ماشوم وم؛ اوربدل مي چې پاچا ته دا حق هم ورکړی شوی چې د ورځي اوه کسان ووژني؛ په روژي نیولو مکلف نه دئ؛ دا عام ذهنیت وو، د منبر په سر به هم دې ته ورته خبري کېدې. شریعت او اسلام مورږ ته وایي: امیر ستا خادم، ستا وکیل او ستا د امانتونو امین دئ؛ ته به ئې ټاکې؛ ته ئې صلاحیتونه ټاکې، ته له هغه د پوښتني حق لرې، مورږ ته اسلام دغه درس

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

راکړی؛ د صحابه وو له دوران مو همدا زده کړي؛ یو عادي کس؛ خلیفه ته؛ په جومات کي وایي: کمیس دي ولي تر نورو اوږد دئ؟ ورته وایي: که د خدای له لاري کوږ شوې په توره دي برابروم؛ تا سره بیعت کوم خو شرائط مي دا دي: د خدای او د هغه د پیغمبر له لوري راغلی دین به پلي کوې؛ تر هغه وخته چي ته د خدای او پیغمبر مطیع یې؛ ستا اطاعت کوم او کومه ورځ چي مي د خدای له لاري کوږ ولیدلې؛ ستا اطاعت نه کوم؛ کله چي به مسلمانانو له امیر سره بیعت کولو؛ نو همدا شرائط به ئې وضع کول؛ اسلام دا د مسلمانانو مسلم حق ګڼي.

که موږ د راشدو خلفاءو؛ ابوبکر صدیق، عمر، عثمان او علي رضی الله عنهم په ځیر امین او متقي شخصیتونه پیدا کړل نو موږ به ئې هم د صحابه وو په ځیر دائم العمر خلفاء ټاکو، او چي دا ممکنه نه ده؛ نو بیا خو د احتیاط مقتضی دا ده چي د امیر لپاره موده وټاکو، که په خپل کار کي موفق وو بیا بیا ئې غوره کړو او که نه د ده په ځای بل څوك راوړاندي کړو او په دې توګه دې ته مجال پرې نږدو چي که ځیني خلك د موجود امیر عزلول ضروري ګڼي، په هغه کي د امارت د دوام کفاءة او صلاحیت نه مومي او تر ده بل کس ورته اهل برېښي؛ نو د مسلحانه پاڅون لار غوره کړي او هغسي پېښي رامنځته شي چي د عثمان رضی الله عنه او علي رضی الله عنه په شهادت منتج شوې.

دې ته باید مجال پاته نه شي؛ په آسانۍ او له جنګ او وینو تویېدو پرته؛ د ولس په خوښه؛ یو امیر په بل امیر بدل شي؛ دا ټول ایجابوي چي توقیت نه یوازي جائز دئ؛ بلکي ضروري هم دئ؛ مخصوصاً په دغو ظروفو او شرائطو کي. هغه چي توقیت حرام ګڼي؛ اشتباه کوي؛ له ځانه فتوا ورکوي؛ هغه څه چي الله تعالی حلال کړي؛ هغه حرام ګڼي؛ د قرآن نص هم کاملاً صریح دئ چي امارت د مسلمانانو امانت دئ او د امانت طبیعت دا دئ چي اختیار ئې د خاوند لاس کي دئ؛ چاته ئې ورکوي، کله ئې ورکوي، کله ئې

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

بېرته تري اخلي؛ کوم اختيارات ورکوي؛ د څومره مودې لپاره ئې ورکوي؛ دا ټول د امانتونو د خاوند حق دئ.

د مشر لپاره القاب

له دې ئې هم يوه لانجمنه قضيه جوړه کړې چې د مسلمانانو د مشر لپاره اسلامي القاب او اوصاف کوم دي؟ خليفه، اميرالمؤمنين او که امام، په قرآن کې د خليفه او امام ذکر راغلی، ابراهيم عليه السلام ته د امام او داؤد عليه السلام ته د خليفه نومونه راغلي، د اميرالمؤمنين ذکر نه په قرآن کې شته او نه د پيغمبر عليه السلام په احاديثو کې، البته په ځينو رواياتو کې مومو چې د قوم مشر ئې د رئيس په نامه ياد کړی.

عَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمَّا بَعَثَ حَرَامًا خَالَهُ أَخَا أُمِّ سُلَيْمٍ فِي سَبْعِينَ رَجُلًا فَقُتِلُوا يَوْمَ بِئْرِ مَعُونَةَ وَكَانَ رَئِيسُ الْمُشْرِكِينَ يَوْمَئِذٍ عَامِرُ بْنُ الطُّفَيْلِ وَكَانَ هُوَ أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: اخْتَرْ مِنِّي ثَلَاثَ خِصَالٍ: يَكُونُ لَكَ أَهْلُ السَّهْلِ وَيَكُونُ لِي أَهْلُ الْوَبَرِ أَوْ أَكُونُ خَلِيفَةً مِنْ بَعْدِكَ أَوْ أَغْزُوكَ بِأَهْلِ غَطَفَانَ بِأَلْفٍ وَأَلْفٍ قَالَ: فَطُعِنَ فِي بَيْتِ امْرَأَةٍ مِنْ بَنِي فُلَانٍ.

له انس رضي الله عنه روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم؛ د خپلې خاله أُمِّ سُلَيْمٍ ورور؛ له اوياوو تنو سره ولېږو؛ د بئر معونه په ورځ ووژل شول؛ دا مهال عَامِرُ بْنُ الطُّفَيْلِ؛ د مشرکينو رئيس وو، همدا دی وو چې رسول الله صلى الله عليه و سلم ته راغی او وئې ويل: له ما درې خبرې غوره

deenodanish.com خخه ښکته شوی له Deen-o-Danish

کړه؛ د آواري خلك ئې ستا او د لوړو ئې زما، یا دا چې له تا وروسته زه خلیفه وم، یا د غطفان د خلکو په زرو زرو به ستا خلاف جنګېږم، راوي وایي چې هغه د فلانۍ قبیلې د یوې مېرمني په کور کې په طاعون مړ شو.

دې روایت کې دا نه دي راغلي چې پیغمبر علیه السلام هغه ته څه ځواب ورکړ؛ په نورو روایاتو کې راغلي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم هغه ته وویل: دا د الله تعالی کار دئ چې اقتدار چاته سپاري؛ د هغه وړاندیزونه او د قدرت وېش ئې نه دئ ورسره منلی؛ حتی دا ئې هم نه دي ورسره منلي چې وروسته له ما به ته خلیفه یې.

البته صحابه وو د امیر المؤمنین لقب د عمر رضی الله عنه لپاره غوره کړ، ابوبکر رضي الله عنه ئې د خلیفة الرسول په نامه یادولو. په قرآن کې د مسلمانانو مشران د اولي الامر (چارواکو) په نامه یاد شوي. د صحابه وو له لوري د امیر لپاره د نومونو غوره کول ښیي چې مسلمانان کولی شي خپل مشران په بل هر نېك نوم یاد کړي، په دې کې هیڅ مانع او حرج نشته. البته د قرآن او حدیث له مخې معلومېږي چې د (ملك: پاچا)، (ملك الملوك: شاهنشاه)، او داسي نومونه چې یوازې له الله تعالی سره ښایي او د مشر د واك او ستاینې په اړه غلو په کې شوې وي؛ ناجائز دي. لکه اعلیحضرت د پاچا لپاره، والاحضرت د هغه د اولادونو لپاره، علیا حضرت د هغه د مېرمنو لپاره... خو نور نومونه لکه مشر، ولسمشر، قائد، رئیس، سالار، زعیم او دې ته ورته نومونه غوره کول؛ هیڅ مانع نه لري. دې ته باید متوجه وو چې د صحابه وو په دور کې د نومونو او القابو په اړه ډېره سادګي لیدل کېده، تاسو که روایات وګورئ نو د هیڅا لپاره به له غلو او ستاینې ډك القاب ونه مومئ، هر څوك ئې په خپل ساده نوم او کله هم په خپلې کنیه یاد کړی، دا هم د وروستیو زمانو بدعت وو چې اوږده اوږده القاب رائج شول، لکه علامة الدهر، قطب الاقطاب، شیخ القرآن والحدیث، شمس المفسرین، آیت الله العظمی، حجة الاسلام والمسلمین، ... د کتاب په جلدونو باندې به وګورې

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

چې د ليکونکي لپاره ئې څو سطره القاب کارول شوي. داسې ستايل منع دي؛ البته دا جائز او مستحب دي چې يو څوک د خپل عمل له امله وستايل شي؛ اما غلو به نه کوي؛ او له مخامخ ستاينې به هم ډډه کوي.

قرآن د منافقينو په اړه فرمايي چې کله به دوی رسول الله صلى الله عليه و سلم ته راغلل نو په داسې القابو او ستاينو به ئې ستايلو چې الله تعالى نه دئ پرې ستايلى.

أَلَمۡ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ نُهُواْ عَنِ ٱلنَّجۡوَىٰ ثُمَّ يَعُودُونَ لِمَا نُهُواْ عَنۡهُ وَيَتَنَٰجَوۡنَ بِٱلۡإِثۡمِ وَٱلۡعُدۡوَٰنِ وَمَعۡصِيَتِ ٱلرَّسُولِۖ وَإِذَا جَآءُوكَ حَيَّوۡكَ بِمَا لَمۡ يُحَيِّكَ بِهِ ٱللَّهُ وَيَقُولُونَ فِيٓ أَنفُسِهِمۡ لَوۡلَا يُعَذِّبُنَا ٱللَّهُ بِمَا نَقُولُۚ حَسۡبُهُمۡ جَهَنَّمُ يَصۡلَوۡنَهَاۖ فَبِئۡسَ ٱلۡمَصِيرُ ٨ المجادله: ٨

آيا هغو ته دي پام نه دئ کړى چې له پټې مرکې منع شول بيا هغه څه ته ستنېږي چې ترې منع شوي او د ګناه، تېري او له پيغمبر د سرغړاوي په اړه پټې مرکې کوي، او کله چې درته راشي نو په داسې الفاظو سلام درته وايي چې الله په هغه سره پر تا سلام نه دئ ويلى او له ځان سره وايي: الله مو ولې پر هغه څه نه تعذيبوي چې موږ ئې وايو! هغه دوزخ ورته بس دئ چې ورننوځي به، نو د ورتګ څومره بد ټاټوبى!

په دې مبارک آيت کې د منافقينو د پټو مرکو په اړه داسې ويل شوي:

- آيا هغو ته دي پام نه دئ کړى چې له پټو مرکو منع شول خو دوی بيا هم پټې مرکې کوي، څو تنه په پټه کښېني او په خپلو منځونو کې په داسې قضيې بحث کوي چې د هيڅ خير طمع ترې نشي کېدى؛ د خير خبره نه وي؛ نقد او اعتراض وي؛ په څرګنده ئې نه شي کولى؛ په پټو مجلسونو کې ئې کوي؛ اکثراً هغه وګړي پټې جلسې جوړوي چې خپلې خبرې د خلکو

deenodanish.com ځخه ښکته شوی له Deen-o-Danish

مخکې نه شي کولی؛ د خلکو له غبرګون وېرېږي، پوهېږي چې که دا خبرې د خلکو په وړاندې وکړي؛ د هغوی له مخالفت سره مخامخ کېږي؛ مرکې ئې هم د داسې څه په اړه چې ګناه، تېری او له پیغمبر سرغړاوی ګڼل کېږي.

- خو کله چې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته ورتلل نو په داسې الفاظو به ئې پر ده سلام اچولو او د ده ستاینه به ئې کوله چې الله تعالی نه په هغو الفاظو پر رسول الله صلی الله علیه و سلم سلام ویلی او نه ئې ستایلی، پټو غوندو کې د ګناه، تېرې او له رسول الله صلی الله علیه و سلم د بغاوت خبرې خو مخامخ له مبالغې ډکه ستاینه، په داسې الفاظو سره د رسول الله صلی الله علیه و سلم ستاینه چې الله تعالی نه دئ پرې ستایلی!! که څه هم ځینو درنو مفسرینو داسې انګېرلې چې په دې سره د یهودو هغو الفاظو ته اشاره شوې چې له رسول الله صلی الله علیه و سلم سره د ملاقات پر مهال به ئې کارول، لکه د السلام علیك پر ځای السام علیك ویل او د راعنا (موږ ته توجه وکړه) پر ځای راعینا (زموږ شپون) ویل؛ خو دا تعبیر د آیت له سیاق و سباق سره اړخ نه لګوي، دلته بحث د منافقینو په اړه دئ نه د اهل کتاب په اړه، د منافقینو پټ او څرګند چلن انځور شوی، په پټه عاصي او په څرګنده او مخامخ غوږه مال، په پټو غوندو کې د ګناه، تېرې او سرغړاوي خبرې کوي خو کله چې له رسول الله صلی الله علیه و سلم سره مخامخ شي د هغه په ستایني کې غلو کوي او په داسې الفاظو ئې ستایي چې الله تعالی نه دئ پرې ستایلی. له ورپسې آیتونو په ډېر وضاحت سره معلومېږي چې دلته د بحث موضوع د منافقینو چلن دئ نه د اهل کتاب چلن.

دا منافقین له ځان سره وایي: الله مو ولي پر هغه څه نه تعذیبوي چې موږ ئې وایو! که محمد علیه السلام د خدای پیغمبر وي، هغه څوك د عذاب وړ وي چې د ده مخالفت کوي، ولي زموږ له پټو مرکو نه خبرېږي او ولي زموږ د څرګندو خبرو په ماهیت نه پوهېږي؟! ولي د ده خدای موږ ته سزا نه

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

راکوي.

د مشر مواصفات؛ د شاه ولي الله رحمه الله له نظره

په قرآن کي په ډېر تفصيل سره په دې ارتباط بحث شوی دئ؛ په قرآن کي چې د ګڼ شمېر پيغمبرانو يادونه شوې؛ شا و خوا د ۲۵ پيغمبرانو يا نوم اخيستل شوی يا ئې په کوم لقب يا صفت سره يادونه شوې؛ دا د دې لپاره چې مورږ ته د مسلمانانو د زعيم او قائد مواصفات راوښيي؛ زعيم ئې بايد همغه مواصفات ولري چې پيغمبرانو درلودل؛ که څه هم د هغوی مقام ته رسېدل ممکن نه دي؛ خو بايد هڅه وکړي چې هغوی ته ځان ورته کړي؛ په هغو مواصفاتو متصف وي چې قرآن پيغمبران ورباندي ستايلي؛ د بېلګې په توګه: په قرآن کي راغلي: هر پيغمبر چې خپل قوم ته ورغلی؛ هغوی ته ئې ويلي: إِنِّي لَكُمْ رَسُولٌ أَمِينٌ: زه تاسو ته يو امين رسول يم؛ امين د هر پيغمبر صفت دئ؛ نو د مسلمانانو زعيم او امير بايد امين وي؛ د موسی عليه السلام په قيصي کي چې د هغه په ارتباط قرآن مورږ ته څه ويلي او د هغه ځانګړتياوي ئې بيان کړې؛ دا د دې لپاره چې د مسلمانانو امير بايد د موسی عليه السلام په څېر وي.

ځيني د خليفه او امير د مواصفاتو په لړ کي د شاه ولي الله رحمه الله؛ د حجة الله البالغه په استناد ليکي چې د امير صفات دا دي: ۱- هغه به عاقل او بالغ وي، ۲- هغه به آزاد وي غلام به نه وي، يعني د امارت په مهال به غلام نه وي؛ (غلام نشي امير کېدی؛ اما مورږ نن غلام امېران لرو؛ دا نن نه بلکي دا څو پېړۍ؛ زمورږ امېران غلامان وو؛ په لندن کي ټاکل شوي؛ کابل کي نه؛ په روسيه کي ټاکل شوي؛ په بن کي ټاکل شوي؛ په امريکا کي ټاکل شوي؛ مورږ به د دوی لاسونه ښکلول او دوی به د خپلو کفري بادارانو لاسونه ښکلول؛ امير به د امارت په دوران کي غلام نه وي. کېدی شي داسي امير هم ولرو چې تر امارت وړاندي مريی او غلام پاته شوی؛ ډېر داسي مريان لرو چې امېران يا

deenodanish.com ځخه ښکته شوی له Deen-o-Danish

والیان ټاکل شوي؛ ۳- خلیفه به نارینه وي؛ نه ښځینه. دا هم یوه لانجمنه موضوع ده: مغرضین او معترضین وایي چې په دې سره اسلام او مسلمانانو د ښځو او نارینه وو تر منځ تبعیض کړی؛ په دې اړه وضاحت او تفصیل ته ضرورت دئ؛ که غواړئ په حقیقت ئې پوه شيء نو د (مېرمني او حقوق ئې) کتاب ته مراجعه وکړئ؛ دې پوښتني ته ځواب ویل شوی چې ولې باید امیر نارینه وي؟ ښځي په کومو کومو کارونو ګمارل کېدی شي؟

ځواب دا دئ چې مېرمني په ټولو کارونو ګمارل کېدی شي په استثناء د دوو کارونو؛ یو ئې عام امارت دئ؛ د دې امارت لپاره چې کومي ځانګړتیاوي لازمي او ضروري دي؛ هغوی ته په پام سره؛ اسلام نارینه ته ترجیح ورکړې؛ او بل ئې هغه قضاوت دئ چې د قصاص په ارتباط فیصله او حکم کوي؛ په دې دوه مواردو کې ښځه نه امیر او نه هغسي قاضي کېدلی شي چې د قصاص او اعدام فیصله کولی شي. وجه ئې دا ده چې د ښځو عاطفه ډېره ځواکمنه او قوي ده؛ هغه مور ده؛ د مور لپاره دغسي ځواکمني عاطفې ته ضرورت دئ؛ عاطفه ئې د نارینه په پرتله څو څو ځله زیاته او قوي ده؛ الله تعالی همداسي پیدا کړې ده؛ د ماشوم روزنه همدا ایجابوي؛ چې ټولې ستونزي وګالي؛ مینه، محبت او عاطفه ئې دې ته تیاروي چې خپل ځان قرباني کړي خو خپل ماشوم وساتي؛ دا قوي عاطفه ئې نه پرېږدي چې د چا په اړه د قصاص او اعدام پرېکړه وکړي؛ د مجرم او متهم حالت؛ د هغې عاطفه پاروي؛ او د عدالت د پلي کېدو مخه نیسي؛ له دې ماسوا ښځه په هره دنده ګمارل کېدلی شي. بل دلیل ئې دا دئ چې اسلام ښځي ته تر نارینه زیات امتیازات ورکړي؛ د ښځي مکلفیتونه ئې راکم کړي خو امتیازات ئې ورته زیات کړي؛ امارت یو مکلفیت دئ؛ لکه څنګه چې جهاد یو مکلفیت دئ؛ قرباني غواړي؛ د سر او ویني قرباني؛ مېرمني ئې له دې معاف کړې دي او پر نارینه وو ئې فرض کړی دئ؛ مګر دا چې مېرمن په خپله خوښه وغواړي په جهاد کې شرکت وکړي؛ په دې صورت کې ئې هیڅوک د

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

ممانعت او مخالفت حق نه لري؛ ښځه په کور کي اقتصادي مکلفيت نه لري؛ مېړه او پلار ئې مکلف دي چې د دې او أولاد د ژوند ټول ضروريات تأمين کړي؛ په داسي حال کې چې ښځه شتمني لري؛ مَهر اخلي؛ په ميراث کې خپل حق ترلاسه کوي، خپله شتمني په کار اچولی شي، ګټه تر لاسه کولی شي؛ عائد لري خو د مصرف او لګښت هيڅ مکلفيت پرې نشته. ٤- خليفه به زړه ور وي؛ نه ډارن، شاه ولی الله دهلوی جرأت او شهامت هم د يوه امير له لازمي مواصفاتو ګڼي؛ ډارن او جبون امير د خطر په وخت کې داسي غلط تصميمونه نيسي چې له کبله ئې هم ځان ته صدمه رسوي او هم هېواد او ولس ته. ٥- خليفه به ليدل، کتل، اورېدل کولی شي، (يعني ړوند، کوڼ او ګونګی به نه وي) ٦- خليفه بايد له هغو خلکو غوره شي چې د هغوی شرافت او فضيلت په خلکو کې منلې وي؛ د هغه د فرمانونو په منلو کې عار او نفرت محسوس نه کړي. ٧- په خليفه به خلك دا باور لري چې هغه د حکومت په چارو کې د حق پلوي او متابعت کوي، ٨- خليفه به مسلمان، د علم څښتن او متقي وي، او په پای کې ليکي چې ٩- د پيغمبر عليه السلام هغه وينا (حديث) ته په پام چې "أئمه به له قريشو وي" ضروري ده چې خليفه قريشي وي.

دلته څو خبري ضروري ګڼو:

- څوك چې نن د شاه ولي الله رحمه الله په نظرياتو استناد کوي؛ د دوی استادانو پرون هغه په دې دليل تکفير کړی وو چې ولي ئې پر مخکنۍ فقهي اکتفاء ونه کړه، ولي ئې نوي نظريات وړاندي کړل، ولي ئې د قرآن د ترجمې او تفسير جسارت وکړ؟
- مورږ په داسي حال کې چې د شاه ولي الله دروند او علمي شخصيت ته درناوی لرو، هغه ته د استاد په سترګه ګورو؛ افغانانو د قرآن له هغې دري ترجمې ډېره استفاده کړې چې ده ليکلې، له الله تعالی د هغو زحماتو اجر ورته غواړو چې اسلام ته د دعوت په لار کې ئې ايستلي او د هغو

deenodanish ځخه ښکته شوی Deen-o-Danish

اذیتونو هم چې د جاهلانو له لورې ورسره مخامخ شوی. دلته باید ووایو چې په څلورو لومړنیو مواصفاتو کې ورسره موافق یو، د پنځم په اړه دومره وایو چې که څه هم د امارت لپاره (صحت او قوت) ضروري شرطونه دي، قرآن فرمایي: "إن خير من استأجرت القوي الامين: ترټولو غوره کس چې استخداموې ئې هغه دئ چې قوي او امین وي"، خو دا چې ځینې تر هغه چا چې په یوه لاس، پښه، غوږ او سترګې معیوب وي؛ روغ او سالم کس او یا د جذابې څېرې خاوند تر بل غوره ګڼي، دا سمه ده خو دا د لازمي شرط په توګه وړاندې کول؛ تکلف او استحبابي شرائط ګڼو؛ که په نورو اساسي مواصفاتو او وړتیاوو کې تر نورو غوره وي؛ فقط په یوه لاس، یوه سترګه یا یوه پښه داسې معیوب وي چې د کار کولو مانع نه ګرځي؛ غوره ده چې همدې ته ترجیح ورکړی شي. د شپږم او اوم شرطونو په اړه وایو: له دې معلومېږي چې شاه ولي الله رحمه الله د امیر په اړه د خلکو باور او اعتماد او دا چې هغه به په خلکو کې منلی او مخور وي؛ ضروري ګڼي، له دې دا پوښتنه راولاړېږي چې که د خلکو باور او اعتماد شرط وي او له دې پرته څوک د امارت وړ نه دئ نو څنګه به پوهېږو چې خلك د فلان کس په اړه دا باور لري چې منلی او مخور دئ او د حق پلوي او متابعت کوي؟ آیا پرته له دې چې له خلکو پوښتنه وشي؛ له بلې لارې دا حقیقت معلومېدی شي؟

آیا ضروري ده چې امیر به قریشي وي؟

او د نهم شرط په اړه څو پوښتني او وضاحتونه لرو:

- آیا دا یوازي د هغه مهال ظروفو او شرائطو ته په پام سره ویل شوي چې قریش د ټولو عربو د مرکزي ښار مکې؛ واکمن وو او د عربو زعامت د دوی په لاس کې وو؟
- آیا دا د نَسَبي استحقاق له کبله وو او که د هغه مهال د اجتماعي حالت غوښتنه؟

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

- آیا وجه ئې دا وه چې نه د اوس قبېلې د خزرجیانو امارت منلو او نه خزرجیانو د اوس قبېلې؟

راشئ هغه روایتونه خپلې مخې ته کښېږدو چې همدا مطلب په کې راغلی؛ دوه داسې روایتونه لرو چې ترمنځ ئې کافي توپیرونه شته؛ لومړی ئې دا دئ:

وَعَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ رضى الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم: " الْأَئِمَّةُ مِنْ قُرَيْشٍ أَبْرَارُهَا أُمَرَاءُ أَبْرَارِهَا وَفُجَّارُهَا أُمَرَاءُ فُجَّارِهَا وَإِنْ أَمَّرْتُ عَلَيْكُمْ عَبْدًا حَبَشِيًّا مُجَدَّعًا فَاسْمَعُوا لَهُ وَأَطِيعُوا مَا لَمْ يُخَيَّرْ أَحَدُكُمْ بَيْنَ إِسْلَامِهِ وَضَرْبِ عَنْقِهِ فَإِنْ خُيِّرَ بَيْنَ إِسْلَامِهِ وَضَرْبِ عَنْقِهِ فَلْيُقَدِّمْ عَنْقَهُ "

له علي رضي الله عنه روایت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمایل: مشران له قریشو دي؛ نېکان ئې د نېکانو امیران او فاجران ئې د فاجرانو امیران؛ او که زه کوم حبشي غلام چې ځینې غړي ئې قطع شوي وي؛ پر تاسو امیر وټاکم؛ نو خبري ئې واورئ او اطاعت ئې وکړئ؛ تر هغه چې د خپل اسلام او خپلې غاړې غوښېدو تر منځ د یوه غوره کولو اختیار نه وي درکړی شوی، خو که د خپل اسلام او خپلې غاړې غوښېدو له منځه د یوه غوره کولو اختیار درکړی شو؛ نو خپله غاړه دي وړاندي کړي.

له دې روایت څو خبرې په څرګنده توګه معلومېږي:

- د امیر قریشي والی؛ یو شرط نه بلکې د هغه وخت یو مسلط وضعیت او موجود حالت وو؛ د عربو د ابرارو امیران هم دوی وو او د فجارو امیران هم.
- د روایت دوهمه برخه ښیي چې یو حبشي مقطوع الاعضاء مخکنی غلام هم کېدی شي امیر شي؛ او مسلمانان مکلف دي چې د همدې امیر

deenodanish.com څخه ښکته شوی له Deen-o-Danish

اطاعت به کوي.

- تر هغه به اطاعت کوي چې دا امير ئې له اسلام لاس اخيستو ته اړ نه کړي؛ داسي چې يا به اسلام پرېږدي او يا به د خپلي غاړي غوڅېدا مني.
- که داسي حالت راغی نو پر خپل اسلام دي ټينګ پاته شي او د غاړي غوڅېدا دي ومني.

د همدې روايت بله صيغه دا ده:

عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «الْأَئِمَّةُ مِنْ قُرَيْشٍ أَبْرَارُهَا أُمَرَاءُ أَبْرَارِهَا وَفُجَّارُهَا أُمَرَاءُ فُجَّارِهَا وَلِكُلِّ حَقٌّ فَآتُوا كُلَّ ذِي حَقٍّ حَقَّهُ وَإِنْ أَمَّرْتُ عَلَيْكُمْ عَبْدًا حَبَشِيًّا مُجَدَّعًا فَاسْمَعُوا لَهُ وَأَطِيعُوا مَا لَمْ يُخَيَّرْ أَحَدُكُمْ بَيْنَ إِسْلَامِهِ وَضَرْبِ عُنُقِهِ فَإِنْ خُيِّرَ بَيْنَ إِسْلَامِهِ وَضَرْبِ عُنُقِهِ فَلْيُقَدِّمْ عُنُقَهُ فَإِنَّهُ لَا دُنْيَا لَهُ وَلَا آخِرَةَ بَعْدَ إِسْلَامِهِ»

له علي رضي الله عنه روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: مشران له قريشو دي؛ نېکان ئې د نېکانو امېران او فاجران ئې د فاجرانو امېران؛ او که زه کوم آزاد شوی حبشي غلام چې ځينې غړي ئې قطع شوي وي؛ پر تاسو امير وټاکم؛ نو خبري ئې واورئ او اطاعت وکړئ؛ (هر يو خاص حق لري؛ د هر ذي حق حق اداء کړئ)؛ تر هغه چې د خپل اسلام او خپلي غاړي غوڅېدو تر منځ د يوه غوره کولو اختيار درکړی شي، خو که د خپل اسلام او خپلي غاړي غوڅېدو له منځه د يوه غوره کولو اختيار درکړی شو؛ نو خپله غاړه دي وړاندي کړي؛ دا ځکه چې له اسلام وروسته ئې نه دنيا په برخه کېږي او نه آخرت.

دواړه وروستي روايتونه سره ورته دي؛ يوازي دغه دوه په قوسونو کې

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

راغلې برخې په وروستي روايت کې زياتې دي.

دوهم روايت له انس رضي الله عنه روايت شوی؛ دې ته مو بايد پام وي چې د علي رضي الله عنه او انس رضي الله عنه تر منځ ډېر زيات توپير شتون لري؛ له دې پلوه هم چې علي رضي الله عنه په مکه کې مسلمان شوی او انس رضي الله عنه په مدينه کې؛ هغه هم د مدينې په آخري کلونو کې؛ هغه مهال هم لا ځوانکی وو چې پيغمبر عليه السلام رحلت کړی؛ دا مهال علي رضي الله عنه د ځوانۍ پاخه عمر ته رسېدلی وو؛ محدثين دې ته هم توجه کوي چې راوي د عمر له پلوه څنګه او عمر ئې څومره دئ؟ څه وخت مسلمان شوی؟ فهم او بصيرت ئې څنګه دئ؟ څومره وخت ئې د رسول الله صلى الله عليه وسلم په څنګ کې تېر کړی دئ؛ دا ټول په پام کې نيسي بيا يوه روايت ته پر بل ترجيح ورکوي. مخکينی روايت له علي رضي الله عنه روايت شوی او د دې قضيې په ارتباط دقيق روايت همدا دئ.

دوهم روايت دا دئ:

عَنْ أَنَسٍ قَالَ: كُنَّا فِي بَيْتِ رَجُلٍ مِنَ الْأَنْصَارِ فَجَاءَ رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى وَقَفَ فَأَخَذَ بِعِضَادَتَيِ الْبَابِ فَقَالَ: «الْأَئِمَّةُ مِنْ قُرَيْشٍ وَلَهُمْ عَلَيْكُمْ حَقٌّ وَلَكُمْ مِثْلُ ذَلِكَ مَا إِذَا اسْتُرْحِمُوا رَحِمُوا وَإِذَا حَكَمُوا عَدَلُوا وَإِذَا عَاهَدُوا وَفَّوْا فَمَنْ لَمْ يَفْعَلْ ذَلِكَ مِنْهُمْ فَعَلَيْهِ لَعْنَةُ اللَّهِ وَالْمَلَائِكَةِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ»

له انس رضي الله عنه روايت دئ چې د انصارو د يوه سړي کور کې وو؛ نو رسول الله صلى الله عليه و سلم راغی؛ تر هغه چې ودرېدو؛ نو د دروازې دواړه ستني ئې ونيولې او وئې ويل: مشران له قريشو دي، دوی پر تاسو حقونه لري او تاسو ته همداسي حقوق دي؛ تر هغه چې کله ترې رحم وغوښتی شي رحم کوي؛ او چې حکم کوي عدالت مراعاتوي، او چې عهد

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

وکړي نو وفا کوي؛ خو که د دوی کوم یو دا کار ونه کړي؛ نو پر هغوی د الله تعالی، فرشتو او ټولو خلکو لعنت دئ.

بله صیغه ئې دا ده:

وَعَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رضی الله عنه قَالَ: (كُنَّا فِي بَيْتٍ فِيهِ نَفَرٌ مِنَ الْأَنْصَارِ وَالْمُهَاجِرِينَ " فَأَقْبَلَ عَلَيْنَا رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم " فَجَعَلَ كُلُّ رَجُلٍ يُوَسِّعُ رَجَاءَ أَنْ يَجْلِسَ إِلَى جَنْبِهِ " ثُمَّ قَالَ إِلَى الْبَابِ فَأَخَذَ بِعِضَادَتَيْهِ فَقَالَ: الْأَئِمَّةُ مِنْ قُرَيْشٍ وَلِي عَلَيْكُمْ حَقٌّ عَظِيمٌ وَلَهُمْ ذَلِكَ) وفی روایة: (إِنَّ لِي عَلَى قُرَيْشٍ حَقًّا وَإِنَّ لِقُرَيْشٍ عَلَيْكُمْ حَقًّا) (مَا فَعَلُوا ثَلَاثًا: إِذَا اسْتُرْحِمُوا رَحِمُوا وَإِذَا حَكَمُوا عَدَلُوا وَإِذَا عَاهَدُوا وَفُّوا وَأُتُمِنُوا فَأَدَّوْا فَمَنْ لَمْ يَفْعَلْ ذَلِكَ مِنْهُمْ فَعَلَيْهِ لَعْنَةُ اللهِ وَالْمَلَائِكَةِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ "). معجم الاوسط

له انس رضي الله عنه روایت دئ چې وئې ویل: موږ په یوه کور کې وو چې یوه ډله د مهاجرینو او انصارو هلته وو؛ چې رسول الله صلی الله علیه و سلم موږ ته راغی؛ نو هر سړي ځای پراخولو په دې هیله چې د ده خوا ته به کښېني؛ نو د دروازې دواړه ستني ئې ونیولې او وئې ویل: مشران له قریشو دي، او زه پر تاسو ستر حق لرم؛ او دوی هم پر تاسو همداسي حق لري؛ او په بل روایت کې راغلي: زه پر قریشو یو حق لرم؛ او قریش پر تاسو یو حق لري؛ تر هغه چې درې کارونه کوي: کله چې رحم ترې وغوښتی شي رحم کوي؛ او چې حکم کوي عدالت مراعاتوي، او چې وعده وکړي وفا کوي او چې امین کړی شي اداء کوي ئې؛ او چې د دوی کوم یو دا کار ونه کړي؛ نو پر هغوی د الله، فرشتو او ټولو خلکو لعنت دئ.

له انس رضی الله عنه یو بل روایت هم لرو چې ده ته منسوب دوو

deenodanish.com خخه ښکته شوی له Deen-o-Danish

مخکينيو روایاتو سره په بشپړه توګه تعارض لري:

عن أَنَسِ بنِ مالكٍ قال: قال رسولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم-: "اسمَعوا و اَطيعوا وإِنِ استُعمِلَ عَلَيكُم عبدٌ حَبَشِي كأَنَ رأسَه زَبيبَةٌ" رَواه البخاريُّ

له انس رضی الله عنه روایت دئ چې رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: واورئ او اطاعت وکړئ؛ که څه هم داسي حبشي غلام درباندي امیر کړی شي چې سر ئې ممیز ته ورته (ووړ) وي.

یوه له هغو مهمو مطالبو چې رسول الله صلی الله علیه و سلم د حجة الوداع په خطبې کې پرې ترکیز کړی همدا وو چې که تور پوستی حبشي مریی درباندي امیر شي؛ سمع او اطاعت ئې پر تاسو لازم دئ.

که په دغو روایاتو کې لږ غور وکړو نو راته جوته کېږي چې:

- علي رضي الله عنه ته منسوب روایت هم واضح دئ، هم ښیي چې د عربو د هغه مهال وضعیت داسي وو چې زعامت د قریشو په لاس کې وو؛ نېکان ئې د نېکانو او فاجران ئې د فاجرانو مشران ول.
- انس رضي الله عنه ته منسوب روایتونه هم په خپلو منځونو کې کافي او ژور توپیرونه لري او هم غیرواضح دي؛ له الفاظو ئې دا نه معلومېږي چې آیا هدف ئې دا دئ چې همغه مهال زعامت د قریشو لاس کې وو او که ئې مطلب دا دئ چې تل به قریش د زعامت مستحق وي!!
- انس رضي الله عنه ته منسوب روایات داسي دي چې له ده پرته په صحابه وو کې بل چا دا خبره نه ده کړې؛ حال دا چې په روایت کې راغلي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم د یوې ډلې په وړاندي دا خبره کړې؛ ولې له دې ډلې بل چا دا خبره نه ده کړې؟
- د روایت متن هم داسي دئ چې له یوې خوا په قرآن کې هیڅ شاهد ورته نشو موندلی، په خپلو کې هم توپیرونه او تعارضات لري او له بل لوري د اسلام له اساساتو سره اړخ نه لګوي؛ قرآن ټول انسانان له نسلي او نژادي

deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

پلوه برابر او د يوه نسل ېپل ېپل قبائل او عشائر ګڼي، قومي او نژادي فضيلت مردود او نسلي تفاخر تحريموي، يوازي تقوى د فضيلت معيار او ملاك ګڼي.

دقيقه او سمه رأى همغه ده چي علي رضي الله عنه ته منسوب روايت کي ئې وضاحت شوى؛ د هغه مهال اجتماعي او سياسي وضعيت همداسي وو چي د ښو او بدو زعامت او قيادت د قريشو لاس کي وو. نه دا چي قريش د زعامت لپاره پيدا شوي او په هره زمانه او هر ځاى کي او د هر ملك په کچه به زعيم د قريشو له قبيلې غوره کېږي؛ په مدينه کي د قريشو مشران د دې لپاره نه دي غوره شوي چي دا د دوى شرعي او مسلم حق وو؛ هغه مهال هيڅا دا خبره نه ده کړې چي ابوبکر رضي الله عنه بايد له دې کبله امير غوره کړو چي هغه قريشي دئ!! وجه ئې دا وه چي د مدينې د انصارو؛ اوس او خزرج تر منځ اوږدې جګړې تېري شوې وې؛ ګرانه وه چي د سعد بن معاذ رضى الله عنه له وفاته وروسته؛ له دوى داسي امير غوره شوى وى چي ټولو له زړه منلى وى، د حل يوازينۍ لار دا وه چي امير له مهاجرينو وى، محققين وايي: که پيغمبر عليه السلام قريشيت د امارت لپاره ضروري شرط ګڼلى نو ولي ئې د انصارو د دروند او نوميالي مشر سعد بن معاذ رضى الله عنه په اړه فرمايلي وو چي که هغه ژوندى وى نو د مسلمانانو د مشر په توګه به مي ټاکلى وو. د علي رضي الله عنه په روايت کي هم ګورو چي رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايي: که زه کوم حبشي مقطوع الاعضاء مخکنى غلام پر تاسو امير وټاکم؛ نو خبري ئې واورئ او اطاعت وکړئ. که دا د قريشو حق وى نو رسول الله صلى الله عليه و سلم به ولي مسلمانانو ته ويل: د تور پوستي حبشي؛ مخکني غلام امير به هم حتماً اطاعت کوئ؟!!

دا چي آيا د مسلمانانو امير لپاره دا هم يو شرط دئ که نه چي هغه بايد قريشي وي؛ دوه ډوله روايتونه مو په مخکني درس کي وڅېړل او ومو ليدل چي په هغوى کي هغه د اعتبار وړ او صحيح دئ چي وايي: دا د عربو

deenodanish.com ځخه ښکته شوى Deen-o-Danish

د ټولني د هغه وخت د اجتماعي حالت يوه ځانګړتيا وه چې د عربو زعامت د قريشو لاس کې وو؛ نيکان ئې د نيکانو او فاجران ئې د فاجران مشران ول؛ همغسې لکه چې علي رضي الله عنه ته منسوب روايت کې راغلي وو؛ کوم روايات چې انس رضي الله عنه ته منسوب وو؛ او په مختلفو صيغو له کافي توپيرونو سره نقل شوی؛ ډېري ستونزي لري؛ په مقابل کې ئې داسې روايتونه زيات دي او راويان ئې هم ډېر چې وايي: هر مسلمان د هري قبيلې کولی شي امير وي؛ او پر مسلمانانو د هغه اطاعت لازم او واجب دئ؛ د غير قريشي امير په اړه دې روايت ته هم ځير شئ چې وايي:

عَنْ أُمِّ الْحُصَيْنِ قَالَتْ: رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ وَهُوَ عَلَى رَحْلِهِ وَرَاحِلَتِهِ وَحُصَيْنٌ فِي حِجْرِي وَقَدْ أَدْخَلَ ثَوْبَهُ مِنْ تَحْتِ إِبْطِهِ وَهُوَ يَقُولُ: «يَا أَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوا اللهَ وَاسْمَعُوا وَأَطِيعُوا لِمَنْ كَانَ عَلَيْكُمْ وَإِنْ كَانَ عَبْدًا حَبَشِيًّا مُجَدَّعًا فَاسْمَعُوا وَأَطِيعُوا مَا أَقَامَ فِيكُمْ كِتَابَ اللهِ»

له أُمِّ الْحُصَيْن رضي الله عنها روايت دئ چې وئې ويل: رسول الله صلى الله عليه و سلم مي په حجة الوداع کې په داسې حال کې وليد چې پر خپلې سپرلۍ سپور روان وو؛ او زما زوی حصين زما غېږ کې وو، خپله جامه ئې تر تخرګ لاندې کړې وه، او ويل ئې: اې خلکو! د هغه چا واورئ او اطاعت وکړئ چې پر تاسو ګمارل شوی وي؛ که څه هم مقطوع الاعضاء حبشي آزاد شوی مريی وي؛ تر هغه چې د الله کتاب په تاسو کې پلي کوي.

څوک چې وايي امير بايد قريشي وي او قريشيت د امارت لپاره شرط ګڼي هغه ته وايو:

دا رأيه هم د قرآن له صريح نص سره تصادم کوي او هم له ټولو هغو روايتونو سره چې د همدې مخکني روايت په څېر؛ مسلمانان د امير په

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

اطاعت ګماري که څه هم مقطوع الاعضاء حبشي آزاد شوی مريی وي. قرآن ټول خلك د يوه نسب خاوندان ګڼي، مکرر وايي چې ټول انسانان له يوه مور او پلار پيدا شوي، له يوه نسل دي، ېېل ېېل قبائل او عشائر ئې د تعارف لپاره دي نه د تفاخر او تفاضل لپاره، هيڅ قبيله پر بلي هيڅ فضيلت نه لري؛ مګر په تقوی سره، په اسلام کې نَسَبي فضيلت او يو تر بل په نَسَبي بنسټ ځان غوره ګڼل مردود او حرام دي.

که دا رأی ومنو بيا خو بايد يهودانو ته هم دا حق ورکړو چې ځان تر ټولو قومونو په دې دليل غوره وګڼي چې هغوی د ابراهيم عليه السلام اولاد دي او ډېر پيغمبران په دوی کې مبعوث شوي!! او په يهودانو کې هم بايد لاويان چې د موسی عليه السلام ټبر دئ؛ د زعامت مستحق وي؛ همغسي چې محرف بايبل ئې د يهودانو خاصه مذهبي قبيله او له امتيازاتو برخمنه ګڼي!! خو قرآن؛ يهودان هغه مهال تر ټولو قومونو غوره ګڼي چې ايمان ئې راوړی او د الله تعالی په لار کې ئې هجرت او جهاد کړی؛ دغه مهال تر ټولو قومونو غوره او افضل قوم بيا همدغه د يهودانو قوم دئ؛ قرآن کريم فرمايي:

وَتَمَّتْ كَلِمَتُ رَبِّكَ ٱلْحُسْنَىٰ عَلَىٰ بَنِيٓ إِسْرَٰٓءِيلَ بِمَا صَبَرُوا۟ :

ستا د رب غوره کلمه پر بني اسرائيلو بشپړه شوه؛ له دې کبله چې صبر ئې وکړ؛

او هغه مهال ئې د نړۍ تر ټولو ذليل او سپک قوم ګڼلی چې بغاوت ئې کړی او د شرك او نفاق لار ئې غوره کړې، له پيغمبر ئې سرغړاوی کړی، جهاد ئې ترک کړی، موسی عليه السلام ته ئې وويل: ته او خدای دي لاړ شئ او وجنګېږئ؛ مورږ دلته ناست يو؛ له دې قرآني لارښوونو په څرګنده توګه معلومېږي چې د فضيلت لاملونه نَسَبي نه بلکې فکري او اعتقادي دي، يوازي په نېك عمل سره يو کس يا قوم پر بل فضيلت ترلاسه کولی شي.

deenodanish.com څخه ښکته شوی له Deen-o-Danish

که داسي وی نو پیغمبر علیه السلام به څنګه فرمایل چي د تورپوستي حبشي امارت به هم منئ او اطاعت به ئې کوئ؟ دا دواړه خبرې سره تعارض لري؛ یو وایي چي قریشي به وي او بل وایي چي که تور پوستی حبشي آزاد شوی مریی؛ مقطوع الاعضاء (لاس، پښې یا بل غړی ئې قطع شوی هم) وي؛ نو د هغه اطاعت به کوئ. او څنګه به ئې د یو غیر قریشي جلیل القدر صحابي په اړه چي د مدیني اوسیدونکی وو؛ فرمایل: که سعد بن معاذ (د انصارو درونډ مشر) ژوندی وی نو هغه به مي د مسلمانانو د خلیفه په توګه ټاکلی وو. څوك چي سعد رضی الله عنه پېژني او له هغو بې نظیره خدمتونو ئې خبر وي چي ده او د ده ترمشرۍ لاندي د اوس قبیلې د اسلام او مسلمانانو لپاره کړي، پیغمبر علیه السلام او مهاجرینو ته ئې پناه ورکړه، بلنه ئې ورکړه چي مدینې ته راشه موږ دي ساتو؛ د دوی یو لوی اویا کسیز پلاوي او هیئت؛ چي د قوم لوړ رتبه مشران هم پکي وو؛ د حج په موسم کي؛ په مینا کي او په پټه د شپې له لوري له پیغمبر علیه السلام سره ولیدل او تعهد ئې وکړ چي په خپل سر او مال به له ده دفاع کوي؛ له بلني او تعهد وروسته؛ د دوی یو تن ودرېد او هغوی ته ئې وویل: اې خلکو! پوهېږئ چي څه کوئ؛ له چاسره بیعت کوئ!! دا خو وړه خبره نه ده؛ د دې په نتیجه کې به د عرب ټولې قبیلې ستاسو په خلاف خپلې توري له تېکیو راباسي؛ آیا تیار یئ چي سړي مو ووژل شي او ښځي او واړه مو اسیر شي؛ ستر جنګ ستاسو په خلاف پیل شي؛ آیا په رښتیا دې ته چمتو یئ؟! که چمتو یئ نو له رسول الله صلی الله علیه و سلم سره بیعت وکړئ؛ که دې ته چمتو نه یئ نو خپل عذر وړاندئ کړئ او له دې بلني تېر شئ؛ همدا به د الله تعالی په وړاندي ستاسو عذر وي؛ سره له دې ټولو احتمالي ګواښونو او خطرونو؛ له پیغمبر علیه السلام سره ئې تعهد وکړ؛ دا وړه او عادي خبره نه وه؛ ستر او لوړ همت او غیرت ئې غوښتلو؛ د قربانۍ ستره جذبه ئې غوښتله؛ له لویو لویو خطرونو سره تصادم او د ټولو عرب قومونو له جنګ سره مخامخېدا ته چمتو

deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

والی ئې غوښتو؛ د سعد بن معاذ قوم اوس؛ چې سترہ قبیله هم نه وه؛ حتی په مدینه منوره کې هم؛ تر نورو سترہ نه وه؛ د همدې قبیلې وفد؛ پیغمبر علیه السلام ته بلنه ورکړه او له هغه د سر، مال او اولاد په بیع دفاع او حمایت ته چمتو شوی وو؛ د الله تعالی په لار کې قربانۍ ته چمتو شول، یقیناً چې هیڅ پوه مسلمان به تر سعد بن معاذ رضي الله عنه؛ هیڅوك د خلافت لپاره زیات مستحق ونه ګڼي او که هغه ژوندی وی نو له شك پرته به ټولو مسلمانانو؛ د ابوبکر او عمر رضی الله عنهما په شمول؛ هغه ته د بیعت لاس اوږدولو، خزرجیانو به هم د پیغمبر علیه السلام له پرېکړې سره سم توافق کاوو. مور او د نړۍ ټول مؤمنان تر قیامته پورې د سعد رضی الله عنه او د ده د توریالي او مؤمن قوم د ستر احسان، همت، مېړانې او قربانیو پوروړي دي.

د سعد رضی الله عنه عظمت او مقام له لاندې روایاتو درك کولی شو:

عَنْ جَابِرٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "اهْتَزَّ عَرْشُ الرَّحْمَنِ عَزَّ وَجَلَّ لِمَوْتِ سَعْدِ بْنِ مُعَاذٍ"

له جابر بن عبدالله روایت دئ چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: د رحمن خدای عرش د سعد بن معاذ په مړینې ولړزېد.

کله چې هغه ټپي شو نو پیغمبر علیه السلام په جومات کې د هغه لپاره ځای جوړ کړ او خیمه ئې ودروله چې ورته نږدې وي او چې هر لمانځه ته راوځي په خپله ئې پالنه او عیادت وکړي. هغه د خندق په جګړه کې ټپي او له همدې ټپ شهید شو.

عن عائشةَ رضی الله عنها قالَت: لما أُصيبَ سَعدُ بنُ مُعاذٍ يَومَ الخَندَقِ رَماه رَجُلٌ فی الأَكْحَلِ فضَرَبَ عَلَيه رسولُ اللهِ صلی الله علیه وسلم خَيمَةً فی المَسجِدِ ليَعودَه مِن قَريبٍ. أخرَجَه البخاریُّ ومُسلِمٌ

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

له عائشې رضي الله عنها روایت دئ چې وئې ویل: کله چې سعد بن معاذ د خندق په غزوې کې ټپي شو؛ یوه سړي؛ دی د مټ پر رګ په غشي وویشت؛ چې ډېره وینه تري ځي؛ نو رسول الله صلی الله علیه و سلم په جومات کې د دې لپاره خیمه پرې ودروله چې له نږدې د ده عیادت وکړي.

عَنْ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ قَالَ: أُهْدِيَ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَرَقَةٌ مِن حَرِيرٍ فَجَعَلَ الْقَوْمُ يَتَدَاوَلُونَهَا بَيْنَهُمْ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَتَعْجَبُونَ مِنْ هَذَا "فَقَالُوا لَهُ: نَعَمْ يَا رَسُولَ اللَّهِ. فقَالَ: "وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَمَنَادِيلُ سَعْدِ بْنِ مُعَاذٍ فِي الْجَنَّةِ خَيْرٌ مِنْ هَذَا" رواه البخاری

له براء بن عازب روایت دئ چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته له وریښمو اوبدلې یوه ټوټه هدیه ورکړی شوه، خلکو په خپل منځ کې لاس په لاس کوله، رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: آیا دې ته حیران یئ؟ وئې ویل: هو! یا رسول الله! نو هغه وفرمایل: قسم په هغه ذات چې زما سا (روح) ئې په واك کې ده؛ په جنت کې د سعد بن معاذ د لاس پاکولو تولیاوي تر دې ډېري غوره دي.

دا همغه سعد دئ چې ابوجهل ته ئې په مکه کې داسي غاښ ماتوونکی ځواب ورکړی وو چې چا ئې تصور هم نشو کولی، مکې ته د عمرې لپاره تللی وو، د أمیه بن خلف په کور کې ئې واړول، هغه ورته وویل: صبر وکړه؛ کله چې غرمه شي او خلك غافل شي؛ ولاړ به شې او طواف به وکړې، کله چې سعد طواف کولو؛ ناڅاپه ابوجهل راڅرګند شو او وئې ویل: دا څوك دئ چې د کعبې طواف کوي؟ سعد وویل: زه سعد یم، نو ابوجهل ورته وویل: داسي په ډاډ او امان سره د کعبې طواف کوې؛ په داسي حال کې چې محمد او د ده ملګرو ته مو پناه ورکړې؟! خبره ئې سره کښته پورته کړه، امیه سعد ته وویل: غږ دي تر ابوالحکم مه لوړوه وه، هغه د دې وادي مشر دئ، بیا

deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

سعد وویل: په الله قسم چې که مې د کعبې له طوافه منع کړې نو د شام د تجارت لار به دې قطعه کړم.

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: انْطَلَقَ سَعْدُ بْنُ مُعَاذٍ مُعْتَمِرًا قَالَ: فَنَزَلَ عَلَى أُمَيَّةَ بْنِ خَلَفٍ أَبِي صَفْوَانَ وَكَانَ أُمَيَّةُ إِذَا انْطَلَقَ إِلَى الشَّأْمِ فَمَرَّ بِالْمَدِينَةِ نَزَلَ عَلَى سَعْدٍ فَقَالَ أُمَيَّةُ لِسَعْدٍ: انْتَظِرْ حَتَّى إِذَا انْتَصَفَ النَّهَارُ وَغَفَلَ النَّاسُ انْطَلَقْتُ فَطُفْتُ فَبَيْنَا سَعْدٌ يَطُوفُ إِذَا أَبُو جَهْلٍ فَقَالَ: مَنْ هَذَا الَّذِى يَطُوفُ بِالكَعْبَةِ فَقَالَ سَعْدٌ: أَنَا سَعْدٌ فَقَالَ أَبُو جَهْلٍ: تَطُوفُ بِالكَعْبَةِ آمِنًا وَقَدْ آوَيْتُمْ مُحَمَّدًا وَأَصْحَابَهُ فَقَالَ: نَعَمْ فَتَلاَحَيَا بَيْنَهُمَا فَقَالَ أُمَيَّةُ لسَعْدٍ: لاَ تَرْفَعْ صَوْتَكَ عَلَى أَبِي الحَكَمِ فَإِنَّهُ سَيِّدُ أَهْلِ الوَادِى ثُمَّ قَالَ سَعْدٌ: وَاللَّهِ لَئِنْ مَنَعْتَنِى أَنْ أَطُوفَ بِالْبَيْتِ لَأَقْطَعَنَّ مَتْجَرَكَ بِالشَّامِ ....

دا همغه سعد دئ چې له بني قريظه سره معامله د ده پرېکړې ته پرېښودی شوه، کله چې هغه پر خپلې سپرلې راورسېد پيغمبر عليه السلام صحابه وو ته مخ کړ او وئې فرمايل: د خپل سالار په وړاندې د احترام په پار ودرېږئ، هغه ته ئې وفرمايل: دې خلکو يعني بني قريظه وو تا ته د پرېکړې واك درکړی، هغه وويل: جنګيالي دې ووژل شي او ماشومان دې د مسلمانانو تر منځ ووېشل شي. پيغمبر عليه السلام وفرمايل: د الله تعالی د حکم مطابق پرېکړه دي وکړه. له دې د سعد بن معاذ رضي الله عنه د مقام لوړوالی او عظمت معلومېږي. بايد دې ته هم متوجه وو چې سعد په ۳۰ کلنۍ کې ايمان راوړی او په ۳۶ کلنۍ کې شهيد شوی او د ۶ کلونو په دوران کې ئې اسلام او مسلمانانو ته دومره خدمتونه کړي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم د مسلمانانو د سالار په لقب ونومولو او وئې فرمايل: د ده په شهادت سره د الله تعالی عرش ولړزېد. نو که خلافت د قريشو حق وی؛

deenodanish.com خخه ښکته شوی Deen-o-Danish

رسول الله صلى الله عليه و سلم به دا نه ويل چې که سعد بن معاذ رضي الله عنه ژوندی وی هغه به مې د خليفه په توګه ټاکلی وو.

عن أبي سعيدٍ الخُدرِيِّ أن بَنِي قُرَيظَةَ لَمّا نَزَلوا على حُكمِ سَعدِ بنِ مُعاذٍ أرسَلَ إلَيه رسولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم فجاءَ على حِمارٍ فلَمّا كان قَريبًا مِنَ المَسجِدِ قال رسولُ اللهِ - صلى الله عليه وسلم -: "قوموا إلَى سَيِّدِكُم. أو: إلَى خَيرِكُم". فقالَ: "إنّ هَؤُلاءِ نَزَلوا على حُكمِكَ". قال: فإنِّي أحكُمُ فيهم أن تُقتَلَ مُقاتِلَتُهُم وتُسبَى ذَراريُّهُم قال: فقالَ رسولُ اللهِ - صلى الله عليه وسلم -: "حَكَمتَ بحُكمِ المَلِكِ". ورُبَّما قال: "حَكَمتَ بحُكمِ اللهِ"

اسلامي شورى

قرآن شورى د يوه داسي اصل په توګه معرفي کوي چې د مسلماني ټولني يو اساسي او تلپاته بنسټ ئې ګڼي؛ د قرآن يوه سوره په همدې نامه يادە شوې او په هغې کې ئې د شورى په اړه داسي فرمايلي:

فَمَآ أُوتِيتُم مِّن شَىۡءٖ فَمَتَٰعُ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَاۖ وَمَا عِندَ ٱللَّهِ خَيۡرٞ وَأَبۡقَىٰ لِلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَلَىٰ رَبِّهِمۡ يَتَوَكَّلُونَ ٣٦ وَٱلَّذِينَ يَجۡتَنِبُونَ كَبَٰٓئِرَ ٱلۡإِثۡمِ وَٱلۡفَوَٰحِشَ وَإِذَا مَا غَضِبُواْ هُمۡ يَغۡفِرُونَ ٣٧ وَٱلَّذِينَ ٱسۡتَجَابُواْ لِرَبِّهِمۡ وَأَقَامُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَأَمۡرُهُمۡ شُورَىٰ بَيۡنَهُمۡ وَمِمَّا رَزَقۡنَٰهُمۡ يُنفِقُونَ ٣٨ وَٱلَّذِينَ إِذَآ أَصَابَهُمُ ٱلۡبَغۡيُ هُمۡ يَنتَصِرُونَ ٣٩ الشورى: ٣٦-٣٩

deenodanish.com خخه ښکته شوی له Deen-o-Danish

نو څه چې تاسو ته درکړی شوي؛ هر څه چې وي، دا د دنیوي ژوند متاع ده، او هغه څه چې له الله سره دي هغه غوره او دائمي دي، د هغو لپاره دي چې ایمان ئې راوړی او پر خپل رب توکل کوي؛ او هغه چې له کبیره ګناهونو او فحش کارونو ډډه کوي او کله چې غصه شي نو بخښنه کوي، او هغه چې د خپل رب حکم ته ئې لبیك ویلی، لمونځ ئې قائم کړی او کار ئې په خپلو کې مشوره وي او له هغه څه انفاق کوي چې موږ ورروزي کړي. او هغه چې کله تېری پرې وشي غچ اخلي.

د دې مبارکو آیتونو لارښوونې دا دي:

- څه چې تاسو ته درکړی شوي؛ هر څه او هر ډول نعمت چې وي، دا د دنیوي ژوند متاع ده، یوه وسیله او ذریعه ده، دا د ژوندانه د سفر توښه ده، دلته چې له نعمتونو کوم څه ګورئ، دا به یو هم د هدف او مقصد په توګه نه نیسئ، دا ټول د دنیوی ژوند لپاره د متاع حیثیت لري. د دنیا نعمتونه فنا کېدونکي دي، د دې لپاره درکړی شوي چې په خپل محدود دنیوی ژوند کې ګټه تري واخلئ.
- هغه څه چې له الله تعالی سره دي؛ هغه غوره او دائمي دي، څه چې تاسو د خپل رب په خوا کې ترلاسه کولی شئ هغه هم غوره دي او هم تلپاته.
- خو دا غوره او تلپاته نعمتونه هغه څوك ترلاسه کولی شي چې څو ځانګړتیاوي او مواصفات ولري: ۱- ایمان ئې راوړی وي، ۲- پر خپل رب توکل کوي، ۳- له کبیره ګناهونو او فحش کارونو ډډه کوي، ٤- کله چې غصه شي نو بخښنه کوي، ٥- د خپل رب حکم ته ئې لبیك ویلی، ٦- لمونځ ئې قائم کړی، ۷- کارونه ئې په مشوره وي، ۸- له هغه څه انفاق کوي چې الله تعالی ورروزي کړي، ۹- کله چې تېری پرې وشي غچ اخلي، خو د غچ اخیستلو په دوران کې دا په پام کې ساتي چې د بدو سزا بدو ته ورته وي، دومره ورسره کوي چې له دوی سره ئې کړي.

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

- مؤمن داسي وي چې له دښمن او ظلم کوونکي غچ او انتقام اخلي؛ غچ نه اخيستل يعني دښمن جرى او جسور کول؛ پر نورو د ظلم او تېري جرأت ورکول؛ غچ اخيستل يعني دا چې عدالت تأمين شي او ظالم نور له ظلم ډډه وکړي او دا وېره ورسره وي چې که مي ظلم وکړ حتماً له ما غچ اخيستل کېږي؛ دا د غچ احساس او جذبه چې په ټولنه کې راپيدا شي؛ نو ظالم له ظلم ډډه کوي؛ خو که ظالم له انتقام خوندي وي؛ مظلومانو ته وويل شي: د ظلم او ظالم په وړاندي سرونه ټيټ کړئ، تسليم اوسېږئ، د مخالفت او انتقام لاره مه غوره کوئ؛ نو ظالم لا زيات جرئ او جسور شي؛ خو اسلام مور ته وايي: د انتقام اخيستلو په وخت کې به دا په پام کې ساتئ چې د بدو سزا به بدو ته ورته وي؛ څومره چې په تاسو تېرى شوى؛ له تېري کوونکي سره به ورته معامله او بالمثل چلن کوئ؛ حتى د انتقام په اړه هم خاص حدود او محدوديتونه وضع شوي؛ داسي چې که څه هم دشمن؛ ستا شهيدان چې په لاس ورغلي هغه ئې مثله کړي؛ يعني لاس، پښه، غوږ، پوزه او د بدن نور غړي ئې غوڅ او قطع کړي؛ خو که د هغه مړي تا ته په لاس درغلل؛ شريعت اجازه نه درکوي چې بالمثل انتقام واخلې؛ که څه هم د عدالت غوښتنه همدا ده؛ لاس د لاس مقابل کې او پښه د پښې مقابل کې؛ خو اسلام وايي: همدا دښمن چې ستا شهيدانو ته ئې اهانت او سپکاوى کړى؛ ته مکلف يې چې مړي ئې په درناوي او احترام سره خاورو ته وسپارې؛ نه ئې د مثله کولو حق لرې او نه د سپکاوي او اهانت حق.

لکه چې گورئ دلته د مؤمنانو د صفتونو په ترڅ کې له لمانځه وروسته او تر انفاق وړاندي د مشورې يادونه شوې او ويل شوي چې د دوى کارونه په مشوره وي، دا ښيي چې په الهي دين کې د شورى اهميت څومره دئ، همدا راز دلته تر لمانځه او شورى وړاندي د دوى دا صفت راغلى: د خپل رب حکم ته ئې لبيك ويلى، دا ښيي چې شورى په هغو امورو کې ده چې پرېکړه ئې مؤمنانو ته پرېښودل شوې او په اړه ئې کوم صريح الهي حکم نه

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

وي. د دې تفصيل د آل عمران د سورې د ۱۵۹ آيت په تفسير کې وګورئ.

په دې مبارکو آيتونو کې اسلامي ټولنه او د غړو مواصفات ئې په ښه او مفصله توګه انځور شوي او ښيي چې يوه ځانګړتيا ئې دا ده چې خپل کارونه په مشوره ترسره کوي.

ځيني داسي انګېري چې امير به له خلکو سره مشوره کوي خو د مشورې خلك او د خپلې شورى غړي به په خپله غوره کوي؛ نه دا چې هغوى به د ولس منتخب استازي وي او د دوى له لورې به غوره کېږي؛ بلکې دا د امير حق دئ چې څوک د مشورې لپاره غوره کوي او په کومو چارو کې ورسره مشوره کوي!! ځيني همداسي انګېري؛ او پرې ټينګار هم کوي؛ دا يو مذهبي اصل ګڼي او دفاع ترې کوي؛ باور ئې دا دئ چې اسلام امير ته بشپړ واک سپارلى چې په خپله خوښه ځان ته مشاورين وټاکي؛ او د شورى د پرېکړو په منلو او عملي کولو هم مکلف نه دئ، مشاورين ئې فقط مشوره ورکوي؛ آخري پرېکړه امير ته پرېښودل کېږي!! دى فقط استمزاج کوي او په دې سره غواړي د مشاورينو له نظرياتو خبر شي؛ د وروستي تصميم حق ده ته ورکړى شوى؛ ګواکي امير کولى شي د دوى د مشورې او رأيې خلاف د خپلې خوښې فيصله وکړي. دا نه تور دئ او نه مبالغه؛ د اسلامي امارت د اساسي قانون په ٤٦ ماده کې د شورى په اړه داسي راغلي: اسلامي شورى هغه مقننه قوه ده چې غړي ئې حد اکثر له لومړۍ درجې ولايتونو درې، د دوه يمې درجې ولايتونو دوه، او د دريمې درجې ولايتونو يو تن تشکيلوي، چې د امير المؤمنين له خوا انتصابېږي.

د دې انګېرنې په اړه بايد ووايو:

اسلامي لارښوونو امير مکلف کړى چې په هغو ټولو قضاياوو کې به له مسلمانانو سره مشوره کوي چې په ټولو پوري مربوطي دي؛ حتى رسول الله صلى الله عليه و سلم ته امر کوي او فرمايي: وَشَاوِرْهُمْ فِي ٱلْأَمْرِ: په کارونو کې له دوى سره مشوره کوه. که پيغمبر په مشورې مکلف وي نو امير خو په

له deenodanish.com څخه ښکته شوى Deen-o-Danish

اولی درجه مکلف دئ. څه چې پر پیغمبر فرض دي پر مسلمانانو هم فرض دي؛ څه چې پر پیغمبر واجب دي پر مسلمانانو هم واجب دي؛ څه چې هغه ته حلال شوي؛ مسلمانانو ته هم حلال دي او څه چې هغه ته حرام کړی شوي؛ مسلمانانو ته هم حرام کړی شوي؛ هر هغه څه چې پیغمبرانو ته حلال وو ټولو امتونو ته حلال وو او څه چې پرې حرام وو پر ټولو امتونو حرام وو؛ تفاوت په حلال او حرام؛ فرض او واجب کې نشته. د پیغمبر مکلفیتونه تر مسلمانانو لا زیات دي کم نه دي؛ لکه د تهجد لمونځ چې پر پیغمبر فرض او مسلمانانو ته سنت دئ؛ پیغمبر علیه السلام ته ویل شوي دي چې وَشَاوِرْهُمْ فِي ٱلْأَمْرِ: له دوی سره مشوره کوه که پیغمبر په مشوره مکلف وي نو امیر خو په اولی درجه په مشوره مکلف دئ.

له ولس سره مشوره دا ایجابوي چې یا به مخامخ له دوی سره مشوره کېږي او یا د دوی له باصلاحیت وکیل، کفیل او استازو سره.

که داسي نه وي او د شوری غړي د امیر او زعیم له لوري غوره شي؛ نو بیا خو به د خپلې خوښي او ده ته مطیع افراد راغونډوي او له شوری به د خپلې سلیقې مطابق پرېکړي راباسي.

د نړۍ تر بدو بد استبدادي نظامونه هم شوری ګاني لري، خو د مطلق العنانو واکمنو د خوښي داسي انتصابي شوری ګانی چې د دوی په خدمت کې وي او د هغوی اوامرو ته قانونی، مذهبي او شرعي بڼه ورکوي، نه داسي شوری چې د ولس له باصلاحیته استازو جوړه شوې وي. اعتراض دا دئ چې نه پیغمبر علیه السلام د خپلې خوښي انتصابي شوری درلوده او نه راشدینو خلفاءو، د انتصابي شوری ګانو لړۍ هغه مهال پیل شوې چې خلافت په سلطنت او ملوکیت بدل شو، انتصابی شوری ګاني د ملوکیت خاصه ده؛ نه د خلافت؛ کله چې خلافت په سلطنت بدل شو؛ پرېکړي له جومات قصر ته انتقال شوې او د شوری غړي د سلاطینو له خوا انتصاب شول؛ هغه مهال بیا دا سلاطینو ته محبوب دود او دستور هم رامنځته شو چې امیر نه د شوری

deenodanish خڅه ښکته شوی له deenodanish.com

په پرېکړو مکلف دئ او نه دا چې له خلکو سره به مشوره کوي؛ د خپلې خوښې له کسانو سره مشوره کولی شي او د آخري پرېکړې حق ده ته ورکړی شوی!!!

د پیغمبر علیه السلام او د راشدینو خلفاءو د شوری ځای خو مسجد وو، کله چې د مسلمانانو شمېر زیات شو؛ نو پیغمبر علیه السلام له دوی د عرفاء او نقباء په نامه د دوی داسي استازي وغوښتل چې د خپل خپل قوم له لوري به معرفي کېدل، ټول هغه کسان د شوری غړي وو چې د بدر په جګړې کې ئې برخه اخیستې وه، کله به پیغمبر علیه السلام یوازي بدریان د مشورې لپاره راټولول او ټول بدریان د شوری غړي ول؛ دوی تر ټولو زیات د مشورې مستحق ول؛ په ډېر سخت حالت کې د پیغمبر علیه السلام تر څنګ ودرېدل؛ په سخت او نابرابر جنګ کې ئې برخه واخیسته؛ د دښمن شمېر د دوی په پرتله درې برابره وو؛ او دا هم د مسلمانانو او قریشو ترمنځ لومړی جنګ وو. څوك چې له دې حقیقت سره توافق نه لري؛ نو مهرباني دي وکړي او مور ته دي د دې دور یوه داسي انتصابي شوری راوښیئ چې غړي ئې د پیغمبر علیه السلام او یا راشدینو خلفاءو په خپله خوښه ټاکل شوي وي! له کوم خاص معیار پرته؛ دا د اسلام په اړه ډېر کرکجن تور دئ چې وایي: اسلام یوه شخص ته دا حق ورکوي چې د مطلق العنان واکمن په توګه د خپلې خوښي داسي انتصابي شوری جوړه کړي چې پرېکړو ته به ئې هم التزام نه لري او یوازي هغه پرېکړې به ئې مني چې د ده خوښي وي!! دا یو تور او الزام دئ؛ خو د اسلام د ناپوهو دوستانو له لوري!! اسلام خو دا د مسلمانانو یو اجتماعي صفت ګڼي چې کارونه ئې په مشوره ترسره کېږي: (وَأَمْرُهُمْ شُورَىٰ بَيْنَهُمْ)، کوم عاقل یا کم عقله انسان به په دې نه پوهېږي چې هغه شوری هیڅ ارزښت نه لري چې غړي ئې د ولس معتمد استازي نه وي، ولس پرې اعتماد ونه لري او ولس د هغوی پرېکړې معتبره ونه ګڼي، فقط د یوه شخص له لوري غوره شوي وي؟!

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

که څوك په قرآن ایمان لري نو د شوری په اړه دغه یو آیت هم ورته کفایت کوي، دا آیت شوری او مشوره د ټولو مؤمنانو او د دوی د ټولني یوه ځانګړتیا ګڼي، د دې آیت له مخي هیڅوك دا حق نه لري چې کوم مسلمان په داسې چارو کې له مشورې محروم کړي چې په ټولو مسلمانانو پوري مربوط وي، یا به په خپله مخامخ پوښتل کېږي او یا د خپل معتمد استازي له لارې، پیغمبر علیه السلام د بدر د جګړې پرېکړه هغه مهال وکړه چې ټولو بلااستثناء پرې توافق وکړ، له صحابه وو ئې په مکرره توګه وغوښتل چې د وضعیت په اړه خپله رأیه ورکړي؛ د مهاجرینو مشرانو وویل: یا رسول الله! جنګ ته چمتو یو؛ ستا امر ته منتظر یو؛ خو پیغمبر علیه السلام تر هغه د حرکت امر ونه کړ چې د انصارو رأیه واوري او موافقه ئې ترلاسه کړي. همداسې وشول؛ د انصارو مشرانو وویل: یا رسول الله! آیا هدف دي مور یو؛ غواړې مور خپله رأیه څرګنده کړو؟! قسم پر هغه ذات چې ته ئې په حقه رالېږلی یې؛ که ته امر وکړې نو دې سمندر ته به هم ودانګو!! دا یو څرګند او عملي مثال دئ؛ د جنګونو په حالت کې اکثراً مشرانو ته کامل اختیار سپارل کېږي؛ پارلمانونه منحل کېږي؛ ولسمشر اعلی قومندان شي او هغه ته بشپړ جنګي اختیارات ورکړل شي؛ اما پیغمبر علیه السلام د بدر جنګ په دوران کې؛ د جنګ او د جنګ میدان ته د تګ پرېکړه او امر تر هغه صادر نه کړ چې ټولو جنګیالیو توافق ونه کړ. تاسو ولیدل چې پیغمبر علیه السلام د احد په جګړې کې له خپلې رأیې تېر شو او د هغو ځوانانو رأیه ئې قبوله کړه چې غوښتل ئې له دښمن سره له مدینې بهر مخامخ شي، که څوك د پیغمبر علیه السلام امتي وي او د هغه مبارك په سنت عمل کول غواړي نو باید مشورې ته همدومره اهمیت ورکړي، که هغه پیغمبر علیه السلام چې الله تعالی د ټولو انسانانو له منځه؛ او تر ټولو غوره ئې انتخاب کړی؛ له عقلي، اخلاقي، فکري، او نورو استعدادونو له پلوه تر ټولو غوره؛ الله تعالی د ټولو انسانانو د معلم او لارښود په توګه غوره کړی او په هر ګام کې ئې ورته

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

وحي کوله؛ شوری ته دومره اهميت ورکوي چې له خپلې رأيې د ځوانانو د غوښتني په وړاندې تېرېږي؛ نو د بل چا به څه حيثيت وي چې هغه ځان عقل کل وګڼي او د شوری پرېکړو ته تابع نه وي؟!! په دې کې هيڅ شک نشته چې يوه کس ته مطلق العنان واک سپارل؛ په اسلامي شريعت کې هيڅ مجال نلري، دا د سرکاري او درباري مفتيانو فتوی کېدی شي نه له قرآن او سنت راولاړه شوې فتوی. دې ته مو بايد پام وي چې کله د مسلمانانو شمېر زيات شو نو پيغمبر عليه السلام لدوی وغوښتل چې خپل استازي ورمعرفي کړي، دا استازي د نقباء په نامه يادېدل او دا پيغمبر عليه السلام په خپله نه غوره کول؛ بلکې ولس ته ئې ويل چې تاسو ئې رامعرفي کړئ، دا په حقيقت کې د ولس منتخب استازي ول. بخاري ليکي:

(النقباء) جمع نقيب وهو عريف القوم وناظرهم والمراد الذين اختارهم الأوس والخزرج نقباء عليهم بطلب من النبي صلى الله عليه وسلم.

نقباء د نقيب جمع ده چې د قوم پېژندوی او ناظر ته وايي او دلته مراد ترې هغه خلك دي چې د اوس او خزرج له لوري د رسول الله صلى الله عليه وسلم په غوښتنه غوره شول.

د دې معنی دا ده چې امير به د پيغمبر عليه السلام له سنت سره سم عمل کوي؛ که کله نه شي توانيدلی ټول مسلمانان د مشورې لپاره راغونډ کړي؛ نو د دوی منتخب استازي به راغونډوي؛ همغسي لکه چې رسول الله صلى الله عليه و سلم د اوس او خزرج له قبيلې د دوی استازي وغوښتل چې په اړوند چارو کې له هغوی سره مشوره وکړي. که غواړو د رسول الله صلى الله عليه و سلم په سنت عمل وکړو نو موږ به داسې شوری جوړوو چې غړي به ئې ولس غوره کوي؛ د دوی لپاره به تر ټولو زيات موزون او مناسب نوم (نقيب) وي؛ همغسي چې رسول الله صلى الله عليه و سلم د اوس او خزرج استازو ته همدا نوم غوره کړی وو.

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

آیا امیر د شوری د پرېکړو په مراعات مکلف دئ؟

ځيني وايي: امير به ځان ته د شوری د غړو د رأيو له معلومولو وروسته؛ په هغه څه عمل کوي چي ده ته غوره برېښي؛ که څه هم؛ د ده تصميم د شوری د غړو له رأی سره توپير او اختلاف ولري؛ دا ادعاء هم کوي او وايي: د مشاورت کولو معنی دا نده چي امير دي د شوری د غړو تابع وي!! د دې نظر خاوندان دا ادعاء هم کوي چي گواکي دا د "جمهور متقدمين علماء" رأی ده؛ هغوی د الله تعالی په دې قول استناد کوي: (... وَشَاوِرْهُمْ فِي ٱلْأَمْرِ ۖ فَإِذَا عَزَمْتَ فَتَوَكَّلْ عَلَى ٱللَّهِ ۚ ...)؛ هغوی وايي: دا آيت په دې دلالت کوي چي له مشاورت وروسته؛ له عزم د امير عزم مراد دئ؛ او که پر امام؛ د شوری د غړو منل واجب وی، نو بيا به د (عزمت) پر ځای (عزمتم) ويل کېدو؛ له دې کبله چي د عزم اختيار امام ته ورکړی شوی، نو له مشاورت وروسته؛ د وروستۍ پرېکړي حق هم يوازي امام ته ورکړی شوی.

که څه هم د دې کمزوري رأيي د حاميانو مخي ته د هغو علماءو رأی او نظر هم پروت دئ چي وايي: پر امام؛ د شوری د پرېکړو اتباع واجبه ده؛ له علي رضی الله عنه روايت شوی چي ويلي ئې دي: "له پيغمبر عليه السلام د دغه آيت د (عزمت) په اړه پوښتنه وشوه چي د عزم معنی څه ده؟ رسول الله صلی الله عليه و سلم وفرمايل: د رأی له خاوندانو سره مشوره او بيا د دوی د رأيي متابعت، يعني له مشورې چي کومه پرېکړه راوځي؛ هغه منل او په هغې پسي تلل. د روايت الفاظ دا دي:

روی عن ابن مردويه عن علی بن أبی طالب قال : سئل رسول الله صلی الله عليه وسلم عن العزم فقال مشاورة أهل الرأی ثم اتباعهم.

د دوی په ځواب کې څو خبرې ضروري ګڼو: عجيبه ده چي څوك دا

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

روايت هم مني او بيا هغه چا ته د عالم او علامه لقب هم ورکوي او رأيه ئې مني او عمل پرې کوي چې رأيه ئې هم سل په سلو کې د دې روايت خلاف ده او هم د قرآن خلاف!!! که څوک په دې روايت باور لرې نو بيا خو بله هره رأيه بايد لري وغورځوي او مدعي ته ئې نه د عالم په سترګه وګوري او نه د علامه لقب ورکړي!!

ډېر خلك داسې دي چې د دليل په ځای د اکثريت په زور خپله خبره په نورو منل يا تپل غواړي، کله چې د کومې رأيې په اړه نه دليل ولري او نه د کوم منلي شخصيت نوم واخيستی شي؛ نو وايي: دا د جمهور علماءو رأيه ده!! خو که ترې پوښتنه وشي چې له دغو علماءو د څو کسانو نومونه واخله؛ نو د ګوتو په شمېر نومونه هم نشي اخيستلی. د يوې رأيې د سموالي لپاره خو دليل دا نه دئ چې څومره کسان ئې مني، د مسلمان لپاره خو دليل دا دئ چې له قرآن او سنت سره مطابقت ولري، که احياناً د نړۍ ټول خلك پر يوې غلطي خبري ټينګار وکړي او هغه سمه وګڼي دا د هغې د سموالي دليل نه شي کېدی.

دا ډېر ډېر کمزوری او بې بنسټه دليل دئ چې وايي په دې آيت کې (وَشَاوِرۡهُمۡ فِي ٱلۡأَمۡرِۖ فَإِذَا عَزَمۡتَ فَتَوَكَّلۡ عَلَى ٱللَّهِۚ)؛ د (عَزَمۡتَ) صيغه د مفرد صيغه ده، نه د جمعې صيغه؛ نو ځکه تصميم د مشر کار دئ؛ نه د شوری د ټولو غړو!! دا جنابان متوجه نه دي چې د مفرد صيغه د دې لپاره راغلې چې د آيت په لومړي سر کې خطاب يوازې پيغمبر عليه السلام ته متوجه دئ، په دې خطاب کې ټولې صيغې مفردې دي:

فَبِمَا رَحۡمَةٖ مِّنَ ٱللَّهِ لِنتَ لَهُمۡۖ وَلَوۡ كُنتَ فَظًّا غَلِيظَ ٱلۡقَلۡبِ لَٱنفَضُّواْ مِنۡ حَوۡلِكَۖ فَٱعۡفُ عَنۡهُمۡ وَٱسۡتَغۡفِرۡ لَهُمۡ وَشَاوِرۡهُمۡ فِي ٱلۡأَمۡرِۖ فَإِذَا عَزَمۡتَ فَتَوَكَّلۡ عَلَى ٱللَّهِۚ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلۡمُتَوَكِّلِينَ ١٥٩ آل عمران: ۱۵۹

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

گورئ چې دلته د (لنت)، (کنت)، (حولك)، (فاعف)، (استغفر)، (شاورهم)، مفردي صيغې کارول شوې؛ طبيعي ده چې وروستۍ صيغه به هم (عزمت) راتله نه عزمتم.

دې ته ئې هم پام نه دئ کړی چې (فإذا عزمت) ويل شوي، په عربي پوه انسان پوهېږي چې د (فا) توری ښيي چې (عزم) به د (مشاورې) نتيجه وي، يعني د مشورې په نتيجه کې چې کوم تصميم نيسې؛ نو پر الله توکل وکړه. د فتوکل صيغه هم ښيي چې توکل به د مشورې او له مشورې د راوتلي تصميم؛ په پای کې وي. د دې آيت له مخې؛ شوری او مشوره الهي مأموريت او وجيبه ده؛ عزم او تصميم د مشورې نتيجه ده او توکل د دواړو په پای کې؛ د الله تعالی امر؛ معنی ئې دا چې کله تاسو د خپل رب له لارښووني او حکم سره سم مشوره وکړه؛ د مشورې په نتيجه کې مو کومه اجتماعي پرېکړه وکړه؛ نور تشويشونه او اندېښنې لري وغورځوئ؛ پر خپل رب توکل وکړئ او نتائج الله تعالی ته محول کړئ.

د (توکل) يادونه هم تلويحاً دا مطلب په ګوته کوي چې که احياناً پرېکړه ستا د رأيې خلاف راووته، فکر کوې چې دا پرېکړه به ستا په زيان او ضرر وي؛ پر الله توکل وکړه او له تشويش او تزلزل پرته د پرېکړې عملي کولو ته ملا وتړه.

دې ته ئې هم پام نه دئ کړی چې په دې آيت کې د مشورې امر په حقيقت کې د هغو خلکو په اړه شوی چې د احد په جګړې کې څه اشتباهات ترې شوي، د دې احتمال وو چې پيغمبر عليه السلام د دغو اشتباهاتو په سبب له هغوی سره تند چلن وکړي او له دې وروسته له هغوی سره له مشورې ډډه وکړي، الله تعالی ورته لارښوونه وکړه چې نرمي ورسره کوه، عفوه ورته وکړه، بخښنه ورته وغواړه او په کارونو کې له همدغو سره چې اشتباه ئې وکړه او ته ئې غلط تصميم ته اړ کړې؛ بيا هم مشوره ورسره کوه.

څوک چې ادعاء کوي چې په دې آيت سره د پرېکړې اختيار پيغمبر

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

عليه السلام ته ورکړی شوی؛ هغه دي د پيغمبر عليه السلام له قول او عمل داسي کوم دليل راوړاندي کړي چي وښيي پيغمبر عليه السلام له دې آيت همدا مطلب اخيستی، مشوره ئې کړې خو پرېکړه ئې د خپلي خوښي کړې!! د پيغمبر عليه السلام په ټول مبارك ژوند کې هيڅوك داسي مورد نشي په ګوته کولی، داسي حديث نشي موندلی چي دا رأی تأييد کړي، متأسفانه نه د آيت الفاظو او صراحتونو ته توجه کوي، نه له دې آيت؛ د پيغمبر عليه السلام خپل تعبير او تفسير ته، او د هغه مطابق فعلي او عملي سنت ته!!

د دې آيت شرح او تفصيل بايد لومړی په خپله په قرآن کې ولټوو او وګورو چي آيا د شورى تر څنګ دا هم ويل شوي چي پرېکړه به يو کس کوي او که په مشورې کې د شاملو خواوو په رضايت او توافق سره به ئې فيصله کېږي؟ که مو په قرآن کې په دې اړه واضح لارښوونه وموندله نو پر قرآن د ايمان تقاضی دا ده چي بله هره رأيه به لري غورځوو، که څه هم چا جمهور علماءو ته منسوب کړې وي. قرآن په ډېر صراحت سره فرمايي چي پرېکړه به په مشورې کې د شاملو خواوو په رضايت کېږي، د البقري د سورې په ۲۳۳ آيت کې داسي راغلي:

فَإِنْ أَرَادَا فِصَالًا عَن تَرَاضٍ مِّنْهُمَا وَتَشَاوُرٍ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَا ۗ ....* البقره: ۲۳۳

او که دواړو (په خپله خوښه او رضايت) او په خپلو کې په (مشوره) له تې (د ماشوم) ښلول وغوښتل نو څه ګناه پرې نشته...

دا مبارك آيت له تې د ماشوم د ښلولو په اړه ښځي او مېړه ته وايي: په خپلو کې د (مشورې او رضايت) په نتيجه کې چي د خپل ماشوم د ښلولو په اړه کومه فيصله وکړئ نو څه الزام او ګناه درباندي نشته او له مشورې پرته يا د يوه طرف د عدم رضايت په صورت کې هره پرېکړه د ګناه پرېکړه ده.

څوك چي وايي امير يوازي په مشورې مکلف دئ؛ پرېکړه به دى په

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

خپله خوښه کوي!! دا جنابان دي له قرآن او سنت کوم دليل وړاندي کړي، قرآن خو وايي چې د شورى پرېکړه بايد داسې وي چې په شورى کې د برخه والو رضايت تأمين شي؛ ستا نظر خو د قرآن د دې حکم کاملاً خلاف دئ!! د پيغمبر عليه السلام له فعل او قول کومه بېلګه وړاندي کړه چې ستا دا نظر تأييد کړي، پيغمبر عليه السلام خو هيڅکله د مشوره کوونکو د اکثريت له رأيې سره مخالفت نه دئ کړى او د خپلې خوښې فيصله ئې نه ده کړې. ابوبکر او عمر رضى الله عنهما ته وايي: تاسو دواړه چې په هرڅه توافق وکړئ زه ورسره مخالفت نه کوم؛ يعني که مورِ درې وو (زه، ابوبکر او عمر رضي الله عنهما)؛ درېواړه يوځای وو او په يوې موضوع مو مشوره کوله؛ تاسو دواړه يو لوري ته شوئ او زه بل لوري ته؛ ستاسو مشوره او رأيه به منم.

عَنِ عبد الرحمن بْنِ غَنْمٍ الْأَشْعَرِيِّ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِأَبِي بَكْرٍ وَعُمَرَ: «لَوِ اجْتَمَعْتُمَا فِي مَشُورَةٍ مَا خَالَفْتُكُمَا»

د خندق په جنګ کې ئې غوښتل د غطفان قبيله په دې قانع کړي چې د قريشو له ملګرتيا لاس واخلي چې په بدل کې به ئې د مدينې د کجورو د يوه کال حاصل دوى ته ورکړي، په ځينو رواياتو کې راځي چې په دې اړه ئې څه ليکلي هم وو، خو د اوس او خزرج له دوو مشرانو سره ئې پرې مشوره وکړه، هغوى ورته وويل: يا رسول الله! که دا پرېکړه د وحي له مخې کوې نو مورِ پرې اعتراض نه لرو، خو که ستا خپله رأيه وي نو په خداى قسم چې مورِ د شرك په زمانه کې چا ته باج نه دئ ورکړى اوس چې په ايمان سره الله تعالى مورِ ته عزت راکړ؛ څنګه به دوى ته جزيه ورکوو، پيغمبر عليه السلام له خپلې رأيې تېر شو او هغه پاڼه ئې وشکوله. او د دوى له دې موقف او دريځ ډېر خوشحاله هم شو.

هيڅوك داسې مثال نشي وړاندي کولى چې پيغمبر عليه السلام دي له

deenodanish.com له Deen-o-Danish څخه ښکته شوی

چا سره مشوره کړې وي خو پرېکړه دې د نورو له موافقې پرته په خپله خوښه کړې وي.

ځيني خلك د حديبيې په صلحي په غلطه توګه استناد کوي او وايي: پيغمبر عليه السلام دلته له مشورې پرته هغه معاهده امضاء کړه، نو دا ښيي چې امير په شورى او د شورى د پرېکړو په متابعت مکلف نه دئ!! څوك چې له واقعيتونو خبر نه وي؛ دا وينا ورته تشويشونه راپيدا کوي؛ دې جنابانو ته وايو:

آيا دې ته متوجه يئ که نه چې دا معاهده چېرې او په کومو شرائطو کې امضاء شوې؟ آيا پوهېږئ چې حديبيه د مکې جزء او مربوط ساحه او قريشو پرې حکومت کولو؟ مسلمانان هلته د جګړې لپاره نه بلکې د عمرې لپاره تللي وو، جنګي وسائل او تجهيزات ئې له ځان سره نه وو وړي؛ فقط له يوې توري سره تللي وو، د جګړې لپاره ئې تيارى نه درلود، د عمرې لپاره تللي وو؛ هغه هم د پيغمبر عليه السلام د يوه خوب او رؤيا له کبله؛ قريشو ئې مخه ونيوله؛ دښمن هڅه کوله چې نښته رامنځته شي، ډېر شرارتونه ئې وکړل؛ صحابه وو ونيول؛ خو پيغمبر عليه السلام خوشي کړل؛ د پيغمبر عليه السلام د حکيمانه قيادت په وجه د دوى شرارتونه شنډ شول او د نښتې مخنيوى وشو. بالآخره د دوى ترمنځ معاهده لاسليک شوه؛ په داسې حال کې چې اکثريت صحابه ناراض ول؛ د عمر رضي الله عنه په څېر ستر شخصيت هم ناراض وو؛ ابوبکر رضي الله عنه او رسول الله صلى الله عليه وسلم ته ورغى؛ او وئې ويل: آيا مورږ په حقه نه يو؟ آيا پيغمبر عليه السلام د خداى پيغمبر نه دئ؟ ولې له قريشو سره داسې معاهده لاسليک کوو چې وايي: که د قريشو له لورې مورږ ته چا پناه راوړه؛ هغوى ته به ئې تسليموو؛ خو که له مورږ څوک دوى ته ورشي؛ نو هغوى به مکلف نه وي چې مورږ ته ئې وسپاري؛ په همدې دوران کې يو صحابي چې په زنځيرونو تړل شوى وو؛ راتښتېدلى او مسلمانانو ته ئې پناه راوړه؛ پلار ئې ور پسې راغى او له رسول

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

الله صلی الله علیه و سلم ئې وغوښتل چې ورتسلیم ئې کړي؛ که څه هم لا تر دې دمه معاهده نه وه لاسلیک شوې؛ خو هغه ویل: په موادو توافق شوی؛ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: زوی ئې ورتسلیم کړئ؛ وروسته معاهده هم د دواړو له لوري لاسلیک شوه؛ قریشو دا نه منل چې په معاهده کې د محمد علیه السلام تر څنګ رسول الله ولیکل شي؛ پیغمبر علیه السلام امر وکړ چې دا کلمه حذف کړئ؛ صحابه وو وویل: یا رسول الله! مور دا کار نه شو کولی؛ پیغمبر علیه السلام له لیکونکي وپوښتل چې دا الفاظ چېرې دي؛ په خپله ئې حذف کړل؛ صحابه وو ته تر ټولو ګران او د نه منلو کار دا وو؛ چې په زنځیرونو تړل شوی هغه مسلمان قریشو ته وسپاري چې دوی ته ئې پناه راوړې وه. او بل ګران کار دا وو چې د پیغمبر علیه السلام خوب او رؤیا شکمنه کېږي او دښمن ته دا موقع په لاس ورځي چې ووایي: که محمد علیه السلام رښتنی پیغمبر وی نو خوب به ئې ترسره شوی وو؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم هغوی ته وویل: زما په رؤیا کې دا نه وو شامل چې حتماً به سر کال عمره کوو؛ که نن له عمرې منع شو کال ته به عمره کوو؛ که څه هم صحابه ناراض ول خو هیڅوا د رسول الله صلی الله علیه و سلم له پرېکړې سره عملاً مخالفت نه دئ کړی. د ناپوه وګړو اعتراض به هغه مهال وارد او د اعتناء وړ وو چې لومړی پیغمبر علیه السلام له خپلو یارانو سره مشوره کړې وی؛ بیا ئې د مشورې خلاف؛ بېله پرېکړه کړې وی؛ دا هم باید په پام کې ولرو چې د جنګ په حالت کې فوق العاده اختیارات زعیم او قائد ته سپارل کېږي؛ د جنګ په میدان کې مشورې نه شي کېدی؛ هغه مهال به ټول اختیارات امیر ته سپارل کېږي.

رسول الله صلی الله علیه و سلم وروسته وروسته د دې معاهدې د بېلو بېلو برخو او موادو په اړه کافي او مقنع دلائل وړاندي کړل؛ لکه دا چې څوک قریشو ته پناه وروړي؛ داسي چا ته مور څه ضرورت لرو؟ بېلېدا ئې د اسلام او مسلمانانو په خیر ده؛ او که له دوی څوک مور ته راشي او مور ئې قریشو

deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

ته تسلیم کړو؛ نو الله تعالی به هغه ته د نجات بله لاره پرانیزي؛ همداسي وشول؛ هغه صحابي چې قریشو او خپل پلار ته سپارلی شوی وو؛ له زندان وتښتېد؛ او د قریشو د تجارتي قافلو په لار کې ځې مضبوط سنګر جوړ کړ؛ د قریشو نور باغیان به هم د ده خوا ته راغونډېدل؛ د قریشو پر تجارتي قافلو به ځې غلچکي بریدونه کول؛ بالآخره قریش دي ته مجبور شول چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم وغواړي او ووایي: دا صحابي او ملګري ځې مدینې ته دروغواړه. دا معاهده د مسلمانانو لپاره دومره ستره او ځلانده فتح او بریا وه چې قرآن ورته د فتح مبین نوم ورکړ او د قرآن یوه بشپړه سوره په همدې ارتباط نازله شوه.

د جنګ په ظروفو او شرائطو کې؛ چې استثنائي حالت دئ؛ باید قائد ته فوق العاده اختیارات ورکړی شي؛ خو که د صحابه وو مضبوط ایمان او عقیده نه وی؛ نو د دې احتمال وو چې له دغې پرېکړې؛ کافي ستونزي او مشکلات راولاړ شوي وی؛ د صحابه وو مضبوط ایمان د دې باعث شو چې هیڅوک مخالفت ونه کړي. داسي نازك او حساس حالت هم رامنځته شو چې پیغمبر علیه السلام؛ صحابه وو ته وویل: پاڅئ او له احرام ووځئ؛ خلک دومره ناراض، خفه او پرېشان وو چې هیڅوک له خپل ځای ونه خوځېدو؛ پیغمبر علیه السلام خپلې خیمې ته ولاړ او له خپلې هوښیاري مېرمني ام سلمه رضی الله عنها سره ځې مشوره وکړه او د انتظار خلاف حالت ځې هغې ته بیان کړ؛ مېرمني ځې ورته وویل: یا رسول الله! اندېښنه مه کوه؛ صحابه فکر کوي چې که مونږ خپل خفګان او نارضایتي وښیو؛ نو کېدی شي رسول الله صلی الله علیه و سلم دا فیصله بدله کړي؛ ته لاړ شه؛ له احرام ووځه؛ په دې سره به دوی پوه شي چې دا پرېکړه بدلېدونکې نه ده؛ همداسي وشول.

د جنګ په میدان او حالت کې مشر ته فوق العاده صلاحیت ورکول؛ دا طبیعي او ټولو خلکو ته د منلو وړ کار دئ، په ټولو هېوادو کې ګورئ چې د جنګ په حالت کې حتی منتخب پارلمانونه منحل شي او زعیم ته د قانون له

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

مخي فوق العاده صلاحیتونه ورکړی شي، د استثنائي حالت په مقرراتو د عام او عادي حالت قوانین قیاسول؛ اشتباه ده.

دا هم په پام کې ولرئ چې دا یوازینی مورد دئ، په دې کې هم ډېری صحابه، حتی چې د عمر رضی الله عنه په څېر شخصیتونه هم له هغې معاهدې سره موافق نه ول، خو نه چا اعتراض کړی او نه مخالفت، که پیغمبر علیه السلام مشوره کړې وی او بیا ئې د اکثریت له رأیې سره مخالفت کړی وی؛ یا صحابه وو خپل مخالفت څرګند کړی او پیغمبر علیه السلام د هغوی څرګند مخالفت ته هیڅ اعتناء نه وی کړې، نو ستاسو وینا او استدلال په ځای او وارد وو، خو داسې نه دي شوي او په دې پېښې باندې استناد سره هیڅوك د دې ادعاء حق نه لري چې امیر د شوری د غړو رأیې په متابعت مکلف نه دئ، دا ناسم تعبیر او غلط قیاس دئ.

دا هم باید په پام کې ولرو چې که په همدغه استثنائي او حساس مورد کې؛ د صحابه وو هغه قوي او مضبوط ایمان او د رسول الله صلی الله علیه و سلم په وړاندې د بشپړ اطاعت او تسلیمي؛ جذبه نه وی؛ او د پیغمبر علیه السلام پر ځای کوم بل شخصیت د دوی مشري پر غاړه درلودی؛ نو کېدی شو له همدې پېښې یوه ستره فتنه راولاړه شوې وی؛ اکثریت ناراض وو خو له اعتراض او مخالفت ئې ډډه کړې؛ په دې کې د مسلمانانو لپاره یو ستر درس پروت دئ؛ دا چې: دې ته ورته شرائطو کې به همغه څه کوئ چې صحابه وو په همغه ورځ وکړ؛ ناراض وو خو مخالفت ئې نه دئ کړی. د مسلمانانو زعامت او مشرتابه ته هم دا لارښوونه شوې چې په داسې حساس وخت کې باید محتاط اوسي؛ داسې حزم او عزم باید ولري لکه چې پیغمبر علیه السلام وښود؛ له تذبذب پرته دي تصمیم ونیسي.

راتلونکو پېښو وښوده چې د پیغمبر علیه السلام پرېکړه ډېره حکیمانه او پر ځای وه، الله تعالی د همدې پرېکړې په تأیید کې د الفتح مکمله او جامع سوره نازله کړه او دغې معاهدې ته ئې د څرګندي فتحي او بریا نوم

deenodanish.com له Deen-o-Danish څخه ښکته شوی

ورکړ.

دا چې د قرآن لارښووني، د رسول الله صلى الله عليه و سلم قولي او فعلي سنت؛ د صحابه وو منهج؛ په واضح توګه موږ ته لارښوونه کوي چې امير؛ په ټولو اجتماعي مهمو مسائلو کې له مسلمانانو سره په مشوره مکلف دئ؛ پرې واجب ده چې له دوی او د دوی له وکيلانو سره به مشوره کوي او د اکثريت فيصلې ته به عملاً تمکين او التزام لري، په دې اړه مو کافي دلائل له نظره تېر شول؛ داسې چې هيڅا ته د شک مجال نه پرېږدي؛ پر دې سربېره:

د قرآن له نظره د غيراسلامي نظامونو شورى

قرآن د غير اسلامي نظامونو د معرفي په لړ کې د هغوی يوه ځانګړتيا همدا ښيي چې د پرېکړې وروستۍ مرجع واکمن وي، درباريان د مشورو په دوران کې هغوی ته همدا وايي چې موږ خپله عاجزانه رأيه ستا حضور کې وړاندي کوو خو پرېکړه ستا کار دئ، واکمن هم ځان ټولواك ګڼي او خپلو مشاورينو ته وايي: سمه خبره همغه ده چې زه ئې درته وايم! قرآن دا دواړه خبرې د فرعون او د سبإ د ملکې په اړه راوړې دي، د سبإ د ملکې درباري مشاورينو او سرکاري مفتيانو ورته وويل: موږ جګړې ته چمتو يو؛ ځواکمن او جنګيالی قوم يو؛ خو پرېکړه ستا کار دئ، وګوره چې خوښه دي څه ده او څه مناسب ګڼې، د قرآن الفاظ دا دي:

قَالَتْ يَٰٓأَيُّهَا ٱلْمَلَؤُا۟ أَفْتُونِى فِىٓ أَمْرِى مَا كُنتُ قَاطِعَةً أَمْرًا حَتَّىٰ تَشْهَدُونِ ﴿٣٢﴾ قَالُوا۟ نَحْنُ أُو۟لُوا۟ قُوَّةٍ وَأُو۟لُوا۟ بَأْسٍ شَدِيدٍ وَٱلْأَمْرُ إِلَيْكِ فَٱنظُرِى مَاذَا تَأْمُرِينَ﴿٣٣﴾ النمل: ۳۲-۳۳

(ملکې) وويل: اې درباريانو! په دې کار کې مي مشوره راکړئ، زه خو تر هغه د کوم کار پرېکړه نه کوم چې تاسو راته حاضر شئ! هغوی وويل: موږ

deenodanish.com ځخه ښکته شوی له Deen-o-Danish

ځواکمن یو او کلك جنګیالي، او کار تا ته محول دئ، نو وګوره چې څه امر کوې!!

په دې مبارکو آیتونو کې په یوه غیر اسلامي نظام کې د شورى څرنګوالی په ډېره دقیقه توګه ښودل شوی، چې څو خبرې ئې ډېري جالبي دي:

- ملکه وایي: زما د دې کار په اړه څه مشوره راکوئ؟ داسي نه وایي چې د دغه کار چې په ټول ولس او هېواد پوري تړلی دئ؛ په اړه ئې څه رأیه لرئ؟ له الفاظو (أَفْتُونِي فِيٓ أَمۡرِي) داسي معلومېږي چې ملکې خپله پرېکړه هغوی ته اعلان کړې؛ فقط له دوی غواړي چې خپله موافقه اعلان کړي!!
- ورته وایي چې زه خو ستاسو په غیاب کې پرېکړه نه کوم، تل تاسو راغواړم او ستاسو په وړاندې فیصله کوم!!
- درباریان ورته وایي: مور ځواکمن یو، توریالي یو او جګړې ته چمتو، خو پرېکړه ستا کار دئ، څه چې ستا خوښه وي هغه به کوو!!

دا قصه د دې لپاره راغلې چې مسلمانان د دغو غوړمالو او ذلیلو درباریانو په څېر نشي او شورى ئې د پاچایانو شورى ته ورته نه وي.

فرعون ته هم یوه داسي درباري څو نېکي مشورې ورکړې چې په پټه ئې ایمان راوړی وو، غوښتل ئې له موسى علیه السلام دفاع وکړي او فرعون د هغه له وژلو منع کړي، دا هغه مهال وو چې فرعون خپلو درباریانو ته وویل: ما پرېږدئ چې موسى ووژنم؛ او دې درباري چې ایمان ئې راوړی وو پاڅېد او په ډېره مېرانه ئې له موسى علیه السلام دفاع وکړه؛ یو مؤمن درباري چې د فرعون له دربار ئې له حق د دفاع مضبوط او ځواکمن سنګر جوړ کړی وو؛ الله تعالى هم هغه ته دومره ستر مقام او منزلت ورکړ چې د هغه دا همتناکه وینا ئې په قرآن کي داسي درج کړه چې مؤمنان به ئې تر قیامته لولي!! د قرآن نږدې یوه نیمه صفحه ئې د هغه اقوالو ته مختص کړه؛ خو فرعون په ځواب کې ورته وویل: زه همغه څه تاسو ته وایم چې ښه پرې

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

پوه شوی يم او زه چې تاسو ته کومه لارښوونه کوم هغه د ترقي او کمال په لوري لارښوونه ده!! د قرآن الفاظ دا دي:

يَٰقَوۡمِ لَكُمُ ٱلۡمُلۡكُ ٱلۡيَوۡمَ ظَٰهِرِينَ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَمَن يَنصُرُنَا مِنۢ بَأۡسِ ٱللَّهِ إِن جَآءَنَاۚ قَالَ فِرۡعَوۡنُ مَآ أُرِيكُمۡ إِلَّا مَآ أَرَىٰ وَمَآ أَهۡدِيكُمۡ إِلَّا سَبِيلَ ٱلرَّشَادِ ٢٩ غافر: ۲۹

(هغه مؤمن درباري) وويل: نن خو پاچايي ستاسو ده؛ په داسي حال کې چې په دې سيمي برلاسي او غالب يئ، خو که د الله عذاب راشي؛ څوك به مو مرسته وکړی شي؟ فرعون وويل: زه همغه څه تاسو ته وايم چې پرې پوه شوی يم او يوازي د رشد او هدايت لار درښيم!!

په دي کي الله تعالی د مسلمانانو امیرانو ته لارښوونه کوي چې د فرعونيانو په څير مه کېږئ؛ خپله رأيه د يو فرد په توګه په مجلس کي وړاندي کړئ؛ او وګورئ چې اکثريت په څه باندي توافق کوي؛ خپله رأيه آسماني او آخري مه ګڼئ؛ او له نورو دا انتظار هم مه کوئ چې ستاسو هري خبري ته به سر ټيټوي؛ چې که ښه وي او بده وي هغه به مني؛ هغه په شوری کي يو فرد دئ او حق ئې هم د شوری د نورو غړو په څېر دئ؛ پر نورو هيڅ امتياز او تفوق نه لري؛ کار هم د ده شخصي نه دئ؛ په ټولو پوري مربوط کار دئ؛ ټول به په ګډه په دې ارتباط تصميم نيسي.

آيا دغه آيتونه کفايت نه کوي چې ووايو: غيرملزمه شوری د غيراسلامي نظامونو ځانګړتيا ده، هغه شوری چې پرېکړي ئې ملزمي نه وي او امير مجبور او مکلف نه وي چې د اکثريت فيصلي به مني او عملي کوي؛ دا د غيراسلامي نظامونو شوری ده؛ فرعونيان او هغه چې د فرعون يو رګ په کي وي داسي شوری خوښوي؟!! يو مؤمن انسان چې د حق تږی او د حق په لټه کي وي؛ له هر چا چې د حق خبره واوري؛ مني ئې او له خپلي خبري

deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

تېرېږي؛ کله چې وګوري اکثریت وګړي او ملګري ئې د یوې رأیې حمایت کوي؛ له خپلې رأیې تېرېږي او د اکثریت خبره مني؛ مغرور نه وي؛ پر خپلې خبرې بې ځایه ټینګار نه کوي؛ خپله وینا تر نورو غوره نه ګڼي؛ دلیل وایي؛ که نور ئې قانع کړی شو؛ ښه او که نه نو د اکثریت رأیې ته د وروستۍ فیصلې په سترګه ګوري.

قرآن د فرعون او د سبإ د ملکې دا قصې د دې لپاره رااخیستې چې مورږ ته ووایي: په غیراسلامي نظامونو کې واکمن ټولواک وي، وروستۍ پرېکړه د ده له لوري کېږي، هغه ځان عقل کل ګڼي، خپله رأیه تر ټولو غوره او لوړه ګڼي، شوری ئې ملزمه نه وي، ټولواک د شوری پرېکړو ته په التزام مکلف نه وي. مشر ته د ټولواک نوم ورکوي؛ زمورږ پاچایان هم ټولواکان ګڼل کېدل؛ په داسې حال کې چې یوازې الله تعالی ټولواک دئ او بس؛ داسې نومونه چاته ورکول ناجائز دي؛ او د دې لپاره چې مورږ ته ووایي: په کوم نظام کې چې دا خصوصیات وي؛ هغه اسلامي نظام نه بلکې فرعوني نظام وي، مورږ باید غیر اسلامي نظامونه وپېژنو او د غیراسلامي ټولنې د ملک، امیر، پاچا او د ټولواک خصلتونو باندې ځان پوه کړو او له هغې ډډه وکړو؛ لکه چې د اسلامي ټولنې د مشرتابه مثالونه زمورږ مخې ږدي؛ د پیغمبرانو علیهم السلام په شخصیت او کړنو کې ئې انځوروي؛ همداسې د فرعون او سبإ د ملکې قصه، خصوصیات او خصلتونه ئې؛ زمورږ مخې ته ږدي چې دواړه سره تفکیک کړی شو؛ هغه اسلامي نظام نه بلکې غیراسلامي نظام وي؛ خلافت نه بلکې ملوکیت وي، شوری ئې د غوړمالانو او چاپلوسانو مجموعه وي چې د مَلِك او سلطان رضاء ترلاسه کول ئې د هرې وینا اصلي موخه وي!!

آیا قرآن کافي او بشپړ نه دئ؟

هغه چې قرآن د ژوندانه د ټولو ابعادو او ټولو قضایاوو لپاره کافي او شافي نه ګڼي؛ او د خپلې رأیې د اثبات لپاره له قرآن کوم شاهد او سند نشي

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

وړاندي کولې؛ نو وايي: د قرآن الفاظ محدود دي او قضايا بې حده ډېر، نو ځکه مجبورېږو چې د نويو نويو قضاياوو په اړه نوې نوې پرېکړې وکړو!! د زماني بدلېدو سره قضايا هم پېچلي کېږي؛ زياتېږي او له نويو پېښو او قضاياوو سره مخامخ کېږو؛ چې ګواکي په مخ کې ئې مثال او بېلګه نه مومو؛ نو مجبورېږو چې د دې په ارتباط نوې فيصلې او پرېکړې وکړو؛ خبرې ئې په ظاهر کې سېې برېښي خو په ماهيت او واقعيت کې ډېره زياته غلطه خبره ده؛ د خبرې معنی ئې دا ده چې ګواکي قرآن کافي نه دئ؛ بايد مورږ اوس د نويو پېښو او قضاياوو په ارتباط نوې فيصلې او پرېکړې وکړو؛ دا قضايا او فيصلې ئې په مخ کې مثال نه لري؛ په تاريخ کې ئې بېلګې نه شو موندلی؛ مجبور يو چې د نويو قضاياوو په اړه نوي احکام را وباسو؛ او نوې پرېکړې وکړو؛ په دې اړه څو وضاحتونه ضروري ګڼو:

مورږ له هغو خلکو سره قطعاً موافق نه يو چې د داسي الفاظو په کارولو سره غواړي وښيي د قرآن لارښوونې او ارشادات د ژوند د ټولو قضاياوو په اړه کافي او بشپړ نه دي، يوازي مبادي او کليات ئې ذکر کړي، تفصيلات او جزئيات ئې خلکو ته پرېښي!! په داسي حال کې چې الله تعالی قرآن داسي معرفي کوي چې د هر څه لپاره تفصيل دئ:

لَقَدۡ كَانَ فِي قَصَصِهِمۡ عِبۡرَةٞ لِّأُوْلِي ٱلۡأَلۡبَٰبِۗ مَا كَانَ حَدِيثٗا يُفۡتَرَىٰ وَلَٰكِن تَصۡدِيقَ ٱلَّذِي بَيۡنَ يَدَيۡهِ وَتَفۡصِيلَ كُلِّ شَيۡءٖ وَهُدٗى وَرَحۡمَةٗ لِّقَوۡمٖ يُؤۡمِنُونَ ١١١ يوسف: ۱۱۱

يقيناً چې د دوی په قصو کې د عقل خاوندانو ته ځانګړی پند او عبرت (پروت)دئ، دا هسې له ځانه جوړه شوې وينا نه ده، بلکې تر ځان د مخکينيو (کتابونو) تصديق او تأييد دئ او د هر څه تفصيل او د ايمان راوړونکو لپاره لارښود او رحمت.

deenodanish.com له Deen-o-Danish څخه ښکته شوی

او قرآن د تورات په اړه فرمايي:

ثُمَّ ءَاتَيۡنَا مُوسَى ٱلۡكِتَٰبَ تَمَامًا عَلَى ٱلَّذِيٓ أَحۡسَنَ وَتَفۡصِيلٗا لِّكُلِّ شَيۡءٖ وَهُدٗى وَرَحۡمَةٗ لَّعَلَّهُم بِلِقَآءِ رَبِّهِمۡ يُؤۡمِنُونَ ١٥٤ الانعام: ١٥٤

بيا مو موسى ته هغه كتاب وركړ چې د غوره (ويناوو او احكامو) له پلوه بشپړ او د هر څه لپاره تفصيل وو، (د خلكو) لارښود او (د دوى لپاره د) رحمت (وسيله)، د دې لپاره چې له خپل رب سره په مخامخېدو ايمان راوړي.

گورئ چې تر قرآن وړاندي؛ بل الهي كتاب؛ تورات هم د غوره (ويناوو او احكامو) له پلوه بشپړ او د هر څه لپاره تفصيل وو، (د خلكو) لارښود او (د دوى لپاره) د رحمت (وسيله)، او تاسو پوهېږئ چې قرآن پر تورات او انجيل او ټولو مخكينيو الهي كتابونه مهيمن دئ او د هغوى پر محتوياتو ئې احتواء كړې او ټولې هغه لارښوونې او احكام ئې بيان كړي چې تر صحابه وو وړاندي د موسى او عيسى او نورو پيغمبرانو عليهم السلام امتونو ورته ضرورت درلود او انساني ټولنه تر ننه او د قيامت تر ورځې ورته اړتيا لري، د زمانې په بدلېدو او د ظروفو او شرائطو په تغيير سره؛ له آدم عليه السلام تر ننه پورې؛ هماغه انسان دئ؛ طبيعت او فطرت ئې هماغه دئ؛ د انسان الهي فطرت نه بدلېږي؛ الهى سنن نه بدلېږي؛ سنن ثابت دي؛ د انسان فطرت هماغه دئ چې الله تعالى په لومړي ځل پيدا كړى؛ تر قيامته پورې به ئې فطرت همدغه وي؛ اړتياوې به ئې همدغه وي؛ ضرورتونه به ئې همدغه وي؛ هماغه لارښوونو ته ضرورت لري چې آدم عليه السلام د پيدايښت له ورځې ورته ضرورت درلود؛ تر قيامته پورې به ئې هماغه ضرورتونه وي. نه د انسان فطرت او طبيعت بدلېږي او نه ئې د ټولنې د اجتماعي مناسباتو څرنگوالى؛ د نن ورځې انسان همغه د پېړيو پېړيو وړاندي انسان دئ؛ د خپل فردي او اجتماعي ژوند د تنظيم لپاره همغو لارښوونو او احكامو ته تر نن

deenodanish.com له Deen-o-Danish څخه ښكته شوى

وړاندي اړ وو او تر نن وروسته به ورته اړ وي.

د نوح عليه السلام په زمانه کي؛ په يو لړي پروت کلي کي؛ د انسانانو يوې وړې ټولني؛ هماغه څه ته ضرورت درلود چي نن ئې يو انسان په نيويارک کي لري؛ د نيويارک انسانان هماغه دي چي پخوا د نوح عليه السلام په زمانه کي په يوه لري پراته کلي کي اوسېدل؛ ضرورتونه او اړتياوي ئې هم هماغه.

همداراز فرمايي:

وَمَا مِن دَآبَّةٍ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلَا طَٰٓئِرٖ يَطِيرُ بِجَنَاحَيۡهِ إِلَّآ أُمَمٌ أَمۡثَالُكُمۡۚ مَّا فَرَّطۡنَا فِي ٱلۡكِتَٰبِ مِن شَيۡءٖۚ ثُمَّ إِلَىٰ رَبِّهِمۡ يُحۡشَرُونَ ٣٨ الانعام: ٣٨

او نه په زمکي کي داسي هيڅ خوځېدونکی شته او نه (په هوا کي) په دوارو وزرونو الوتونکی مرغه، چي دوی دي هم ستاسو په څېر؛ ټولی ټولی نه وي، په دې کتاب کي مو هيڅ څه نه دي پرېښي، بيا به د خپل رب لوري ته ورټول کړی شي.

دا د هغو خلکو په ځواب کي ويل شوي چي داسي معجزه غواړي چي انکار تري ممکن نه وي او هر ليدونکی ايمان راوړو ته اړ او مجبور کړي، قريشو له پيغمبر عليه السلام همدا شرطونه او غوښتني درلودې؛ ويل ئې: په تا ايمان نه راوړو تر هغه چي د نورو پيغمبرانو په څېر معجزې راونه ښيې؛ د موسی عليه السلام او عيسی عليه السلام په څېر معجزې؛ يا تر تا وړاندي د نورو پيغمبرانو په څېر معجزې؛ داسي معجزه چي ترې ثابته شي؛ ته د الله تعالی له لوري لېږل شوی پيغمبر يې!! آسمان ته وخېژه او له بره موږ ته ليکلی کتاب راوړه؛ داسي کتاب چي موږ ئې په خپل لاس مسح کړی شو؛ په وچي بيديا کي يوه چينه راوباسه؛ د سرو سپينو زرو قصر ځان ته جوړ کړه؛ له زمکي د رنګ رنګ مېوو باغ راوټوکوه، او دې ته ورته نوري غوښتني؛ پيغمبر عليه السلام په حيرت سره هغوی ته فرمايي: سبحان الله!! مگر زه

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

ستاسو په شان يو بشر نه يم؟! معجزې د الله تعالى په واک کې دي؛ نه زما په اختيار کې! الله تعالى فرمايي: مخکينيو په دي معجزو ايمان رانه وړ؛ که دوی د معجزو په لېدو سره ايمان راوړلی؛ نو مخکينيو به پرې ايمان راوړی وو!! الله تعالى به ولې يوه ناکامه او بې نتيجې تجربه بيا تکراروي؟!! تا ته د معجزو نه ښودلو وجه دا ده چې مخکينيو پرې ايمان نه دئ راوړی!! ستا معجزه فقط او فقط قرآن دئ؛ تر قيامته پورې به همدا معجزه وي؛ قرآن د معجزې په توګه کافي دئ!! قرآن د داسې سلګونو معجزو مجموعه ده چې هره يوه ئې د ټولو مخکينيو پيغمبرانو عليهم السلام تر ټولو معجزو ستره ده. هم د موسى عليه السلام تر معجزو ستره او تلپاته او هم د عيسى عليه السلام تر معجزو ستره او دائمي. په ځواب کې ورته ويل شوي:

- الله تعالى د داسې معجزې په ښودلو هم قادر دئ، خو دا کار د ده د سنت مطابق نه دئ.
- الله تعالى هر مخلوق له ځانګړو خصوصياتو سره پيدا کړی، ژوي ئې د ښلو ښلو ځانګړتياوو سره ټولې ټولې پيدا کړي، لکه دا چې ځينې حيوانات پر زمکه خوځېږي ځينې په پښو دروميې، ځينې په سينه خوځېږي، ځينې دوه پښې لري او ځينې څلور پښې او لکه مرغان چې پر خپلو وزرونو الوځي، انسان ئې هم له خاصو ځانګړتياوو سره پيدا کړی، د ده ستره ځانګړتيا دا ده چې انتخاب کولی شي، که دا د انتخاب ځانګړتيا ترې واخيستل شي او د کومې خبرې په منلو مجبور کړی شي، بيا خو د ده امتياز له منځه ځي او د نورو مجبورو او بې اختيارو حيواناتو په څېر ګرځي، الله تعالى نه غواړي له انسان سره داسې معامله وکړي.

په قرآن کې ټول هغه دلائل ويل شوي چې عقلمن او د هدايت په لټه کې انسان ته کفايت کوي.

په قرآن کې هر هغه څه بيان شوي چې انسان ورته ضرورت لري؛ هيڅ

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

څه ترې نه دي پاته شوي. دا د قرآن خپله وينا ده چې وايي: هيڅ څه له قرآن نه دي پاته شوي؛ هرڅه ئې بيان کړي؛ همدغه وړ کتاب (قرآن) چې تاسو ئې په خپل جيب کې ساتلی شئ؛ عظمت ئې دومره لوړ او ستر چې د عالم ټول اسرار هم له دي کتاب سره برابری نه شي کولی؛ الله تعالی موږ ته دا عالم داسي انځور کړی لکه يو پرانيستی کتاب؛ چې په سترګو ليدل کېږي؛ هر توکی ئې د آيت (نښه) په نامه ياد کړی او قرآن ئې هم د داسي کتاب په نامه ياد کړی چې هر فقره او جمله ئې د آيت په نامه ياد کړی؛ لکه چې د عالم هر څه يو آيت ګڼي؛ د قرآن يوه جمله هم آيت ګڼي؛ دواړه څرګندي نښي دي؛ يوه ئې مشهود او په سترګو ليدونکې نښه او بله ئې مقروء او لوستل کېدونکې نښه!! دواړه په حقيقت د پوهېدو نښي او علائم دي. موږ د خپل رب په لوري بيايي؛ خدای راښيي؛ پر خدای د ايمان بلنه راکوي؛ د دې عالم هرڅه يوه نښه ده؛ چې موږ ته خدای ثابتوي.

د دغو دوستانو ادعاء د قرآن له دې صريح ويناوو سره ټکر کوي چې وايي: هر څه ئې په تفصيل سره بيان کړي، هيڅ څه ئې نه دي پرېښي.

دا صحيح ده چې د قرآن الفاظ محدود دي، خو دا د قرآن اعجاز دئ چې په محدودو الفاظو سره ئې هومره حقائق بيان کړي چې د انسان هري پوښتني ته ځواب وايي، د همدي وړوکي کتاب د شرحي او تفصيل لپاره ستر ستر کتابونه هم کفايت نه کوي؛ تر ننه په تېرو څوارلسو پېړيو کې په زرګونو تفسيرونه وليکل شول، هيڅ مفسر ونه ويل چې ما د قرآن ټول اسرار بيان کړی شول، په داسي حال کي چې د پخوانيو مفسرينو تفاسير ئې مخي ته پراته وو؛ هغه ئې هم کافي نه دي ګڼلي؛ مجبور شوی چې خپله يو څه وليکي؛ هغه ته داسي نوې خبري په ذهن کي ورغلې؛ نوي اسرار ئې درک کړي؛ په نويو شيانو پوه شوی؛ چې مخکيني مفسرين ورته متوجه شوي نه وو؛ ده ته اوس معلوم شوي؛ ځان ئې مجبور ګڼلی چې کښېني؛ کلونه کلونه د قرآن مخي ته زنګون ووهي؛ تحقيق وکړي او بالآخره په څو څو جلدونو

deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

کې تفسیر ولیکي؛ دا دئ ګورئ چې د تفسیرونو لړې لاروانه ده، څوارلس نیمي پیړۍ وروسته هم خلک لګیا دي او تفاسیر لیکي، معلومه نه ده څومره نور تفسیرونه به ولیکل شي او د قرآن څومره نور اسرار به څرګند شي. د همدې قرآن د احکامو اړوند نړدې پنځه سوه آیتونه؛ داسې دي چې د شرحي لپاره ئې په لسګونو ضخیم فقهي کتابونه لیکل شوي.

بې مناسبته به نه وي چې ووایو: په ټول قرآن کې د اودس په اړه یوازې یو آیت نازل شوی، خو که تاسو د فقه کتابونو ته رجوع وکړئ وبه ګورئ چې په دې موضوع هومره مشرح او مفصل بحث شوی چې د هر فقهي کتاب یوه لویه برخه جوړوي، دا به هم بې مناسبته نه وي که ووایو: که تاسو دا مفصل او مشرح فقهي بحث؛ د شورى، امارت، جهاد او هجرت په څېر له بحثونو سره مقایسه کړئ نو وبه ګورئ چې مقایسه ئې نشي کېدی، دا پداسې حال کې چې د دغو قضایاوو په اړه د قرآن آیتونه ډېر زیات او د اودس په پرتله څو څو برابره دي، زمونږ درنو فقهاءو ولې دا کار کړی، د دوی د وخت شرائط همداسې وو او د دې تقاضی ئې کوله او که کوم بل مصلحت ئې په پام کې نیولی؟ په دې اړه څه ویل نه مفید دي او نه ضروري، مهمه خبره دا ده چې اوس باید دا تشه ډکه شي، د قضایاوو په اړه زمونږ اهتمام او شرح او توضیح ئې باید په همغه تناسب وي چې د الله په کتاب کې ورته اهتمام شوی، د شورى په اړه بحث باید د اودس په نسبت لږ تر لږه درې برابره وي، دا ځکه چې د اودس په اړه یو آیت راغلی او د شورى په اړه درې آیتونه.

دا هم باید په پام کې ولرو چې د رسول الله صلی الله علیه و سلم په مبارك ژوندانه کې؛ او د ده په لاس جوړې شوې ټولنې کې د قرآن تفسیر؛ عیني او عملي تجسم موندلی؛ عملاً قرآن پلي شوی او د هغې ټولنې هر اړخ ته چې به دي لیدل نو ژوندی قرآن به دي لیدو؛ د همدې ټولنې ټول فردي او اجتماعي اړخونه ئې تنظیم کړي او د هرې قضیې په اړه ئې مسلمانانو ته

deenodanish.com څخه ښکته شوی له Deen-o-Danish

ويلي چې څه بايد وکړي او څه ونه کړي، تر قيامته به داسې قضيه رامنځته نشي چې بېلګه او مثال ئې په دې ټولنې کې ونه مومو؛ او نويو لارښوونو ته اړ شو؛ فقط دومره کار ته به اړ کېږو چې ننني قضيه له هغو مخکينيو سره قياس کړو چې هغه مهال رامنځته شوې.

يو ليکوال چې غواړي خپله دا رأی توجيه کړي چې کېدی شي په اسلامي نظام کې د امير المؤمنين تر څنګ صدراعظم هم ولرو؛ نو د خپلې خبرې د تأييد لپاره د قرآن او حديث پر ځای د يوه ليکوال په رأيې استناد کوي او ليکي: وتلی محقق عالم او ليکوال علامه مناظر احسن ګيلاني رحمه الله ليکي: د الهي وحي او د نبوت په مبارکه ژبه تر امت رسېدلې معلومات په محدودو الفاظو او کلماتو کې ځای کېږل شوي او بل لور ته د بشري ژوندون حال دا دئ چې د هري ورځې لمر؛ د ځينو داسې نويو او پېچلو حالاتو سره يوځای؛ څرګ وهي چې د هغوی بېلګې وړاندې نه وې ليدل شوې؛ همدغو راتلونکو نويو پېښو او حالاتو ته د فقهاءو په اصطلاح کې (الحوادث و النوازل) ويل کېږي، څرګنده ده چې يو لور ته د الهي وحي الفاظ محدوديت لري او بل لور ته حوادث او نوازل لامحدود؛ يا په بل عبارت لامتناهي دي!! د دې دواړو حالتونو تشه د اجتهاد او عقلي لاسوهنې پرته ډکول ناشوني دي...!! او په پای کې ليکي: دا هغه اړتيا ده چې د پوره کولو لپاره ئې مور د دنيا په چارو کې؛ نه يوازې په ديني معاملاتو کې؛ هم اجتهاد، عقل او فقهي ته اړ يو." دا د ځينو رأيه ده؛ په ما او زما په يوې ليکنې باندې ئې د اعتراض په توګه ليکلې؛ خو ما ئې په همغه وخت کې ځواب ويلی او ځيني برخې مې اوس رانقل کړې دي چې مزيد وضاحت ئې وشي، د دوی د دې وينا او استدلال په اړه څو عرائض لرو:

۱. دا استدلال ډېر کمزوری او ناوارد دئ. نه پوهېږو چې په دې استدلال سره دوی څنګه دا ثابتوي چې د امير انتخاب د اهل حل و عقد دنده ده؛ نه د ټولو مسلمانانو؟! يا د صدر اعظم درلودل ضروري دئ.

deenodanish.com څخه ښکته شوی له Deen-o-Danish

۲. که د بحث موضوع هغه حوادث او نوازل وي چې د امت په تېر تاریخ کې ئې بېلګه نه موندل کېږي؛ نو بیا خو دې استدلال څه ناڅه وزن درلود، نه پوهېږو چې دوی څنګه د امیر د انتخاب په څېر ستره موضوع په نوازلو کې شمېري؟!! مګر د امیر د انتخاب څرنګوالی څرګند او واضح نه دئ؛ مورِ ئې په تاریخ کې واضح مثال نه لرو؟ دې ته څنګه دوی د نوازلو نوم ورکوي یا د صدر اعظم درلودل او نه درلودل؛ دا مګر په نوازلو کې راځي؛ پکار خو دا ده چې ووایي: د خلفاء راشدینو په وخت کې صدراعظم نه وو؛ نو اوس دي هم صدراعظم نه وي. متأسفانه ځیني د مفاهیمو په تطبیق کې ستونزه لري؛ اجازه راکړئ یو مثال ئې له تاسو سره شریک کړم: یو وخت مې په یوه تربیتي سیمینار کې ګډون کړی وو؛ ماشاءالله ډېرو مجاهدینو پکې ګډون کړی وو؛ د سهار په لمانځه کې مې قنوت نازله وویله؛ پیغمبر علیه السلام د پنځو - لسو صحابه وو د شهادت په ارتباط قنوت نازله ویلې؛ متأسفانه چې مورِ ئې له تطبیق عاجز یو؛ په دې نه پوهیږو چې نوازل څه ته وایي!! هره ورځ په سلګونو بې ګناه افغانان؛ په افغانستان کې وژل کېږي؛ ځینو ته دا هم نوازل نه ښکاري؛ په کتابونو کې ئې لوستلي چې د قنوت دعاء د نوازلو او مصیبتونو په دوران کې په لمانځه کې لوستل شوې!! خو نه ئې په معنی پوهېږي او نه ئې د تطبیق فهم او بصیرت لري.

له لمانځه وروسته متوجه شوم چې یو مولوی صاحب؛ ژر پاڅېد او یوې خوڼې ته ننوت؛ ورپسې ورغلم؛ ترې ومې پوښتل: مولوی صاحب! خیرت خو وو؛ لکه چې لمونځ دي راوګرځاوو؟! وئې ویل: امیر صاحب! قنوت نازله خو په نوازلو کې ویل کېږي!! په حیرانتیا مې ترې وپوښتل: دا هره ورځ چې په سلګونو افغانان وژل کېږي؛ دا لکه چې نه نوازل دي او نه مصیبتونه!!

۳. دا وینا په ناسمه توګه کارول شوې چې "د الهي وحي او د نبوت په مبارکه ژبه تر امت رسېدلي معلومات په محدودو الفاظو او کلماتو کې ځای کړل شوي"، له دې وینا دا راایستل چې د نویو پېښو او قضایاوو لپاره نوي

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

احکام راایستل جائز دي؛ بې ځایه او ناسم استدلال دئ، مورِ په دې عقیده یو چې قرآن کامل، بشپړ او کافي دئ، هیڅ څه ئې نه دي پرېښي، په قرآن کې هره هغه لارښوونه راغلې چې د قیامت تر ورځي انسانان ورته ضرورت لري، یا په مفصله توګه او یا په مجمله توګه، دا د قرآن اعجاز دئ چې په محدودو الفاظو کې ئې هومره لارښووني راغلې چې د انسان د ټول ژوند لپاره؛ له ټولو پېچلو او پراخو ابعادو سره ئې، د قیامت تر ورځي کفایت کوي، باور مو همدا دئ چې تر قیامته پوري نه بل پیغمبر راځي او نه هم بل کتاب؛ پیغمبر مو خاتم الانبیاء دئ؛ آخري پیغمبر همدا دئ او آخري کتاب مو هم همدا قرآن؛ د پیغمبر علیه السلام په زرګونو احادیث د همدې محدود قرآن شرحه ده، د فقهي ضخیم ضخیم کتابونه له همدغو منابعو سرچینه اخلي، هغه رأیه د منلو وړ ده چې له قرآن او حدیث سره سمون خوري، له دې آخوا چې څوک کومه رأیه ورکوي؛ د هغه شخصي رأیه ده، هیڅوک ئې پر منلو او پلي کولو مکلف نه دئ. هره رأی به یوازي د دلیل له مخې منې، دا کافي نه ده چې څوک ووایي: فلان علامه دا خبره کړې، فلان عباسي امیر دا کار کړی... نو ځکه دا د شریعت جزء ده او مورِ ئې پر منلو او کولو مکلف یو!!

٤. یو مهال مورِ د کمونیستانو او سیکولرانو له دې پوښتنې سره مخامخ وو چې ویل به ئې: مسلمانان ادعاء کوي چې په قرآن کې هر څه بیان شوي؛ که داسي وي نو مورِ ته په قرآن کې ترافیکي قوانین راوښیئ! اوس له علامه وو او د دوی له پلویانو دې ته ورته خبرې اورو چې د قرآن الفاظ محدود دي او د ژوند د لامحدودو پېښو او قضایاوو په اړه لارښووني په کې نه دي بیان شوې، د دغو پېښو په اړه اجتهاد ته اړ یو!! د دواړو د دې ورته وینا په اړه څو عرائض لرو:

ټرافیکي قوانین؛ قوانین نه بلکې اجتماعي او انساني ټرونونه او مقررات دي، په داسي مواردو کې اسلام مورِ ته هغه بنسټیزي لارښووني کړې دي چې

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

داسي مقرارات او ټرونونه ورته ضرورت لري، لکه دا چي: په ښي لاس درومه، بل ته ضرر او اذیت مه رسوه، لاره مه ناپاکوه، په لاره کي مضر شئ مه اچوه، که دي مضر شئ ولید؛ نو لري ئې کړه، خپل نوبت مراعات کړه، په خپل حق او وار قناعت کوه، د ژمنو مراعات کوه، ... د عمد او خطاء قتل او جرح سزا به څه وي... او امثال د دې.

هغه ضروري مسائل چي په دي شیانو پوري مربوط دي؛ هغه ئې ټول بیان کړي دي؛ سره او شنه څراغونه د دې لپاره دي چي نوبت د چا دئ؛ نوبت وېشل شوی؛ دا قانون نه دئ؛ دا یوه مقرره او ټرون دئ؛ سور څراغ د دې لپاره لګېږي چي اوس ستا نوبت نه دئ؛ د بل وار دئ؛ شین څراغ تا ته وایي: اوس ستا وار دئ؛ تېرېدی شې.

یو وخت مي د یوه داسي خطیب وینا د تلویزیون له لاري اورېده چي هره خبره ئې په ډېر زور سره کوله، هغه هم په وړو وړو خبرو د ترکیز پر مهال، په دې ئې ټینګار کولو چي په قرآن کي ټول احکام نه دي راغلي، خو مقصد ئې دا وو چي ځینې احکام داسي دي چي یوازي ئې په احادیثو کي موندلی شو، د دې ادعاء د اثبات لپاره ئې وویل: په قرآن کي یوازي هغه غوښه حلاله ګڼل شوې چي د ذبحي پر مهال ئې د الله تعالی نوم یاد شي، خو کب (ماهي) بې له ذبحي حلال دئ، د دې استثناء بنسټ د قرآن کوم آیت نه بلکي د پیغمبر علیه السلام حدیث دئ، څو ځلي ئې دا خبره تکرار کړه چي راوښیئ د قرآن کوم آیت دا استثناء جائز ګڼي؟!! هغه ته مي د ده د نظریاتو په ځواب کي یوه رساله لیکلې او ورلېږلې ده؛ ما ویل په قرآن کي دا استثناء شته؛ خو څه وکړو چي ته نه ئې ورته متوجه شوی! قرآن ماهي د (لحماً طریاً) یعني تازه غوښي په نامه یاد کړی او دا ښیي چي ماهي د تازه او پاکي غوښي حکم لري، پیغمبر علیه السلام ځکه ویلي چي ماهي له ذبحي پرته حلال دئ. همداراز دې خطیب ویل چي د لمانځه ترتیب، اوقات او د رکعتونو شمېر په قرآن کي نه مومو... هغه څوک چي له قرآن خبر نه وي؛ په

deenodanish.com له Deen-o-Danish څخه ښکته شوی

قرآن کي ئې غور نه وي کړی؛ سطحي پرې تېر شوی وي؛ ګمان کوي چې ښايي په قرآن کي دا وضاحتونه نشته؛ ما ويل: پيغمبر عليه السلام د لمانځه هر څه له قرآن اخيستي، د الله په نامه د لمانځه پيل، قيام، تلاوت، رکوع، سجده، په رکوع او سجده کي تسبيحات، د لمانځه پنځه وختونه او د رکعتونو شمېر؛ دا ټول هغه څه دي چې په قرآن کي ورته يا په ډېر وضاحت سره يا تلويحاً اشاره شوې، خو زه او ته د ځينو منشأ درک کولی شو او د ځينو نه.

د لمانځه د ځينو برخو منشأ په قرآن کي دا آيتونه دي:

د تکبير تحريمه لپاره (وَذَكَرَ ٱسۡمَ رَبِّهِۦ فَصَلَّىٰ: او د خپل رب نوم ئې ياد کړ نو لمونځ ئې وکړ)؛

په قرآن کي د سجدې امر اولس ځلي راغلی، د هري ورځي د فرض رکعتونو شمېر هم اولس ټاکل شوی.

تل تر سجدې مخکې د رکوع ذکر راغلی د همدې لپاره په لمانځه کي رکوع تر سجدې مخکې ده.

د الروم د سورې په دغو دوو آيتونو کي د تسبيح لپاره څلور وختونه؛ سحر، ماښام، ماخستن او ماپښين ذکر شوي:

فَسُبۡحَٰنَ ٱللَّهِ حِينَ تُمۡسُونَ وَحِينَ تُصۡبِحُونَ ١٧ وَلَهُ ٱلۡحَمۡدُ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَعَشِيّٗا وَحِينَ تُظۡهِرُونَ * الروم: ۱۷-۱۸

نو د الله تسبيح وينه ده؛ کله چې (ماښام) او (ګهيځ) ته ننوځئ او ده ته په آسمانونو او زمکي کي ستاينه ده او (ماخستن) او هغه مهال چې(ماپښين) ته ننوځئ.

او د طه د سورې په ۱۳۰ آيت کي د مازديګر د وخت يادونه هم شوې:

فَٱصۡبِرۡ عَلَىٰ مَا يَقُولُونَ وَسَبِّحۡ بِحَمۡدِ رَبِّكَ قَبۡلَ طُلُوعِ ٱلشَّمۡسِ وَقَبۡلَ

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

غُرُوبِهَاۖ وَمِنۡ ءَانَآيِٕ ٱلَّيۡلِ فَسَبِّحۡ وَأَطۡرَافَ ٱلنَّهَارِ لَعَلَّكَ تَرۡضَىٰ * طه: ١٣٠

نو په هغه څه چې دوی ئې وایي صبر وکړه او له ستاینې سره د خپل رب تسبیح وایه (تر لمر راختو مخکې) او (تر لوېدو ئې مخکې) او (د شپې په یوې برخې کې) تسبیح وایه او د (ورځې په اطراف) کې؛ چې راضي شې.

دلته د سحر، مازدیګر او ماښتن یادونه په صراحت سره شوې او دوو نورو وختونو ته د اطراف النهار په لفظ اشاره شوې. د همدې لپاره د لمانځه پنځه وخته ټاکل شوي.

کله چې د الواقعة د سورې په ٧٤ آیت کې دا امر وشو: فَسَبِّحۡ بِٱسۡمِ رَبِّكَ ٱلۡعَظِيمِ * الواقعة:٧٤ نو پیغمبر علیه السلام وفرمایل: دا تسبیح په رکوع کې شامله کړئ.

او کله چې د الاعلی د سورې په لومړي آیت کې دا امر وشو: سَبِّحِ ٱسۡمَ رَبِّكَ ٱلۡأَعۡلَى * الاعلی: ١ نو پیغمبر علیه السلام وفرمایل چې دا تسبیح په خپلو سجدو کې شامله کړئ.

که په قرآن کې غور وکړئ وبه ګورئ چې د رکوع امر د سجدې په پرتله لږ دئ، د همدې لپاره په لمانځه کې د رکوع شمېر تر سجدې لږ دئ.

د الاسراء سورې په ٧٨ آیت کې د سحر لمونځ د قرآن الفجر په نامه یاد شوی او دا ښیي چې قرائت د لمانځه اساسي برخه ده.

أَقِمِ ٱلصَّلَوٰةَ لِدُلُوكِ ٱلشَّمۡسِ إِلَىٰ غَسَقِ ٱلَّيۡلِ وَقُرۡءَانَ ٱلۡفَجۡرِۖ إِنَّ قُرۡءَانَ ٱلۡفَجۡرِ كَانَ مَشۡهُودٗا. الاسراء: ٧٨

د لمر له زوالې د شپې تر پخېدو پورې لمونځ کوه او په سباوون کې د قرآن قرائت، یقیناً چې د سباوون قرآن وینه مشهوده وي.

په دې آیت کې له یوې خوا د ګهیځ لمانځه ته قرآن الفجر ویل شوي له

deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

بلي خوا پنځو لمونځونو ته اشاره کوي: د لمر له زواله تر ماخستن پوري څلور لمونځونه او د سحر لمونځ ئې پنځم.

له دغو آيتونو په صراحت سره معلومېږي چې پيغمبر عليه السلام د لمانځه هر څه له قرآن اخيستي.

همداراز په قرآن کې د اسلامي نظام ټول مهم ابعاد ښودل شوي، د امير د انتخاب څرنګوالی، د شورى څرنګوالی، د قيادت مواصفات، د هغه مسئوليتونه، د هغه د انتخاب څرنګوالی، د هغه په وړاندې د خلکو وجائب او په سياسي نظام پورې اړوند مسائل په ډېر وضاحت او په پوره تفصيل سره راغلي، مشکل په ما او تا کې دئ چې په دغو آيتونو کې مو غور نه دئ کړی، د اودس او تيمم پر يوه او دوه آيتونو مو لوی لوی کتابونه ليکلي؛ خو د حکومت په اړه راغلي ګڼ شمېر آيتونو ته مو لازمه توجه نه ده کړې، سطحي ترې تېر شوي يو او لږ څه مو پرې ليکلي، دا زما او ستا نقص دئ نه د قرآن، ولې خپل عيب قرآن ته منسوبوې او بې ځايه نامناسبه ادعاء کوې چې په قرآن کې هر څه نه دي راغلي؟!!

آيا د امير تر څنګ د صدراعظم ټاکل صحيح دي؟

صدارتي نظام که پارلماني نظام؛ يوازي جمهور رئيس که په څنګ کي ئې صدراعظم؛ يوازي پاچا، مشروطه شاهي او که په څنګ کي ئې صدراعظم هم؛ له دې پوښتنو سره مخامخ يو؛ راشئ وګورو چې قرآن په دې ارتباط څه وايي؟!

ځيني وايي: د امير ترڅنګ صدراعظم درلودل نه يوازي جائز دي بلکې د خلافت عامه په دور کې دا کار شوی او ځينو خلفاءو دا کار کړی!! له دي خلافت عامه؛ د دوی مراد راشدين خلفاء نه دي؛ بلکې تر دوی وروسته؛ نور مشران، اميران او زعماء دي؛ دوی متأسفانه سلاطينو ته هم د خليفه نوم ورکړی؛ او د خلافت عامه اصطلاح ئې ورته کارولې؛ مقصد ئې دا دئ چې

deenodanish.com ځخه ښکته شوی Deen-o-Danish

عباسي اميرانو دا كار كړی او صدراعظم ئې ځان ته ټاكلی؛ نو گواكي د صدراعظم ټاكل روا دي، په ځواب كي ئې څو عرائض لرم:

دوی د امويانو او عباسيانو دورې ته د خلافت عامه نوم وركړی او دا په داسي حال كي چي په هغه روايت ئې هم استناد كړی چي د راشدينو خلفاءو له دوران وروسته مرحله ئې د ملوكو او پاچايانو دوران گڼلی.

راشئ هغه روايت له نظره تېر كړو:

عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُمْهَانَ قَالَ حَدَّثَنِي سَفِينَةُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم « الْخِلاَفَةُ فِي أُمَّتِي ثَلاَثُونَ سَنَةً ثُمَّ مُلْكٌ بَعْدَ ذَلِكَ ». ثُمَّ قَالَ لِي سَفِينَةُ أَمْسِكْ خِلاَفَةَ أَبِي بَكْرٍ وَخِلاَفَةَ عُمَرَ وَخِلاَفَةَ عُثْمَانَ. ثُمَّ قَالَ لِي أَمْسِكْ خِلاَفَةَ عَلِيٍّ. قَالَ فَوَجَدْنَاهَا ثَلاَثِينَ سَنَةً. قَالَ سَعِيدٌ فَقُلْتُ لَهُ إِنَّ بَنِي أُمَيَّةَ يَزْعُمُونَ أَنَّ الْخِلاَفَةَ فِيهِمْ. قَالَ كَذَبُوا بَنُو الزَّرْقَاءِ بَلْ هُمْ مُلُوكٌ مِنْ شَرِّ الْمُلُوكِ. رواه الترمذى

له سعيد بن جمهان روايت دئ چي سفينة راته وويل: رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم وفرمايل: زما په امت كي به خلافت تر دېرشو كلونو پوري وي؛ بيا به له دې وروسته پاچايي وي؛ بيا سفينة راته وويل: د ابوبكر، عمر، عثمان او علي خلافت درواخله، نو هغه مي ټول دېرش كاله وموندل. سعيد وويل: ما هغه ته وويل: امويان گمان كوي چي خلافت په دوی كي دئ! هغه وويل: دا بنو زرقاء دروغ وايي، بلكي دوی تر ټولو بد پاچايان دي.

دا د يوه صحابي رأيه ده؛ هغه چي خلافت او ملوكيت دواړه سره پيژني؛ د پيغمبر عليه السلام په لاس تربيه شوی دئ؛ دين ئې زده كړی او په واقعيت د دين پوه شوی دئ؛ هغه په دي باور وو چي خلافت بېل او ملوكيت بېل دئ.

له deenodanish.com څخه ښكته شوی Deen-o-Danish

ګورئ چې د پاچايي او ملوکيت په اړه او د امويانو د واکمنۍ په اړه د صحابه وو رضی الله عنهم رأيه څه وه؟!!

څوك چې له اسلامي فرهنګ؛ لږ معلومات هم ولري؛ په دې پوهېږي چې د صحابه وو په دوران کې ملوکيت ته په سپکه سترګه کتل کېدل او د پاچايانو په اړه ئې د قرآن د هغه آيت له مخې قضاوت کولو چې فرمايي: پاچايان چې هر هېواد ته داخل شي تباه کوي ئې او عزتمن خلك ئې سپکوي، د قرآن الفاظ دا دي:

قَالَتْ إِنَّ ٱلْمُلُوكَ إِذَا دَخَلُوا۟ قَرْيَةً أَفْسَدُوهَا وَجَعَلُوٓا۟ أَعِزَّةَ أَهْلِهَآ أَذِلَّةً ۚ وَكَذَٰلِكَ يَفْعَلُونَ. النمل: ٣٤

وئې ويل: يقيناً دا پاچايان چې هر ملك ته داخل شي؛ په فساد ئې اخته کوي او تر ټولو عزتمن خلك ئې تر ټولو زيات سپکوي، او همداسي کوي.

نن زمونږ د ټولنې وضعيت داسي دئ چې واکمن مو؛ تر ټولو سپک او ذليل خلک راوړاندي کوي او د ټولنې عزتمن او با شرفه خلک؛ تر ټولو زيات سپک او ذليلوي؛ همغسي لکه چې قرآن د سلاطينو په اړه فرمايي: عزتمن رټي او سپك او ذليل انسانان د اقتدار پر کرسۍ کښېنوي!! قران څومره معجز کتاب دئ؛ په دې لنډې جملې او څو الفاظو سره ئې څومره ستر حقيقت بيان کړی؛ د سلطنتي نظام د معرفې لپاره د قرآن همدا مختصر آيت کافي دئ!! دا نن چې زمونږ هېواد اشغال شوی؛ د خپل تاريخ تر ټولو بدو ورځو سره مخامخ يو؛ وجه ئې دا ده چې اشغالګرانو زمونږ د ټولنې تر ټولو سپك، ذليل، رذيل، پرېوتې، منحط، غله، مفسدين، وطن پلورونکي، د پردیو مزدوران او اجير جنګيالي پر ولس مسلط کړي.

دلته قرآن په اصل کې د سېۍ د ملکې وينا نقل کړې خو په پای کې ئې ويلي چې هو! همداسي کوي، يعني دا د پاچايانو خصلت دئ چې تر خپل تسلط لاندي ملك کې فساد خوروي او باعزته خلك سپکوي.

deenodanish.com څخه ښکته شوی له Deen-o-Danish

همداراز قرآن د بني اسرائیلو د انحطاط د دور یوه داسي غلطه غوښتنه یادوي چي له خپل پیغمبر ئې د دوی لپاره د یوه پاچا د ټاکلو په اړه کړې وه، د موسی علیه السلام له رحلت وروسته؛ پر بنی اسرائیلو ډېر بد حالت راغی؛ له خپل وطن وشړل شول، زامن ئې ووژل شول، کورونه ئې ویران شول، هر څه ئې د دښمن په لاس تالان شول؛ خپل پیغمبر ته راغلل؛ وئې ویل: موږ ته یو ملک (پاچا) وټاکه؛ له پیغمبر دا غوښتنه کول چي دوی ته یو پاچا وټاکي؛ ښیي چي دوی دیني لارښوونو ته شا کړې او د جاهلو او بې دینو ولسونو په څېر غواړي د امیر او خلیفه پر ځای پاچا ولري!! تفصیل ئې په بایبل کي مومو؛ بایبل دا قصه په دې توګه رااخیستې ده: ... اسرائیلیانو له سموئیل وغوښتل چي دوی ته یو پاچا وټاکي... سموئیل له خدای وپوښتل چي څه وکړي؟ خدای ورته وویل: دوی چي څه وایي همغسي وکړه، ځکه دوی؛ ته نه ئې رد کړی، زه ئې رد کړی یم، نه غواړي چي زه ئې پاچا وم، یعني چي الله تعالی د پاچا او ملک نوم د بل چا لپاره نه خوښوي؛ نه د ملک الملوک نوم او نه هم د پاچا نوم د بل چا لپاره خوښوي... خو پوه ئې کړه چي د پاچا درلودل څومره بدي پایلي لري!! سموئیل ورته وویل: که پاچا غواړئ نو هغه به ستاسو زامن د ځان نوکران کړي، ځینې به په ګاډیو، ځینې پر آسونو د ده خدمت کوي او ځینې به د ګاډیو مخي ته ځغلي، ځینې به په فوځ کي او ځینې په پټیو کي وګماري، چي زمکي یوې او حاصلات ورته راغونډ کړي.... ستاسو لونې به هم په کار وګماري، ځینې به ډوډۍ ورته پخوي او ځینې به ښه عطرونه ورته جوړوي، ستاسو ښې زمکي او باغونه به درنه واخلي او خپلو خلکو ته به ئې ورکړي...له تاسو به عشر اخلي او په خپلو درباریانو به ئې مصرفوي،... ستاسو هر څه به د ځان کړي او تاسو به خپل غلامان، .. خلکو د ده نصیحت ونه منلو...

دغو مطالبو ته په پام سره په دې پوهېدی شو چي صحابه وو د مِلك او پاچا په اړه څه انګېرنه او احساس درلودو او د هغه روایت معنی څه ده

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

چې له خلافت وروسته دوران ته د ملوکیت نوم ورکوي. دا دور د تقلید وړ دور نه دئ، د غندلو او محکومولو دور دئ، د قرآن، سنت او صحابه وو له منهج د انحراف دور دئ، څوك چې د دین له حقیقته خبر وي؛ هیڅکله د دغه دوران د حکامو په چلن استناد سره نه وایي چې دا کار د دې لپاره جائز دئ چې دغو حکامو کړی، دوی صدراعظم ټاکلی نو ځکه صدراعظم ټاکل جائز دي!! موږ خو وایو: خلافت په ملوکیت بدلول، اقتدار موروثي کول او له پلار ځې زوی ته لېږدول، د یوه ټبر او قوم حق ځې ګڼل، قصرونه جوړول، د جومات پر ځای په قصرونو کې او د ټرلو دروازو تر شا د واکمنانو غوره کول، د اقتدار په سر جګړې، د پیغمبر علیه السلام د کورنۍ اویا غړي په یو ځای وژل، بیت المال غنیمت ګڼل او په هغه کې په خلاص لاس ناروا تصرف، د شوری اصل ته شا کول، شوری غیرملزِمه ګڼل، انتصابي شوراګاني جوړول، امراء غیرمسئول او واجب الاحترام ګڼل او د دې لپاره صدراعظم ټاکل چې امراء عیش او عشرت ته فارغ وي او په کارونو کې د نیمګړتیاوو په اړه د اعتراض ګوته دوی ته ونه نیول شي او غیرمسئول او واجب الاحترام وي؛ لکه چې د باچایانو په ارتباط په مخکینیو اساسي قوانینو کي راغلي چې پاچا غیرمسئول او واجب الاحترام دئ، دا په داسي حال کې چې پیغمبر هم غیر مسئول نه دئ؛ له هغه به هم پوښتنه کېږي. پاچا به ځې د اعلی حضرت په نامه یادولو؛ که به مړ شو نو زوی، لور او مېرمن به ځې د تخت او تاج وارث شو؛ د ټولني ناخوالي به حکومت او صدراعظم ته منسوبېدې او افتخارات ځې اعلی حضرت ته!!! دا د دغه دور هغه ځانګړتیاوي وې چې هیڅ د ایمان خاوند او په اسلام پوه کس ځې نشي تأییدولی.

که د صحابه وو په څېر شخصیتونه نشته! نو څه به کوو؟

موږ مکلف یو همغه څه به کوو چې صحابه وو کړي؛ همغسي نظام به جوړوو چې دوی جوړ کړ؛ امیر به همغسي ټاکو چې دوی ټاکلی؛ په هر

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

څه کې به د دوی په څېر کېدو هڅه کوو.

متأسفانه ځینې داسې مومو چې کله دې ته ورته خبرې واورې په څېرې کې ئې د مخالفت آثار راڅرګند او تندی ئې ګونځې شي؛ او وایې: اوس د صحابه وو په څېر شخصیتونه نه شي پیدا کېدی؛ نو ځکه مونږ باید په دې زمانه کې د خاصه خلافت (د راشدینو خلفاءو) د زمانې نظام او د دوی په څېر د عالي صفاتو او لوړو صلاحیتونو لرونکو شخصیتونو لټه ونه کړو؟! یعني مونږ د صدر اسلام په څېر نظام نشو جوړولی، د صحابه وو غوندې شخصیتونه نه شو موندلی، نو نه به د هغه مهال د نظام په څېر نظام غواړو او نه د خلفاءو په څېر شخصیتونه او نه واکمن ته هغسې صلاحیتونه، دندې او مسئولیتونه؛ چې هغوی درلودل!!

په دې اړه باید ووایو: دا یوه غولوونکې غلطه وینا ده؛ ویونکی ئې هم دوکه شوی او نور هم پرې دوکه کوي؛ هو! د صحابه وو په څېر شخصیتونه نشو موندلی او د هغه مهال نظام ته په بشپړه توګه ورته نظام نشو جوړولی، خو مونږ په همداسې کولو مکلف یو، مونږ د پیغمبر علیه السلام په څېر هم نشو کېدی؛ خو د هغه په اطاعت او د هغه په څېر کېدو باندې مکلف یو، قرآن رسول الله صلی الله علیه و سلم ته فرمایي:

قُلْ إِن كُنتُمْ تُحِبُّونَ ٱللَّهَ فَٱتَّبِعُونِى يُحْبِبْكُمُ ٱللَّهُ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ ۚ وَٱللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٣١﴾ قُلْ أَطِيعُوا۟ ٱللَّهَ وَٱلرَّسُولَ ۖ فَإِن تَوَلَّوْا۟ فَإِنَّ ٱللَّهَ لَا يُحِبُّ ٱلْكَٰفِرِينَ آل عمران: ۳۱- ۳۲

ورته ووایه: که په رښتیا له الله سره مینه لرئ نو زما متابعت وکړئ، چې په نتیجه کې به ئې الله له تاسو سره محبت وکړي او ګناهونه به مو درته وبخښي او الله ډېر مهربان بخښونکی دئ. [۳۲]- ورته ووایه: د الله او د پیغمبر اطاعت وکړئ، که ئې مخ واړاوو نو الله له دغو کافرانو سره محبت نه

deenodanish.com ځخه ښکته شوی Deen-o-Danish

کوي.

گورئ چې د پيغمبر اطاعت او متابعت؛ (يعني په هغه پسې تګ)؛ د ايمان نښه ده او عدم ئې د کفر نښه.

دا خو پرېږدئ چې مورږ په هر څه کې مکلف يو د پيغمبر او د هغه د لاس نيالګيو؛ همغه چې ده روزلي؛ د صحابه وو په څېر شو؛ او تل به د هغوی په څېر کېدو هڅه کوو؛ هم په خپلو شخصي خصلتونو کې او هم په اجتماعي کړنو کې؛ يعني د ژوند په هر بعد او هر اړخ کې د پيغمبر په اطاعت مکلف يو؛ پر پيغمبر د ايمان معنی همدا ده او الله تعالی پيغمبران د همدې لپاره رالېږلي؛ حتی په قرآن کې د الله تعالی عليا صفات د همدې لپاره معرفي او بيان شوي چې الهي صفات وپېژنو او په همدې صفاتو د متصف کېدو هڅه وکړو؛ له مورږ غواړي هغه صفات په ځان کې راپيدا کړو چې الله تعالی ځان پرې ستايلی؛ لکه رحمت، غفران، صبر، عفو، او دې ته ورته نور، الله تعالی صبور دئ؛ صابر بنده ئې خوښېږي؛ الله تعالی عفو، غفور او رحيم دئ د همدې صفاتو لرونکي ئې خوښېږي؛ کله چه قرآن مورږ ته وايي: رحمت او پېرزوينه ولرئ؛ نو راته وايي: ستاسو رب رحيم او رحمن دئ؛ مورږ په دې مکلف يو چې همغه نظام به جوړوو چې پيغمبر عليه السلام جوړ کړ، د زمانې په بدلېدو او تېرېدو سره دين نه بدلېږي؛ ته به نن همغه نظام غواړې چې ۱۴۰۰ کاله وړاندې مدينه کې وو؛ که ستا اجتماعي حالت هر څومره بدل شي؛ که کيږدې دي په قصرونو او مانيو بدلي شي؛ که وړوکی کلی دي په لويو لويو او سترو ښارونو بدل شي او که نن د اوښ پر ځای طياره او يا هم آخري ماډل موټر لرې؛ په دې سره نه ستا انساني فطرت بدلېږي او نه هغه نظام او قوانين چې ته د يوه انسان په توګه ورته ضرورت لرې؛ فطرت همغه مخکنی دئ او ستا دنده او مسئوليت همغه پخوانی؛ ته به همغه نظام غواړې چې ۱۴۰۰ کاله وړاندې صحابه وو جوړ کړی او پيغمبر عليه السلام ئې بنسټ ايښی وو؛ همغه چې راشدينو خلفاءو وپالو،

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

زمور د امیر صلاحیتونه او واکونه به دومره وي چې هغوی درلودل؛ نه زیات او نه کم، وظائف او مسئولیتونه به ئې همغسي وي، حقوق او امتیازات به ئې همدومره وي، همدومره لکه چې ابوبکر رضی الله عنه او عمر رضی الله عنه درلودل؛ همغسي لکه دوی ته چې له بیت المال معاش ټاکل شوی وو؛ دلته به هم امیر او جمهور رئیس ته دومره امتیازات او حقوق ټاکل کېږي لکه هغوی ته چې ټاکل شوی وو؛ هغوی په خپل سر؛ د مسلمانانو له شتمنیو او بیت المال؛ نه څه ځان ته اخیستی شو نه ئې بل ته ورکولی شو؛ لکه چې هغوی له امت او مسلمانانو سره په مشوره مکلف وو؛ نن به زمور واکمن او مشران؛ په مشوره مکلف وي؛ د انتخاب طریقه به ئې د هغوی د انتخاب طریقې ته ورته وي، د امیر لپاره به هغه ځانګړتیاوي او مواصفات ضروري ګڼو چې صحابه وو ضروري ګڼل. دې ته مو باید پام وي چې د دوی مقام او منزلت ته رسېدل یوه معنی لري او د دوی په څېر د کېدو هڅه کول بله معنی لري، هغي لوړي څوکي ته رسېدل ګران دي چې پیغمبر او د ده په لاس روزل شوي صحابه ورسېدلي؛ زمور په پښو او غوږګو کي هغه توان نشته چې هغو لوړو لوړو څوکو ته او د پیغمبر او صحابه وو مقام ته ورسېږو؛ اما د وړاندی تلو هڅه به کوو؛ لور به ځو؛ د دوی په څېر د کېدو هڅه به کوو؛ په همدي مکلف یو، که یو ئې محال وي په بل ئې مور مکلف یو. دا قطعاً د منلو وړ خبره نه ده چې څوك ووایي: که راشدینو خلفاءو صدراعظم نه درلود، مور اوس داسي نظام جوړولی شو چې صدراعظم ولري؛ ګواکې اوس بېل ظروف او شرائط دي؛ دنیا بدله شوې؛ دنیا کي مروج نظامونه داسي دي چې یا پاچا او صدراعظم لري؛ یا ملکه او صدراعظم؛ یا بې واکه جمهور رئیس او په خوا کي ئې ځواکمن صدراعظم، دا مروج نظامونه په غرب کي هم ځواکمن پلویان لري؛ نو مور کولی شو همداسي نظام جوړ کړو؛ او صلاحیتونه د امیرالمؤمنین او صدراعظم تر منځ په یوه تناسب ووېشل شي، ځکه دا کار کوو چې مور د راشدینو خلفاءو په څېر

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

امین او ستر ستر شخصیتونه نشو موندلی!! ټول واک مشر ته سپارل صحیح نه دي؛ دا واکونه باید ووېشو؛ یوه برخه ئې باید د هغه معاون یا صدراعظم ته وسپارو؛ ځینې داسې دي چې د دې لپاره تبلیغات هم کوي او حتی مذهبي رنګ هم ورکوي، او وایي: کولی شو د اموي او عباسي نظامونو په څېر کوم نظام جوړ کړو، په هغوی کې ځینو صدراعظم ته ورته چارواکي درلودل؛ نو موږ هم کولی شو دا کار وکړو!! دا یوه شخصي نظریه کېدی شي؛ نه له اسلامي لارښوونو راټوکېدلې او په شرعي اصولو ولاړه نظریه. د دې نظر پلویان وایي: د هارون الرشید خلیفه په زمانه کې جعفر بن یحیی برمکي د صدراعظم لاڅه چې د سلطان په لقب سره یادېدو، د خلافت امنیتي، دفاعي او مالي چاري د هغه تر صلاحیت پورې تړلې وې؛ تر دې هم زیات صلاحیتونه هغه ته سپارل شوي وو او همدغه وجه ده چې د تاریخ پوهانو په قول؛ د عظمی صدارت د منصب پورې اړوند ټول فرائض او اختیارات د عباسي خلافت په دوره کې مرتب او تدوین شوي!!

د دې غلط نظر خاوندانو ته څو خبرې لرو:

- نه پوهېږو تاسو د کوم مذهب په استناد دا خبره کوئ، مذهبونه خو واضح دي؛ منل شوي؛ د تقلید وړ مذاهب مشخص دي، موږ خو په اسلامي مذهبونو کې داسې مذهب نه مومو چې د عباسي امراءو کړه وړه ځې هم د تقلید وړ مرجع ګڼلې وي، په مذهبونو کې خو ځینې یوازې قرآن او سنت او ځینې قرآن، سنت، اجماع او قیاس مراجع بولي. د احنافو په علماءو کې خو هیڅا ستا خبره نه ده کړې، امام ابوحنیفه خو د دغو امراءو د قضاوت دنده هم قبوله نه کړه، زندان ته تګ ئې تر دې غوره وګڼلو چې د دوی د نظام قاضي شي!! تر فشارونو لاندې ونیول شو؛ تهدید ئې کړ؛ وئې ګواښو؛ حتی شهادت ته تیار شو خو دې ته چمتو نه شو چې د دغو امراءو قاضي شي؛ موږ خو د احنافو په مذهب یو؛ زموږ په مذهب کې خو هیڅا دا خبره نه ده کړې؛ هیڅ فقیه او امام او هیڅ عالم دا خبره نه ده کړې چې د

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

عباسیانو او امویانو د اقتدار دور؛ د تقلید وړ او زموږ لپاره یوه داسي مذهبي مرجع چي کولی شو؛ معیار ئې وګڼو او تري اقتباسات وکړو!!!

- آیا موږ د هارون الرشید په متابعت مکلف یو که د پیغمبر علیه السلام د سنت او د صحابه وو د منهج؟ که زموږ مخي ته دوه نظامونه کښېښودی شي؛ یو ئې د راشدینو خلفاءو نظام ته ورته او بل ئې د عباسي او اموی امراءو حکومت ته ورته؛ موږ به کوم یوه ته ترجیح ورکوو؟ آیا یو متعهد مسلمان چي د دین له حقیقت خبر وي او د عباسي حکامو له هغو کړنو هم واقف وي چي د مطلق العنانو سلاطینو په توګه ئې ترسره کړي؛ دا خبره کولی شي چي هارون الرشید صدراعظم درلود نو موږ هم صدراعظم ټاکلی شو!! هارون الرشید د عباسیانو په جابرو سلاطینو کې په نسبي توګه تر نورو غوره وو، خو هغه یو خلیفه نه وو؛ د تقلید وړ یو شخص نه وو؛ بلکي یو ملك او سلطان وو، اقتدار په میراث ورته پاته وو او په میراث ئې خپلې کورنۍ ته پرېښود. آیا کولی شو په دې کار کې هم د هارون الرشید تقلید وکړو چي اقتدار ئې په خپلې هغې کورنۍ کې په میراث پرېښود چي یوه ئې بل ووژلو، سترګي ئې تري وایستلې، د کلونو کلونو لپاره ئې زندانی او تبعید کړ، د اقتدار لپاره ئې د مسلمانانو د وینو له تویولو هم ډډه ونه کړه؟!! آیا دا ټول د تقلید وړ دي او موږ به همغه څه کوو چي هغوی کړي دي؟!

- دوی دا خبره نه مني چي د اوس مهال پارلماني نظام، د پاچا او جمهور رئیس تر څنګ د صدر اعظم درلودل، د دوی تر منځ په یوه تناسب د صلاحیتونو وېش؛ په اصل کي له انګرېز ډوله ډیموکراسۍ اخیستل شوی، دا انګریز ډوله ډیموکراسي ده چي هلته ملکه لري او د ملکې تر څنګ یو ځواکمن منتخب صدراعظم؛ ملکه یوازي د ملي وحدت سمبول ده؛ له ګڼ شمېر ببساري امتیازاتو برخمنه؛ دومره چي د هغې د کورنۍ د لور او زوی په واده کي په ملیاردونو پونډ مصرف کېږي، د واده مصارف ئې دومره زیات چي د ګڼو هیوادونو مشران، پاچایان، ملکې، صدراعظمان او جمهور

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

رئیسان د مېلمنو په توګه وربلل کېږي!!! انګریزان همداسي نظام خوښوي؛ چېرې چې دوی مسلط شوي؛ نو همداسي نظامونه ئې رامنځته کړي. حقیقت دا دئ چې د دې نظر پلویان؛ له اوسنۍ انګریز ډوله دېموکراسي متأثره شوي؛ غواړي خپل مذهب د انګرېزي دېموکراسۍ په خُم کې رنګ کړي؛ داسي نه شي ویلی چې په انګلستان او د انګلستان په مستعمراتو کې دا نظام دئ؛ د خلکو د غولولو او قانع کولو لپاره وایي: د هارون الرشید په وخت کې داسي یو نظام وو؛ انګرېز ډوله نظام ته اسلامي رنګ ورکول او داسي دلائل لټول چې ثابته کړي دا نظام له اسلام سره ورته والی لري یا د هېواد او ولس په ګټه دئ؛ ناسمه او بې ځایه هڅه ده. موږ نه د انګرېزانو پارلماني نظام منو او نه د امریکایانو ریاستي نظام؛ توپیر ئې همدا ده چې انګریزي نظام داسي دئ چې ملکه، رئیس جمهور، پاچا او صدراعظم لري او ریاستي نظام داسي دئ چې یو ځواکمن رئیس جمهور او په څنګ کې یو ځواکمن معاون؛ جمهور رئیس مجبور او مکلف دئ چې د انتخاباتو په دوران کې ځان ته معاون وټاکي تر څو خلک ورته رأیه ورکړي؛ دا دواړه نظامونه موږ اسلامي نظام ته ورته او نږدې نه ګڼو، اسلام بېل نظام دئ؛ له دې نظامونو سره ژور توپیرونه لري؛ موږ اسلامي نظام غواړو، له خپلو ټولو هغو ځانګړتیاوو سره چې د راشدینو خلفاءو په دوران کې ئې درلودل. یوازې موږ نه بلکې د افغانانو غوښ اکثریت اسلامي نظام غواړي، د اسلام لپاره ئې قرباني ورکړي، له اسلام پرته په بل څه نه راضي کېږي، د ژوند تر وروستۍ سلګۍ به؛ په بل نظام راضي نشو؛ موږ یوازي اسلامي نظام غواړو؛ که بل نظام د وسلې په زور او د بهرنیو لاسوهنو، توطئو او فشارونو له لارې د دوی پر هېواد وتپل شي؛ پایله به ئې د شوروي اتحاد د وسلو او فوځونو په زور د تپل شوي نظام پایله وي او فقط تر هغه به دوام کوي چې افغان ولس ئې د نسکورولو توان او فرصت ترلاسه کړي. موږ روسي نظام هم ونه منلو او امریکایی نظام مو هم قبول نه کړ؛ نه ناټو وتوانېدله چې امریکایی

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

نظام پر افغانانو مسلط کړي او نه شوروي اتحاد په دي وتوانېدو چې د خپلې خوښې نظام پر افغانانو وتپي.

افغانان اوس اسلامي نظام له غیر اسلامي نظام تر ډېره حده پېژندی شي، د جهاد په کلونو کې دوی له اسلام هومره څه زده کړي چې اوس ئې څوك په آسانۍ نه شي غولولی. دومره تبدیلي په افغانستان او افغانانو کې راغلې چې ویلی شو: په هغه څه چې تر جهاد وړاندي حتی زموږ ځیني علماء سم نه پوهېدل؛ نن عادي کلیوال پرې پوهېږي.

اسلامي نظام هغه دئ چې په هغه کې: اسلامي شریعت د ټولو قوانینو یوازینی مأخذ وي، ټولې شخړې او منازعات د اسلامي شریعت په رڼا کې حل و فصل شي، چارواکي په خپلو ټولو اجرءاتو کې شریعت ته التزام ولري، له ملت سره په مشوره مکلف وي او د ملت له استازو جوړه شوې شوری تر ټولو لوړه با صلاحیته مرجع وي. د پرېکړې مرجع امیر نه بلکې شوری وي؛ امیر د چارو سمبالوونکی وي؛ نه آمر او امر کوونکی؛ د پرېکړو آخري مرجع، ټولواک، سلطان او ملک نه وي؛ بلکې د مسلمانانو خلیفه او ځای ناستی وي؛ د چارواکو په واك کې صلاحیتونه او ملي شتمني امانت وګڼل شي، که دا اقتدار دئ او که ملي شتمني؛ د ولس معلن او بلا اجبار بیعت او رأیه د نظام د مشروعیت بنسټ وي او ولسمشر د ولس په خوښه غوره شي. فقط د ولس بیعت د چا زعامت او قیادت ته مشروعیت وروبخښي؛ نه بل څه.

د دوی یوه لیکوال موږ ته طعنه راکوي او لیکي: که په اسلامي نظام او حکومت کې د صدراعظم منصب بدعت او ناروا وي؛ څنګه چې ښاغلي (حکمتیار) په خپل کتاب کې لیکلي، نو بیا خو د دې ناروا بدعت عمل ارتکاب لومړی په خپله ښاغلي حکمتیار کړی؛ چې ګواکې هغه د صدارت منصب یو وخت قبول کړی وو... په همدې لړ کې د ۱۳۷۵ کال د جوزا په میاشت د ماهیپر هغه ټرون ته اشاره کوي چې په ترڅ کې ئې د صدارت مقام حزب ته وسپارل شو... د دې صحیح اعتراض او خام استدلال په اړه دا

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

عرائض لرو:

اعتراض په اعتراض ځوابول نه علمي ځواب دئ او نه علمي څېړنه، دا له کينې او عقدې راخوټېدلی ځواب دئ.

که هر څوك له پارلماني نظام سره توافق وکړي او خپل اساسي قانون د شاهي نظام له هغه قانون اقتباس کړي چې له انګرېزانو ئې ترلاسه کړی، اشتباه ئې کړې. تاسو حتماً هغه ډله پېژنئ چې خپل اساسي قانون ئې د شاهي نظام له اساسي قانون کاپي کړی؛ فقط څو نومونه ئې ځای پرځای کړي؛ د پاچا پرځای ئې د امیر نوم راوړی!! مورِ وایو: هغوی اشتباه کړې ده؛ د بل اشتباه ستا غلطي نشي توجیه کولی.

د استاد رباني له جمعیت سره د حزب اسلامي هغه د روغي جوړې موقت توافق؛ د پارلماني نظام د تأیید په معنی نه دئ. مورِ غوښتل جګړه پای ته ورسوو؛ هغه یوه مصالحه او روغه جوړه وه؛ مقدمه وه د یوه نوي حالت لوري ته.

حزب اسلامي هغې معاهدې ته یقینا چې طالبانو مجبور کړ، طالبانو له شا پر حزب بریدونه کول، او همدغه مهال طالبان رامنځ ته شوي؛ تر دي مخکي نه ول؛ جګړه ئې هم په اصل کي د حزب اسلامي په خلاف پیل کړه؛ له سپین بولدك تر کابل پوري؛ یوازي له حزب اسلامي سره جنګېدل؛ له نورو سره ئې ټرونونه او معاهدات درلودل؛ یو له بل سره ئې ژوري اړیکي او پراخي مرستي درلودې؛ زمورِ سنګرونه د کابل له لوري او د طالبانو په ګټه تر بمي او راکټي بریدونو لاندي نیول کېدل او طالبانو ته لار پرانستل کېدله، حزب ته په دوو جبهو کې جنګېدل ګران یا ناسم کار وو، د حزب اسلامي اهل رأی په جلال آباد کې راغوند شول، له دوو بدیلونو ئې یو باید غوره کړی وی: ۱- د کابل د چارواکو د روغي جوړې بلني ته مثبت ځواب یا ۲- انتظار، د رأیو په داسي اتفاق سره ئې د کابل بلني ته د مثبت ځواب ویلو پرېکړه وکړه چې یوه کس هم ورسره مخالفت ونه کړ، خو د دې پرېکړې نتائجو ته

deenodanish.com ځخه ښکته شوی Deen-o-Danish

په پام سره حزب اسلامي وويل چې دا يوه ستره سياسي او تاريخي اشتباه وه، ځکه معلومه شوه چې د کابل د هغه مهال چارواکي په خپلو ژمنو کې صادق نه ول، خپل تعهدات ئې ترپښو لاندې کړل، مسکو او تهران دې ته پرې نښودل چې پر هغې معاهدې عمل وکړي. خو همدې ښاغلي ليکوال؛ چې په مورِ او په همدې معاهدې ئې اعتراض کړی په دې بيا اعتراض نه لري چې طالبانو له مسعود، جنرال دوستم او جنرال مالك سره پټ او څرګند ائتلافونه درلودل، افغانان ئې له ډېرو خبر دي؛ چې چېرې، کله، له کومې ډلې سره؛ څنګه تعهدات شوي؛ حتى له سيکولر غربپالو سره؛ ستاسو به هغه ورځ هم په ياد وي چې کله طالبان کابل ته ننوتل؛ په سبا ئې د ظاهرشاه ويانده؛ او زوم سردار ولي له بي بي سي او امريکا غږ سره په مرکو کې وويل: بابا (ظاهرشاه) به راتلونکې اونۍ کابل ته درومي؛ ټول افغانان حيران شول؛ حتى نړۍ حيرانه شوه؛ چې کابل ته طالبان ننوتي او ظاهرشاه به يوه اونۍ وروسته کابل ته ځي!!! تر ټولو زيات ځينو طالب جنګيالیو جدي او توند اعتراضونه وکړل او وئې ويل: آيا مورِ د همدې لپاره جنګېدلو چې ظاهرشاه قدرت ته ورسوو؟!! د دې شديدو اعتراضونو له کبله د طالبانو ويانده؛ مجبور شو او رسنيو ته ئې وويل: ظاهرشاه کابل ته راتلی شي؛ خو د مشر په توګه نه؛ د ده له دې وينا سره سم او متصل ئې بي بي سي او امريکا غږ؛ دا تبصرې پيل کړې چې پاکستان مورِ ته دورغ ويلي وو چې ګواکې طالبان دي ته چمتو دي چې له مسعود سره داسي ائتلافي حکومت جوړ کړي چې مشر به ئې ظاهر شاه وي!! پټ تعهد همدا وو؛ د همدې لپاره د ظاهرشاه زوم په روم کې اعلان وکړ چې بابا به په يوه هفته کې کابل ته ځي!! خو کله چې طالبانو د ظاهرشاه د مشرۍ خبره رد کړه؛ مشهور پاکستاني جنرال؛ نصير الله بابر د اسلام آباد خلاف د بي بي سي او امريکا غږ د دې تور او اتهام ترديد او تکذيب لپاره وويل: طالبان په خپلو ژمنو ولاړ دي او هغوی د ظاهرشاه لښکر دئ!!

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

دا ښاغلی لیکوال په دې باندې اعتراض نه لري چې د همدې غلطیو او د همدغو غلطو ائتلافونو له کبله؛ په زرګونو طالبان ووژل شول؛ د جنرال دوستم په لاس هم چې یو مهال ئې له دوي سره ائتلاف او ملګرتیا درلوده او د جنرال مالک په لاس هم چې د هغه په اعتماد مزار ته ولاړل؛ له دوی سره ئې خیانت وکړ؛ اکثر هغه جنګیالي ئې ووژل شول چې مزار او شمال ته تللي وو. د حزب اسلامي په ضد ناروا او بې موجبه جګړه؛ مورِ هغوی ته د وروریِ لاس اوږد کړی وو؛ پرون هم او نن هم؛ حتی هغه مهال مو هم دوی ته ویلي وو: راشئ په ګډه د مطمئنو او اغېزمنو شخصیتونو لویه شوری جوړه کړو؛ همدې شوری ته اختیار ورکړو چې د راتلونکي په ارتباط وروستی تصمیم ونیسي؛ د حکومت، سولې، جنګ، راتلونکي نظام او نورو مسائلو په ارتباط؛ نن مو هم هغوی ته ویلي: راشئ د ناټو خلاف د جنګ په دوران کي مورِ او تاسو په ګډه د مطمئنو، مخورو مشرانو او اهل شخصیتونو لویه شوری جوړه کړو؛ شوری ته بشپړ اختیار وسپارو چې هم اجرائیه جوړه کړي؛ هم دي تګلاره وضعه کړي؛ هم دي د سولې او جګړې په ارتباط د تصمیم وروستیِ مرجع وي؛ هم دي امیر وټاکي؛ شوری چې کومي فیصلې کولې؛ ټول به ئې پربکړو ته التزام لرو. عجیبه ده چې دا ټول نه یادوي خو د ماهیپر په هغې معاهدې استناد کوي چې حزب تر ده ډېر د مخه یوه اشتباه ګڼلې!!

آیا علي رضي الله عنه غدیر خم کې ځای ناستی ټاکل شوی؟

بل مطلب چې ډیر پیچلی، لانجمن، له حساسیتونو ډک او د یوي داسي لویي فتني باعث شوی چې په امت کې ئې جګړې زېږولې او دښمن ډېره استفاده ترې کړې؛ هغه دا چې ځینو فتنه ګرو او جاهلانو بې بنسټه او جعلي ادعاء کړې چې ګواکې علی رضي الله عنه منصوصي امیر دئ؛ پیغمبر علیه السلام د هغه په ارتباط سپارښتنه کړې او هغه ئې خپل ځای ناستی

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

ټاکلی؛ خو صحابه وو دا منصوصي پرېکړه او د رسول الله صلی الله علیه و سلم سپارښتنه ونه منله؛ دوی تر علي رضی الله عنه وړاندي درې راشد خلفاء؛ ابوبکر، عمر، او عثمان رضي الله عنهم؛ چې د صحابه وو د غوڅ اکثریت په رأی ټاکل شوي وو؛ د امارت غاصبین وګڼل او له څو معدودو صحابه وو پرته ټې نور ټول د غاصبینو حامیان او حتی په نفاق تورن کړل!! د ایمان او عقل غوښتنه دا ده چې ووایو: د رسول الله صلی الله علیه و سلم په لاس چې څوك روزل شوي او د هغوی د قربانیو په نتیجه کې دین د نړۍ ګوټ ګوټ ته ورسېد؛ اکثریت ټې د اسلام په لار کې په شهادت رسېدلي او ډېری ټې له مدینې بهر شهیدان شوي؛ دوی هم په اسلام ښه پوهېدل؛ هم ټې اخلاص تر هر چا زیات وو؛ دوی چې د امیرانو د انتخاب په اړه کومه پرېکړه کړې؛ سمه، روغه او د اسلام له لارښوونو سره برابره فیصله همدا وه!!

او دا چې شیعه ادعاء کوي چې پیغمبر علیه السلام؛ هغه مهال چې د آخري حج مراسم ټې ترسره کړل؛ مدیني ته د راستنېدو په دوران کې او د غدیر خم په نامه سیمې کې؛ ناڅاپي د سفر ملګري ودرول؛ د ټولو په وړاندي ټې د علي رضي الله عنه په ارتباط وویل: د چا چې زه مولی یم علی به ټې مولا وي؛ یا دې ته ورته الفاظ ټې کارولي او ګواکې د دې الفاظو معنی او مقصد دا وو چې علي رضي الله عنه ټې د خپل ځای ناستي په توګه ټاکلی!! دا ادعاء هم کوي چې ګواکې په دې ارتباط واضح او څرګند آیت هم نازل شوی؛ داسې چې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته پکې ویل شوي: ولي دي د علي په اړه خلکو ته دا خبره نه ده اعلان کړې چې هغه ستا ځای ناستی دئ؟ آیا له خلکو وېرېږې؛ الله خو تا ته اطمئنان درکړی چې له خلکو دي ساتي!! که دا اعلان ونه کړې نو تا به خپل رسالت نه وي ترسره کړی!! دا ټولې خبرې؛ په بشپړه توګه له ځانه جوړې شوې خبرې دي؛ هم د قرآن په اړه تور او تحریف دئ او هم د رسول الله صلی الله علیه و سلم په اړه؛ نه په قرآن کې

deenodanish.com ځخه ښکته شوی Deen-o-Danish

د علي رضی الله عنه نوم یاد شوی او نه رسول الله صلی الله علیه و سلم هغه د ځای ناستي په توګه ټاکلی او نه ئې په غدیر خم کي او د الله تعالی په امر؛ د علي رضی الله عنه د امارت په اړه وصیت کړی. د دوی په ځواب کي وایو:

لومړی خبره دا چي پیغمبر علیه السلام د علي رضي الله عنه په ارتباط هیڅ سپارښتنه نه ده کړې او په قرآن کي هیڅ آیت هم نه د علي رضي الله عنه په ارتباط راغلی او نه هم د کوم بل صحابی او شخصیت په ارتباط چي تر پیغمبر علیه السلام وروسته به هغه ځای ناستی وي.

دا خبره نه علي رضي الله عنه کړې، نه صحابه وو کړې او نه تابعینو کړې، چي ګواکي رسول الله صلی الله علیه و سلم په غدیر خم کي د علي رضي الله عنه په اړه د ځای ناستي په توګه سپارښتنه کړې!! نږدې دوه نیمي پېړۍ وروسته؛ هغو کړې چي سیاسي موخي ئې درلودې او په مسلمانانو کي د یوه ژور مذهبي اختلاف راولاړولو لپاره ئې کړې. له دې موضوع د اسلام دښمنانو اعظمي استفادې کړې، مسلمانان ئې په خپلو منځونو کي ووېشل؛ یو د بل خلاف ئې وجنګول؛ د عثماني خلافت په ضد صلیبي جنګونو کي هم او په ننې صلیبي جنګ کي هم، د ترکیې خلاف جنګ کي هم او د عراق خلاف جنګ کي هم؛ دښمنانو تړې اعظمي استفاده وکړه.

علي رضي الله عنه؛ له ابوبکر، عمر، او عثمان رضي الله عنهم سره یو په بل پسي؛ بیعت کړی؛ ۲۴ کاله ئې په هغوی پسي هم په سیاست کي اقتداء کړې او هم په پنځه وخته لمونځونو کي؛ له هغوی سره ئې لاس په لاس بیعت کړی؛ په ټولو چارو کي ئې د هغوی د اوامرو مطابق عمل کړی؛ آیا کېدی شي چي علي رضي الله عنه دي د ځای ناستي په توګه ټاکل شوی وي خو هغه په خپله خوښه او له اعتراض او ځنډ پرته له ابوبکر، بیا عمر او بیا عثمان رضی الله عنهم سره بیعت کوي؟!!

په کوم آیت چي دا محرفین او منحرفین استناد کوي؛ نه په دې آیت کي او نه په ټول قرآن کي؛ نه صراحتاً او نه اشارتاً؛ د علي رضی الله عنه نه نوم

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

اخیستل شوی او نه د هغه په اړه څه ویل شوي؛ داسي لکه چې له مکې د مدینې په لوري د پیغمبر علیه السلام د هجرت او د سفر د ملګري په اړه په قرآن کې ویل شوي:

إِلَّا تَنصُرُوهُ فَقَدۡ نَصَرَهُ ٱللَّهُ إِذۡ أَخۡرَجَهُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ ثَانِيَ ٱثۡنَيۡنِ إِذۡ هُمَا فِي ٱلۡغَارِ إِذۡ يَقُولُ لِصَٰحِبِهِۦ لَا تَحۡزَنۡ إِنَّ ٱللَّهَ مَعَنَاۖ ... التوبه: ٤٠

که ئې مرسته ونه کړئ نو یقیناً چې الله هغه مهال هم د ده مرسته وکړه چې کافرانو په داسي حال کې وایست چې د دوو دوهم وو، هغه مهال چې دواړه په یوه غار (سوړي) کې ول، هغه مهال چې خپل ملګري ته ئې ویل: غم مه کوه، یقیناً چې الله له موږ سره دئ،...

دلته د رسول الله صلی الله علیه و سلم د سفر دوهم ملګري نوم نه دي اخیستل شوی؛ خو له همغې ورځې تر ننه ټول مسلمانان پوهیږي چې دا دوهم کس ابوبکر رضی الله عنه وو؛ خو موږ په ټول قرآن او په هغه آیت کې چې محرفین پرې استناد کوي؛ داسي څه نه مومو چې د علي رضي الله عنه یا بل چا په اړه سپارښتنه ترې استنباط شي. آیت دا دي:

يَٰٓأَيُّهَا ٱلرَّسُولُ بَلِّغۡ مَآ أُنزِلَ إِلَيۡكَ مِن رَّبِّكَۖ وَإِن لَّمۡ تَفۡعَلۡ فَمَا بَلَّغۡتَ رِسَالَتَهُۥۚ وَٱللَّهُ يَعۡصِمُكَ مِنَ ٱلنَّاسِۗ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلۡكَٰفِرِينَ* المائدة: ٦٧

اې پیغمبره! هغه څه چې د خپل رب له لوري درته نازل شوي؛ وئې رسوه؛ او که دې ونکړ؛ نو د ده پیغام دي نه دئ رسولی؛ په داسي حال کې چې الله دي له خلکو ساتي، یقیناً چې الله دا کافر قوم نه هدایتوي.

دا آیت نه په حجة الوداع کې نازل شوی او نه په دې آیت کې د ځای

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

ناستي په اړه څه ویل شوي او نه د علي رضي الله عنه یا بل چا په اړه؛ ډېر د مخه په مدینه کي او هغه مهال نازل شوی چي نه د خیبر جنګ شوی وو، نه د بني قریظه خلاف جنګ شوی وو او نه هم یهودان له مدیني ایستل شوی وو؛ بلکي آیت د یهودانو په ارتباط هغه مهال نازل شوی چي یهودان په مدیني کي تر ټولو ځواکمن، شتمن او مجهز لوری وو، د دوی په ضد څه ویل ګران کار وو، آیت د همدغو یهودانو په اړه راغلی، دا آیت د قرآن په داسي ځای کي راغلی چي د اهل کتابو مخصوصاً یهودو په اړه تفصیلي بحث شوی، د دې آیت؛ مطلب په دې سورې کي د پیغمبر علیه السلام په اړه دري ځلي، ٦٧، ٩٢ او ٩٩ آیتونو کي همدغه الفاظ او یا په همدغه مفهوم؛ او د مؤمنانو په اړه یو ځل په ۱۰۵ آیت کي راغلی، په دې آیت سره پیغمبر علیه السلام ته ویل شوي چي خپل رسالت له خوف، وېرې، تردد او تزلزل پرته په بشپړه توګه پای ته ورسوه، د هغه څه په تبلیغ او ولس ته په رسولو کي هیڅ کمی او قصور مه کوه چي د خپل رب له لوري درکړی شوي، که داسي ونه کړې نو تا به خپل الهي رسالت نه وي ترسره کړی، د دښمنانو د مخالفتونو هیڅ پروا مه کوه، الله تعالی ستا ساتونکی دئ، که خلك ستا دعوت ته مثبت ځواب ونه وایي؛ په دې مه مأیوسه کېږه او په خپل دعوت کي کمی مه راوله، داسي نه چي د خپل دعوت له نتائجو مأیوس شې او په نیمایي کي ئې پرېږدې، د خلکو د هدایت پرېکړه الله تعالی کوي، د دوی د عدم ایمان وجه دا ده چي الله تعالی دا کافر قوم د هدایت وړ نه ګڼي.

که څه هم په دې مبارك آیت کي خطاب پیغمبر علیه السلام ته متوجه دئ، خو هر مسلمان او مخصوصاً علماء چي د پیغمبر علیه السلام ورثه ګڼل کېږي؛ دا خطاب ورته متوجه دئ، باید د دې رسالت وارثان دا الهي پیغام په بشپړه توګه او د خلکو له وېرې او خوف پرته ورسوي، باید مطمئن وي چي الله تعالی به ئې ساتنه کوي.

په داسي حال کي چي د دې او دې ته ورته آیتونو مفهوم ډېر واضح

deenodanish.com څخه ښکته شوی له Deen-o-Danish

دئ، د صفا او روغ ذهن خاوندان په آسانۍ سره واضح مطلب ترې اخلي، خو متأسفانه د کږو او بیمارو زړونو او ذهنونو خاوندان او هغه چې د قرآن په تحریف کې مهارت او جسارت لري، د دې آیت معنی د خپل کوږ ذهن مطابق تحریفوي او وایي: دلته پیغمبر علیه السلام ته ویل شوي چې ته ولي د علي رضي الله عنه امارت نه اعلانوې، ولې دي په تېرو نږدې درویشتو کلونو کې دا کار ونه کړ؛ که دا کار ونه کړې نو تا خپل رسالت پای ته نه دئ رسولی، ولې له خلکو وېرېږې، ما خو تا ته ډاډ درکړی چې له خلکو دي زه ساتم، پیغمبر علیه السلام د دغه تهدید له اورېدو وروسته خلك په غدیر خم کې راغونډ کړل او وئې ویل: د چا چې زه مولا یم علي به ئې مولا وي، علي له حق سره دئ او حق له علي سره، د علي دوست د خدای دوست دئ او دښمن ئې د خدای دښمن!! او ګواکې همدا د پیغمبر علیه السلام د ځای ناستي په توګه د علي رضي الله عنه ټاکل وو!! دغو جنابانو ته وایو:

دا هم د قرآن په نسبت یو کرکجن تور دئ؛ ګواکې قرآن دومره مبهم دئ چې هیڅوک پرې پوه نه شول؛ صحابه پرې پوه نه شول؛ حتي په خپله علي رضي الله عنه هم پرې پوه نه شو؛ چې زه د پیغمبر علیه السلام ځای ناستی ټاکل شوی یم؛ که صحابه وو دا انتباه اخیستي وی چې پیغمبر علیه السلام؛ علي رضي الله عنه خپل ځای ناستی ټاکلی دئ؛ آیا ممکنه وه چې چا د علی رضي الله عنه مخالفت کړی وی؟ څوک به دي ته چمتو شوی وو چې علي رضي الله عنه پرېږدي او ابوبکر رضي الله عنه وټاکي او بیا عمر رضي الله عنه او بیا عثمان رضي الله عنه؛ او په پای کې علي رضي الله عنه وټاکي؟!! هغه صحابه چې د پیغمبر علیه السلام په یوې عادي اشارې؛ دې ته تیار وو چې خپل ځان وقف او خپل سر قرباني کړي؛ د دنیا ګوټ ګوټ ته تللي، جنګېدلي او په شهادت رسېدلي. علي رضي الله عنه هم په دومره اورده موده کې ونه ویل چې زه د پیغمبر علیه السلام ځای ناستی ټاکل شوی یم؛ پلویانو ئې هم ونه ویل؛ په سقیفه بني ساعده کې هم چا ونه ویل چې د پیغمبر علیه

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

السلام هغه وینا مو نه ده په یاد چې په غدیر خم کې ئې د علی په ارتباط وکړه!! قرآن دومره مبهم نه دئ؛ آسان، صریح او واضح دئ؛ په قرآن کې اصلاً مبهم آیت نشته؛ که څوک په صاف او پاک ذهن قرآن ته رجوع وکړي؛ هیڅ آیت به ئې مبهم ونه مومي؛ که احیاناً کوم آیت مجمل ومومي؛ او تفصیل ته ئې اړ شي؛ نو په خپله قرآن ئې تفصیل وړاندي کوي، کله کله او د خاص مصلحت له مخي؛ په لنډو او مختصرو الفاظو یو مطلب بیانوي؛ چې د اوچت ذهن او فکر خاوندان له ځنډ پرته پرې پوهېږي؛ اما د عامو خلکو لپاره؛ همدا مطلب په تفصیل سره بیانوي. د قرآن په څلورو آیتونو کې قرآن داسي معرفي شوی: وَلَقَدْ يَسَّرْنَا ٱلْقُرْءَانَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِن مُّدَّكِرٍ القمر: ۱۷: یقینا چې قرآن مو د پند اخیستو لپاره آسانه کړی؛ آیا کوم پند اخیستونکی شته؟!! همدا د قران کمال دئ چې آسان دئ؛ سره له دې چې په ټولو مهمو مسائلو ئې احتواء کړې؛ او له اسرارو ډک دئ؛ خو هر څوک د خپل ظرفیت په اندازه؛ له قرآن او لارښوونو ئې کافي اخیستنه کولی شي. نه قرآن دومره مبهم، غامض او پېچلی دئ چې هیڅوك ئې له آیتونو مخامخ مفهوم نشي اخیستی او یوازي د روایاتو په مرسته کولی شي د هغه په مراد او مقصد پوه شي، او نه رسول الله صلی الله علیه و سلم داسي وو چې وینا ئې مبهم او غیرواضح وه؛ حقیقت دا دئ چې مور د روایاتو په حقیقت هم د قرآن له مخي پوهېدی شو؛ قرآن معیار دئ؛ له مخي ئې په آسانۍ پوهېدی شو چې کوم روایت صحیح دئ او کوم ناسم؟ د قرآن په هینداره کې کولی شو صحیح او ضعیف روایات سره تفکیک کړو. متأسفانه ځینې هڅه کوي او وایي: قرآن مبهم دئ؛ اوه بطنه (منځ پانګه)لري او په دې بطونو یوازي اهل بیت پوهېږي او بس!! دا جعلي ادعاء د هغو له لوري وړاندي کېږي چې د قرآن په صراحتونو کې د خپلو غلطو ادعاګانو لپاره هیڅ مدرك او سند نشي موندلی؛ نو ځکه وایي: د آیت هغه تعبیر او تفسیر د منلو وړ دئ چې د اهل بیت په روایاتو کې راغلی!! خو د یوه حقیقي مؤمن وینا به داسي وي چې یوازي هغه

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

روایت د اعتبار وړ دئ چې له قرآن سره تعارض ونه لري او لږ تر لږه په قرآن کې کوم شاهد ورته وموسو.

که الله تعالی غوښتلی چې پیغمبر علیه السلام همدلته غدیر خم کې؛ یا تر دې وړاندې؛ علي رضي الله عنه د ځای ناستي په توګه وټاکي؛ نو په واضحو الفاظو به ئې د علي رضي الله عنه نوم اخیستی او د هغه د تعیین لارښوونه به ئې کړې وه او ویلي به ئې وو چې له ما وروسته به علي رضي الله عنه زما ځای ناستی وي، که پیغمبر علیه السلام دا کار غوښتلی او الله تعالی پرې ګمارلی وی؛ نو په واضح او صریح توګه او تر دې ډېر وړاندې به ئې خپل ځای ناستی ټاکلی وو؛ دا کار به ئې په مدینه منوره کې کړی وو نه د سفر په دوران کې؛ له خلکو به ئې علي رضي الله عنه ته مخامخ او په خپل شتون کې بیعت اخیستی وو؛ همغسي لکه چې الله تعالی هارون علیه السلام د موسی علیه السلام لپاره وزیر او مرستندوی وټاکلو.

همداراز پیغمبر علیه السلام هم د خپل رسالت په ابلاغ کې هیڅکله دومره غفلت نه کولو چې په درویشتو کلونو کې ئې د الله تعالی حکم پټ ساتلی وو، هغه هم د خلکو له وېرې او اوس د ژوند په پای کې؛ له حجة الوداع د راګرځېدو په مهال، د لارې په نیمایي کې، د الله تعالی د وروستي تهدید په سبب؛ د سفر یاران راغونډوي او په داسي مبهمو الفاظو دا خبره ورته اعلانوي چې له شیعه آخوندانو پرته هیڅوک نه دي پرې پوه شوي!! آیا په قرآن، خدای او پیغمبر باندې ایمان لرونکی انسان به د داسي کرکجني خبرې جسارت وکړي؟!!

د ځای ناستي نه ټاکل د اسلام او د پیغمبر علیه السلام د عظمت نښه ده، اسلام په موروثي قیادت باور نه لري، دا د جاهلیت د دور پاته شوني ګڼي، په اسلام کې امارت او قیادت اهل ته سپارل کېږي، نه له پلاره زوی ته په میراث پاته کېږي او نه د تره زوی ته، د تره زوی خو د تره په شته والي کې په ورثه وو کې هم نه راځي، که اسلام په موروثي قیادت باور درلودی؛ نو د

deenodanish.com له Deen-o-Danish څخه ښکته شوی

تره په شتون کې د تره زوی ته میراث نه رسېږي؛ د عباس رضی الله عنه په موجودیت کې به ولي علي رضی الله عنه ځای ناستی ټاکل کېږي؟!!

که قیادت موروثي وی نو له ابوبکر، عمر او عثمان رضي الله عنهم به د دوی هغو زامنو ته پاته شوی وو چې ټول مسلمانان ئې په اهلیت، تقوی او علم باور لري، د ابوبکر رضي الله عنه زوی محمد بن ابوبکر خو په علي رضي الله عنه تر خپلو زامنو هم ډېر ګران وو، هغه ئې د والي په توګه ټاکلی وو.

مور نه پوهېږو د دې آیت له کوم لفظ؛ دا معنی راباسئ، آیا ګمان کوئ چې قرآن دومره مبهم او غامض دئ چې یوازې د روایاتو په مرسته ئې په حقیقي معنی پوهېدی شو؟ دلته خو نه تر دې آیت مخکې او نه وروسته د امارت موضوع څېړل شوې او نه د علي رضي الله عنه یادونه راغلې!! د تبلیغ دا الفاظ په دې سورې کې درې ځلي او هر ځل د ما أنزل الله د تبلیغ او په بشپړه توګه د رسالت د رسولو په اړه راغلي، آیا له یوه متعصب او کور زېږي انسان پرته بل څوک له دې څرګند آیت داسي غلط مفهوم اخیستی شي؟

دا ٦٧ آیت په داسي ځای کې راغلی چې تر دې وړاندې له ٥٧ آیت بیا ترې وروسته تر ٨٥ آیت پورې؛ په دې ٢٨ آیتونو کې؛ فقط د اهل کتاب په اړه بحث شوی؛ تر دې وړاندې آیت داسي پیل شوی: وَلَوۡ أَنَّ أَهۡلَ ٱلۡكِتَٰبِ ءَامَنُواْ وَٱتَّقَوۡاْ .... او تر دې وروسته آیت داسي پیل شوی: قُلۡ يَٰٓأَهۡلَ ٱلۡكِتَٰبِ لَسۡتُمۡ عَلَىٰ شَيۡءٍ حَتَّىٰ تُقِيمُواْ ٱلتَّوۡرَىٰةَ وَٱلۡإِنجِيلَ وَمَآ أُنزِلَ إِلَيۡكُم مِّن رَّبِّكُمۡ ... د قرآن د نظم غوښتنه دا ده چې دا آیت هم په همدغي موضوع پورې ارتباط لري؛ او د ټول هغه مضمون یوه برخه ده چې په ٢٨ آیتونو کې پرې بحث شوی؛ په ترڅ کې ئې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته امر شوی چې د اهل کتاب په اړه ټول هغه څه له کوم تشویش او اندېښنې پرته ابلاغ کړه چې تا ته ویل شوي؛ په دې مشخص بحث کې د علي رضي الله عنه په اړه د وصیت موضوع په زور هم نشي داخلېدی؛ داخلول ئې نه عقل مني، نه ادبي سلیقه او نه د کلام نظم. د دې برخي لومړی آیت دا دئ:

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَتَّخِذُواْ ٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُواْ دِينَكُمۡ هُزُوٗا وَلَعِبٗا مِّنَ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡكِتَٰبَ مِن قَبۡلِكُمۡ وَٱلۡكُفَّارَ أَوۡلِيَآءَۚ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ إِن كُنتُم مُّؤۡمِنِينَ ٥٧ المائده: ۵۷

اې مؤمنانو! له هغو چې تر تاسو د مخه کتاب ورکړی شوی او ستاسو دین ئې په ټوکو او لوبو نیولی او له کافرانو دوستان مه نیسئ او له الله ووېرېږئ که مؤمنان یاست.

او د دې برخې آخري څلور آیتونه (۸۱- ۸۵)؛ یهودان د مسلمانانو تر ټولو شدید دښمنان او نصاری تر ټولو مؤمنانو ته نږدې معرفي کوي.

یوازې یو تور زړی، احمق او متعنت انسان کولی شي دا جسارت وکړي چې په دې ۲۸ آیتونو کې یو ئې داسې تعبیر کړي چې د بحث له موضوع سره هیڅ تړاو او همغږي نه لري؛ ۲۷ ئې د اهل کتاب په اړه بحث کوي او دا یو منځنی آیت په داسې حال کې د علي رضي الله عنه په اړه تعبیروي چې د داسې تعبیر لپاره هیڅ مجال او توجیه نشو موندلی!!!

غدیر خم کې څه تېر شوي؟

دا چې ځینې وایي: په غدیر خم کې رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: "د چا چې زه مولا یم علي به ئې مولا وي"؛ او ګواکې همدا د ځای ناستي په توګه د علي رضي الله عنه د ټاکلو سپارښتنه وه؛ په دې اړه باید ووایو:

مولا په هیڅ قاموس کې د امیر، ځای ناستي او ولي الامر په معنی نه دئ راغلی، هیڅ خلیفه او امیر ته دا لقب نه دئ کارول شوی، صحابه وو به خپل آزاد کړي غلامان په دې نامه یادول او دا د دې لپاره چې د هغوی درناوی ئې کړی وي او د مریي په ځای ئې دوست او سالار نومولی وي. قرآن

deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

هم دوی د موالي او ديني وروڼو په نامه ياد کړي او فرمايي:

... ٱدۡعُوهُمۡ لِأٓبَآئِهِمۡ هُوَ أَقۡسَطُ عِندَ ٱللَّهِۚ فَإِن لَّمۡ تَعۡلَمُوٓاْ ءَابَآءَهُمۡ فَإِخۡوَٰنُكُمۡ فِي ٱلدِّينِ وَمَوَٰلِيكُمۡۚ .... الاحزاب: ۵

.... خپلو پلرونو ته منسوب ئې دروبلئ (د خپلو پلرونو په نامه ئې یاد کړئ)، همدا د الله په وړاندي ډېره عادلانه ده، او که ئې پلرونه نه پېژنئ نو په دين کي ستاسو وروڼه او ستاسو دوستان او (آزاد کړي مريان) دي...

يعني څوك چي تاسو په زوی ولې نيسئ؛ هغه ځان ته نه؛ بلکي خپل اصلي پلار ته منسوب او د خپلو پلرونو په نامه ئې یاد کړئ، همدا د الله تعالی په وړاندي ډېره عادلانه وينا او د حقيقت مطابق انتساب دئ. که احياناً د هغه پلار نه پېژنئ نو د ورور او دوست په نامه ورته خطاب کوئ، هغه په دين کي ستاسو ورور او دوست دئ.

په صحابه وو کي هيڅا داسي نه دي انګېرلي چي ګواکي رسول الله صلی الله عليه و سلم په دې وينا سره علي رضي الله عنه ځای ناستی ټاکلی!! له دې الفاظو؛ نه علي رضي الله عنه دا غلطه معنی اخيستې ده او نه صحابه وو!!

دا چي وايي: رسول الله صلی الله عليه و سلم؛ د علي رضي الله عنه په اړه ويلي: مَنْ كُنْتُ مَوْلَاهُ فَعَلِيٌّ مَوْلَاهُ: د چا چي زه دوست يم نو علي به ئې دوست وي؛ دې ته ورته الفاظ رسول الله صلی الله عليه و سلم د اسامه بن زيد رضي الله عنه په اړه هم ويلي: «مَنْ أَحَبَّني فَلْيُحِبَّ أُسَامَةَ»: په چا چي زه ګران يم نو له اسامه سره دي هم محبت کوي.

حقيقت دا دئ چي له حَجَّةُ الوَدَاع (د رسول الله وروستی حج)؛ د راګرځېدو په مهال؛ پيغمبر عليه السلام ته دا اطلاع ورسېده چي د علي رضي الله عنه ځيني هغه ملګري چي له ده سره د زکات د راغونډولو لپاره يمن ته تللي وو؛ دی د يمن د زکات په اړه په لاسوهنو او ناروا تصرف متهموي، رسول الله صلی الله عليه وسلم ته له پوښتنو او ګروېږنو وروسته معلومه

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

شوه چې دا کسان له علي رضي الله عنه په دې خفه شوي وو چې د دوی غوښتنو ته ئې مثبت ځواب نه وو ویلی او هغه څه ئې نه وو ورکړي چې تري غوښتل ئې، نو ځکه پیغمبر علیه السلام؛ خلك راغوند کړل او د علي رضي الله عنه په اړه ئې دې ته ورته څو تأییدي خبري وکړې. په دې اړه هم په روایاتو کې اختلاف تر سترګو کېږي چې علی رضي الله عنه د جنګ لپاره لېږل شوی وو که د زکات راغونډولو لپاره، د خمس په ارتباط منازعه رامنځ ته شوې که بل څه، روایات متعارض دي، یو روایت دا دئ:

عَنْ بُرَيْدَةَ قَالَ: غَزَوْتُ مَعَ عَلِيٍّ الْيَمَنَ فَرَأَيْتُ مِنْهُ جَفْوَةً فَلَمَّا قَدِمْتُ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَكَرْتُ عَلِيًّا فَتَنَقَّصْتُهُ فَرَأَيْتُ وَجْهَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَغَيَّرُ فَقَالَ: «يَا بُرَيْدَةُ أَلَسْتُ أَوْلَى بِالْمُؤْمِنِينَ مِنْ أَنْفُسِهِمْ» قُلْتُ: بَلَى يَا رَسُولَ اللَّهِ. قَالَ: «مَنْ كُنْتُ مَوْلَاهُ فَعَلِيٌّ مَوْلَاهُ»:

له بریده روایت دئ چې له علي سره د یمن په غزا کې شریك وم، له هغه مي څه ناخواله ولیده، نو کله چې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته راغلم؛ د علي یادونه می وکړه او د هغه کمی مي یاد کړ، نو ومي لیدل چې د رسول الله صلی الله علیه و سلم څېره بدله شوه؛ او وئې ویل: اې بریده! آیا زه مؤمنانو ته تر خپلو ځانونو اولی نه یم؟ ومي ویل: هو؛ یا رسول الله؛ وئې فرمایل: د چا چې زه دوست یم نو علي به ئې دوست وي.

که په دغو روایاتو او الفاظو کې ئې غور وکړو نو راته جوته کېږي چې مراد ئې قطعاً دا نه دئ چې رسول الله صلی الله علیه و سلم علي رضي الله عنه د ځای ناستي په توګه ټاکلی.

د مسلمان په توګه دا باید په پام کې ولرو چې اسلام په کومي خاصي زمانې پورې منحصر دین نه دئ؛ تر قیامت پورې به د انسانانو د ټولو فردي او اجتماعي قضایاوو په اړه وروستی لارښود وي؛ د داسي تلپاته دین

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

لارښوونه؛ د امیر د ټاکلو په اړه هم باید داسي وي چې په هره زمانه کې نه یوازې پلي کېدی شي بلکې تر بل هر نظام هم عادلانه وي او هم معقول. که دا غلطه او د حقیقت خلاف ادعاء ومنل شي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم؛ د علي رضي الله عنه په اړه سپارښتنه کړې؛ مسلمانان به له علي وروسته؛ تر ننه او بیا تر قیامت پورې څه کوي او څوك به د امیر په توګه ټاکي؟ اوس خو رسول الله صلی الله علیه و سلم نشته؛ د چا په اړه د ده سپارښتنه هم نه مومو؛ نو څه به کوو؟!!

نه یوازې اهل سنت ته منسوب ځینې کړی؛ همدا غلطه رأی وړاندې کوي چې ګواکې رسول الله صلی الله علیه و سلم؛ امارت د قریشو نَسَبِي حق ګڼلی بلکې د ابوبکر رضي الله عنه په اړه ئې سپارښتنه کړې!! شیعه آخوندان هم وایي: امامت منصوصي دئ او امام د الله له لوري نصب کېږي!! په داسي حال کې چې نه په قرآن کې د علي رضي الله عنه یا کوم بل صحابي د امامت او امارت په اړه کومه لارښوونه ګورو او نه د رسول الله صلی الله علیه و سلم په احادیثو کې؛ نه په صحابه وو، تابعینو او تبع تابعینو کې داسي څوك مومو چې د منصوصي امامت خبره ئې کړې وي!!

د شیعه مذهب بانیان؛ د دغې عقیدې له مخې؛ په غائب امام باور ته اړ شول؛ د حکومت جوړولو او د امام او امیر د ټاکلو او غوره کولو له وجیبې لاس اخیستل د دې ناسم باور طبیعي پایله وه؛ د انتظار غلطه عقیده له همدې وزېرېده؛ نور د علي رضي الله عنه په ملسیو او کړوسیو کې د تل لپاره؛ د امامت منحصر او محدود ساتل؛ ممکن نه وو، په دولسم ئې پای ته ورسولو؛ او دولسم ئې تر قیامته دائمي غائب امام جوړ کړ؛ او دا هم د دې لپاره چې د بایبل د ادعاء له مخې د عیسی علیه السلام حواریون دولس تنه وو او د یهودانو قبیلې هم دولس!!! دوی په دې حکم عمل کول هم پرېښود چې مسلمانان به حکومت جوړوي، د ظالمانو او مفسدینو واکمني به پای ته رسوي، اقتدار به صالح، عادل او متقي واکمنانو ته لېږدوي او د

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

امارت او امامت منصب به داسي چا ته سپاري چې د دې مقام اهلیت ولري، د انتظار دا عقیده د هغه دښمن په ګټه وه چې غواړي دین له سیاست ګوښه شي، مسلمانان حکومت ونلري او په یوه امیر او امام راغونډ نشي، په داسي حال کې چې د قرآن له بشپړېدو وروسته؛ د وحي لړۍ بنده شوه، په قرآن کې د پیغمبر د ځای ناستي یادونه نه ده شوې، له دې وروسته نه پیغمبر راځي او نه وحي، که خلك هم د امام د غوره کولو حق ونلري او دا دنده ترسره نکړي؛ نو دا امام به څنګه غوره کېږي؟ مګر د دې عقیدې طبیعي او محتومه نتیجه دا نه ده چې خلك به انتظار کوي؟ غائب امام ته او مجهول راتلونکي ته؟ او آیا دا هغه څه نه دي چې دښمن ئې غواړي؟!!

په ایران کې انقلاب راغی؛ چا راووست او څنګه راغی؛ دا بېله خبره ده؛ په هر صورت؛ قدرت د مذهبي مشرانو لاس ته ورغی؛ خو د دې عقیدې پلویان حیران وو چې اوس دا انقلاب د خپلې عقیدې له مخې څنګه توجیه کړي؟ دوی خو په دولسو امامانو باور لري، دیارلسم امام خو د دوی په مذهب کې هیڅ مجال او توجیه نه لري؟ دوی خو په دې باور وو چې دولس امامان د وحي له لارې ټاکل شوي، دولسم امام ئې په پنځه کلنۍ کې غائب شوي؛ د خلاصون او راتګ لپاره ئې دعاګاني کوي؛ ورته منتظر دي؛ د ده په شتون کې د بل امام راتګ محال ګڼي او نه ئې مني؛ خو اوس د دې باور خلاف دوی په خپله امام او رهبر او جمهور رئیس انتخابوي، دا خو ټول د دوی د عقیدې او باور خلاف کار دئ!! مجبور شول د ولایت فقیه په نامه داسي اصطلاح راوباسي چې نه ئې په خپلو مذهبي کتابونو کې نښه موندلی شوی او نه له دې مخکې د دوی هېڅا دا خبره کړې وه!! نه پوهېږو ولې د یوې غلطې رأیې لپاره په قرآن داسي ملنډې وهي؟ کوم عقلمن انسان به داسي تعبیر او تفسیر ومني؟ ولې د واقعیت خلاف خبره کوي؟ ولې د داسي بې بنسټې خبرې لپاره په امت کې د اختلاف باعث کېږي؟ که اوس هم دوی دا خبره ومني چې د امام او امیر غوره کول د مسلمانانو وجیبه او حق دئ او د

deenodanish.com څخه ښکته شوی له Deen-o-Danish

څلورو خلفاءو د انتخاب په اړه چې صحابه وو کومې پربکړې کړې؛ د قرآن له لارښوونو سره سمې پربکړې وې؛ نو په امت کې به د اختلاف یو مهم ټکی ختم شي او ټولې هغه اختلافي مسئلې به حل شي چې له دغې غلطې انګېرنې راولاړې شوې!!

دا هم باید په پام کې ولرو چې: صحابه رضي الله عنهم؛ هم په دین کې تر مورِ ښه پوه او کلك عمل کوونکي ول او هم د مستحق خلیفه په پېژندو کې تر هر چا ډېر پوه او هوښیار، دوی چې د راشدینو خلفاءو د پر له پسې انتخاب په اړه کومه پربکړه کړې؛ ابوبکر، عمر، عثمان او علي رضي الله عنهم ئې یو په بل پسې غوره کړې؛ سمه او عادلانه پربکړه همدا ده؛ دوی چې خلافت نه موروثي ګڼلی او نه منصوصي؛ د دین غوښتنه او حقیقت همدا دئ.

دې ته هم باید متوجه وو چې روایت د إسنادو له پلوه دوه ډوله دي؛ متواتر او احاد؛ هغه حدیث ته متواتر وایي چې له دومره ډېرو کسانو روایت شوی وي چې پر دروغو د هغوی اتفاق؛ عقلاً محال وي. احاد هغو روایاتو ته وایي چې راوي ئې یو یا څو کسان وي. احاد هم د رواتو د شمېر له پلوه په دریو ډولونو وېشل شوي: مشهور، عزیز او غریب. او د رواتو د وصف او حالت له پلوه په دریو ډولونو صحیح، حسن او ضعیف وېشل شوي.

مشهور هغه حدیث ته وایي چې په هري طبقې کې ئې راویان درې یا تر دې زیات وي.

عزیز هغه حدیث ته وایي چې لومړني راویان ئې دوه وي.

غریب هغه حدیث ته وایي چې لومړنی راوي ئې یوازي یو کس وي. چې دا په درې ډوله وېشلی شو: غریب، ډېر غریب، تر ټولو زیات غریب، که په صحابه وو کې یو راوي لري نو غریب دئ، که په تابعینو کې هم یوازي یو راوي لري نو ډېر غریب دئ او که په تبع تابعینو کې هم یوازي یو راوي لري

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

نو تر ټولو زيات غريب دئ. له غريب روايت په انکار سره نه يوازي څوک کافر کېږي نه؛ بلکي د داسي کس انکار که په دې دليل وي چې نه غواړي رسول الله صلى الله عليه و سلم ته داسي څه منسوب کړي چې هغه نه دي ويلي؛ د احتياط له کبله ئې د دې روايت له منلو او بل ته له ويلو ډډه کړې؛ نو ده نه يوازي کومه ګناه نه ده کړې بلکي د ثواب کار ئې کړی؛ او په دې قرآني لارښوونې ئې عمل کړی چې وايي: د يوه چا د وينا د تصديق لپاره يا دوه شاهدان ضروري دي، يا دري او په ځينو صورتونو کې څلور؛ رسول الله صلى الله عليه و سلم ته څه منسوبول دومره ستر کار دئ چې يو او دوه شاهدان کافي نه دي؛ د همدې لپاره محققين وايي: که څوک له غريب او عزيز روايت انکار وکړي؛ هيڅ ګناه پرې نشته؛ له مشهور روايت انکار؛ فسق دئ او له متواتر روايت انکار؛ د کفر مترادف دئ!!

مورِ ته له صحابه و ډېر کم شمېر روايات؛ په متواتره توګه رسېدلي؛ يو ئې په همدې موجود قرآن؛ د دوی اجماع او په متواتره توګه تر مورِ رسېدل دي، بل ئې په اجماع سره د څلورو خلفاءو يو په بل پسې ټاکل دي؛ بل ئې هغه دئ چې سلفيان ورسره حساسيت لري؛ د شل رکعته تراويح اړوند روايت؛ چې صحابه وو عملاً پرې اجماع کړې او په تواتر سره تر مورِ رسېدلی. د لمانځه وختونه، رکعتونه، ترتيب، د آذان الفاظ، د حج څرنګوالی او ځيني نور مسائل په همدې ضمن کې دي.

آيا روايت د عقل په تله تللی شو؟

درواياتو په اړه دا هم په پام کې ولرئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم په خپله مورِ ته لارښوونه کړې:

عَنْ أَبِي حُمَيْدٍ وَأَبِي أُسَيْدٍ: أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم قَالَ: "إِذَا سمِعْتُمُ الْحَديثَ عَنِّي تَعْرِفُهُ قُلُوبُكُمْ وَتَلِينُ لَهُ أَشْعَارُكُمْ وَأَبْشَارُكُمْ وَتَرَوْنَ أَنَّهُ

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

مِنْكُمْ قَرِيبٌ فَأَنَا أَوْلاكُمْ بِهِ. وَإِذَا سَمِعْتُمُ الْحَدِيثَ تُنْكِرُهُ قُلُوبُكُمْ وَتَنْفِرُ مِنْهُ أَشْعَارُكُمْ وَأَبْشَارُكُمْ وَتَرَوْنَ أَنَّه مِنْكُمْ بَعِيدٌ فَأَنَا أَبْعَدُكُمْ مِنْهُ"

مسند احمد

له ابي حُميد او ابي أُسيد روايت دئ چي نبي صلى الله عليه و سلم وفرمايل: که مو ما ته منسوب داسي حديث واورېد چي ستاسو زړونه ئې خوښوي او پېژني، ستاسو وېښتان او پوستکي ورته نرم شي، او داسي ئې مومئ چي تاسو ته نږدې دئ؛ نو زه تر تاسو هغه ته اولى يم او که مو ما ته منسوب داسي حديث واورېد چي ستاسو زړونه ئې نه خوښوي او نه ئې پېژني، ستاسو وېښتان او پوستکي ترې نفرت کوي، او داسي ئې مومئ چي له تاسو لرې دئ؛ نو زه تر تاسو زيات له هغه لرې يم.

يعني د يوه صادق مؤمن؛ زړه، دماغ، مشاعر او حواس داسي وي چي سمه او ناسمه وينا پېژندى شي، د قرآن د لارښوونو له مخي چي په هر څه کې د ده لارښود دئ؛ او د خپل ايمان په رڼا کې؛ د يوې وينا په اړه سم قضاوت کولى شي؛ که ئې زړه او مشاعرو ومنله چي دا وينا صحيح ده؛ نو بايد ډاډه وي چي رسول الله صلى الله عليه و سلم به دا خبره کړې وي او که ئې د زړه او دماغ درې ورته خلاصه نه شوه؛ او د سموالي په اړه ئې شکمن شو؛ نو بايد د رسول الله صلى الله عليه و سلم له شأن ئې لرې وګڼي او هغه ته ئې له منسوبولو ډډه وکړي.

زما زړه خو دا خبره قطعاً نشي منلى چي رسول الله صلى الله عليه و سلم به د يوه چا په اړه سپارښتنه کړې وي او صحابه وو به د هغه خلاف عمل کړى وي؟!! عقل او ايمان مي راته وايي: صحابه وو چي څه کړي د رسول الله صلى الله عليه و سلم له لارښوونو او ارشاداتو سره سم ئې کړي؛ علي رضي الله عنه چي له دريو مخکينيو خلفاءو سره بيعت کړى او په دوى

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

پسې ئې؛ هره ورځ او په پنځو لمونځونو کې اقتداء کړې؛ د خپل ایمان او ديني علم په رڼا کې ئې دا کار کړی.

موږ په دې عقیده یو؛ او حقیقت همدا دئ چې تر عثمان رضي الله عنه وروسته؛ د علي رضي الله عنه د انتخاب په اړه د صحابه وو پرېکړه تر ټولو مناسبه او عادلانه پرېکړه وه، تر بل هر چا زیات دی د دې مقام لپاره وړ وو، خو تر دې د مخه هغه په عمر خام وو، د مشرانو صحابه وو په شته والي کې ده ته په ځوانۍ کې دا منصب نشو سپارل کېدی.

د اسلامي خليفه او امير اطاعت

دا د څو کلونو وړاندي د یوې مناقشې یوه برخه ده؛ یوه داسې لیکوال چې ځان د طالبانو خواخوږی ښیي، ټولو هغو افغانانو، مجاهدینو او اسلامي احزابو او د هغوی غړو ته ئې بلنه ورکوله چې له ملا محمد عمر مجاهد سره بیعت وکړي، هغه به ئې باغیان ګڼل چې له دې بیعت ډډه وکړي؛ دې شاغلي تر دغه عنوان لاندي (د اسلامي خليفه او امير اطاعت)؛ څه مطالب لیکلي وو؛ د بیعت او اطاعت دوه بېلي بېلي موضوع ګاني ئې سره خلط کړې وې او موږ ئې ځواب ته اړ کړي وو: شاغلي په پیل کې لیکلي وو: "دا چې د اسلامي شریعت له مخې بیعت خورا درونده اهمیت لري او هیڅکله یوازې رسمي دود او تشریفاتي دستور ندئ؛ د سپېڅلي شریعت لوی حکم دئ.... د شرعي بیعت وروسته په رعیت او اولس باندې نه یوازې د هغه اطاعت کولو تأکید کوي، بلکې د خدای جل شأنه او د هغه د رسول علیه السلام د اطاعت وروسته ئې د امیر او خلیفه اطاعت فرض ګرځولی." په همدې لړ کې ئې د ابن خلدون اقوال او د بخاري روایات د دلیل په توګه راوړي. دوی ته مو په دې اړه څو عرائض درلودل:

بیعت بېله موضوع ده او د امیر اطاعت بېله موضوع، یوه د امیر له ټاکلو مخکې ده او بله ئې تر وروسته، یوه د خلکو حق دئ او بله ئې

deenodanish.com له Deen-o-Danish څخه ښکته شوی

وجیبه، ذمه والي او مسئولیت، په بیعت سره امیر ټاکل کېږي او بیا په همدې بیعت سره د ټاکل شوي امیر اطاعت پر مسلمانانو لازم ګرځي؛ د بیعت په اړه دوه انګېرنې مومو: ۱- یوه ئې دا چې امیر د بیعت له لاري ټاکل کېږي، هغه څوك شرعي امیر دئ او اطاعت ئې پر مسلمانانو لازم چې په خپله مسلمانانو غوره کړی وي او په خپله خوښه ئې بیعت ورسره کړی وي. ۲- او بله ئې دا چې امیر له نورو لارو ټاکل کېږي او بیا پر خلکو لازمه ده چې له دغه امیر سره بیعت وکړي!! یعني بیعت تشریفاتي مراسم دي چې د امیر له ټاکلو وروسته ترسره کېږي!! مورِ له هغو محققینو، مجتهدینو او فقهاءو سره موافق یو او د دوی رأیه د قرآن او سنت مطابق ګڼو چې بیعت د امارت لپاره ضروري شرط بولي؛ نه تشریفاتي مراسم، او د هغو خلکو دا رأیه کمزورې او بې بنسټه ګڼو چې بیعت د امیر له ټاکلو وروسته؛ د خلکو د ذمه والۍ او مسئولیت په توګه وړاندي کوي، دا یوه مغالطه ده چې (بیعت) او (اطاعت) سره خلطوي.

لیکوال د دې پر ځای چې د امیر په ټاکنې کې د (بیعت) اهمیت او ونډې ته اشاره وکړي او ووایي چې د امارت لپاره اساسي شرط دئ؛ بل لوري ته ځي او دا موضوع څېړي چې د امیر اطاعت پر مسلمانانو فرض دئ!!

که بیعت د مسلمانانو حق نه وی او د دوی خوښي ته نه وی پرېښودل شوی نو نه به هغو صحابه وو له علي رضی الله عنه سره خپل بیعت ځنډولی وو چې د ده د امارت په اړه ئې څه ملاحظات درلودل او نه به علي رضی الله عنه له ابوبکر رضی الله عنه سره خپل بیعت تر یوې مودې ځنډولی وو (که دا روایت صحیح وګڼو).

له امیر سره بیعت د بلې هرې شرعي مبایعې او معاملې په څېر دئ، د طرفینو تر منځ له توافق وروسته اعتبار لري، لکه دا چې نارینه د ښځینه وو لپاره قیم غوره شوی؛ خو هغه مهال ئې د ښځې قیم ګڼلی شو چې دواړه لوري د نکاح ټرون ترسره کړي، له دغه ټرون وروسته؛ مېړه د ښځې قیم شي

deenodanish ځخه ښکته شوی له deenodanish.com

او اطاعت ئې پرې لازم، په همدې توګه پر مسلمانانو د امیر اطاعت لازم دئ؛ خو د هغه امیر اطاعت چې دوی په خپله خوښه ټاکلی او بیعت ئې ورسره کړی وي. که تاسو د النساء د سورې په (۵۸-۵۹) آیتونو کې لږ غور وکړئ نو متوجه به شئ چې لومړی ټولو مسلمانانو ته امر شوی چې د امانت اهل تشخیص کړئ، امانت وروسپارئ او بیا ورته ویل شوي چې د خپل اولي الامر اطاعت وکړئ، لومړی د امانت (یعني امارت) سپارلو موضوع راغلې او بیا د اولي الامر د اطاعت موضوع، خو دا هم ویل شوي چې د هغه اولي الامر اطاعت وکړئ چې ستاسو له منځه وي، تاسو غوره کړی وي او تاسو ئې د ځان په څېر ګڼئ.

په یوه وخت کې له دوو خلفاءو سره بیعت

ښاغلی معترض تر دې سرلیك لاندې لیکي: "د اسلامي شریعت پربېکړه دا ده چې هر کله له یوه خلیفه او امیر سره مسلمانان بیعت وکړي او د هغه په مقابل کې د خلافت او امارت لپاره بل مدعي پورته شي؛ نو د هغه حکم دا دئ چې هغه باغي دئ ... بیا پر دغو دوو روایاتو استناد کوي:

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم « إِذَا بُوِيعَ لِخَلِيفَتَيْنِ فَاقْتُلُوا الآخَرَ مِنْهُمَا ».

له ابو سعید خدري روایت دئ چې رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم وفرمایل: کله چې له دوو خلفاءو سره بیعت وشي؛ نو په هغوی دواړو کې؛ وروستی ووژنئ»

عَنْ عَرْفَجَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم يَقُولُ « مَنْ أَتَاكُمْ وَأَمْرُكُمْ جَمِيعٌ عَلَى رَجُلٍ وَاحِدٍ يُرِيدُ أَنْ يَشُقَّ عَصَاكُمْ أَوْ يُفَرِّقَ جَمَاعَتَكُمْ فَاقْتُلُوهُ »

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

له عرفجه روایت دئ چي له رَسُولُ اللَّه صلی الله علیه وسلم مي واورېدل چي وئې فرمایل: څوك چي د دې لپاره ستاسو خوا ته راشي چي يووالی مو ټوټې ټوټې کړي او ډله مو خوره او متفرقه کړي؛ حال دا چي تاسو د يوه کس (امیر) په خوا کې متحد وئ، نو وئې وژنئ.

بیا لیکي چي اوس دي ښاغلی حکمتیار د دغو احادیثو د لوستلو وروسته؛ پرېکړه وکړي چي څوك امیرالمؤمنین دئ؛ لومړنی که وروستنی؟ (ملامحمد عمر مجاهد که کرزی؟) د ملامحمد عمر مجاهد سره د هېواد د اهل الحل و العقد څښتنانو د ۱۳۷۵ لمریز کال د حمل د میاشتي په څوارلسمه نېټه د شرعي امیر په توګه بیعت شوی او کرزی په ۱۳۸۰ کال کې؛ د یرغلګرو امریکایانو په زور راوستل شو او په کابل کې ورته ارګ وسپارل شو، نو اوس تا ته!! د خپل ضمیر او وجدان په رڼا کې کومه فتوی سمه لیدلی شي؟ اسلامي شریعت وایي چي دویم امیر واجب القتل دئ او هیڅکله ئې واکمني شرعي واکمني نه ده!! ته څه وایې؟!!

دوی ته مو په ډېر درناوي سره څو مشورې درلودې:

۱- تاسو د پوښتونکي هغي پوښتني ته دقت نه دئ کړی چي له تا ئې پوښتلي: که د یو نیم زر کسانو په رأیه غوره شوی ملا محمد عمر مجاهد؛ د امیر المؤمنین په توګه منو نو د جناب کرزي په اړه به څه وایو؛ د همدغو کسانو اکثریت؛ کرزی هم د ولسمشر په توګه قبول کړی؟! هلته داسي ویل شوي: "طالبان خپل امیرالمؤمنین په دې دلیل شرعي امیر بولي چي د دوی د اقتدار پر مهال په کندهار کې د اهل حل و عقد یوې غونډې هغه ته د امیرالمؤمنین لقب ورکړ!! خو دوی به اوس دې خبري ته څه ځواب ورکوي چي د دوی هغه اهل حل و عقد چي په کندهار کې راغونډ کړی شول او ملامحمد عمر مجاهد ته ئې د امیرالمؤمنین لقب ورکړ؛ اوس د دوی مطلق اکثریت، نږدې ۹۰ سلنه او لږ تر لږه تر نیمایي زیات ئې؛ د

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

کرزي خوا ته ولاړ دي او هغه اميرالمؤمنين ګڼي؟!! د دغو (اهل حل وعقد!!) کومه فتوی سمه او شرعي ګڼې، مخکنۍ که اوسنۍ؟!! که د امير انتخاب په معدودو کسانو پورې مربوط شي؛ تل به دا ترخه تجربه تکرارېږي، هرڅوک چې د اقتدار پر کرسۍ ناست وي يا تر نورو ډېرې پيسې ولري؛ دوی به اخلي او د خپلې خوښې فتواوي به پرې مهر کوي!!"

۲- زمونږ له نظره دا خلك اهل حل و عقد نه وو او نه دي، نه ئې مخکنۍ پرېکړه صحيح وه او نه اوسنۍ، د کرزي له امريکايي حکومت سره د دوی ملګرتيا ښيي چې دا ډېر نااهله او دين پلورونکي مفتيان وو؛ نه اهل حل و عقد!! نه دوی د امير د ټاکلو حق لري او نه د دوی په څېر نور، د امير د ټاکلو حق د ولس دئ نه د داسي خلکو!! ملامحمد عمر مجاهد د طالبانو امير وو؛ نه د ټول افغان ولس امير او نه د نړۍ د ټولو مؤمنانو امير، نه ټولو اهل الرأی افغانانو ده ته رأيه ورکړې وه او نه ټول افغان ولس ورسره بيعت کړی او نه ئې پر ټول افغانستان واکمني مسلطه شوې وه، نه د نړۍ ټول مسلمانان د ده پر سر متحد شوي وو، کوم روايات چې تا نقل کړي؛ يو ئې هم دلته مصداق او مجال نه لري او د هغه په استناد دا امارت داسي نه ثابتېږي چې څوك ئې ونه مني نو هغه مباح الدم او واجب القتل دئ!!

۳- داسي اميران ډېر د مخه موجود وو، په لکونو افغانانو ورسره بيعت کړی وو، تر امارت لاندي ئې په لکونو خلکو جهاد کړی وو، آيا تاسو وروستني اميران، له لومړنيو ډېر وروسته راپاڅېدلي اميران؛ باغيان او واجب القتل ګڼئ؟ آيا له دوی سره جنګ د کافرانو تر جنګ هم افضل ګڼئ؟!! طالبان خو له نورو تنظيمونو جوړ شوي، مشرانو ئې هم د نورو تنظيمونو له مشرانو او اميرانو سره بيعتونه کړي وو، د ځينو امير مرحوم مولوي محمد نبي محمدي وو، د ځينو مرحوم مولوي محمد يونس خالص، د ځينو سياف، د ځينو رباني، د ځينو مجددي، د ځينو ګيلاني، د ځينو

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

مرحوم مولوي منصور، د ځينو مولوي عبدالستار صديقي، د ځينو محمد امين مجددي، د ځينو ظاهر شاه او ځيني ئې هم د حزب اسلامي غړي، چې د دغو مطلق اکثريت اوس په کابل کې د کرزي خوا ته ولاړ دي او د کابل په امريکايي حکومت کې فعاله ونډه لري، نه پوهېږو چې څنګه ئې مخکني بيعتونه بې اعتبار ګڼې او اوسنی ئې دومره شرعي او د قرآن او حديث مطابق چې مخالف ته ئې د باغي په سترګه ګوري؟!! آيا په شريعت کې له يوه سره بې موجبه د بيعت ماتولو او له بل سره د بيعت کولو لپاره هم کوم مجوز مومې؟!

۴- ستا دا استدلال ډېر کمزوری دئ چې کرزی او رباني متغلب واکمنان نه بولې!! د چا پر قول چې ته استناد کوې؛ هغوی متغلب واکمنان په دوو ډولونو ويشلي: ښه متغلب او بد متغلب، ښه ئې هغه دئ چې د زور او فوځي ځواک له لاري قدرت ترلاسه کړي، پر اوضاع مسلط شي او شريعت نافذ کړي، يوازي د دغه متغلب په اړه وايي: غوره دا ده چې د دې متغلب اطاعت وشي، خو دا هم د مسلمانانو تشخيص ته پرېږدي چې وګوري دا متغلب د اطاعت وړ دئ که نه، که نه وي نو د ده په ضد عاجل او فوري قيام او پاڅون غوره دئ که تر مناسب فرصت پوري انتظار؟

۵- موږ کرزي او رباني ته نه د اميرالمؤمنين خطاب کړی او نه ئې متغلب اميران ګڼو، ستاسو هغه ملګري ئې اميرالمؤمنين ګڼي چې تاسو د کندهار په غونډې کې د اهل حل و عقد په نامه راغونډ کړي وو!!

۶- که ته ووايې چې طالبان ښه متغلبين وو او کرزی او رباني خراب متغلبين؛ نو موږ درسره زيات اختلاف نه لرو، يوازي دومره وايو چې پر يوه ئې هم ټول افغان ولس نه دئ راغونډ شوی او پر اوضاع نه دي مسلط شوي، او د داسي متغلب نوم نشو ورکولی چې اطاعت ئې واجب او مخالفت ئې حرام وي.

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

۷- زمور مشوره دا ده چې تاسو هغه کسان هم مباح الدم مه ګڼئ چې مخکې ئې له تاسو سره بیعت کړی وو او اوس ئې له کرزي سره بیعت کړی، خپله ټوله توجه د اصلي او لوی دښمن لوري ته واړوئ، له دغو ذلیلو سره ښایي دا کافي وي چې بیا پرې اعتماد ونه کړئ او بیا ورته اهل حل و عقد ونه وایئ.

۸- که په استیلاء او غلبې سره څوک امیر کېږي نو بیا خو د استیلاء په ختمېدو سره د هغه امارت هم پای ته رسېږي، اوس خو طالبان نه پر مرکز استیلاء لري او نه پر کوم لوی او وړ ښار، خو سره له دې خپل امیر شرعي امیر ګڼي، د دې معنی خو دا شوه چې تاسو استیلاء د امارت لپاره شرط نه ګڼئ، نو نه پوهېږو چې څنګه د هغه چا پر قول استناد کوئ چې د غلبې او استیلاء امارت په مشروط توګه جائز او واجب الاطاعت ګڼي؟!!

د خلیفه او امیر عزلول

محترم لیکوال تر دې عنوان لاندې زمور په دې نظر اعتراض کړی چې: د امیر نصب او عزل د ولس حق دئ!!! څنګه چې د جومات امامت د ملونځ کوونکو په توافق او رضایت پورې مشروط شوی او یا د سفر په دوران کې د سفر د امیر د انتخاب او عزل واک؛ یوځایي او ګډو سفر کوونکو ته ورکړی شوی. لیکوال لیکي: پاتې شوه د خلیفه د عزل موضوع، په دې باب هم اسلامي شریعت د مسلمانانو رهنمایي کړې، هغه شرائط او مهال وېشونه ئې په ګوته او تعیین کړي چې پکې مسلمانان کولی شي د خلیفه او امیر د ناروا وو په وړاندې پاڅون وکړي. البته شریعت په ډېره آسانه او لنډه توګه د دې کار د کولو اجازه نه ده ورکړې او نه د دیموکراسي او جمهوریت په هر پنځه یا څلور کاله وروسته د نوي مشر او خلیفه تعیینولو د دریځ سره د اسلام ملګرتیا او توافق شته. دا د ښاغلي لیکوال او د ده په څېر د ځینو شخصي رأی ده؛ نه کوم نص او شرعی حجت ورته لري او نه عقلی دلیل!! د محتوی

deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

له پلوه هم ډېري ستونزي لري او د ادبي ترکیب له پلوه هم؛ په اړه ئې څو خبري ضروري وړاندې:

- که تاسو هغه روایات او دلائل چې تر دې عنوان لاندې دغه لیکوال راوړي؛ مطالعه کړئ؛ نو وبه ګورئ چې په اصلي موضوع د بحث په ځای ئې له امیر د بغاوت او له جماعت د وتلو موضوع څېړلې، مور له ټولو دغو روایاتو سره په بشپړه توګه موافق یو، د شرعي امیر په خلاف غیرمجاز بغاوت او پاڅون حرام ګڼو، له جماعت وتل او له جماعت بهر پاته کېدل ناجائز بولو، دا د هر مسلمان شرعي او دیني وجیبه ګڼو چې په یوه جماعت کې به ژوند کوي، له امیر سره به بیعت کوي او د هغه اطاعت به کوي، دا هم ورسره منو چې په معمولي ناخوالو دې صبر وکړي او یوازې هغه مهال دې د واکمن په خلاف وسلې ته لاس کړي چې شریعت اجازه ورکړي او له امیر څرګند کفر وګوري، په دغو قضایاوو کې نه ورسره اختلاف لرو او نه دا مسائل دلته مطرح او د څېړلو وړ دي، د بحث وړ موضوع ګاڼي دا دي:

۱. آیا ولس کولی شي د امیر لپاره موده وټاکي؟

۲. څنګه کولی شو د امیر د عزلولو پر سر له جګړو او وینو توېېدو مخنیوی وکړو او خبره هغه پاڅون ته ونه رسېږي چې د لیکوال له نظره د امیر د عزلولو یوازینۍ چاره ده!! د ده په مذهب کې وسله وال پاڅون شته خو په سوله ایزه توګه عزلول نشته!! داسي عقل او مذهب ته انسان حیران شي!! که پاڅون جائز وي نو په سوله ایزه توګه د امیر عزلول به په اولی درجه جائز وي!!

۳. پوښتنه دا ده چې که د امیر د عزل موجبات برابر شول؛ څوك به ئې عزلوي؟ څوك به دا پرېکړه کوي چې اوس د عزل موجبات رامنځته شوي او دا امیر د عزلولو وړ دئ؟ که دا امیر په چوکۍ پوري ونښتی وو، استعفاء ته چمتو نه وو، ځینو سرکاري مفتیانو هم دی واجب الاطاعت

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

امیر ګڼلو، د منبر پر سر هم د ده لپاره په خطبو کې دا دعاء کېده چې خلدالله ملکه و سلطانه: خدای دې پاچایي او اقتدار تلپاته کړي!! خو په هغه کې د عزل ټول موجبات ترسترګو کېدل، له کفارو سره ئې دوستي کوله، کمونیستان ئې په حکومت کې شامل کړي وو، هغو ډلو ته ئې اقتدار سپارلی وو چې مشرکین دي او صحابه وو ته ښکنځلي کوي، په بیت المال کې ئې خیانت کولو، په عیاشي کې غرق وو، هم چرسي وو او هم شرابي، د ښځو حجاب ئې له منځه یووړ او نجونې ئې په دې مکلفي کړې چې مکتب ته به په غربي جامه (میني ژوپ) کې ځي، په راډیو او ټلویزیون کې ئې د نیمه بربنډو ښځو سندري او رقص رائج کړ، له ولس سره ئې مشوره نه کوله، سود او قمار ئې جائز ګڼلو، د پردیو په وړاندې منقاد او تابع وو؛ د هغوی فکري غلام شو، د کفارو د فرهنګي یرغل سپاهي شو، ... نو د دغه واجب العزل واکمن د عزلولو پرېکړه به څوك کوي؟ دا خو ډېر آسان او مفت ځواب دئ چې څوك ووایي: اهل حل و عقد دي دا پرېکړه وکړي!! خو دا له سم او عملي ځواب تېښته ده او هغه څوك به دا ځواب ورکوي چې له حقائقو او واقعیتونو بې خبره وي، ځکه مور دغسي واکمنان ډېر ولیدل، له ظاهرشاه رانیولې تر نن پورې، همدغو ته ډېرو هغو خلکو د واجب الاطاعت امیر په سترګه کتل چې تاسو ئې اهل حل و عقد ګڼئ، د هغوی د تاج او تخت او اقتدار د دوام دعاګانې ئې کولې، د هغوی په خلاف پاڅون ئې حرام ګڼلو!! د دغو فتنو د مخنیوي غوره لار دا ده چې د امیر امارت مشروط وي؛ د شریعت په نفاذ، د عدالت په تأمین، په امانتونو کې عدم خیانت، له مسلمانانو او د دوی له استازو سره په مشوره؛ او نور لازمي شرعي شرائط؛ هغه ته باید موده وټاکل شي؛ د دې مودې په پای کې د ده کړنو ته په پام سره؛ د ده د پاته کېدو یا عزل په اړه مناسب تصمیم ونیول شي. حتی د امیر تر ټاکلو وړاندې او د بیعت په ورځ باید دا شرط وضع شي چې تر څو کلونو پورې به امیر وي او په همدې موده کې د ده

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

امارت په کومو شرائطو د منلو وړ دئ او په کوم صورت کې د عزلولو مستحق دئ!!

۴. څوك چې وایي امیر به د اهل حل و عقد له لوري ټاکل کېږي او فقط علماء اهل حل و عقد دي؛ هغوی ته وایو د علم او عالم لپاره معیار څه دئ؟ اوس خو د داسي خلکو شمېر لکونو ته رسېدلی چې د عالم خطاب ورته کېږي؛ خو نه له قرآن خبر دي او نه له حدیث، یوازي دومره څه ئې زده کړي چې په یوه جومات کې امامت وکړی شي؛ دا هم راته ووایه: په څلورو خلفاءو کې کوم یو ئې د علماءو له لوري ټاکل شوی؟!

او آیا هغه مهال د علماءو په نامه کومه ډله وه؟ داسي خاصه ډله چې د ملا او عالم په نامه یادېدله؟ نه قطعاً داسي ډله نه وه. نه څوک د ملا په نامه یادېده او نه هم د عالم په نامه، ټول صحابه یو له بل سره برابر وو او هر یو په خپل نامه او کنیه یادېدو. مونږ ته دې د خلافت د دېرشو کلونو په موده کې؛ په څلورو خلفاءو کې یو خلیفه راوښېیي چې د علماءو په نامه د مشخصو کسانو لخوا ټاکل شوی وي.

څوك چې وایي: قومي مشران د اهل حل و عقد غړي دي؛ هغوی ته وایو: اوس خو هغه مخکنی قومي جوړښت تر ډېره حده له منځه تللی، په ښارونو کې ئې اصلاً آثار هم نه تر سترګو کېږي، او که هر مَلَك، قریه دار، ارباب او خان قومي مشر وګڼو نو نن د دوی شمېر د دوی تر پلویانو که زیات نه وي کم هم نه دئ، ځکه نن د هر افغان د نامه روستاړی (خان) دئ؛ خان یعني د چنګیزیانو پاچا؛ د قومي مشر لپاره معیار څه دئ؟ که فوځي مشران د اهل حل و عقد غړي وګڼو نو اوس خو هغه مخکني فوځي مشران نشته، فوځي مشران خو په حکومتي فوځ کې او د واکمن تابع او خدمتګار وي او د هغه تر قومندې لاندې حتی له خپل ولس سره هم جنګېږي!! که دا جائز وګڼو بیا خو باید فوځي کودتاګاني هم جائز وګڼو!! که احیاناً سترګي پټي کړو او له تاسو سره دا غیرواقعي، غیرعملي او غیرشرعي

deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

رأیه ومنو؛ مور ته ووایئ چي څوك به دا خلك راغونډوي؟ طبیعي ده چي مسلط امیر خو دا کار نه کوي چي ځان د عزل لپاره اهل اشخاص راغونډ کړي؛ او که دا امیر څوك راغونډوي نو د خپلي خوښي داسي خلك به راغونډوي چي د ده اقتدار په څلورو کتابونو شرعي ګڼي او د ده په ضد څه ویل او څه کول حرام بولي!! د مستحق العزل امیر د تشخیص او عزلولو پربکړه په اهل حل و عقد پوري تړل؛ نه عملي ده او نه د حل لار، داسي فتوی هغه څوك ورکولی شي چي د خیر پر غونډۍ ناست او له حقائقو او واقعیتونو بې خبر وي.

۵. دا د اهل حل و عقد شوراګاني؛ تر نن وړاندي ډېرو جوړي کړې؛ هغو جوړي کړې چي عملًا واکمن وو؛ اقتدار ئې په لاس کي وو؛ ظاهرخان، سردار داؤد، ببرك کارمل، نجیب، استاد رباني، ملامحمد عمر مجاهد، حامد کرزي او اشرف غني؛ هر یوه د خپلي خوښي فیصلې ترې راایستلې؛ که دا د یوه اصل په توګه ومنو نو بیا بیا به تکرارېږي!!

ظاهرخان په نولس کلنۍ کي د خپلو ځواکمنو ترونو په خوښه د خپل پلار ځای ناستی شو؛ خو د لویي جرګې تر پوښښ لاندي؛ سردار داؤد د ظاهرخان خلاف کودتا وکړه خو لویي جرګې منتخب جمهور رئیس کړ، ببرك د شوروي ځواکونو په زور ارګ ته ورسول شو او لویه جرګه ئې جوړه کړه؛ شاګرد ئې داکتر نجیب همدا کار وکړ، استاد رباني له پرچمیانو او ملیشو سره د ائتلاف له لاري د ارګ مېلمه شو؛ په داسي حال کي چي نیمایي ارګ د جنرال دوستم په لاس کي وو؛ او د نجیب پاته شوني په اردو او امنیتي ځواکونو کي د مخکي په څېر واکمن او زعامت ئې د دوی په لاس کي!! په کابل او هرات کي ئې خپله واکمني د لویو جرګو له لاري تمدید کړه!! لویه جرګه په حقیقت کي د اهل حل و عقد پښتو ترجمه ده!! شاغلي رباني او شاغلي سیاف هم ویل چي د امیر د ټاکلو حق د اهل حل و عقد دئ؛ نه د عام ولس، انتخابات ئې

deenodanish.com ځخه ښکته شوی Deen-o-Danish

ناروا ګڼل، په کابل او هرات کې ئې د خپلې خوښې خلك راغونډ کړل، رشوتونه ئې ورکړل او د رباني حکومت ته ئې د شرعي بڼې ورکولو هڅه وکړه، خو دا دئ ګورئ چې اوس ئې په امریکایي انتخاباتو کې؛ د امریکایانو تر نظامي تسلط لاندي برخه واخیسته!! او اوس د امریکایي پارلمان غړي دي!! نه یوازي دا چې امریکایانو ته ئې پر افغانستان د برید بلنه ورکړه؛ بلکې ترې غوښتل ئې چې بمباري مو لازیاته تونده او تېزه کړئ او لازیات لوی لوی بمونه وکاروئ، او اوس هم په زاریو زاریو له امریکایانو غواړي چې دوی د دولت د مخالفینو په ضد جنګ کې استخدام کړي، ځکه چې د جنګ تجربه لري او د افغانستان له وضعیته خبر دي او تر بهرنیو عسکرو ښه جنګېدی شي!! که دوی هغه مهال لدې سره موافقه کړې وی چې د امیر په اړه دي افغان ولس تصمیم ونیسي، د مجاهدینو له مشرانو دي؛ یو د مسلمانانو د اکثریت په خوښه غوره شي؛ د جګړو، توطئو، له کمونیستانو سره د ائتلافونو، په بهرنیو ځواکونو د اتکاء لار ئې نه وی غوره کړې؛ نو نه به هېواد ورانېدو او نه به د بې ګناه افغانانو وینې توئېدې او نه به پر افغانستان باندي د بهرنیو ځواکونو برید ته لار آوارېده!!

د امیر لپاره موده ټاکل

- مورِ وایو: مسلمانان دا حق لري چې د امیر لپاره معینه موده وټاکي، دا ځکه چې له یوه امیر سره بیعت؛ په اصل کې د مسلمانانو او امیر ترمنځ یو ټرون دئ، دا د دوی خوښي ته پرېښودل شوې چې څوك د امیر په توګه ټاکي، د څومره مودې لپاره او کوم کوم صلاحیتونه ورکوي، امارت په اصل کې د خلکو امانت دئ، داسي چا ته به ئې سپاري چې د دې امانت اهل وي، په دې شرط ئې ورته سپاري چې شریعت به پلي کوي او عدالت به تأمینوي، کله چې وګوري دی د خپلې دندي د ترسره کولو توان نه لري؛ یا ئې په خپلو ژمنو وفا نه ده کړې؛ نو د هغه د عزلولو حق لري.

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

- د دې په ځای چې ولس د امیر د عزلولو لپاره پاڅون ته اړ شي، ویني توی شي، جګړې پیل شي، دا غوره ده چې هر څو کاله وروسته د امیر په اړه له مسلمانانو پوښتنه وشي چې آیا دا امیر د دې وړ دئ چې خپل کار ته دوام ورکړي او که د ده بدلول مفید او د اسلام او مسلمانانو په ګټه دي او بل داسې امیر راوړاندې کول غوره دي چې تر مخکني له هره پلوه وړتیا او اهلیت لري.
- څوک چې له دې کار سره مخالفت کوي یوازې یو دلیل لري او هغه دا چې صحابه وو دا کار نه دئ کړی!! هغوی ته وایو: ۱- که موږ د ابوبکر، عمر، عثمان او علي رضی الله عنهم په څېر اهل، متقي او امین امیران پیدا کړل نو د دائم العمر امیرانو په توګه به ئې ټاکو، اوس چې داسې شخصیتونه نشو موندلی؛ نو غوره دا ده چې د امیر لپاره موده وټاکو. ۲- نه یوازې دا چې په قرآن او د پیغمبر علیه السلام په احادیثو کې داسې آیت او حدیث نه مومو چې صراحتاً او یا تلویحاً ئې د امیر لپاره د مودې ټاکل ناجائز ګڼلی وي؛ بلکې د النساء د سورې له (۵۸-۵۹) آیتونو په ډېر وضاحت سره معلومېږي چې مسلمانان دا حق لري چې د امارت (امانت) تر کومه وخته چې د دوی خوښه وي؛ اهل شخص ته وسپاري، امارت د امانت په نامه یادول همدغه معنی ورکوي. دا ځکه چې هیڅوک خپل امانت هیڅا ته د دائم لپاره نه سپاري، د امانت طبیعت دا دئ چې تل موقتي وي او موده ئې د هغه چا له لورې ټاکل کېږي چې د امانت خاوند دئ. ۳- یوازې هغه کار ته حرام کار ویلی شو چې د صریح نص په حکم حرام شوی وي، هغه کار ته حرام نشو ویلی چې صحابه وو نه وي کړی. څوک چې د امیر په خلاف بغاوت ناجائز ګڼي او د کفر بواح له لیدو پرته د هغه په ضد پاڅون کول او وسله کارول حرام بولي نو ولې ئې د خپلو هغو امیرانو په خلاف بغاوت وکړ چې بیعت ئې ورسره کړی وو؟ ولې له حزب اسلامي سره وجنګېدل؟ آیا د شمالي ټلوالي جنګ له حزب اسلامي

deenodanish.com ځخه ښکته شوی له Deen-o-Danish

سره تنظيمي جنګ وو او د همدې ټلوالي په ضد د طالبانو جنګ سپېڅلی او مقدس جهاد وو؟!! ۴- ستا دا بحث په هغه صورت کې مفيد وو چې قدرت د مسلمانانو په لاس کې وی، افغانستان آزاد او اسلامي شريعت په کې نافذ وی، يوازي امير ئې منحرف او په فسق او فساد کې پرېوتی وی، او مسلمانانو دا فتوی غوښتی چې آيا د دې امير په ضد پاڅون روا دئ که نه، بيا تا دغه روايات د هغوی مخي ته ايښي وی او ورته ويلي دي وی چې تر څو کفر بواح ونه ګورئ د امير په ضد بغاوت مه کوئ او وسله مه کاروئ!! حال دا چې دلته د بحث موضوع دا ده چې آيا مسلمانان د خپل امير لپاره د ټاکلو پر مهال او د بيعت په ورځ دا شرط وضع کولی شي چې ته به تر دې وخته امير وې، که دي سم امتحان ورکړ نو بيا دي غوره کوو او که نه ستا پر ځای بل څوک راوړاندي کوو. که څوک له دې سره موافق نه وي هغه دي شرعي حجت او لږ تر لږه کوم عقلي دليل وړاندي کړي.

متغلب څوک دئ؟

د متغلب اصطلاح د داسي واکمن لپاره کارول شوې چې په زور تحميل شوی وي؛ د قومي يا حزبي قوت په مټ، يا د بهرنيو ځواکونو په نظامي او مالي مرسته او يا د فوځي کودتا له لاري. فقهاءو د دې لپاره دا اصطلاح د يوه ځانګړي زعامت لپاره کارولې چې د اسلام له نظره په يوې اسلامي ټولني کې د زعامت يوازينۍ مشروع لار د مسلمانانو معلن او بلااجبار بيعت دئ؛ نه د قدرت ترلاسه کولو لپاره د زور او ځواک کارول جائز دي او نه د اقتدار ترلاسه کولو لپاره هڅه او تلوسه کول. فقهاءو دې پوښتني ته هم ځواب ويلی چې که څوک د تغلب له لاري اقتدار ترلاسه کړي او اسلامي قوانين حاکم کړي نو مسلمانان به له ده سره څه کوي؟ ځينو ويلي: که څوک د زور او غلبې له لاري قدرت ته ورسېږي؛ خو مسلمان وي او اسلامي حدود او قوانين پلي کړي؛ نو په هغه صورت کې د ده اطاعت جائز دئ چې له نه منلو

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

او مخالفت ئې مسلمانانو ته تاوان رسېږي؛ د دوی له نظره د متغلب حکومت جائز ګڼل داسي دي لکه د اضطرار په وخت کې د حرامو جواز؛ داسي لکه هغه چا ته د خوګ غوښه خوړل جائز دي چې له لوږې ئې د مرګ وېره وي، دا یو استثنائي حالت دئ؛ باید عمومیت ورنکړی شي، که د متغلب بدلول له کومي ستري ستونزي پرته ممکن وي نو بیا دا استثنائي جواز منتفي دئ.

ځینې داسي هم شته چې وایي: که څوك د زور او غلبې له لارې قدرت ته ورسېږي خو مسلمان وي نو د هغه اطاعت ضروري دئ او د هغه مخالفت ناروا!! دا خوارکیان په دې نه پوهېږي چې متغلب حکومت جائز ګڼل داسي دي لکه د اضطرار په وخت کې د خوګ غوښه جائز ګڼل، دې استثنائي حالت ته عمومیت ورکول یوه کرکجنه مغالطه ده. دوی ته وایو: که دا د یوه اصل په توګه منئ نو بیا خو ټول هغه حکومتونه چې د پردیو له لورې پر افغانانو تحمیل شوي؛ د متغلب مصداق وو؛ هیڅ یوه ئې له اسلام په جهر او څرګنده توګه انکار نه دئ کړی؛ د کمونستانو له ځینو ډېرو کمعقلو او جاهلانو پرته؛ استاد رباني، کرزی او اشرف غني هم؛ ولې مو د دغو متغلبینو حکومت ونه منلو؟!" موږ نه وایو چې د متغلب واکمن نه منل غلطي ده؛ بلکې وایو چې د متغلب حکومت جائز ګڼل غلطي ده. که د متغلب حکومت منل جائز وګڼل شي نو دا خو خونړیو پېښو ته لار آواروي؛ هر د قدرت وړی به خپله طالع آزموي؛ د وسلې په زور به د اقتدار ترلاسه کولو هڅه کوي؛ د ۲۶ سرطان او اوم ثور په څېر به څو پردې پال افسران د کودتا له لارې اقتدار قبضه کوي؛ او په همدې غلطي فتوی به سرکاري مفتیان استناد کوي او خلکو ته به وایي: د دوی اطاعت واجب دئ او مخالفت ئې ناروا!!

که دا غلطه رأی د یوه اصل په توګه ومنل شي نو بیا خو به افغانستان د سوریې په برخلیك اخته کېږي، د سوریې مطلق اکثریت؛ مسلمانان او

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

سنیان دي، خو یوه نامسلمانه او مشرکه اقلیت ډله پرې حکومت کوي، دا ډله له شیعه وو سره نږدې اړیکي لري، پر افغانستان به هم دې ته ورته داسي وړه د اقلیت ډله د حکومت کولو مجال ترلاسه کوي چې په بهر کې د ایران په څېر ځواکمن مرستندوی لري، ځینو ډلو په ایران کې حتی په خپلو نشراتو کې لیکل چې ایران باید زمونږ مرسته وکړي چې په افغانستان کې د شیعه وو حکومت جوړ کړو، دا کار ئې ممکن ګڼلو او ویل ئې چې که په سوریه کې دا کار ممکن دئ نو په افغانستان کې ئې هم امکان شته!! همدغو ډلو په تېرو دریو لسیزو کې او د بهرنیو د مټو په زور په اقتدار کې داسي غوښینه برخه ترلاسه کړه چې نږدې وو افغانستان د دوی لپاره په سوریې بدل شي.

دا اوس ځیني هېوادونه لګیا دي په کابل، هرات او مزار کې زمکي اخلي او منصوبه ئې دا ده چې د دغو مهمو ښارونو اجتماعي جوړښتونه په خپله نفع بدل او خپل پلویان په کې اکثریت کړي، دا خبره د همدغو لوریو مسئولین او افغان پلویان ئې په ډېر وقاحت او بې شرمۍ سره کوي او د عواقبو پروا ئې هم نلري، ګمان کوي چې دوی کولی شي اقلیتونه د پښتنو په ضد متحد کړي او په کابل کې د خپلې خوښې مزدور حکومت قدرت ته ورسوي.

لیکوال ورپسې لیکي: هوکې! دا موږ هم منو او د ښاغلي سره اتفاق لرو چې ملامحمد عمر مجاهد (حفظه الله) متغلب نه دئ... هغه یو شرعي امیر دئ او د هېواد نږدې یو نیم زر جیدو علماءو له هغه سره بیعت کړی... خو... کرزی هیڅکله د متغلب مصداق نه دئ.... تر دې چې هغه له سره د واك څښتن ندی، ټول واك د یرغلګرو امریکایانو په لاسو کې دی....

محترم لیکوال ته وایو: تاسو بیا هم اشتباه کړې، هم د بل د وینا د تعبیر په اړه او هم د متغلب د معنی په اړه. د (کوم اساسي قانون...) په رسالې کې دا خبره د هغه چا په ځواب کې ویل شوې چې استیلاء او غلبه د

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

امارت لپاره شرط ګڼي، هغوی ته ویل شوي چې نن خو د مستولۍ او متغلب مصداق ملامحمد عمر مجاهد نه بلکې کرزی دئ او پرون ئې مصداق رباني وو، عجیبه ده چې تاسو په نظر کې د متغلب حکومت منل ضروري ګڼئ خو په عمل کې ورسره جنګېږئ!! که استیلاء د امارت لپاره شرط وي نو بیا خو نن د هغو ډلو مشرانو ته د امیر خطاب نشو کولی چې تر بشپړ تسلط لاندې سیمه نلري او د امریکایانو په ضد په چریکي جګړو بوخت دي!! بیا خو تاسو د طالبانو پرونی حکومت هم تر پوښتني لاندې راولئ او امارت ئې مسلم نه ګڼئ!! ځکه پرون هم طالبان په دې نه وو توانېدلي چې پر ټول افغانستان خپل تسلط ټینګ کړي، د کابل په څو کیلومتره کې او په پروان کې خونړې جګړې روانې وې، په تخار کې هم داسې ستره او خونړې جګړه روانه وه چې هره اونۍ به له مسکو؛ د مشهد له لارې څو طیارې وسلې او مهمات شمالي ټلوالې ته وررسېدل او دا ټول به په دغو جګړو کې کارېدل.

تاسو د متغلب په اړه هم دا اشتباه کړې چې یوازې ئې د هغه واکمن بل نوم ګڼئ چې په زور مسلط شوی وي خو شریعت نافذوي!! د متغلب لغوي معنی دا ده چې څوک د زور او ځواک له لارې پر اوضاع غالب او مسلط شي، کېدی شي مسلمان وي او شریعت نافذ کړي او کېدی شي په ظاهر کې د اسلام دعوی کوي خو په عمل کې نه شریعت نافذ کړي او نه اسلام او مسلمانانو ته صادق او وفامن وي. د کابل اوسني واکمن یقیناً متغلب دي خو د پردیو د مټو په زور د افغانستان د یوې برخې داسې متغلب چې واکمني ئې کاواکه او لرزانه ده!!

مور له تاسو سره په بشپړه توګه موافق یو چې افغانستان اشغال شوی، واک د اشغالګرانو په لاس کې دئ، زمور هېواد دارالحرب دئ، جهاد پر ټولو مسلمانانو فرض دئ، دا خبرې مور تر تاسو ډېر د مخه او هغه مهال اعلان کړې چې تاسو لا د امریکایانو په ضد جهاد ته چمتووالی نه درلود، تاسو او ټولو باخبره افغانانو ته معلومه ده چې د کابل او کندهار له سقوط وروسته؛

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

د طالبانو مشران له داسي سخت حالت سره مخامخ شول چې هر یو ئې د خپل ځان او کورنۍ د ایستلو او خوندي ځای ته د انتقال په کار مشغول وو، دوی نړدې یو نیم کال وروسته په دې موفق شول چې خپل صفوف له سره منظم کړي او ورو ورو د جهاد میدان ته راووځي، د امریکا په ضد د جهاد اعلان زمونږ له لوري شوی، د طالبانو د حکومت له نسکورېدو وروسته د امریکایانو له بې پیلوټه طیارې لومړی راکټ زمونږ په ضد توغول شوی، زه د هغه عملیات شاهد وم چې د لومړي ځل لپاره د کنر د اسمار او دانګام ولسوالیو ترمنځ؛ د امریکایانو پر ګزمې د حزب اسلامي د مجاهدینو له لوري ترسره شول، هم مي په آسمان کې ایف شپاړس طیارې او د هغوی بمبارۍ په خپلو سترګو لیدله او هم د بمونو او راکټو لوخړې او هم مي له دواړو لوریو د ډزو غږونه اورېدل، دا له انصافه لري خبره ده چې زمونږ په اړه شک کوې او د خپلې رسالې له لاري لوستونکو ته دا تأثر ورکوې چې ښایي مونږ به د کابل له حکومت سره تر پردې شا ته کومه معامله، راکړه ورکړه او تفاهم لرو!! که مونږ دا کار کولی نو مخامخ مو له امریکایانو سره هم کولی شو، بیا نو دې ته څه ضرورت وو چې پر افغانستان باندې د امریکایانو یرغل مو محکوم کړ، د دوی په ضد مو د طالبانو د مقاومت ستاینه وکړه، له دوی سره مو د هرراز ملګرتیا لپاره چمتو والی اعلان کړ، کله چې د امریکایانو له برید څو ورځې مخکې په شمال کې د طالبانو ټولو قومندانانو په اتفاق سره فیصله وکړه چې په شمال کې د مقاومت مسئولیت دي حزب اسلامي په غاړه واخلي، د شهید قاري احمدالله له لاري ئې مونږ ته خپله پرېکړه او غوښتنه اعلان کړه؛ مونږ ورسره موافقه وکړه، د کابل شورى ئې د آراءو په اتفاق سره دې ته ورته پرېکړه وکړه او د متقي له لاري ئې مونږ ته په مقاومت کې د برخې اخیستو او په شمال کې د مقاومت د سوق او اداري مسئولیت په غاړه اخیستلو؛ بلنه راکړه، مونږ ورسره موافقه وکړه، خو د طالبانو د کندهار مشرانو د خپلو دواړو شوراګانو پرېکړې ونه منلې، دا خو په ماته کښتۍ کې

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

له طالبانو سره د ګډ سفر خبره وه، څوك چې د اسلام لپاره دا كار كولى شي څنګه داسې بې ځايه شك پرې كوئ!! چا چې د امريكا له جمهور رئيس ريګن سره هغه مهال له ملاقات ډډه وكړه او د هغه بلنې ته ئې منفي ځواب وركړ چې امريكا د شوروي اتحاد په ضد د افغان ولس د مقاومت ننګه او ملاتړ كاوو، اوس چې امريكايانو زمونږ هېواد نيولى څنګه به امريكايانو ته د روغې جوړې يا ملګرتيا لاس وركوي؟!

د مسلمان وژل په كومو حالتونو كې روا دي؟

محترم ليكوال تر دې عنوان لاندې ليكي: "په دوو حالتونو كې د مسلمانانو وژل روا دي: يو دا چې مسلمانان د كافرو په فوځ او اردو كې شامل شي او دا ګڼي چې دنده ئې جنګ دئ، كه مسلمان ئې مخې ته راشي كه بل څوك... د مسلمان د قتلولو بل صورت دا دئ چې څوك مسلمان د كافرو سره شي د هغوى د بريادو او سوبو لپاره د مسلمانانو سره جنګېږي او يا ورسره اعانت كوي... كه څه هم محترم ليكوال دا دواړه بېل صورتونه ګڼلي خو كه الفاظو ته ځير شئ نو دواړه ئې يو صورت دئ، دوى ته بايد ووايو چې د مسلمان وژل په لاندې صورتونو كې جائز دي:

- داسې څوك ووژني چې الله تعالى ئې وژل حرام كړي او د هغه سر، مال او عرض ئې له تېرې خوندي شمېرلى، كه دا مسلمان وي يا ذمي او مستأمن.
- محارب دښمن ته جاسوسي وكړي.
- د مسلمان په ضد وسله راوباسي.
- د محارب دښمن په فوځ كې يو ځاى له مسلمانانو سره وجنګېږي، كه څه هم دې جنګ ته اړ شوى وي.
- د داسې شرعي امير په ضد وسله وال بغاوت وكړي چې د مسلمانانو له لوري غوره شوى او واجب العزل نه وي.

deenodanish خځه ښكته شوى deenodanish.com له

- امنیت ته وسله وال ګواښ راولاړ کړي، لاري شکوي او شوکي کوي.

محترم لیکوال په همدې مبحث کې یو ځل بیا وایي چې کرزی متغلب نه دئ، لیکي: د ښاغلي حکمتیار صاحب په حضور کې په ډېر ادب او درنښت سره عرض کوو چې کرزی هیڅکله د متغلب مصداق نه دئ!! بلکې هغه د امریکایانو په شمول د نړۍ د ټولو کفري ځواکونو معاون دئ... محترم ورور ته وایو: مورږ په دې کې په بشپړه توګه درسره موافق یو چې کرزی د متجاوزینو معاون دئ، دا لا څه چې دی او ملګري ئې؛ هغو صلیبي ځواکونو زمورږ د هېواد له اشغاله وروسته د اقتدار پر کرسۍ کښېنولي چې د نړۍ او تاریخ د ستر فرعون جورج بوش تر مشرۍ لاندي ئې زمورږ پر هېواد برید وکړ، د دغو صلیبي ځواکونو او د دوی د ملګرو په ضد جهاد یو سپېڅلی او مقدس جهاد دئ، إن شاء الله د شهید او غازي اجر به ئې د احد او بدر د شهیدانو او غازیانو تر اجر کم نه وي، امید دئ چې الله تعالی په خپل فضل او کرم سره دغه ستر مقام ورپه برخه کړي، دا ځکه چې په ځینو روایاتو کې راغلي چې د وروستۍ زمانې او د فساد په دوران کې د مخلص او صالح مسلمان او مجاهد اجر به د پنځوسو صحابه وو په اندازه وي.

خو محترم ورور ته یو ځل بیا یادونه کوو چې له متغلب زمورږ مراد هغه متغلب نه دئ چې د زور او ځواك په کارولو سره قدرت ترلاسه کړي او شریعت نافذ کړي، کوم علماء چې تا ئې اقوال رانقل کړي هغوی هم متغلب په دوو ډلو وېشي، له یوه سره په احتیاط او حوصلې سره چلن غوره ګڼي او د بل په ضد د پاڅون او قیام سپارښتنه کوي. داسي معلومېږي چې تا د متغلب په اړه د دغو علماءو یوه قول ته توجه کړې او بل ته نه، ته یوازي هغه څوك متغلب ګڼې چې د زور له لاري قدرت ترلاسه کړي خو شریعت نافذ کړي!! خو هغه بل متغلب دي له پامه غورځولی چې هم قدرت ته د رسېدو لپاره د زور او ځواك کارولو ناروا لار غوره کوي او هم قدرت ته له

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

رسېدو وروسته شریعت ته شا کوي، په ماانزل الله حکم نه کوي او له خلکو غواړي چې د ده هوی او هوس ته تسلیم شي او د ده اقتدار او واکمني ومني.

آیا زمونږ وروستي حکومتونه متغلب حکومتونه وو؟

دې ته په پام سره چې په عمومي توګه او په هري ټولنې کې؛ د زعامت او قیادت ترلاسه کولو ټولې لاري چاري په دوو کې راخلاصه کېږي: ۱- د زور له لارې او ۲- د خلکو په خوښه او رضایت؛ دا زور یا قومي او حزبي زور وي او یا د پردیو د مټو زور؛ یا د وسلو او جنګي ځواک په مرسته وي یا د پیسو او درهم او دینار په زور؛ چې جنګیالي پرې پېرې او قدرت ته د رسېدو لپاره ئې جنګوي.

اسلام له دغو دوو لارو دوهمه غوره کړې؛ همدا ئې د امیر او زعیم د ټاکلو یوازینۍ مجاز او شرعي طریقه ښودلې او نوري ئې تحریم کړې؛ د مسلمانانو د خپلې خوښې څرګند او معلن بیعت ئې د امارت لپاره شرط ګڼلی؛ هر هغه حکومت او واکمن چې له دې لارې پرته او د زر، زور او تزویر له لارې پر مسلمانانو مسلط شي؛ حکومت او واکمني ئې غیرمشروع ده؛ فقهاء ئې د متغلب واکمن په نامه یادوي؛ همدې ته په پام سره وایو: ټول وروستي حکومتونه چې له غیرشرعي لارو واك ته رسېدلي؛ متغلبین دي. ځیني ئې ډېر بد متغلبین او ځیني نسبتاً ښه؛ هغه ئې بد وو چې له کمونستانو سره د ائتلاف له لارې او د پردیو د مټو په زور قدرت ته رسېدلي، هغه چې مسکو او واشنټن په ګډه رامنځته کړي او په ګډه ئې حمایه کړي او که یوه ټپلی او بل ئې مخالفت کړی. د شوروي اتحاد له لورې ټپل شوي حکومتونه هم او د ناټو د وسلو او ځواکونو په زور ټپل شوي حکومتونه هم. او تر دې وړاندې د انګرېزانو په لاس ټپل شوي پاچایان هم.

د جنرال نجیب د کمونستي حکومت له نسکورېدو وروسته ائتلافي

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

حکومت؛ چې د کابل او هرات پر یوې برخې او د کندهار په ځینو برخو ئې ضعیفه او لړزانه واکمني درلوده، د کمونیستو ملیشو، پرچمیانو، ایران او مسکو په مرسته او ملګرتیا ئې پر دغو سیمو حکومت کولو، دغه سیمې د هغه ائتلاف په نتیجه کې د دوی لاس ته ورغلې چې د مسکو په وینا، د ایران په وساطت؛ د کمونیستو ملیشو، پرچمیانو، شورای نظار، جمعیت او ایران پلوه شیعه ډلو په جبل السراج کې جوړ شو او غرب ئې هم مرسته کوله، د افغانستان مربوط سفارتونه د مسکو او واشنګټن ترمنځ د موافقې په نتیجه کې دغه ائتلاف ته وسپارل شول، دا یو کمزوری او د پردیو پر متو او مرستو متکي متغلب حکومت وو. همداراز د ناټو په لاس د کابل له اشغال وروسته په بن کې جوړ شوی حکومت؛ او تر ننه ئې خلف حکومتونه هم؛ لاسپوڅي متغلب حکومتونه وو.

که څوک په زور مسلط شوي حکومتونه؛ متغلب حکومتونه ونه ګڼي؛ که دا د پردیو د فعال نظامي حضور په نتیجه کې پر افغانانو تپل شوي؛ که د داسي جنګ له لاري مسلط شوي چې د همدغو اجنبي ځواکونو د نظامي او مالي مرستو او سیاسي حمایتونو په مرسته پیل شوي؛ د ولس له رضایت او موافقې پرته؛ نو بیا خو ښایي دا جناب؛ د استیلاء او تغلب لپاره داسي کوم تعریف او تعبیر ولري چې نه ئې بېلګه تر دې مخکې لیدل شوې او نه به وروسته ولیدل شي!! که داسي حکومتونو ته متغلب ونه وایو بیا خو نه په تېر تاریخ کې کوم متغلب تېر شوی او نه به وروسته راشي!! بیا خو د متغلب اصطلاح هسې یوه بې مصداقه اصطلاح ده.

دوی ته وایو: د متغلب لپاره د سلطې او تر سلطې لاندې سیمې معیار څه دئ؛ واکمني ئې څومره مضبوطه او تر تسلط لاندې سیمه ئې څومره پراخه وي چې د متغلب نوم پرې کښېښودی شو؟!! ټول افغانستان معیار ګڼئ که ټوله اسلامي نړۍ؟ که ټول افغانستان او ټول افغانان معیار ګڼئ نو بیا په تېرو حکومتونو کې یو ئې هم داسي نه وو چې ټولو افغانانو منلی وو

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

او نه پر ټول افغانستان مسلط شوی وو!! د هیڅ متغلب حکومت لپاره نه د هغه د تسلط څرنګوالی مجوز کېدی شي؛ نه ئې د سیمې پراخوالی او نه د هغه سیاستونه او تګلاره؛ حتی که شریعت هم نافذ کړي؛ متغلب دئ؛ خو داسې متغلب چې له نامشروع لارې قدرت ته رسېدلی؛ اما له اقتدار وروسته ئې په سمې لارې د تلو پرېکړه کړې او فقهاءو د همدې متغلب په اړه مسلمانانو ته سپارښتنه کړې چې که ئې پاته کېدا تر بدلولو او نسکورولو مفید وو او د هغه په خلاف پاڅون زیان او ضرر درلود؛ نو موقتاً ئې ومنئ.

د متغلب په اړه د ځینو ستونزه دا ده چې ګمان کوې د استیلاء او غلبې له لارې یو څوك شرعي امیر جوړېدی شي!! خو حقیقت داسې نه دئ، استیلاء او غلبه د چا واکمنۍ ته شرعي مجوز نشي ورکولی، حتی که شریعت هم نافذ کړي، فقهاءو چې د داسې متغلب په اړه څه ویلي هغه د اضطرار او مجبوریت په حالت کې د ناروا او حرام څیز موقتي جواز ته ورته دئ، هغوی وایي چې که څه هم د داسې کس امارت شرعي نه دئ خو د هغه اطاعت غوره دئ، دا هم تر هغه وخته چې د ده د عزل مناسب شرائط برابر شي، هغوی هیڅکله دا نه دي ویلي چې هر متغلب شرعي امیر دئ او اطاعت ئې فرض او لازم!!

د دې مبحث په پای کې دا هم باید په پام کې ولرو چې موږ ته الله تعالی یو غوره انسان؛ د پیغمبر په توګه غوره کړی؛ د غوره توب او لوړ شخصیت له پلوه د عظمت په انتهائي لوړي څوکې کې؛ خپل لارښود کتاب ئې د ده په لاس موږ ته رالېږلی؛ دا پیغمبر ئې نه په خپل قدرت او قوت سره پر انسانانو تحمیل کړی او نه د فرشتو په واسطه؛ موږ ئې د ده په انتخاب کې آزاد پرېښې یو؛ موږ د هغه لوړ شخصیت او د ده په لاس د رالېږل شوي پیغام لوړي محتوی ته په پام سره؛ هغه په خپلې ادعاء کې رښتینی او صادق موندلی او پر هغه مو ایمان راوړی. مسلمانان به د ده ځای ناستی او خلیفه هم؛ دغسې او د هغه شخصیت، مواصفاتو او پیغام ته په پام سره په خپله

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

خوښه غوره کوي؛ د امیر د انتخاب شرعي طریقه فقط همدا ده؛ نه بل څه.

په قرآن کې د مشر او قائد مواصفات

په قرآن کې په ډېر تفصیل او دقت سره د مسلمانانو د لارښود او زعیم مواصفات ښودل شوي او لارښوونه ورته شوې چې څوک؛ له کومو ځانګړتیاوو سره د زعیم په توګه غوره کړي.

تاسو پوهېږئ چې اسلام مسلمانان له منزوي ژوند منعه کوي، په دې ئې ګماري چې د خلکو په منځ کې او په یوه منظم صف کې به اوسي، صالح لارښود او مشر به ځان ته غوره کوي او له هغه سره به بیعت کوي. د دې لپاره چې وتوانېږي د زعامت وړ شخص او د مشرتابه اهل لارښود وپېژني او د زعیم په توګه ئې غوره کړي؛ قرآن د یوه صالح او اهل مشر او قائد مواصفات او مشخصات به تفصیل سره بیان کړي او عملي بېلګې ئې د پیغمبرانو علیهم السلام په فکري، اخلاقي او عملي شخصیت کې زموږ مخې ته ایښې دي.

په قرآن کې د ۲٤ پیغمبرانو نومونه راغلي؛ که ذا الکفل او عزیر هم شامل کړو نو ۲٦ کېږي؛ خو ځینې وایي چې د ذا الکفل معنی متکفل دئ او د کوم پیغمبر یا کوم صالح انسان صفت دئ نه نوم، لکه ذالنون چې د یونس علیه السلام صفت دئ، او د عزیر په اړه ډېرې محققین وایي چې هغه پیغمبر نه وو، ځینې طالوت هم په پیغمبرانو کې نیسي؛ خو د قرآن له الفاظو معلومېږي چې هغه جهادي مشر وو نه پیغمبر.

هر پیغمبر د خپلې زمانې؛ یو ستر او منلی فکري، اجتماعي او سیاسي لارښود او زعیم وو؛ له خرافاتو، اوهامو، شرک، ظلم او فساد سره ئې مقابله کړې، د سترو سترو فکري، اجتماعي او سیاسي انقلابونو لارښوونه ئې کړې، ظالم او مستبد حکومتونه ئې نسکور کړي، شړېدلې او په رنګ رنګ اختلاف اخته ټولنې او ولسونه ئې متحد کړي، له قومونو ئې ملتونه او له ملتونو ئې

deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

امتونه جوړ کړي، ځواکمن حکومتونه او نظامونه ئې رامنځته کړي، په ټولنې کې ئې عدالت او امنیت تأمین کړی.

قرآن د دغو پیغمبرانو یادونه د کومې قصې په توګه نه کوي؛ بلکې په دوی، د دوی شخصیت، د دوی دعوت او مبارزه کې زموږ مخې ته د تقلید او متابعت وړ زعامتونه انځوروي او خپل مخاطب ته وایي: په دوی او د دوی په کړنو او مبارزې کې ستاسو لپاره غوره اسوه او قدوه ده. که غواړئ د یوه مؤمن او اهل زعیم او مشر په مواصفاتو پوه شئ او له مخې ئې صالح او اهل مشر غوره کړئ؛ نو د همدغو پیغمبرانو فردي او اجتماعي شخصیت ستاسو لپاره معیار دئ؛ غوره او الله تعالی ته مقبول زعیم هغه دئ چې افکار، اخلاق، کړنې، د قضایاوو په اړه دریځونه ئې دغو پیغمبرانو ته ورته وي؛ یعني قرآن موږ ته د ښه او موفق زعیم دومره زیات شمېر ښېلګې انځور کړې؛ د پیغمبرانو په قصو کې ئې د ښه زعامت ځینې ځانګړتیاوې او مواصفات معرفي کړي. لکه چې فرمایي:

قَدْ كَانَتْ لَكُمْ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ فِيٓ إِبْرَٰهِيمَ وَٱلَّذِينَ مَعَهُۥٓ إِذْ قَالُواْ لِقَوْمِهِمْ إِنَّا بُرَءَٰٓؤُاْ مِنكُمْ وَمِمَّا تَعْبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ كَفَرْنَا بِكُمْ وَبَدَا بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمُ ٱلْعَدَٰوَةُ وَٱلْبَغْضَآءُ أَبَدًا حَتَّىٰ تُؤْمِنُواْ بِٱللَّهِ وَحْدَهُۥٓ... الممتحنه: ٤

بې شکه چې تاسو ته په ابراهیم او د ده په ملګرو کې غوره ښېلګه ده؛ هغه مهال چې خپل قوم ته ئې وویل: له تاسو او له ټولو هغو معبودانو بې زار یو چې تاسو ئې له الله پرته لمانځئ، له تاسو منکر یو، زمونږ او ستاسو ترمنځ به عداوت او دښمني د تل لپاره او تر هغه څرګنده وي چې تاسو یوازي پر یوه الله ایمان راوړئ،....

دلته د ابراهیم علیه السلام او د ده د موحدو ملګرو قاطع او ځلانده

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

موقف او دریځ؛ د کافر او مشرك قوم او خپلوانو په وړاندي؛ د تاریخي بېلګي په توګه زمور په وړاندي انځور شوی، چې له مخي ئې د موالات په څرنګوالي شبه پوه شو او د هر ډول ابهام او شك مجال له منځه ولاړ شي، مور ته وایي:

د ابراهیم علیه السلام او د ده د خدای پالو ملګرو په تګلاري کې د مؤمنانو لپاره غوره بېلګه شته؛ راشئ وګورو چې د خدای پالو او موحدینو ستر جد ابراهیم علیه السلام چې قرآن د خلیل الله لقب ورکړی، ستر موحد، د مسلمان ملت جد، د تاریخ اتل بت ماتوونکی، د بیت الله معمار، د حج لومړنی مؤذن، د خلکو امام او لارښود، په سختو سختو الهي آزموینو کې بریالی، او د ده رښتینو او مؤمنو ملګرو له خپل مشرك قوم او کافرو خپلوانو سره څه کړي او قرآن مور ته د دوی د قصې په ترڅ کې څه درس راکوي؟! څه دریځ او تګلاره ئې غوره کړې؟ قرآن مور ته وایي چې دوی خپل قوم ته وویل: له تاسو او له ټولو هغو معبودانو بې زار یو چې تاسو ئې له الله پرته لمانځئ، یعني له دې وروسته له ټولو هغو اړیکو بې زار یو چې تر نن پورې مو له تاسو سره درلودې، نور زمور او ستاسو تر منځ د دوستۍ او خپلوۍ هیڅ اړیکه نشته، ټولې اړیکې مو شلولې دي، ستاسو له دروغجنو آلهه او معبودانو کرکه لرو، له هر هغه څه خپل برائت او بېزاري اعلانوو چې تاسو ئې له الله تعالی پرته لمانځئ. ګورئ چې ابراهیم علیه السلام او د ده خدای پال او مؤمن یاران هم له (مشرك قوم) خپله بې زاري اعلانوي او هم د دوی له (کاذبو اصنامو او معبودانو)، نور نو نه قومي او نسبي اړیکو ته ارزښت ورکوي او نه د مشرك قوم معبوادنو ته احترام او درناوی!! داسي نه وایي چې د (نمرود) په خلاف د (ولس) د حمایت او مرستي ترلاسه کولو لپاره که د ولس پر (اصنامو) د درناوي څادر وغوړوو او د ګلانو ګډۍ ئې مخي ته کښېږدو؛ دا کار جائز دئ او کومه شرعي مانع نه لري!!!

همداراز قرآن د رسول الله صلی الله علیه و سلم په ارتباط مؤمنانو ته

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

فرمايي:

لَّقَدۡ كَانَ لَكُمۡ فِي رَسُولِ ٱللَّهِ أُسۡوَةٌ حَسَنَةٌ لِّمَن كَانَ يَرۡجُواْ ٱللَّهَ وَٱلۡيَوۡمَ ٱلۡأٓخِرَ وَذَكَرَ ٱللَّهَ كَثِيرٗا ٢١ الاحزاب: ۲۱

يقيناً چي تاسو ته په رسول الله کي نېکه بېلګه او اسوه ده. هغه چا ته چي الله او د آخرت ورځي ته هيله ساتي او الله زيات يادوي.

په دې مبارک آيت کي مورِ ته لارښوونه شوې چي رسول الله صلى الله عليه و سلم د مؤمنانو لپاره داسي ځلانده قدوه دئ چي پر الله تعالى او آخرت باندي د ايمان او الله تعالى او آخرت ته د هيلي ساتلو څرنګوالى د هغه په شخصيت، سنت او کړنلاري کي پېژندى شي، يعني څوک چي غواړي الله تعالى ته د هيلي درلودو په څرنګوالي وپوهېږي او هغه عملونه وپېژني چي له کبله ئې انسان د الله د مرستي، رعايت او عنايت طمع او هيله کولى شي، نو دا دي له پيغمبر عليه السلام زده کړي، څوک چي غواړي وپوهېږي آخرت ته هيله او طمع درلودل يعني څه؛ او غواړي هغه عملونه وپېژني چي په آخرت کي به ګټه ورسوي او له دې لاري کولى شي د نېک آخرت طمع ولري؛ نو هغه دي آخرت ته د طمعي او هيلي څرنګوالى له پيغمبر صلى الله عليه و سلم زده کړي او څوک چي غواړي د الله د زيات ذکر په څرنګوالي پوه شي؛ بايد په دې کي د پيغمبر عليه السلام متابعت وکړي، پيغمبر بايد د ده لپاره اسوه او قدوه وي او د هغه په شخصيت کي او د ده د اخلاقو او کړنو په رڼا کي د دې خبرو په حقيقت ځان پوه کړي، د ژوند په ټولو مسائلو کي بايد پيغمبر عليه السلام مورِ ته بېلګه، اسوه او قدوه وي، الله ته د هيلي درلودو په څرنګوالي کي، د آخرت په نسبت ايمان درلودلو، د اعمالو د نتائجو په اړه آخرت ته طمع او هيله ساتلو او د الله د زيات يادولو او ذکر په څرنګوالي کي بايد پيغمبر زمورِ قدوه او اسوه وي.

راشئ د زعامت ځيني هغه مواصفات وڅېړو چي په قرآن کي ئې

deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

يادونه شوې او د پيغمبرانو عليهم السلام په شخصيت کې انځور شوي؛ خو تر دې وړاندې ښه ده پوه شو چې قرآن د نامسلمانو او کافرانو ليدلوری د زعامت د ځانګړتياوو په اړه څنګه معرفي کوي؛ قرآن د فرعون وينا د موسی عليه السلام په اړه داسې وړاندې کوي:

وَنَادَىٰ فِرۡعَوۡنُ فِي قَوۡمِهِۦ قَالَ يَٰقَوۡمِ أَلَيۡسَ لِي مُلۡكُ مِصۡرَ وَهَٰذِهِ ٱلۡأَنۡهَٰرُ تَجۡرِي مِن تَحۡتِيٓۚ أَفَلَا تُبۡصِرُونَ ٥١ أَمۡ أَنَا۠ خَيۡرٞ مِّنۡ هَٰذَا ٱلَّذِي هُوَ مَهِينٞ وَلَا يَكَادُ يُبِينُ ٥٢ فَلَوۡلَآ أُلۡقِيَ عَلَيۡهِ أَسۡوِرَةٞ مِّن ذَهَبٍ أَوۡ جَآءَ مَعَهُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ مُقۡتَرِنِينَ ٥٣ فَٱسۡتَخَفَّ قَوۡمَهُۥ فَأَطَاعُوهُۚ إِنَّهُمۡ كَانُواْ قَوۡمٗا فَٰسِقِينَ ٥٤ الزخرف: ٥١-٥٤

او فرعون په خپل قوم کې په جګ ږغ وويل: اې زما قومه! آيا د مصر پاچايي زما نه ده؟ او دا نهرونه چې زما تر واک لاندې بهېږي؟ آيا نه ګورئ؟ ۵۲- آيا زه غوره يم که دا چې سپک دئ او نشي کولی څرګنده وينا وکړي؟ ۵۳- ولې د سرو زرو لاسوندي نه دي پرې اچول شوي يا ولې صف ترلې فرشتې نه دي ورسره راغلې؟ ٥٤- نو خپل قوم ئې داسې تحميق کړ چې د ده اطاعت ئې وکړ، يقيناً چې دوی فاسق وګڼي ول.

په دې مبارکو آيتونو کې څو لارښوونې شوې:

- فرعون ځان مَلِك بولي او مصر خپل ملك.
- ځان د مصر د ټولو زمکو او نهرونو مالك او خاوند ګڼي.
- تر موسی له څو پلوه ځان غوره او لوړ ښيي: موسی په ولس کې سپک دئ او دی عزتمن، د موسی خبرې واضح او هغسې نه دي چې ولس ته مقبولي، د منلو او فهم وړ وي؛ د سرو زرو لاسوندي په لاسونو کې نه دي وراچول شوي؛ وسله وال محافظين نه لري؛ په کار خو دا وه چې د فرشتو

deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

صف ټرلي ټولي ورسره وی او د ده محافظت ئې کولی؛ مشران خو د ده په څېر په ګڼو سمبال وي او لښکري ئې په خدمت کې.

په دې ویناوو سره ئې خپل قوم داسي تحمیق کړ چې د ده اطاعت ئې وکړ، د دې تحمیق وجه یوازي دا نه وه چې د فرعون د ویناوو تر اغېز لاندي راغلي او دوکه شوي؛ بلکې اصلي وجه ئې دا وه چې دوی په خپله فاسق وګړي ول، نو ځکه ئې د فرعون له دغو ویناوو سره توافق کړی.

دا هغه خبرې دي چې د زمانې هر فرعون ئې د هر موسی په ضد کوي، ځان مخور، د نفوذ، زر، زور او ځواك خاوند ګڼي او د مقابل لوري په اړه وایي: کمزوری دئ، څوك ئې ملاتړ نه کوي، نه پوهېږو څه غواړي، خبرې ئې واضح او د فهم وړ نه دي، نه شتمن دئ او نه مجهز فوځ لري، د مصر په فرعوني نظام کې به واکمنانو ځانګړې ګاڼې کارولې چې همدا به د دوی د واکمنۍ نښه ګڼل کېده، د سرو زرو لاسوندي به ئې وو، نن د سرو زرو ساعتونه او ګوتې؛ د الماسو او زمردو له قیمتي غمیو سره؛ آخرین ماډل موټري؛ د زعامت لوازم ګڼل کېږي. د مصر د واکمنو په خوا کې به داسي منظم او مجهز امنیتي ټولګي وو چې د دوی حفاظت او ساتنه به ئې کوله، فرعون د موسی علیه السلام په اړه ولس ته وایي: له ده سره خو د مشرۍ هیڅ نښه نشته، نه د سرو زرو لاسوندي لري او نه مجهز ساتونکي ورسره شته، نه ئې وینا داسي ده چې خلك پرې پوه شي، نامأنوس او ناآشنا خبرې کوي. که څه هم ځینو درنو مفسرینو ویلي چې ګواکې د موسی علیه السلام په ضد د فرعون د دې وینا چې په څرګنده توګه خبرې نشي کولی دا ده چې د موسی علیه السلام ژبه په ماشومتوب کې سوزېدلې وه او له همدې کبله ئې په واضح توګه خبرې نشوی کولی!! خو دا تعبیر نه یوازي دقیق نه دئ بلکې د قرآن له ویناوو سره اړخ نه لګوي، د فرعون دا وینا په حقیقت کې د هر مؤمن داعي په ضد د هر فرعون وینا انځوروي، دوی تل د داعیانو په ضد همدا وایي: وینا ئې د فهم وړ نه ده، خبرې ئې ناآشنا او عجیبي او

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

غوښتنې ئې غيرعملي دي، موږ داسې خبرې تر دې وړاندې نه دي اوربدلې.

همداراز قرآن فرمايي:

وَقَالُواْ لَن نُّؤۡمِنَ لَكَ حَتَّىٰ تَفۡجُرَ لَنَا مِنَ ٱلۡأَرۡضِ يَنۢبُوعًا ﴿٩٠﴾ أَوۡ تَكُونَ لَكَ جَنَّةٞ مِّن نَّخِيلٖ وَعِنَبٖ فَتُفَجِّرَ ٱلۡأَنۡهَٰرَ خِلَٰلَهَا تَفۡجِيرًا ﴿٩١﴾ أَوۡ تُسۡقِطَ ٱلسَّمَآءَ كَمَا زَعَمۡتَ عَلَيۡنَا كِسَفًا أَوۡ تَأۡتِيَ بِٱللَّهِ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ قَبِيلًا ﴿٩٢﴾ أَوۡ يَكُونَ لَكَ بَيۡتٞ مِّن زُخۡرُفٍ أَوۡ تَرۡقَىٰ فِي ٱلسَّمَآءِ وَلَن نُّؤۡمِنَ لِرُقِيِّكَ حَتَّىٰ تُنَزِّلَ عَلَيۡنَا كِتَٰبٗا نَّقۡرَؤُهُۥۗ قُلۡ سُبۡحَانَ رَبِّي هَلۡ كُنتُ إِلَّا بَشَرٗا رَّسُولٗا ﴿٩٣﴾ الإسراء: ۹۰-۹۳

او وئې ويل: تر هغه دربانديې ايمان نه راوړو چې له زمکې کومه چينه راته ونه بهوې. او يا دې د خرما او انګورو داسې باغ نه وي چې په منځ کې ئې ويالې روانې کړې. او يا لکه څنګه چې ګمان کوې دا آسمان پر موږ ټوټې ټوټې راپرې باسې او الله او ملائکې موږ ته مخامخ راحاضر کړې او يا دې د سرو سپينو زرو کور وي او يا آسمان ته وخيژې او ختل دې هم تر هغه نه منو چې کوم داسې ليکلی کتاب راته راوړې چې موږ ئې لوستی شو، ورته ووايه: سبحان الله! مګر زه له يوه لېږل شوي انسان پرته بل څه يم؟!

ګورئ چې منکرينو؛ نه د رسول الله صلی الله عليه و سلم د دعوت او بلنې محتوی ته کتل، نه د ده دلائلو ته، نه د ده لارښوونو ته، نه د ده شخصيت ته، نه د ده ويناوو او کړنو ته، نه د قرآن اغېزناکو او ځلاندو څرګندونو او روښانه لارښوونو ته او نه هغو شخصيتونو ته چې د قرآن په غېږ کې او د رسول الله صلی الله عليه و سلم په لاس وروزل شول او هر يو ئې د يوه ځلانده ستوري په څېر راڅرګند شو، بلکې له رسول الله صلی الله عليه و سلم ئې داسې معجزې غوښتې چې خارق العاده او حيرتناکې وي، لکه: له

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

زمکي کومه روانه چينه راوخوټوه، ځان ته د خرما او انګورو داسي باغ راپيدا کړه چې په منځ کې ئې ويالې رواني کړې، لکه څنګه چې ته ګمان کوې دا آسمان به پر موږ ټوټې ټوټې راپرېوځي؛ دا کار همدا اوس زموږ په وړاندې ترسره کړه، الله او ملائکې موږ ته مخامخ راحاضر کړه، ځان ته د سرو سپينو زرو کور جوړ کړه، آسمان ته وخيژه، ختل دي هم تر هغه نه منو چې کوم داسي ليکلی کتاب راته راوړې چې موږ ئې لوستی شو!!

دوی خپل مشران او قيادتونه همداسي موندلي وو چې له سرو سپينو زرو ډکي بنګلې به ئې وې؛ د سمسورو باغونو خاوندان به وو؛ ويالې به ئې په کې رواني کړې وې، د پيغمبر عليه السلام زعامت او مشري ئې هم يوازې په هغه صورت کې منله چې همداسي شيان ئې درلودی؛ خو د قرآن له نظره د زعامت مواصفات دا دي:

۱ـ امانت

قرآن د ټولو پيغمبرانو عليهم السلام د معرفي په لړ کې موږ ته د دوی دغه د (امانت) صفت په مکرره توګه معرفي کوي او په دې توګه موږ ته وايي چې هغه څوک د زعيم او قائد په توګه غوره کړئ چې امين وي، زعامت او مشري د خلکو امانت او الهي مسئوليت وګڼي، له هغه قدرت او صلاحيت په پوره امانت، دقت او احتياط سره استفاده وکړي چې ستاسو له لوري ورسپارل کېږي، د ده له پرېکړو او اجراءاتو د خلکو مال، نفس او عزت ته صدمه ونه رسېږي، خلك د خپلو هوسونو قرباني نه کړي، هغه اقتدار چې ولس ئې ورسپاري، د اسلام د پلي کولو، د ولس د هوسايني او د ګډو سپېڅلو آرمانونو او شعارونو په لار کې وکاروي، د اسلام له نظره (ايمان) او (خيانت) هيڅکله يو له بل سره اړخ نه لګوي او په يوه زړه کې نه راغونډېږي، پيغمبر عليه السلام فرمايي: څوك چې امين نه وي ايمان نه لري.

عن أَنَسِ بنِ مالكٍ قال: قَلَّما خطَبَنا النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم إلَّا قال فى

deenodanish خځه ښکته شوی له deenodanish.com

خُطبَتِه: " لَا إِيمانَ لِمَنْ لا أَمَانَةَ لَهُ وَلا دِينَ لِمَنْ لا عَهْدَ لَهُ"

له انس بن مالك رضي الله عنه روايت دئ چي وئې ويل: لږ داسي شوي چي نبي صلى الله عليه و سلم موږ ته خطبه اورولې وي او نه ئې ويلي: هغه کس هيڅ ايمان نه لري چي امين نه وي او هغه هيڅ دين نه لري چي عهد ته وفا نه لري.

قرآن ټول پيغمبران داسي معرفي کوي چي هر يوه ئې مخاطبينو ته ويلي: زه تاسو ته امين استازی يم؛ نو له الله تعالى تقوى ولرئ او زما اطاعت وکړئ؛ لکه چي فرمايي:

كَذَّبَتْ قَوْمُ نُوحٍ ٱلْمُرْسَلِينَ ﴿١٠٥﴾ إِذْ قَالَ لَهُمْ أَخُوهُمْ نُوحٌ أَلَا تَتَّقُونَ ﴿١٠٦﴾ إِنِّي لَكُمْ رَسُولٌ أَمِينٌ ﴿١٠٧﴾ فَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَأَطِيعُونِ ﴿١٠٨﴾ الشعراء: ١٠٥-١٠٨

د نوح قوم پيغمبران تکذيب کړل، کله چي د دوی ورور نوح ورته وويل: آيا تقوى نه کوئ؟ يقيناً چي زه ستاسو لپاره امين استازی يم، نو له الله ووېرېږئ او زما اطاعت وکړئ.

كَذَّبَتْ عَادٌ ٱلْمُرْسَلِينَ ﴿١٢٣﴾ إِذْ قَالَ لَهُمْ أَخُوهُمْ هُودٌ أَلَا تَتَّقُونَ ﴿١٢٤﴾ إِنِّي لَكُمْ رَسُولٌ أَمِينٌ ﴿١٢٥﴾ فَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَأَطِيعُونِ ﴿١٢٦﴾ الشعراء: ١٢٣ ـ ١٢٦

عاديانو پيغمبران تکذيب کړل، کله چي د دوی ورور هود ورته وويل: آيا تقوى نه کوئ؟ يقيناً چي زه ستاسو لپاره امين استازی يم، نو له الله ووېرېږئ او زما اطاعت وکړئ.

د موسى عليه السلام قول رااخلي او فرمايي:

وَلَقَدْ فَتَنَّا قَبْلَهُمْ قَوْمَ فِرْعَوْنَ وَجَآءَهُمْ رَسُولٌ كَرِيمٌ ﴿١٧﴾ أَنْ أَدُّوٓاْ إِلَيَّ عِبَادَ ٱللَّهِ إِنِّي لَكُمْ رَسُولٌ أَمِينٌ ﴿١٨﴾ الدخان: ١٧ ـ ١٨

deenodanish خخه ښکته شوی له deenodanish.com

يقيناً تر دوی مخکې مو د فرعون قوم وآزمويو او يو عزتمن پيغمبر ورغی؛ (له دې وينا سره) چې د الله بندګان راوسپاره، يقيناً چې زه تاسو ته يو امين استازی يم.

قرآن په عامه صيغه فرمايي چې د هر کار لپاره بايد (امين) او (وړ او بااستعداد) کس وګمارئ:

قَالَتۡ إِحۡدَىٰهُمَا يَٰٓأَبَتِ ٱسۡتَـٔۡجِرۡهُۖ إِنَّ خَيۡرَ مَنِ ٱسۡتَـٔۡجَرۡتَ ٱلۡقَوِيُّ ٱلۡأَمِينُ ٢٦ القصص: ٢٦

... يوې ئې ويل: اې پلار جانه! استخدام ئې کړه؛ بې شکه چې تر ټولو غوره کس چې (د کوم کار لپاره ئې) استخداموې؛ هغه دئ چې (پياوړی) او (امين) وي.

په رواياتو کې راځي چې عمر رضي الله عنه يوه ورځ بيت المال ته ولاړ چې هلته شته اموال وشمېري، عثمان او علي رضی الله عنهما هم ورسره ول، د ده زيار، احتياط او دقت ته په پام سره چې په سختي تودوخي کې ئې دا کار په خپله کولو؛ علي رضی الله عنه؛ عثمان رضی الله عنه ته مخ کړ او وئې ويل: په خدای قسم چې دی همغه (قوي امين) دئ.

۲ ـ کفائه او لازم استعداد

لارښود بايد د دې درووند پېټي د وړلو او د دې ستر مسئوليت د اداء کولو توان او استعداد ولري، هم له علمي پلوه او هم له جسمي پلوه، قرآن د طالوت د انتخاب په قصې کې مور ته همدا لارښوونه کوي، د دې قصې تفصيلات په دې توګه زمور مخي ته ږدي:

أَلَمۡ تَرَ إِلَى ٱلۡمَلَإِ مِنۢ بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ مِنۢ بَعۡدِ مُوسَىٰٓ إِذۡ قَالُواْ لِنَبِيّٖ لَّهُمُ ٱبۡعَثۡ لَنَا مَلِكٗا نُّقَٰتِلۡ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِۖ قَالَ هَلۡ عَسَيۡتُمۡ إِن كُتِبَ

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

عَلَيۡكُمُ ٱلۡقِتَالُ أَلَّا تُقَٰتِلُواْۖ قَالُواْ وَمَا لَنَآ أَلَّا نُقَٰتِلَ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ وَقَدۡ أُخۡرِجۡنَا مِن دِيَٰرِنَا وَأَبۡنَآئِنَاۖ فَلَمَّا كُتِبَ عَلَيۡهِمُ ٱلۡقِتَالُ تَوَلَّوۡاْ إِلَّا قَلِيلٗا مِّنۡهُمۡۗ وَٱللَّهُ عَلِيمُۢ بِٱلظَّٰلِمِينَ ٢٤٦ وَقَالَ لَهُمۡ نَبِيُّهُمۡ إِنَّ ٱللَّهَ قَدۡ بَعَثَ لَكُمۡ طَالُوتَ مَلِكٗاۚ قَالُوٓاْ أَنَّىٰ يَكُونُ لَهُ ٱلۡمُلۡكُ عَلَيۡنَا وَنَحۡنُ أَحَقُّ بِٱلۡمُلۡكِ مِنۡهُ وَلَمۡ يُؤۡتَ سَعَةٗ مِّنَ ٱلۡمَالِۚ قَالَ إِنَّ ٱللَّهَ ٱصۡطَفَىٰهُ عَلَيۡكُمۡ وَزَادَهُۥ بَسۡطَةٗ فِي ٱلۡعِلۡمِ وَٱلۡجِسۡمِۖ وَٱللَّهُ يُؤۡتِي مُلۡكَهُۥ مَن يَشَآءُۚ وَٱللَّهُ وَٰسِعٌ عَلِيمٞ ٢٤٧ البقرة: ٢٤٦-٢٤٧

آیا د بني اسرائیلو هغه ډله دي ونه لیده چې له موسی وروسته وه، کله چې ئې خپل پېغمبر ته وویل: مونږ ته یو پاچا وټاکه، چې د الله په لار کې وجنګېږو، ورته وئې ویل: آیا داسې خو به نه وي چې جنګېدل درباندې فرض شي نو ونه جنګېږئ؟ وئې ویل: نو په مونږ به څه شوي وي چې د الله په لار کې به نه جنګېږو، په داسې حال کې چې له خپل کور کلي او ټبر ایستل شوي یو؟ خو چې کله جنګېدل پرې فرض کړی شو نو ټول په شا شول غیر له لږ شمېر ئې او الله خو د دې ظالمانو په حال ښه پوه دئ. او پېغمبر ئې ورته وویل: الله خو طالوت درته پاچا ټاکلی، وئې ویل: څنګه به پر مونږ باندې د ده پاچایي وي، حال دا چې مونږ په پاچایي کې تر ده ډېر وړ او مستحق یو او ده ته د مال پراخوالی هم نه دئ ورکړی شوی؟ وئې ویل: بې شکه چې هغه الله پرتاسو غوره کړی او په علم او جسم کې ئې پراخوالی او زیاتوالی ورکړی او الله چې چا ته وغواړي؛ پاچایي ورکوي او الله ښه پوه واسع دی.

د دې آیتونو شرح داسې ده: له موسی علیه السلام وروسته او هغه وخت چې بني اسرائیل په شرک او فساد اخته او له سمې لارې منحرف شول،

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

نو د جالوت په نامه یو ظالم او بې رحمه پاچا وربانديي مسلط شو، ډېر ځې ووژل، د دوی کورونه ځې لوټ او تاراج کړل او دوی ځې له خپل کور کلي وشړل، په دې وخت کې اشموئیل علیه السلام د دوی لارښوونه کوله، هغه ته راغلل، له خپلو مخکینیو کړو وړو او د الله په لار کې د جهاد له نه کولو ځې ندامت وښودو او له هغه ځې د الله په لار کې د جهاد اجازه وغوښته، هغه د دوی مخکني حالت ته په پام سره ورته وویل: داسي نه چې جهاد دربانديي فرض شي او بیا تاسو ډډه ترې وکړئ، دوی ورته وویل: په داسي حال کې چې پر مونږ ظلمونه شوي، له خپل کلي کور شړل شوي یو، هیڅ داسي دلیل نه ګورو چې د الله په لار کې ونه جنګېږو، خو چې ورته وویل شو اوس نو وسله واخلئ او له دښمن سره وجنګېږئ، یوازي معدودو کسانو تیاری وښود، نور ټول له خپلې ژمني او د الله په لار کې له جنګېدو په ډډه شول. د الله پېغمبر ورته وویل: تاسو د یوه پاچا د ټاکلو غوښتنه کړې وه، دا دئ الله تعالی طالوت درته غوره کړی، د الله له دین اوښتي قوم ورته وویل: دی خو پر مونږ د مشرۍ وړ نه دئ، نه د نسب له مخې او نه د مال او شتمنۍ له مخې، د ټول ولس قیادت او زعامت خو باید داسي چا ته وسپارل شي چې قیادت او زعامت له پلار نیکه ورته په میراث پاته شوی وي، د کومې درنې او معتبرې کورنۍ غړی وي، ښه ډېر مال او دولت ولري!! پېغمبر د دوی په ځواب کې وایي: دی خو الله غوره کړی، د زعامت او قیادت وړتیا هغه ورکړې، ښه (پوه) دئ او (د ښه صحت او قوي بدن خاوند) دئ، د مشرتابه غوره مواصفات خو همدا دي، خو دوی دې ته تیار نه وو چې د طالوت قیادت ومني، د دوی معیارونه بدل شوي وو، د زعامت د مواصفاتو په اړه ځې همغسي انګېرله چې بې دینه او لارورکي قومونه ځې انګېري، د پېغمبر دا وینا ځې نه منله چې الله تعالی د دوی په څېر نه دئ چې نسب او مال د قیادت لپاره ضروري وګڼي او د طالوت په څېر یو نادار او بې نوم نښان ځوک؛ د دوی د مشرۍ لپاره مناسب ونه ګڼي.

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

گورئ چې د پيغمبرانو عليهم السلام په مشرب او مسلك کې نه (نسب) معيار دئ او نه (ثروت)، استعدادونه، علمي او جسمي وړتياوي معتبري دي. په دې لارښوونو کې د زعامت په اړه غيراسلامي او اسلامي معيارونه په ډېره دقيقه توګه انځور شوي او موږ ته ښيي چې د جاهلانه معيارونو له مخې زعامت او قيادت يو موروثي توکی، د خاصې کورنۍ او ټبر حق او يوازې (شتمن) د دې منصب وړ او اهل ګڼل کېږي، خو د پيغمبرانو عليهم السلام په لارښوونو کې له فکري، اخلاقي، عملي او جسمي وړتياوو پرته هيڅ څه اعتبار نه لري، ټول موهومي او تصنعي معيارونه او ارزښتونه مردود ګڼل کېږي.

٣ ـ علم

مسلمانان په دې ګمارل شوي چې د ټولنې تر ټولو (پوه) او (عالم) کس به د مشر او زعيم په توګه غوره کوي، قرآن موږ ته د آدم عليه السلام د خلافت په قصې کې همدا لارښوونه کوي او فرمايي چې الله تعالى د ملائکو په ځای آدم عليه السلام له دې امله د زمکې د خلافت لپاره غوره کړ چې تر فرشتو ئې علم جامع او پراخ وو، ملائکو د آدم عليه السلام علم او پوهې ته په پام سره اعتراف وکړ چې د دوی علم محدود دئ:

قَالُواْ سُبۡحَٰنَكَ لَا عِلۡمَ لَنَآ إِلَّا مَا عَلَّمۡتَنَآۖ...

وئې ويل: پاکوالى تا ته ده؛ له هغه پرته چې تا راښودلي هيڅ علم نه لرو.

په داسې حال کې چې د آدم عليه السلام په اړه فرمايي:

وَعَلَّمَ ءَادَمَ ٱلۡأَسۡمَآءَ كُلَّهَا:

او آدم ته ئې ټول نومونه وروښودل.

الله جل شأنه آدم عليه السلام او د ده نسل ته د ملائکو په پرتله دا فضيلت ورکړى چې علم ئې تر فرشتو جامع دئ، د هرڅه د پېژندلو او هغه

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

ته د خاص نوم ورکولو استعداد په کې ایښودل شوی، خو ملائکې داسې دي چې هر صنف ئې د خپل خاص کار په اړه علم لري او د نورو شیانو په اړه نه پوهېږي، هر څه پېژندل او بیا هغه ته خاص نوم ورکول؛ د انسان ځانګړتیا ده، دا خصوصیت په بل هیڅ مخلوق کې نه شته، د زمکې د خلافت لپاره همداسې یوه مخلوق ته ضرورت وو، ملائکو دا کار نه شو کولی.

دا آیتونه که له یوې خوا موږ ته لارښوونه کوي چې د اسلام له نظره د (خلافت) لپاره (اعلم: ښه پوه) تر ټولو زیات وړ او افضل دئ، له بلې خوا د هغه علم څرنګوالی هم موږ ته ښیي چې د خلافت لپاره ضروري دئ، د پیغمبر په شتون کې؛ د طالوت امارت او د اشیاوو د نومونو د پېژندلو په وجه آدم علیه السلام ته د خلافت لپاره پر فرشتو ترجیح؛ ښیي چې د دې منصب لپاره په ځانګړو برخو کې تخصصي علم کفایت نه کوي، باید د مشرتابه لپاره وړ شخصیتونه د ځانګړو تخصصي علومو له پلوه ونه څېړو او ونه لټوو؛ بلکې د مشرتابه لپاره چې کومې جامع پوهې او بصیرت ته ضرورت دئ؛ دا باید معیار وګڼو او د دې له مخې اهل کس تشخیص او انتخاب کړو، یعني هم دیني علم او هم د دنیایي چارو په اړه علم او پوهه، د آدم علیه السلام په انتخاب کې د اشیاءو پېژندنه او د طالوت په غوراوي کې د هغه جنګي مهارت او پوهه؛ دواړو ته د خپل سیال په پرتله امتیاز او فضیلت ورپه برخه کړی وو. قرآن د مشر او امیر په توګه د طالوت د انتصاب لپاره دا دلائل وړاندي کوي:

... قَالَ إِنَّ ٱللَّهَ ٱصْطَفَىٰهُ عَلَيْكُمْ وَزَادَهُۥ بَسْطَةً فِى ٱلْعِلْمِ وَٱلْجِسْمِ ۖ وَٱللَّهُ يُؤْتِى مُلْكَهُۥ مَن يَشَآءُ ۚ وَٱللَّهُ وَٰسِعٌ عَلِيمٌ ... البقره: ۲٤۷

... وئې ویل: بې شکه چې الله هغه پرتاسو غوره کړی او په (علم) او (جسم) کې ئې پراخوالی او زیاتوالی ورکړی او الله چې چا ته وغواړي پاچایي ورکوي او الله ښه پوه واسع دئ.

deenodanish.com څخه ښکته شوی له Deen-o-Danish

يعني د هغو کسانو په ډله کې چې د امارت لپاره نومول شوي؛ طالوت تر ټولو غوره ډئ او دوه داسي وړتياوي لري چې ده ته پر نورو غوره والی ورکوي چې هغه (علم) او (پياوړی جسم) دي، هم د خپل ولس د لارښوونې او قيادت لپاره ضروري پوهه او علم لري او هم د دې درووند پېټي د وړلو لپاره (مضبوط او سالم بدن او پياوړې متې).

تاسو په مخکينيو درسونو کې هغه روايات وليدل چې وايي: چا چې په کوم ټولې کې داسي کس مشر او امير وټاکلو چې په دې ټولې کې تر ده غوره او د الله تعالی په کتاب او د پيغمبر په سنت پوه وي؛ نو هغه له خدای سره، له پيغمبر سره او له ټولو مسلمانانو سره خيانت کړی.

٤ ـ قائد بايد د ولس لپاره قدوه او بېلګه وي

هغه څوك بايد د مشر په توګه غوره شي چې د اسلامي ټولنې د ټولو فکري او اخلاقي ارزښتونو له پلوه، آرمانونو او شعارونو ته د وفامنۍ له پلوه، ضوابطو ته د التزام له پلوه او د تګلاري او اسلوب د مراعات له پلوه؛ د ټولنې فرد فرد ته د بېلګې او اسوه په څېر وي، لکه چې قرآن په دې اړه فرمايي:

لَّقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ ٱللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِّمَن كَانَ يَرْجُواْ ٱللَّهَ وَٱلْيَوْمَ ٱلْآخِرَ وَذَكَرَ ٱللَّهَ كَثِيرًا ﴿٢١﴾ الاحزاب: ٢١

يقيناً چې د رسول الله (په شخصيت) کې ستاسو د هغه چا لپاره غوره بېلګه ده چې الله او د آخرت ورځې ته هيله لري او الله ډېر يادوي.

يعني پر الله تعالی د ايمان څرنګوالی، د هغه فضل او کرم ته هيله درلودل، په آخرت باور او اخروي سعادت لټول او هيله ورته درلودل او د الله تعالی زيات ذکر او يادول بايد له پيغمبر عليه السلام زده کړو او هغه د ځان لپاره په دغو برخو کې د بېلګې او اسوه په توګه غوره کړو.

deenodanish.com څخه ښکته شوی له Deen-o-Danish

همداراز دا د يوه مؤمن زعيم او لارښود ځانګړتيا ګڼل شوې چې له دښمن سره به ئې چلن پرېکنده او قاطع وي، خپل برائت، نه پخلا کېدونکې دښمني او عداوت به له دښمن او د هغه تګلارو، سياستونو او افکارو سره اعلانوي، قرآن په دې اړه فرمايي:

قَدْ كَانَتْ لَكُمْ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ فِيٓ إِبْرَٰهِيمَ وَٱلَّذِينَ مَعَهُۥٓ إِذْ قَالُواْ لِقَوْمِهِمْ إِنَّا بُرَءَٰٓؤُاْ مِنكُمْ وَمِمَّا تَعْبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ كَفَرْنَا بِكُمْ وَبَدَا بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمُ ٱلْعَدَٰوَةُ وَٱلْبَغْضَآءُ أَبَدًا حَتَّىٰ تُؤْمِنُواْ بِٱللَّهِ وَحْدَهُۥٓ ... الممتحنه: ٤

يقيناً چې تاسو ته د ابراهيم او هغو کسانو (په شخصيت او دريځونو) کې ښکلې اسوه او بېلګه ده چې له ده سره ملګري ول، هغه مهال چې خپل قوم ته ئې وويل: له تاسو او له هغه څه چې له الله پرته ئې عبادت کوئ؛ برئ او بې زاره يو، له تاسو (او ستاسو له دين) انکار کوو، او زموږ او ستاسو ترمنځ تلپاته دښمني او کرکه راپيدا شوې، تر هغه چې تاسو پر يوازيني الله ايمان راوړئ...

يعني له دښمنانو په بې زارۍ او برائت کې او د هغوی د تګلارو او افکارو په خلاف د مستمر او تلپاته عداوت او کينې په اعمال او اعلان کې بايد ستاسو ستر لارښود ابراهيم عليه السلام او مؤمن او موحد ياران ستاسو لپاره بېلګه او اسوه وي.

په صداقت، په خپلو ژمنو وفا، تقوی او پرهېزګارۍ، له الله تعالی وېره، د الله پر بندګانو زړه سوی او ترحم، پر خپل جائز حق قناعت، د حدودو او ضوابطو مراعات، د خپلو مسئوليتونو او وجائبو په اړه التزام، د دښمن په وړاندې عدم مداهنت، صبر او استقامت، جرأت او شهامت، د ګواښونو او فشارونو په وړاندې له خضوع او تسليمېدو ډډه... په دې ټولو کې بايد امير

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

او لارښود د نورو لپاره قدوه او اسوه وي.

٥ ـ يوازي له الله تعالى د اجر او بدلې طمع

قرآن د صالح مشرتابه له مهمو مواصفاتو؛ دا صفت ګڼي چې هغه له خپلو پلويانو او مخاطبينو؛ د هيڅ بدلې او معاوضې طمع نه لري، دا وينا د ټولو پيغمبرانو عليهم السلام ګډه وينا بولي چې خپلو مخاطبينو ته ئې ويلي: له تاسو هيڅ بدله او معاوضه نه غواړو، د اجر طمع مو يوازي له رب العالمين ده، لكه چې فرمايي:

كَذَّبَتْ ثَمُودُ ٱلْمُرْسَلِينَ ﴿١٤١﴾ إِذْ قَالَ لَهُمْ أَخُوهُمْ صَٰلِحٌ أَلَا تَتَّقُونَ ﴿١٤٢﴾ إِنِّى لَكُمْ رَسُولٌ أَمِينٌ ﴿١٤٣﴾ فَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ وَأَطِيعُونِ ﴿١٤٤﴾ وَمَآ أَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ ۖ إِنْ أَجْرِىَ إِلَّا عَلَىٰ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿١٤٥﴾ الشعراء: ١٤١ ـ ١٤٥

ثمودیانو پیغمبران تکذیب کړل، کله چې د دوی ورور صالح ورته وویل: آیا تقوی نه کوئ؟ یقیناً چې زه ستاسو لپاره امین استازی یم، نو له الله ووېرېږئ او زما اطاعت وکړئ. او له تاسو پرې کوم اجر نه غواړم، زما اجر خو یوازې پر رب العالمین دئ.

د یوه زړه ور او مجاهد مؤمن قصه زمونږ مخې ته ږدي چې د خپل قوم په وړاندي ئې هغه مهال له پیغمبرانو په مېړانه او جرأت سره دفاع وکړه چې قوم تکذیب او په مرګ ئې وګواښل، فرمايي:

وَجَآءَ مِنْ أَقْصَا ٱلْمَدِينَةِ رَجُلٌ يَسْعَىٰ قَالَ يَٰقَوْمِ ٱتَّبِعُوا۟ ٱلْمُرْسَلِينَ ﴿٢٠﴾ ٱتَّبِعُوا۟ مَن لَّا يَسْـَٔلُكُمْ أَجْرًا وَهُم مُّهْتَدُونَ ﴿٢١﴾ يس: ٢٠ـ٢١

او د ښار له لرې پلوه یو سړی په تلوار سره راغی؛ وئې ویل: اې زما قومه! د

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

دغو پيغمبرانو متابعت وکړئ، د هغه چا متابعت وکړئ چې هيڅ بدله او معاوضه درنه نه غواړي او هدايت شوي دي.

په مکرره او پرله پسې توګه او د اکثرو پيغمبرانو عليهم السلام په اړه د دغه صفت يادونه ښيي چې دا د مشرتابه له اهمو مواصفاتو دئ چې بايد د لارښود او مشر په انتخاب کې ئې په جدي توګه په پام کې ولرو، او هغه څوک د مشر او امير په توګه غوره کړو چې له خلکو د هيڅ مادي او معنوي بدلې او اجر طمع ونه لري، نه د ستايني طمع او نه ځان او خپلې کورنۍ ته د کوم امتياز ترلاسه کولو طمع، مشري بايد يو مسئوليت وګڼي نه يو امتياز، له دې احساس سره دا دنده په غاړه واخلي او دا مسئوليت قبول کړي چې د الله تعالى مظلومو او بې وزلو بندګانو ته خدمت وکړي، د مظلوم مرسته وکړي او ظالم پر خپل ځای کښېنوي، د حق بيرغ اوچت کړي او د باطل ټغر ټول کړي، نه دا چې دې مقام ته په رسېدو سره ځان تر نورو لوړ او غوره وګڼي، په جامه، خوراك، مسکن او د ژوند په نورو برخو کې امتيازات ترلاسه کړي او په بيت المال کې د ځان او خپلې کورنۍ په ګټه تصرف ځان ته روا او جائز وګڼي.

تاسو مخکښې درسونو کې وليدل چې قرآن د فرعون د قصې په يوې برخې کې دا صفت په دوو څېرو کې د دوه ډوله زعامتونو په اړه د الزخرف سورې په ٥١ـ ٥٤ آيتونو کې داسې انځور کړی:

فرعون ځان د مصر بلامنازع ټولواك ګڼي، د مصر ټولې شتمنۍ، زمکې او نهرونه خپل شخصي مال او مايملك ګڼي، د هر ډول تصرف حق ځان ته ورکوي، تر موسى عليه السلام په دې دليل ځان غوره او د مشرتابه لپاره وړ بولي چې هغه خوار او نادار دئ، نه خلك د ده په خبرو پوهېږي او نه دئ خپله خبره په وضاحت سره کولى شي، فاخره جامې نه لري، د سرو زرو لاسوندي چې د پاچايۍ نښه ګڼل کېږي؛ نه لري او خوا ته ئې مسلح ساتونکي نشته!! موسى عليه السلام په هغه څه اکتفاء کړې چې د خپل کار

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

او زيار په نتيجه کې ئې ترلاسه کړي؛ نه ئې له زعامت د شتمنيو او امتيازاتو ترلاسه کولو وسيله جوړه کړي؛ او نه ئې له دين دکان؛ د حقيقي او صالح زعيم او فرعون صفت زعيم تر منځ تفاوت او توپير بايد داسي وي لکه د موسى عليه السلام او فرعون ترمنځ توپيرونه.

پيغمبر عليه السلام له زکات او صدقاتو چې د اسلامي دولت د عائداتو اساسي منبع ده؛ د ځان او خپل ټبر لپاره استفاده تحريم کړې، خلکو ته به ئې ويل: ستاسو په مالونو کې د فقيرانو او مسکينانو لپاره داسي ټاکلی (حق) دئ چې ستاسو له شتمنو به ئې اخلم او ستاسو په فقراوو به ئې وېشم او هيڅ څه به د ځان لپاره نه ترې ګرځوم.

رسول الله صلى اللَّهُ عليه و سلم به امراءو ته لارښوونه کوله چې تر خپلې سلطې لاندې سيمې هستوګنو ته ووايي: الله تعالى پر تاسو زکات فرض کړی چې د دوی له اغنياءو به اخيستل کېږي او د دوی په فقراءو به وېشل کېږي؛ که دا کار ئې وکړ نو بل څه به نه ترې اخلئ:

عن ابنِ عباسٍ قال: قال رسولُ اللَّهِ صلى اللَّه عليه وسلم لِمُعاذِ بنِ جَبلٍ حينَ بَعَثَه إلَى اليَمَنِ: "إنَّكَ سَتأتِي قَومًا أهلَ كِتابٍ فإذا جِئتَهُم فادعُهُم إلَى أن يَشهَدوا أن لا إلَهَ إلَّا اللَّهُ وأَنَّ محمدًا رسولُ اللَّهِ فإن هُم أطاعوا لَكَ بذَلِكَ فأَخبِرْهُم أنَّ اللَّهَ قَد فرَضَ عَلَيهِم خَمسَ صَلَواتٍ فى كُلِّ يَومٍ ولَيلَةٍ فإن هُم أطاعوا لَكَ بذَلِكَ فأَخبِرهُم أنَّ اللَّهَ قَد فرَضَ عَلَيهِم صَدَقَةً تُؤخَذُ مِن أغنيايِهم فتُرَدُّ على فُقَرايِهم فإن هُم أطاعوا لَكَ بذَلِكَ فإيّاكَ وكَرائمَ أموالِهِم واتَّقِ دَعوَةَ المَظلومِ فإنَّه لَيسَ بَينَه وبَينَ اللَّهِ حِجابٌ". رَواه البخارىُّ

له ابن عباس رضي الله عنهما روايت دئ چې وايي: هغه مهال چې رسول اللَّهُ صلى اللَّهُ عليه و سلم؛ معاذ بن جبل يمن ته ولېږلو؛ هغه ته ئې وويل: ته د

deenodanish.com ځخه ښکته شوی له Deen-o-Danish

اهل کتاب یوه قوم ته ځې؛ کله چې هغوی ته ورغلې دې ته ئې راوبله چې شهادت ورکړي چې له الله پرته بل معبود نشته او دا چې محمد د الله رسول دئ؛ که هغوی په دې کې ستا اطاعت وکړ نو خبر ئې کړه چې الله تعالی پر دوی هرې شپې ورځې کې پنځه لمونځونه فرض کړي؛ که هغوی په دې کې ستا اطاعت وکړ نو خبر ئې کړه چې الله تعالی پر دوی داسې صدقه فرض کړې چې د دوی له اغنیاءو اخیستل او د دوی فقیرانو ته ورکول کېږي؛ که هغوی په دې کې ستا اطاعت وکړ نو د هغو غوره مالونو له اخیستلو ځان ساته؛ او د مظلوم له دعاء وېره لره؛ ځکه د ده او د الله تر منځ هیڅ حجاب نشته.

رسول اللَّه صلی اللَّهُ علیه و سلم به د قربانۍ او له خطرونو او ګواښونو سره د مقابلې لپاره خپل نږدې اقارب راوړاندې کول، هغوی ته به ئې ویل چې مخکې راشي او په لومړي خط کې ودرېږي، خو د امتیازاتو د وېش په مهال به ئې هغوی ته ویل: پر خپل جائز او محدود حق اکتفاء وکړئ، زکات او صدقاتو ته طمع مه کوئ، د بیت المال اړوند اموال به ئې امانت ګڼلو او د الله تعالی په لار کې به ئې لګولو، په اړو مستحقینو به ئې وېشل او د ځان لپاره به ئې هیڅ څه نه ترې اخیستل، د ځان لپاره ئې د فقیرانو په څېر ژوند غوره ګڼلو؛ داسې وخت هم پرې راغلی چې میاشتې میاشتې به تېرې شوې او د ده په کور کې به د ډوډۍ د پخلي لپاره اور نه وو بل شوی، د کورنۍ غړو او خپلوانو ته به ئې ویل: له صدقاتو څه مه اخلئ، تاسو ته روا نه ده چې له هغه څه استفاده وکړئ چې نورو خپل مالونه پرې پاک او تزکیه کړي.

په روایاتو کې راځي چې یو مهال ډېر اسیران مدینې ته راوستل شول، د پیغمبر علیه السلام ګراني لور فاطمې رضي الله عنها چې لاسونه ئې په مېچني تړاکې شوي وو له پیغمبر علیه السلام د یوې خادمې غوښتنه وکړه، پیغمبر علیه السلام په ځواب کې ورته وویل: آیا تر دې غوره شئ درونه ښیم؟ او هغه دا چې په تسبیح، تحمید او تکبیر لګیا اوسه او له الله تعالی مرسته غواړه، څنګه تا ته خادمه درکړم په داسې حال کې چې اهل صفه له لوږې

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

ډبري پر خپل نس ټينګي تړي.

د بدر په معرکه کې هغه مهال چې د قریشو درې نومیالي جنګیالي د دوی له منځه میدان ته راووتل او له مسلمانانو ئې د مبارزې لپاره د سیال او حریف غوښتنه وکړه، پیغمبر علیه السلام خپل درې نږدې خپلوان؛ حمزه رضی الله عنه د ده تره، علی رضی الله عنه او عبیده بن حارث رضی الله عنه د ده د تره زامن؛ د دښمن مقابلې ته وړاندې کړل.

قرآن رسول الله صلی الله علیه وسلم ته لارښوونه کوي چې خپل نږدې اقارب انذار کړه؛ په داسې حال کې چې د خپلو مؤمنو پلویانو په اړه باید تواضع ولري، د دې لارښوونې او امر په اهمیت هغه مهال ښه پوهېدی شو چې د غیراسلامي نظامونو د واکدارانو له کړنو سره ئې مقایسه کړو او وګورو چې په دغو ټولنو کې ستري ستري ستونزي د چارواکو د حوارینو او خپلوانو له تصرفاتو راولاړېږي، هغه چې په ټولنې کې امتیاز لرونکې مفت خوره ډله تړې جوړه شي. لکه چې د مفسد ظاهرشاه د اقتدار په وخت کې هر محمد زایی ته (سردار) ویل کېدل، د هېواد هر ګوټ ته چې به ولاړې او مجلل قصر، ښېرازه زمکه، ښکلی بڼ به دي ترسترګو شو او وبه دي پوښتل چې دا د چا دئ؟ دا ځواب به درکړی شو چې د شاهي کورنۍ د فلان غړي او یا د فلان درباري پیر!!

قرآن فرمایي:

وَأَنذِرۡ عَشِيرَتَكَ ٱلۡأَقۡرَبِينَ ٢١٤ وَٱخۡفِضۡ جَنَاحَكَ لِمَنِ ٱتَّبَعَكَ مِنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ٢١٥ فَإِنۡ عَصَوۡكَ فَقُلۡ إِنِّي بَرِيٓءٞ مِّمَّا تَعۡمَلُونَ ٢١٦ الشعراء: ۲۱۴ـ ۲۱۶

او نږدې خپلوان دي ووېروه او خپل وزر دي هغو مؤمنانو ته ټیټ ساته چې ستا متابعت ئې کړی، خو که ئې له تا سرغړاوی وکړ؛ ورته ووایه: زه له هغه څه بې زاره یم چې تاسو ئې کوئ.

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

پیغمبر علیه السلام په خپلې خوا کې هغو خلکو ته ځای ورکاوو او تر نورو ئې وړاندې کول چې تر ټولو ئې زیاته مالي او ځاني قرباني ورکړې وه او له الله تعالی پرته له هیڅا ئې د کوم امتیاز طمع نه درلوده، بلکې هرې بلې قربانۍ او ایثار ته چمتو ول.

مورږ په غیر اسلامي نظامونو او منحرفو سیاسي احزابو او ډلو ټپلو کې ګورو چې د چارواکو بطانه او د مشرانو حواریین له زیاتو امتیازاتو برخمن وي، د دولت او حزب امکانات د همدغو په لاس کې لوېږي، هر یو ئې د دې لپاره غواړي لوړ ولاړ شي، زعیم ته ځان نږدې کړي او دربار ته لار ومومي چې تر نورو زیات او فوق العاده امتیازات ترلاسه کړي، د دوی له نظره د حزب امکانات په لومړي ګام کې او تر نورو مخکې باید د شورى پر غړو او مشر ته پر نږدې ملګرو ووېشل شي، که داسې ونه شي او د کوم مشر په خوا کې د دوی غوښتنې تأمین نشوې؛ ترې بېلېږي او د بل داسې چا په خوا کې ودرېږي چې جیب ئې ورډک او خوله ئې ورخوږه کړي!! په افغانستان کې چې کومې ډلې د امکاناتو د پراخوالي او زیاتوالي او هغه مهال جوړې شوې چې د جهاد په نامه له ټولې نړۍ؛ امکاناتو او امتیازاتو د افغانستان په لوري مخه کړه؛ ټولې ئې له دغسې خلکو جوړې شوې، ډېرو دروازو ته ودرېدلې، له ډېرو سره ئې بیعتونه کړي او مات کړي، له هیڅا سره ئې په خپلو ژمنو وفا نه ده کړې!!

٦ ـ توکل

د مبارزې په لوړو او ژورو او د ژوند په پېچومو او کږلېچونو کې کله کله حتماً داسې مراحل رامنځته کېږي چې مؤمن دعوتګران او د آزادۍ او عدالت د لارې مبارزان دې ته اړ کېږي چې مادی محاسبات له پامه وغورځوي، په بشپړه توګه او یوازې پر الله تعالی توکل وکړي، له ضعف او ناتوانۍ سره سره او په خپلو محدودو وسائلو سره د ځواکمن دښمن مقابلې

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

ته چمتو شي، په ډېرو بدو شرائطو کې هم د صبر او استقامت لمن ټينګه ونيسي، پر الهی تأييد او حتمي بريا باور ولري، د لاري او سنګر ملګرو ته ډاډ او اطمئنان ورکړي، حوصلې ئې لوړې او هيلې ئې ژوندۍ وساتي، له يأس او ناهيلۍ ئې وژغوري، په داسي سختو شرائطو کې يوازي يو متوکل، ډاډمن او د الله تعالی تأييد او نصرت ته هيله من مشر او لارښود کولی شي د اسلامي نهضت طوفاني کښتۍ د سختو ورځو په څپاندې سيند کې ساحل ته ورسوي. قرآن له مصر د موسی عليه السلام او بني اسرائيلو د هجرت او د فرعون د فوځونو له لوري د دوی د تعقيب په قصې کې موږ ته د اسلامي صف د لارښود دغه ځانګړتيا انځوروي او وايي: کله چې موسی عليه السلام او د سفر ملګري ئې له بحر سره مخامخ شول، شا ته ئې وکتل چې د فرعون مجهزې لښکري ورنږدې شوې، د نجات لار او امکان په نظر نه ورتلو، د محاصرې له وېرې سخت مضطرب او پرېشان ول، موسی عليه السلام ته راغلل او وئې ويل: موږ محاصره شوو، د فرعون د سپايانو په منګولو کې پرېوتو، د نجات لار نلرو، ... موسی عليه السلام هغوی ته اطمئنان ورکوي او قرآن دا جريان داسي بيانوي:

فَأَتۡبَعُوهُم مُّشۡرِقِينَ ٦٠ فَلَمَّا تَرَٰٓءَا ٱلۡجَمۡعَانِ قَالَ أَصۡحَٰبُ مُوسَىٰٓ إِنَّا لَمُدۡرَكُونَ ٦١ قَالَ كَلَّآۖ إِنَّ مَعِيَ رَبِّي سَيَهۡدِينِ ٦٢ فَأَوۡحَيۡنَآ إِلَىٰ مُوسَىٰٓ أَنِ ٱضۡرِب بِّعَصَاكَ ٱلۡبَحۡرَۖ فَٱنفَلَقَ فَكَانَ كُلُّ فِرۡقٖ كَٱلطَّوۡدِ ٱلۡعَظِيمِ ٦٣ وَأَزۡلَفۡنَا ثَمَّ ٱلۡأٓخَرِينَ ٦٤ وَأَنجَيۡنَا مُوسَىٰ وَمَن مَّعَهُۥٓ أَجۡمَعِينَ ٦٥ ثُمَّ أَغۡرَقۡنَا ٱلۡأٓخَرِينَ ٦٦ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَةٗۖ وَمَا كَانَ أَكۡثَرُهُم مُّؤۡمِنِينَ ٦٧ وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلرَّحِيمُ ٦٨ الشعراء: ٦٠ـ ٦٧

نو د لمر ختو پر مهال ورپسې شول او کله چې دواړو ډلو يو بل سره وليدل؛

deenodanish.com خخه ښکته شوی له Deen-o-Danish

د موسی ملګرو وویل: شك نه شته چې مونږ ومومندل شوو (دا دئ مونږ ته راورسېدل)، وئې ویل: داسې نه ده؛ یقیناً چې زما رب راسره دئ، هغه به حتماً (د نجات) لار راښیي، نو موسی ته مو وحي وکړه چې دا سیند په عصا ووهه، نو وچاود او هره برخه ئې د ستر غره په څېر (پر ځای ولاړه) وه، هغه ځای ته مو وروستني هم رانږدې کړل او موسی او ټول هغه کسان مو وژغورل چې له ده سره ول، بیا مو وروستني غرق کړل، یقیناً چې په دې کې ستره نښه ده او ډېری ئې ایمان راوړونکي نه ول او یقیناً چې ستا رب مهربان عزتمن دئ.

ګورئ چې موسی علیه السلام په هغه سخت حالت کې چې له هري خوا لار پرې بنده، د دښمن مجهز فوځ ئې تر شا، مخي ته بحر حائل او ملګري ئې هم وېرې اخیستي، خو دی په همدې حالت کې ډاډه او مطمئن دئ او د الله تعالی مرستي ته سترګې په لار او د همدغه ډاډ او اطمئنان په وجه الله تعالی ورته وفرمایل: اوس نو دا بحر په خپلې عصا ووهه، یعني دا الهي مرسته د هغه ډاډ او اطمئنان نتیجه وه چې موسی علیه السلام وښوده او خپلو ملګرو ته ئې وویل: ګمان مه کوئ چې مونږ ونیول شوو او د دښمن په لاس کې پرېوتو!! الله تعالی راسره دئ؛ هغه زمونږ د ژغورنې ذمه وار دئ!!

د پیغمبر علیه السلام په اړه فرمایي: کله چې له مکې هجرت ته اړ شو، دښمنان له ایستلو تورو سره ورپسې شول، ابوجهل د ده د وژلو لپاره د سلو اوښانو د انعام ذمه وهلې وه، د مکې خوا ته د ثور غره یوې سمځي ته ئې پناه یووړه، دښمنان ایستلې توري په لاس د سمځي خولې ته رانږدې شول، د سفر یوازنی ملګری ئې؛ ابوبکر صدیق رضی الله عنه پرېشان وو او پیغمبر علیه السلام ته ئې وویل: که دښمن خپلو پښو ته وګوري مونږ وینې! خو پیغمبر علیه السلام په ټول ډاډ او اطمئنان سره هغه ته وایي لاتحزن إن الله معنا:

deenodanish.com له Deen-o-Danish څخه ښکته شوی

إِلَّا تَنصُرُوهُ فَقَدۡ نَصَرَهُ ٱللَّهُ إِذۡ أَخۡرَجَهُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ ثَانِيَ ٱثۡنَيۡنِ إِذۡ هُمَا فِي ٱلۡغَارِ إِذۡ يَقُولُ لِصَٰحِبِهِۦ لَا تَحۡزَنۡ إِنَّ ٱللَّهَ مَعَنَاۖ فَأَنزَلَ ٱللَّهُ سَكِينَتَهُۥ عَلَيۡهِ وَأَيَّدَهُۥ بِجُنُودٖ لَّمۡ تَرَوۡهَا وَجَعَلَ كَلِمَةَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ ٱلسُّفۡلَىٰۗ وَكَلِمَةُ ٱللَّهِ هِيَ ٱلۡعُلۡيَاۗ وَٱللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿٤٠﴾ التوبه: ٤٠

که ئې مرسته ونه کړئ نو یقیناً چې الله هغه مهال هم د ده مرسته وکړه چې کافرانو په داسې حال کې وایست چې د دوو دوهم وو، هغه مهال چې دواړه په یوه غار (سوړي) کې ول، هغه مهال چې خپل ملګري ته ئې ویل: غم مه کوه؛ یقیناً چې الله له موږ سره دئ، نو (له همدې امله) الله خپله ډاډېنه پرې نازله کړه او په داسې لښکرو ئې د ده ملاتړ وکړ چې تاسو نه لیدل او د کافرانو شعار ئې ټیټ کړ او د الله شعار خو (تل) لوړ دئ، او الله باحکمته غالب دئ.

یعني په دې پېښې کې د دښمن ماته، خپلو موخو ته نه رسېدو کې او د پیغمبر علیه السلام په هغه رونې مستقبل کې چې د همدې هجرت په وجه د ده او د اسلام په برخه شو؛ هغه ډاډ او اطمئنان؛ لویه او اساسي ونډه درلوده چې پیغمبر علیه السلام د الهي معیت او تأیید په اړه درلود او د دغې پېښې په دوران کې ئې عملاً وښود.

۷ ـ شجاعت

د مشرتابه لپاره بل ضروري صفت دا دئ چې هغه به له حق په دفاع کې؛ لازم شجاعت لري، د شر او فساد د ځواکونو غولوونکی او هیبتناك ظاهر به د ده په زړه کې وېره او خوف نشي راولاړولی، د دښمن ګواښونه او ګوت ځنډني به ئې نشي وېرولی، د پرېکړو پر مهال به له خوف او وېري سره مشوره نه کوي. خو پوښتنه دا ده چې دا صفت په انسان کې څنګه راپیدا

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

کېږي او وده کوي؟ شجاعت او جرأت هم يو له هغو صفاتو او خصلتونو دئ چې منشأ ئې د انسان باور او عقيده ده او د ممارست په نتيجه کې وده مومي؛ پر الله تعالى او الهي مقدراتو له پاخه ايمان راولاړېږي او له سختو ورځو، هيبتناکو پېښو او وېروونکو لوړو ژورو د تېرېدو په ترڅ کې په يوه مؤمن او خداى پال بنده کې وده مومي؛ څوك چې له داسي مرحلو نه وي تېر شوى، له سختو آزمويښو سره نه وي مخامخ شوى او د زړه ورتيا او شجاعت جوهر په کې نه وي پوخ شوى؛ د يوې اسلامي ټولنې او مجاهد ټولې د زعامت او مشرۍ وړتيا او اهليت نه لري. قرآن په همدې ارتباط؛ د ابراهيم عليه السلام په اړه فرمايي چې هغه له سختو آزمويښو وروسته د دې وړ شو چې الله تعالى ئې د خلکو لپاره امام او لارښود کړي:

وَإِذِ ٱبۡتَلَىٰٓ إِبۡرَٰهِـۧمَ رَبُّهُۥ بِكَلِمَٰتٖ فَأَتَمَّهُنَّۖ قَالَ إِنِّي جَاعِلُكَ لِلنَّاسِ إِمَامٗاۖ قَالَ وَمِن ذُرِّيَّتِيۖ قَالَ لَا يَنَالُ عَهۡدِي ٱلظَّٰلِمِينَ ١٢٤ البقره: ١٢٤

او کله چې خپل رب ئې ابراهيم (عليه السلام) په څو خبرو وآزمويو، چې هغه ترسره کړې، وئې فرمايل: زه خو دي د خلکو لپاره د يوه امام او پيشوا جوړوونکى يم، وئې ويل: او زما له اولاد هم، وئې فرمايل: زما ژمنه ظالمانو ته نه رسېږي.

ابراهيم عليه السلام له ګڼ شمېر الهي آزمويښو سره مخامخ شو، د پلار او قوم مخالفت، زندان ته تګ، په اور کې لوېدل، هجرت او وطن پرېښودل، د مکې په وېروونکې وچې بيديا کې هاجر او اسمعيل يوازي پرېښودل، د اسمعيل په ذبح کولو ګمارل کېدل، ... هغه په ټولو دغو الهي آزمويښو کې بريالى شو، د دې بريا بدله او جزاء دا وه چې د خلکو د امامت او مشرۍ مقام ئې په برخه شي، الله تعالى ورته وفرمايل چې اوس نو ته د خلکو د امامت وړ يې، دا مقام تا ته سپارم. ټمنا ئې وکړه چې کاش د خلکو د لارښووني دا مقام د ده د اولاد هم په برخه شي! الله تعالى وفرمايل: زما په

deenodanish.com له Deen-o-Danish څخه ښکته شوی

دې فرمان کې ظالمان نه دي شامل، ظالمان که څه هم ستا زامن وي؛ د دې جليل مقام وړ نه دي. يعني چې دا مقام موروثي نه دئ؛ انسان ئې له مور پلار په ميراث نه وړي؛ بلکې د خپلې وړتيا له مخې ئې مستحق کېدی شي؛ دا وړتيا د ايمان او په الهي آزموينو کې د بريا په نتيجه کې ترلاسه کېدی شي. اصلاً وېره يو فطري خصلت دئ؛ الله تعالى په هر ژوي کې ايښې ده؛ اما جرأت اکتسابي دئ؛ د ممارست په نتيجه کې رامنځته کېږي او وده مومي؛ چا چې په جګړو کې ډېر شرکت کړی وي؛ له ډزو ئې وېره ورو ورو کمه شوې وي؛ خو چې د لومړي ځل لپاره د وړو او لويو وسلو ډزې واوري؛ ترې ووېرېږي؛ د جرأت او وېرې نور موارد هم دې ته ورته دي. د مستبد او ظالم واکمن د ګواښونو او تهديدونو په وړاندې هم انسان دې ته ورته غبرګون ښيي.

دا چې ابراهيم عليه السلام ولې د خپل زوی اسمعيل عليه السلام په قرباني کولو موظف شوی وو؛ وجوهات ئې دوه دي:

۱- معمولاً به ځينو مشرکينو خپلو معبودانو ته د قرب په نيت او د هغوی د رضا ترلاسه کولو لپاره؛ خپل لومړی زوی قربانی کولو؛ لکه چې قرآن په دې ارتباط فرمايي:

وَكَذَٰلِكَ زَيَّنَ لِكَثِيرٍ مِّنَ ٱلْمُشْرِكِينَ قَتْلَ أَوْلَٰدِهِمْ شُرَكَآؤُهُمْ لِيُرْدُوهُمْ وَلِيَلْبِسُواْ عَلَيْهِمْ دِينَهُمْ ۖ وَلَوْ شَآءَ ٱللَّهُ مَا فَعَلُوهُ ۖ فَذَرْهُمْ وَمَا يَفْتَرُونَ

﴿۱۳۷﴾ الانعام: ۱۳۷

او همداسې ډېرى مشرکينو ته د دوی شرکاءو د خپلو زامنو وژل ښايسته کړل، د دې لپاره چې په هلاکت کې ئې وغورځوي او خپل دين ورته شکمن کړي، او که الله غوښتلی نو دوی به دا کار نه وو کړی، نو دوی په خپلو افتراءاتو کې پرېږده.

deenodanish.com ځخه ښکته شوی Deen-o-Danish

دلته ويل شوي چې مشرکينو ته د دوی شرکاءو د اولاد وژنه ښايسته کړې وه، په دې اړه لاندې خبرې په پام کې وساتئ:

- د دې وينا مراد يا دا دئ چې شرک دوی دې حد ته رسولي وو چې د خپل اولاد وژنه ورته سم کار معلوم شي او يا دا چې د دوی هغو مذهبي مشرانو، پيرانو او مشائخو چې د شرک حامي او مبلغ او د قبر او بت مجاورين ول؛ دي وژنې ته چمتو کړي وو.
- دغه شرک او دغو شرک پالو مذهبي مشرانو په دې هلاکت کې غورځول او د حقيقي دين په اړه ئې دوی ته شکوک او شبهات راولاړول.
- د اولاد د وژلو څو وجوهات وو: لومړي ئې يا د دې لپاره وژلې چې: ١- وېرېدل د دوی پر سيمه د دښمن د برید په حالت کې به ښايي د دښمن په لاس کې پرېوځي او لوی دائمي پېغور به ورته پرېږدي. ٢- دا ورته د عار او پېغور خبره برېښېده چې لور ئې د بل په نکاح کې راشي. ٣- د لور زېرېدا ئې د خپلې ميرانې د ضعف او کمزورۍ نښه ګڼله او په دې سره به ئې د سيالانو په قطار کې د شرم احساس کاوو. له دې علاوه به ئې کله د فقر او لوږې په وجه او کله د فقر له وېرې خپل اولاد وژل او حتی د بتانو په نامه به ئې د يوه څاروي په څېر د قربانۍ لپاره وړاندې کول.
- د دوی مذهبي مشرانو به دا فتوی ورکوله چې الله تعالی او د دوی جعلي معبودان؛ په دې کار راضي کېږي؛ ځکه د آيت په پای کې ويل شوي چې دوی په خپلو افتراءاتو کې پرېږده.

الله تعالی وغوښتل چې دا د اولاد وژلو او قرباني کولو جاهلي دود د تل لپاره له منځه يوسي؛ نو ځکه ئې ابراهيم عليه السلام د زوی ذبح کولو ته چمتو کړ؛ او د يوه څاروي ذبح کول ئې د زوی ذبح کولو بديل کړ.

همغسې چې الله تعالی کعبه هم د دې لپاره د ابراهيم په لاس جوړه کړه او خلك ئې د خپل کور پر طواف وګمارل چې خلك د قبرونو او قصرونو

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

د طواف پر ځای یوازي د الله تعالی د کور طواف وکړي.

۲- دوهمه وجه ئې دا چې کله کله د اولاد مینه؛ دومره پر انسان غالبه شي چې د خدای تر مینې شدیده شي؛ او په دې توګه اولاد د انسان لپاره اصنام شي؛ لکه چې قرآن فرمایي:

وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يَتَّخِذُ مِن دُونِ ٱللَّهِ أَندَادًا يُحِبُّونَهُمْ كَحُبِّ ٱللَّهِ ۖ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَشَدُّ حُبًّا لِّلَّهِ ۗ البقره: ۱۶۵

او له خلکو ځینې له الله پرته داسې سیالان نیسي چې له الله سره د مینې په څېر ورسره مینه کوي او هغه خلك چې ایمان ئې راوړی؛ د الله په مینې کې تر ټولو شدید دي.

یعني ځینې په محبت کې شرك کوي، په محبت کې الله تعالی ته سیالان نیسي، د الله په څېر او احیاناً تر هغه زیات ورسره مینه کوي، خو واقعي مؤمنان له الله سره تر هر څه زیاته او کلکه مینه لري، له الله سره مینه د ایمان مقتضی او د مؤمن نښه ګڼل شوې

۳. کله مینه، کله هوی او هوس، کله شیطان، کله طاغوت او کله بت؛ د اله په توګه غوره شي او د الله تعالی ځای ناستی شي؛ د خدای په څېر ئې لمانځنه کېږي او د خدای په څېر ئې اطاعت کېږي.

٤. ابراهیم علیه السلام باید ټول اصنام مات کړي وی چې د الله تعالی د کور جوړولو معمار شي او د موحدینو د امت سالار شي. باید د اسمعیل ذبح کولو ته هم چمتو شي؛ همغسې چې د خپل مشرك پلار بتان ئې نسکور کړل؛ نه ئې نمرود ومنلو او نه د هغه دروغجن معبودان.

متأسفانه ځینو؛ د دې پر ځای چې دا ابتلاءات همغه وګڼي چې په قرآن کې راغلې، برعکس د نوکانو د قطع کولو او د اضافي ویښتانو د خرڅیلو په څېر څو آسان او ساده کارونه ئې ګڼي!!

قرآن د ابراهیم علیه السلام د عدم خوف څرنګوالی د ده په هغه ځواب

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

کي زمونږ مخي ته ایښی چي خپل مشرك قوم ته ئې ورکړ، فرمایي:

وَحَآجَّهُۥ قَوۡمُهُۥۚ قَالَ أَتُحَٰٓجُّوٓنِّي فِي ٱللَّهِ وَقَدۡ هَدَىٰنِۚ وَلَآ أَخَافُ مَا تُشۡرِكُونَ بِهِۦٓ إِلَّآ أَن يَشَآءَ رَبِّي شَيۡـٔٗاۗ وَسِعَ رَبِّي كُلَّ شَيۡءٍ عِلۡمًاۗ أَفَلَا تَتَذَكَّرُونَ ٨٠ وَكَيۡفَ أَخَافُ مَآ أَشۡرَكۡتُمۡ وَلَا تَخَافُونَ أَنَّكُمۡ أَشۡرَكۡتُم بِٱللَّهِ مَا لَمۡ يُنَزِّلۡ بِهِۦ عَلَيۡكُمۡ سُلۡطَٰنٗاۚ فَأَيُّ ٱلۡفَرِيقَيۡنِ أَحَقُّ بِٱلۡأَمۡنِۖ إِن كُنتُمۡ تَعۡلَمُونَ ٨١ الانعام: ۸۰ ـ ۸۱

او قوم ئې ورسره شخړه وکړه، وئې ویل: آیا د الله په اړه راسره لانجه کوئ؟ حال دا چي په یقیني توګه ئې زه هدایت کړی یم او زه له هغه څه؛ وېره نه لرم چي تاسو ئې (له الله سره) شریکوئ، مګر (له دې وېرېږم چي) زما رب کوم څه (ضرر) راته وغواړي، زما رب په ټولو شیانو علماً احاطه کړې ده (په هر څه پوهېږي)، نو آیا پند نه اخلئ؟!

د دې مبارك آیت په اړه لاندي خبري په پام کي ولرئ:

دا آیت ښیي چي د ابراهیم علیه السلام هغه ویناوي چي تر آیت مخکي آیتونو کي راغلې؛ له قوم سره د محاجې او استدلال په دوران کي شوې، د استفهام په توګه ئې هغوی ته ویلي: آیا زما رب دا ستوری دئ، که دا سپوږمۍ او که لمر؟ هغه تعبیر کمزوری دئ چي وایي: ابراهیم علیه السلام له ځان سره دا خبري کړې او دا پوښتنې ئې درلودې!! آیتونه داسي دي:

فَلَمَّا جَنَّ عَلَيۡهِ ٱلَّيۡلُ رَءَا كَوۡكَبٗاۖ قَالَ هَٰذَا رَبِّيۖ فَلَمَّآ أَفَلَ قَالَ لَآ أُحِبُّ ٱلۡأٓفِلِينَ ٧٦ فَلَمَّا رَءَا ٱلۡقَمَرَ بَازِغٗا قَالَ هَٰذَا رَبِّيۖ فَلَمَّآ أَفَلَ قَالَ لَئِن لَّمۡ يَهۡدِنِي رَبِّي لَأَكُونَنَّ مِنَ ٱلۡقَوۡمِ ٱلضَّآلِّينَ ٧٧ فَلَمَّا رَءَا ٱلشَّمۡسَ

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

بَازِغَةً قَالَ هَٰذَا رَبِّي هَٰذَآ أَكۡبَرُۖ فَلَمَّآ أَفَلَتۡ قَالَ يَٰقَوۡمِ إِنِّي بَرِيٓءٞ مِّمَّا تُشۡرِكُونَ ٧٨ الانعام: ٧٦-٧٨

نو کله چې د شپې تياره پرې راغله او ستورى ئې وليد، وئې ويل: دا مي رب دئ؟، خو کله چې پرېووت وئې ويل: پرېوتونکي نه خوښوم. ۷۷- کله چې ئې سپوږمۍ د راختو په حال کې وليده، وئې ويل: دا مي رب دئ؟، خو چې پرېوته، وئې ويل: که مي خپل رب لارښوونه ونه کړي له لارورکي قوم به شم. ۷۸- او کله چې ئې لمر د راختو په حال کې وليد، وئې ويل: دا مي رب دئ؟ دا خو تر ټولو ستر دئ، خو چې پرېوت وئې ويل: اې زما قومه! زه له هغو (معبودانو) بې زاره يم چې تاسو ئې له (خداى) سره شريکوئ.

په دې وروستي آيت کې ابراهيم عليه السلام ته منسوب دا وينا " اې زما قومه! زه له هغو (معبودانو) بې زاره يم چې تاسو ئې له (خداى) سره شريکوئ)؛ په څرګنده توګه ښيي چې دا هر څه له قوم سره د مناقشې په دوران کې وو.

قوم ته وايي: آيا د الله په اړه راسره لانجه کوئ؟ حال دا چې په يقيني توګه ئې زه هدايت کړى يم، ما خپل دلائل درته وويل، زما د لارې په حقانيت کې د شك او ترديد هيڅ مجال نه دئ پاته.

ما له خپلو معبودانو مه وېروئ، ستاسو له معبودانو هيڅ وېره نه لرم، وېره مي يوازې له دې ده چې الله تعالى کوم ضرر راته وغواړي، که ئې زما په اړه د کوم ضرر او تاوان اراده وکړه، نو هغه ئې په وجه او سبب او دا چې څه مصلحت به پرې مرتب کوي، ډېر ښه پوهېږي.

آيا پند نه اخلئ، آيا دغه دلائل درته کافي نه دي؟!

يعني هغه څوك به د امير او مشر په توګه غوره کوئ چې تاسو ته ئې په سختو او له اذيتونو ډکو شېبو کې د ثبات او استقامت امتحان درکړى وي.

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

۸- د الله تعالی په لار کې د اذيتونو ګالل

دې ته په پام سره چې قرآن د ټولو پيغمبرانو عليهم السلام په اړه فرمايي چې د الله تعالی په لار کې ئې ستونزې او کړاوونه ګاللي، له مخالفتونو سره مخامخ شوي، د مخالفينو له لوري اذيت شوي، پراخ دروغجن او زهرجن تبليغات ئې په ضد شوي، هجرت ته اړ شوي، ملګري ئې ځورول شوي... دا ښيي چې د الله تعالی په لار کې د اذيتونو ګالل هم؛ د مشرتابه له مواصفاتو دئ، پيغمبر عليه السلام فرمايي: هيڅوک د پيغمبرانو په اندازه د الله تعالی په لار کې نه دئ اذيت شوی او هيڅ پيغمبر زما په څېر نه دئ ځورول شوی، ځومره چې انسان الله تعالی ته ډېر نږدې وي؛ ابتلاء او آزموينې به ئې همدومره سترې وي.

لکه څنګه چې لوړ شخصيتونه د دوی له ذاتي مواصفاتو پېژندی شو؛ همدارازئې د دوستانو او دښمنانو له مخې او له دوی سره د دښمنانو د چلن د څرنګوالي له مخې پېژندی شو، څوک چې د شر او فساد ځواکونو له شديد مخالفت سره مخامخ وي، دښمن د هغه په ضد تر نورو زيات عناد او خصومت څرګندوي، تر نورو ئې زيات خطرناک ګڼي، په خپلو تبليغاتو کې تر نورو زيات د ده په اړه ترخه ژبه کاروي، او په هرې تبصرې کې ئې د غضب او کينې نښې له ورايه برېښي، څوک چې د دښمن له لوري تر نورو زيات اذيت کېږي؛ په حقيقت کې د دښمن حساسو سترګو په ده کې هغه څه ليدلې چې بايد وېره ترې ولري او خطرناک ئې وګڼي، هغه وړتياوې ئې په کې ليدلې دي چې له لرې او د دښمن په سترګو ليدی شي؛ نه له نږدې او د دوستانو په سترګو، دښمن ئې په ښه توګه احساسولی شي؛ نه دوست. ښه او صالح دوستان هم د يوه صالح او ښه شخصيت د ښو ځانګړتياوو نښه ګڼل کېږي، غوره او نېک شخصيتونه تل ښه او صميمي دوستان او شديد نه پخلا کېدونکي دښمنان لري، د ټولنې نېکان ئې ملګرتيا کوي او مفسدين ئې نه

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

پخلا کېدونکې دښمنۍ ته ملا ټړي، او تل د دښمنانو له شدید مخالفت او اذیت سره مخامخ وي. په همدغو کړاوونو او اذیتونو کې وروزل شي، پاخه شي، کمال ته ورسېږي او ستر ستر شخصیتونه ترې جوړ شي. کړاوونه او ستونزي په انسان کې هغو صفاتو ته وده او ځلا ورکوي چې له بلې لارې او په بل څه نه ښېرازه کېږي او غوټۍ ئې نه غوړېږي.که ګورو چې ټول پیغمبران علیهم السلام؛ د الله لوري ته په دعوت کې له سختو اذیتونو، مخالفتونو، آزمویښو، ستونزو، کړاوونو، ځورونو او هجرتونو سره مخامخ شوي، زندانونو ته تللي، دوی او ملګري ئې په شهادت رسېدلي، د اور په کندو کې اچول شوي، ... دلیل ئې همدا دئ چې مخکې مو ورته اشاره وکړه. پیغمبر علیه السلام فرمایي: کله چې الله تعالی وغواړي یوه ډله د دوستانو او محبانو په توګه غوره کړي نو له ابتلاءاتو سره ئې مخامخ کړي؛ چې د هغوی په وړاندې صبر وکړي (او د همدې صبر په نتیجه کې) د الله تعالی د دوستۍ وړ شي.

د چا په ضد چې تر ټولو زیات کتابونه لیکل شوي نو هغه رسول اللَّه صلی اللَّهُ علیه و سلم دئ؛ د چا د ذات، اخلاق، تګلاري او دین خلاف چې تر ټولو زیات دروغجن او زهرجن تبلیغات شوي نو هغه محمد علیه السلام دئ؛ او په مقابل کې ئې څوک چې تر ټولو زیات پلویان او محبان لري؛ صادق او مخلص پلویان او محبان؛ چې له ده او د ده له دین د دفاع لپاره هري قربانۍ ته چمتو وي؛ نو هغه رسول اللَّه صلی اللَّهُ علیه و سلم دئ؛ په دې اړه هغه؛ د بشریت تاریخ کې سیال نه لري؛ لوړ او عظیم شخصیتونه همداسي وي؛ هم ئې ښه او صادق دوستان زیات وي او هم ئې بد او کلك دښمنان زیات.

دا باید په پام کې ولرو چې؛ څوك د ناز او نعمت له بستره اقتدار ته ورسېږي؛ یا به یزید ترې جوړېږي یا فرعون؛ او څوك چې د ابراهیم علیه السلام په څېر د الله تعالی په لار کې د ابتلاءاتو او آزمویښو په وړاندې صابر او

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

صامد پاته شي؛ زړه سواند لاربښود او د آزادي غوښتونکو امام او مرشد ترې جوړ شي.

۹ ـ د خلکو د هدايت تلوسه او د ملګرو په اړه زړه سوی:

د خلکو د هدايت په اړه شديد حرص، له ذلت او ضلالت د دوی د ژغورنې ژوره تلوسه، د لاري د ملګرو، همسنګرو او همسفرو په اړه رحمت او زړه سوی درلودل؛ دا د يوه صالح او مؤمن مشر له مهمو ځانګړتياوو دي، د يوه اسلامي صف تر ټولو مهم او اساسي هدف د الله تعالی لوري ته د خلکو بلنه او د حق او حقيقت لوري ته د خلکو لاربښوونه ده، په ټولو هڅو او هلو ځلو کې؛ که دا سياسي او اجتماعي وي؛ يا فکري او فرهنګي او يا اخلاقي او نظامي؛ دا بايد په پام کې وي او د هر تحرک موخه چې خلك له کفر، شرك او جهل وژغورل شي، له تيارو ووځي، د نور او رڼا لوري ته هدايت شي، د ظلم او فساد ټغر ټول شي، عدالت او برابري تأمين شي، حق غالب شي او باطل له منځه ولاړ شي. پيغمبر عليه السلام؛ معاذ بن جبل رضي الله عنه ته فرمايي:

عَنِ ابْنِ جَعْفَرٍ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ بَعَثَ مُعَاذًا يُعَلِّمُ الدِّينَ قَالَ لَهُ: «لَأَنْ يَهْدِيَ اللَّهُ بِكَ رَجُلًا وَاحِدًا خَيْرٌ لَكَ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا»

له ابن جعفر رضي الله عنه روايت دئ چې کله رسول الله صلی الله عليه و سلم؛ معاذ لېږلو چې خلکو ته دين وښيي؛ هغه ته ئې وويل: که الله تعالی يو انسان ستا په لاس هدايت کړي؛ دا تا ته تر ټولې دنيا او څه چې په دې دنيا کې دي ډېر غوره دئ.

حتی روایاتو کې راغلي چې وايي: که يو انسان ستا په لاس هدايت شي؛ دا تا ته تر دې ډېر غوره دئ چې دا زمکه د سرو زرو وي، ستا په واك کې وي

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

او ته ئې د الله په لار کې وقف کړې!!

د اسلامي صف او د هغه د مشرتابه په شخصيت کې بايد دا ځانګړتيا او خصوصيت بارز او ځلانده وي او په دې اړه د دوی تلوسه بايد د حرص تر پورې لوړه او پياوړې شي، زعيم ئې بايد داسي څوک وي چې د خپلو مؤمنو همسفرو او همسنګرو په اړه ئې زړه سوی، مينه او پېرزوينه دومره وي لکه د يوه مهربان پلار مينه له خپل صالح اولاد سره، د دوی تربيې او روزنې ته بايد جدي توجه او اهتمام ولري، د وړو وړو اشتباهاتو په وجه ئې له خپلې خوا ونه رټي، او د سخت زړو په څېر ورسره چلن ونه کړي، قرآن د پيغمبر عليه السلام په اړه فرمايي:

لَقَدۡ جَآءَكُمۡ رَسُولٞ مِّنۡ أَنفُسِكُمۡ عَزِيزٌ عَلَيۡهِ مَا عَنِتُّمۡ حَرِيصٌ عَلَيۡكُم بِٱلۡمُؤۡمِنِينَ رَءُوفٞ رَّحِيمٞ ١٢٨ التوبه: ۱۲۸

يقيناً چې تاسو ته؛ ستاسو له منځه؛ داسي پيغمبر درغی چې پر ده هر هغه څه ګران ټامبېږي چې تاسو ځوروي، ستاسو پر (هدايت او لارښوونې) حريص دئ او د مؤمنانو په اړه ډېر زړه سواند او مهربان.

د درد او مسئوليت دغه احساس، د خلکو د هدايت او لارښوونې ژوره تلوسه، د مؤمنانو په اړه زړه سوی او مهرباني همغه دروند پېټی جوړ کړی وو چې د پيغمبر عليه السلام پر اوږو ئې داسي دروندوالی کاوو چې نږدې وه د دې اولوالعزم پيغمبر ملا ماته کړي.

همدا راز فرمايي:

فَبِمَا رَحۡمَةٖ مِّنَ ٱللَّهِ لِنتَ لَهُمۡۖ وَلَوۡ كُنتَ فَظًّا غَلِيظَ ٱلۡقَلۡبِ لَٱنفَضُّواْ مِنۡ حَوۡلِكَۖ فَٱعۡفُ عَنۡهُمۡ وَٱسۡتَغۡفِرۡ لَهُمۡ وَشَاوِرۡهُمۡ فِي ٱلۡأَمۡرِۖ فَإِذَا عَزَمۡتَ فَتَوَكَّلۡ عَلَى ٱللَّهِۚ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلۡمُتَوَكِّلِينَ ١٥٩ آل عمران:۱۵۹

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

نو د خپل رب د رحمت په وجه ورته نرم شوې او که ته بدخولی او سخت زړی وی، نو ستا له شا و خوا به خواره شوي وو، نو دوی ته عفو وکړه، بخښنه ورته وغواړه او په کارونو کې مشوره ورسره کوه، او چې عزم دي وکړ بیا خو پر الله توکل وکړه، یقیناً چې الله توکل کوونکي خوښوي.

١٠ـ حساس ضمیر

داسي حساس ضمیر چې د ظلم، فساد او ګناه په لیدو سره وپاړېږي، د انحرافاتو په وړاندي ساکت او بې تفاوته پاته کېدا او بې اعتنائي ونشي زغملی، د مظلوم او محروم انسان په لیدو سره ئې زړه سوی او ترحم تحریك شي او د هر محتاج انسان لیدنه په هغه کې د مسئولیت احساس راوپاروي، د مظلوم مرستي ته ئې چمتو کړي او د اړ او محتاج انسان لاس نیوي ته ئې وهڅوي، دا د یوه صالح او مؤمن لارښود بله ځانګړتیا ده چې قرآن ئې زمور په وړاندي د پیغمبر علیه السلام په شخصیت کې داسي انځوروي:

... عَزِيزٌ عَلَيْهِ مَا عَنِتُّمْ ... التوبه: ١٢٨

....څه چې تاسو ځوروي پر ده ګران ټامېږي....

یعني د هر هغه حالت په لیدو سره متأثر او غمجن کېږي چې خلك ځوروي او له کړاو سره ئې مخامخ کوي، دا د ځان مسئولیت ګڼي چې خلك له دې حالته وژغوري. قرآن دغه صفت د موسی علیه السلام په شخصیت کې په دوو مواردو کې داسي انځوروي:

وَدَخَلَ ٱلْمَدِينَةَ عَلَىٰ حِينِ غَفْلَةٍ مِّنْ أَهْلِهَا فَوَجَدَ فِيهَا رَجُلَيْنِ يَقْتَتِلَانِ هَٰذَا مِن شِيعَتِهِۦ وَهَٰذَا مِنْ عَدُوِّهِۦ ۖ فَٱسْتَغَٰثَهُ ٱلَّذِى مِن شِيعَتِهِۦ عَلَى ٱلَّذِى مِنْ عَدُوِّهِۦ فَوَكَزَهُۥ مُوسَىٰ فَقَضَىٰ عَلَيْهِ ۖ قَالَ هَٰذَا

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

مِنۡ عَمَلِ ٱلشَّيۡطَٰنِۖ إِنَّهُۥ عَدُوّٞ مُّضِلّٞ مُّبِينٞ ﴿١٥﴾ القصص: ١٥

او په داسي حال کې ښار ته ننوت چې استوګن ئې غافل (د شپې يا غرمې په خوب ويده) ول، ناڅاپه ئې دوه سړي وليدل چې په خپلو کې په جګړه بوخت دي، دا يو ئې د ده د ډلې او دا بل ئې د ده له دښمنانو، نو هغه چې د ده له ډلې وو؛ د هغه چا په خلاف ئې د مرستي نعره وروکړه چې دښمن ئې وو، نو موسی څپېړه ورکړه او په همدې سره ئې د هغه کار پای ته ورساوو (مړ ئې کړ)، وئې ويل: دا د شيطان کړنه وه، يقيناً چې هغه څرګند بې لارې کوونکی دښمن دئ.

په داسي حال کې چې هغه مهال؛ موسی عليه السلام؛ د شاهي کورنۍ غړی ګڼل کېدو، له ځانګړي احترام او عزت برخمن وو، خو چې ښار ته ننوځي او دا صحنه ګوري چې يو ظالم قبطي پر يوه مظلوم بني اسرائيلي تېری کوي، وهي ئې او هغه له ده د مرستي غوښتنه کوي، خو موسی عليه السلام خپل اجتماعي مقام ته په پام سره؛ له دې صحنې په بې اعتنائي نشي تېرېدی، حساس ضمير او قوي عاطفه ئې دې ته نه پرېږدي چې مخ بلي خوا ته واړوي او په بې اعتنائي سره له هغه ځايه تېر شي، عدم مداخله او له مظلوم سره مرسته نه کول؛ د خپل ايمان او غيرت منافي ګڼي، وروړاندي کېږي، له مظلوم دفاع کوي، داسي دفاع چې د ظالم قبطي په مرګ پای ته رسي.

قرآن وړپسې هغه صحنه زمونږ مخي ته ږدي چې موسی عليه السلام؛ له دې پېښې وروسته له مصره تښتي، د مدين په لور خوځي، له څو شپو ورځو مزل وروسته؛ په مدين کې د يوه ځا په غاړه شپانه ګوري چې راغونډ دي او خپلې رمې خړوبوي، ستړی ستومانه دئ، د يوې وڼې سيوري ته کښېني، د يوه ډاډمن پناځي په لټه کې دئ چې د فرعون له تعقيبه خوندي پاته شي، ناڅاپه ئې سترګې پر دوو نجليو لګېږي چې له شپنو لرې، يوې

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

گوښې ته حیراني ولاړي دي او خپله رمه ساتي، د هغوی پرېشاني ئې دې ته اړ کوي چې ورشي او تري وپوښتي چې د پرېشانۍ سبب ئې څه دئ او ولې د رمې راوستو ته اړي شوې؟ هغوی ورته وایي: تر هغه چې نور شپانه خپلې رمې خړوبه نکړي او له دې ځای ولاړ نشي؛ مور نشو کولی خپلې رمې ته اوبه ورکړو، پلار مو بوډا دئ، بل څوك د رمې د پاللو او پیایلو لپاره نه لرو، موسی علیه السلام د څا خوا ته ځي، له خپلې ټولې ستړیا او ستومانۍ سره سره؛ په یوازي سر له څا دومره اوبه راباسي چې د هغو دوو پرېشانو نجونو رمه پرې خړوبه شي، بېرته د وني سیوري ته درومي او خپل رب ته دا دعاء کوي: اې زما ربه! ستا هغو پېرزوینو ته اړ او محتاج یم چې پر ما دي کړې وي. هغه د فرعون په کور کې ستر شوی وو؛ ناز او نعمت کې؛ نن په ټولې نړۍ کې پناځی نه لري؛ همدا د وني یو سیوری ئې د ټېکې او دمې ځای دئ؛ چا ته خپل حال هم نشي ویلی؛ چا ورته ست هم نه دئ کړی؛ په همدغسي حالت کې ئې دا دعاء وکړه: اې زما ربه! ستا هغو پېرزوینو ته اړ او محتاج یم چې پر ما دي کړې وې؛ د دعاګانو منونکی رب د هغه دعاء قبلوي او ډاډمن پناځی ورته برابروي، همدا نجوني خپل پلار ته قصه کوي، هغه ئې ورغواړي او د ده د قصې له اورېدو وروسته ورته وایي: بې غمه اوسه؛ نور نو د ظالمانو له منګولو ژغورل شوی یې.

۱۱ـ فصاحت

فصاحت او د ژبې طلاقت هم د مشرتابه لپاره یو ضروري صفت دئ، فصاحت یوازي یو کمال او هنر نه دئ؛ بلکې د انشراح صدر، فهم او بصیرت، روښانه ذهن او ژور فکر نښه او د انسان د عقیدې او قول تر منځ د تنسیق او یووالي مظهر دئ، څوك چې رغنده او سالم افکار نه لري؛ حتماً به ئې وینا مبهمه او غامضه وموښ، مخاطب ته به تصنعي برېښي، تر اغېز لاندې به ئې نه ځي، د زړه او دماغ ډېره به ئې نه ورته پرانیستل کېږي.

deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

قرآن د دې ضروري صفت د يوې بېلګې په توګه د موسى عليه السلام دا وينا رااخلي چې پر رسالت د مبعوثېدو په مهال ئې وکړه او وئې ويل: زه د دې منصب او مأموريت لپاره وړ نه يم؛ ځکه فصاحت نه لرم، تر ما هارون (عليه السلام) غوره دئ، ځکه هغه تر ما افصح دئ، قرآن فرمايي:

وَإِذْ نَادَىٰ رَبُّكَ مُوسَىٰٓ أَنِ ٱئْتِ ٱلْقَوْمَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿١٠﴾ قَوْمَ فِرْعَوْنَ ۚ أَلَا يَتَّقُونَ ﴿١١﴾ قَالَ رَبِّ إِنِّىٓ أَخَافُ أَن يُكَذِّبُونِ ﴿١٢﴾ وَيَضِيقُ صَدْرِى وَلَا يَنطَلِقُ لِسَانِى فَأَرْسِلْ إِلَىٰ هَٰرُونَ ﴿١٣﴾ وَلَهُمْ عَلَىَّ ذَنۢبٌ فَأَخَافُ أَن يَقْتُلُونِ ﴿١٤﴾ الشعراء: ١٠ ـ ١٤

او هغه مهال چې ستا رب موسى ته غږ کړ چې د دې ظالم قوم لوري ته راشه، د فرعون قوم ته، آيا (د خپل ظلم له بدو پايلو) نه وېرېږي؟، وئې ويل: اې زما ربه! زه وېرېږم چې دروغجن به مي وګڼي، سينه مي تنګېږي، ژبه مي (سمه) نه خوځېږي، نو د هارون لوري ته (دا رسالت) ولېږه، او د دوی پر ما د يوې ګناه (الزام) دئ، وېرېږم چې وبه مي وژني.

په دې مبارکو آيتونو کې د مشرتابه دا ضروري صفات په ګوته شوي:

الف- د لارښود او مشر د شخصيت او د ده د دعوت او مبارزې په اړه د خلکو اعتماد او باور؛ موسى عليه السلام په دې دليل ځان د دې مقام لپاره وړ نه بولي چې ګمان کوي بني اسرائيل به ئې په دې دليل ونه مني او د ده په اړه به شک وکړي چې دی د فرعون په قصر کې ستر شوی، د زعامت او قيادت شوق او تلوسه ئې له هغه ځايه ترلاسه کړې، د فرعون په قصر کې پاته کېدا دې ته هڅولی چې د قوم مشر او لارښود شي، داسي نه چې دغه انګېرنه د دې باعث شي چې بني اسرائيل د ده بلنې او دعوت ته د شک په سترګه وګوري او له ايمان راوړو ډډه وکړي.

ب: هغه سعه صدر او پراخه حوصله چې موسى عليه السلام ئې د

deenodanish.com ځخه ښکته شوی له Deen-o-Danish

زعيم لپاره ضروري ګڼي؛ په خپل زړه او سينه کې نه مومي او له همدې امله ځان د مشرۍ لپاره مناسب نه بولي.

ج: فصاحت او په صراحت او وضاحت سره د خپل زړه خبره کول، دا د مشرتابه لپاره هغه ضروري صفت دئ چې موسی علیه السلام هغه ته په پام سره هارون علیه السلام تر ځان د دې دندي لپاره غوره او وړ بولي.

د: اقتدار ته د رسېدو تلوسه نه درلودل او د لاس ته راوړو هڅه ئې نه کول؛ د اسلام له نظره قدرت ته د رسېدو هڅه حرامه او ناروا ده، ځوک چې امارت ته د رسېدو هڅه وکړي د الله تعالی له تأييد او رعايت محرومېږي او الله تعالی ئې خپل نفس ته حواله کوي، د پيغمبر علیه السلام قول او فعل ښيي چې مسلمانان بايد هغه ځوک د امير په توګه غوره نه کړي چې اقتدار ته د رسېدو هڅه کوي، د موسی علیه السلام په پورتنۍ قصې کې هم موږ ته همدا لارښوونه شوې، موسی علیه السلام داسې معرفي شوی چې غوښتل ئې د امارت پېټی د ده پر اوږو بار نشي او د ده پر ځای هارون علیه السلام ته وسپارل شي.

هـ: د مشر او کشر، د امير او رعيت او د داعي او مخاطب تر منځ د اعتماد او افهام او تفهيم فضاء د قيادت لپاره يو بل ضروري شرط دئ، قرآن د موسی علیه السلام د قصې په ترڅ کې موږ ته همدا وايي او د موسی علیه السلام د دې وينا په ضمن کې ئې موږ ته بيانوي چې هغه وويل: د يوه قبطي د قتل له کبله؛ زما او د قبطيانو تر منځ د اعتماد او باور فضاء له منځه تللې، د دوی له لوري د قتل تور به د دې باعث شي چې زما بلنې ته مثبت ځواب ونه وايي.

کله چې موسی علیه السلام؛ د عجز او ناتوانۍ له اظهار سره سره؛ په دې سترې دندي ګمارل کېږي او عليم او حکيم رب هغه د دې منصب وړ ګڼي، نو الله تعالی ته داسې دعا کوي چې په ضمن کې ئې ټول هغه ضروري وړتياوي ترې غواړي چې د قيادت لپاره ضروري دي او موسی علیه السلام

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

ځان ورته اړ او محتاج ګڼلو، فرمايي:

قَالَ رَبِّ ٱشۡرَحۡ لِي صَدۡرِي ٢٥ وَيَسِّرۡ لِيٓ أَمۡرِي ٢٦ وَٱحۡلُلۡ عُقۡدَةٗ مِّن لِّسَانِي ٢٧ يَفۡقَهُواْ قَوۡلِي ٢٨ وَٱجۡعَل لِّي وَزِيرٗا مِّنۡ أَهۡلِي ٢٩ هَٰرُونَ أَخِي ٣٠ ٱشۡدُدۡ بِهِۦٓ أَزۡرِي ٣١ وَأَشۡرِكۡهُ فِيٓ أَمۡرِي ٣٢ كَيۡ نُسَبِّحَكَ كَثِيرٗا ٣٣ وَنَذۡكُرَكَ كَثِيرًا ٣٤ إِنَّكَ كُنتَ بِنَا بَصِيرٗا ٣٥ طه: ٢٥ ـ ٣٥

وئې ويل: اې زما ربه! سينه مي راته پراخه کړې، کار مي راته آسان کړې، د ژبې غوټي مي پرانېږې، چې په وينا مي پوه شي، له خپل تبر مي وزير او مرستندوی راته وټاکه، ورور مي هارون، په هغه سره مي مړوند پياوړی کړه او په کار کې ئې راسره شريك کړه، چې زياته تسبيح دي ووايو او ډېر دي ياد کړو، يقيناً چې ته مو حال ته ښه ليدونکی (په حال مو ښه خبر) يې.

دا مبارك آيتونه د زعامت او مشرتابه لپاره دا خصلتونه او وړتياوي ضروري ګڼي:

- انشراح صدر، پراخه سينه او لويه حوصله.
- فصاحت
- نېك او د اعتماد وړ وزيران او همکاران

همداراز فرمايي:

قَالَ رَبِّ إِنِّي قَتَلۡتُ مِنۡهُمۡ نَفۡسٗا فَأَخَافُ أَن يَقۡتُلُونِ ٣٣ وَأَخِي هَٰرُونُ هُوَ أَفۡصَحُ مِنِّي لِسَانٗا فَأَرۡسِلۡهُ مَعِيَ رِدۡءٗا يُصَدِّقُنِيٓۖ إِنِّيٓ أَخَافُ أَن يُكَذِّبُونِ ٣٤ القصص: ٣٤

وئې ويل: اې زما ربه! ما د دوی يو کس وژلی، نو وېرېږم چې وبه مي وژني، او زما ورور هارون تر ما ژبه ور او فصيح دئ، نو له ما سره ئې د مرستيال

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

په توګه ولېږه چې زما تصدیق کوي، یقیناً چې زه له دې وېرېږم چې دروغجن به مي وګڼي.

موسی علیه السلام دا دنده تر خپل وس لوړه او درنه بولي، ځان تر دې عاجز ګڼي چې دا ستر مسئولیت په غاړه واخلي او له عهدې ئې بریالی ووځي، دوه دلائل وړاندي کوي: ۱- ما د دوی یو کس وژلی، ما ته د دښمن په سترګه ګوري، وېرېږم چې وبه مي وژني، مخکې له دې چې خپل دعوت پیل کړم. ۲- د زعامت او مشرتابه لپاره چې کوم فصاحت ته ضرورت دئ؛ زه تړې محروم یم، تر ما هارون فصیح او ژبه ور دئ، دا دنده هغه ته وسپاره. الله تعالی هارون علیه السلام د ده د مرستیال په توګه ګماري او اطمئنان ورکوي چې دښمن هیڅ تاوان نه شي دررسولی.

۱۲- مسلمان زعیم باید مصلح وي

د مسلمانانو زعیم به نه یوازي په خپله اصلح وي؛ یعني تر ټولو زیات صالح؛ بلکې باید مصلح وي؛ یوازي د ځان په اصلاح بسنه ونه کړي؛ بلکې په ټولنې کې د اصلاح په کار بوخت وي؛ فساد ونه زغمي، په وړاندي ئې سکوت او مسامحه ونه کړي.

باید متوجه وو چې د صالح او مصلح تر منځ ژور توپیرونه دي؛ صالح یوازي د ځان په اصلاح بوخت وي او مصلح هم د ځان او هم د ټولنې په اصلاح؛ صالح ځان ژغوري او مصلح ټولنه، صالحین ډېر دي خو مصلحین لږ؛ ډېری خلك داسي دي چې صالحان خوښوي؛ حتی غیرصالح کسان ئې هم خوښوي؛ خو مصلحین د لږو خلکو خوښ وي؛ مفسدین ئې سخت دښمنان وي او مخالفت ئې کوي؛ دا ځکه چې مصلحین او د دوی هڅې؛ په ټولنې کې د مفسدینو حیثیت او اعتبار ګوابې؛ هر مفسد او خائن انسان؛ هر مصلح انسان ته د خپل رقیب په سترګه ګوري؛ په خپلې مخې کې ئې خنډ او مانع

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

بولي؛ د مصلحينو دعوت او حتى په ټولني کې د دوی شتون؛ د مفسدينو د کړنو او کړنلارو خنډ ګرځي؛ نو ځکه ئې زغمل ورته ګران وي او مخالفت ئې ضروري ګڼي!!

يو مصلح تر سلګونو صالحانو غوره وي؛ د صالح همت فقط دومره دئ چې ځان اصلاح کړي اما مصلح د ځان تر څنګ؛ ټولنه اصلاح کوي؛ الله تعالى يو ابراهيم د يوه بشپړ امت په اندازه ستر بولي!!

إِنَّ إِبۡرَٰهِيمَ كَانَ أُمَّةٗ قَانِتٗا لِّلَّهِ حَنِيفٗا وَلَمۡ يَكُ مِنَ ٱلۡمُشۡرِكِينَ ١٢٠ شَاكِرٗا لِّأَنۡعُمِهِۚ ٱجۡتَبَىٰهُ وَهَدَىٰهُ إِلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٖ ١٢١ وَءَاتَيۡنَٰهُ فِي ٱلدُّنۡيَا حَسَنَةٗۖ وَإِنَّهُۥ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ لَمِنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ١٢٢ ثُمَّ أَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡكَ أَنِ ٱتَّبِعۡ مِلَّةَ إِبۡرَٰهِيمَ حَنِيفٗاۖ وَمَا كَانَ مِنَ ٱلۡمُشۡرِكِينَ ١٢٣ النحل: ۱۲۰- ۱۲۳

يقيناً چې ابراهيم (په يوازي سر) يو امت وو، الله ته مطيع، حق ته يومخيزه مائل او داسي نه وو چې له مشرکينو شي، د نعمتونو ئې شاکر، غوره ئې کړ او مستقيمي لاري ته ئې هدايت کړ، او په دنيا کې مو ښېګڼه ورپه برخه کړه او هغه به په آخرت کې حتماً د صالحانو په ډله کې وي. بيا مو تا ته وحي وکړه چې د حنيف ابراهيم د ملت متابعت وکړه او هغه له مشرکينو نه وو.

د دې مبارکو آيتونو په اړه څو خبرې په پام کې ولرئ:

- دلته ويل شوي چې ابراهيم عليه السلام په يوازي سر يو امت وو، يا په دې معنى چې د يوه ستر امت بنسټ ئې کښېښود، د ده لار د يوه لوی امت لار شوه، او يا په دې معنى چې دومره ستر ستر کارونه ئې وکړل چې يو امت ئې له عهدې وتلى شي.
- ابراهيم عليه السلام الله تعالى ته مطيع وو، حق ته يومخيزه مائل وو، دې ته چمتو نه وو چې د مشرکينو په څنګ کې ودرېږي او د دوی له

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

ډلي شي. د خپل رب د نعمتونو په وړاندي شاکر وو، الله تعالى د سترو سترو کارونو لپاره غوره کړی وو، د يوه موحد امت د باني او لارښود په توګه غوره شوی وو، بيت الله د ده په لاس جوړه شوه، الله تعالى مستقيمي لاري ته هدايت کړ، په دنيا کې ئې ښېګڼه ورپه برخه کړه، ګڼ شمېر پيغمبران د ده په اولاد کې مبعوث شول، تر قيامته به د نړۍ موحدين پر ده درود وايي، په آخرت کې به د صالحانو په ډله کې وي.

- رسول الله صلى الله عليه و سلم او د ده له لاري اسلامي امت ته ويل شوي چې د ابراهيم د ملت متابعت وکړئ، لکه چې هغه په هيڅ څه کې د مشرکينو په څېر نه وو، تاسو به هم له شرکي عقائدو ځان لري ساتئ.

د الله تعالى سنت داسي دئ چې که په يوې ټولنې کې يو مصلح انسان وي؛ نو عام عذاب نه پرې نازلوي. د يوه مصلح انسان له امله؛ يوه ټولنه په مجموع کې له عام عذاب ساتي. لکه چې قرآن فرمايي:

وَمَا كَانَ ٱللَّهُ لِيُعَذِّبَهُمۡ وَأَنتَ فِيهِمۡۚ وَمَا كَانَ ٱللَّهُ مُعَذِّبَهُمۡ وَهُمۡ يَسۡتَغۡفِرُونَ ٣٣ الانفال: ۳۳

او الله داسي نه دئ چې دوی تعذيب کړي په داسي حال کې چې ته (اې پيغمبره!) لا په دوی کې يې او الله ئې په داسي حال کې تعذيبوونکی نه دئ چې دوی بخښنه غواړي.

- دلته د عذابونو د نزول په اړه الهي سنت بيان شوی؛ د عذاب په راتلو کې د ځنډ دوه وجوهات ښودل شوي: په ولس کې د داعي شته والی او په دوی کې د داسي خلکو شته والی چې توبه به کوي او له کفر، شرک او ګناه به لاس اخلي.
- ګورئ چې الله تعالى دا ځواب هغه چا ته ورکړی چې په خپله خوله د عذاب نازلېدل غواړي او وايي: زمور له شديد مخالفت سره سره ولي په

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

موږ باندې له آسمانه ډبرې نه ورېږي او ولې په کوم بل عذاب نه اخته کېږو؟! الله تعالى فرمايي: زما سنت دا دئ چې د پيغمبر په شتون کې او تر هغه چې په خلکو کې د توبې او استغفار امکان وي؛ زه خپل عذاب نه نازلوم!! په دې سره قريشو ته ويل شوي: تاسو د پيغمبر عليه السلام وژل او شړل غواړئ، خو په دې نه پوهېږئ چې د ده شته والی د الهي عذاب د راتلو مانع دئ، تاسو په خپل لاس هغه ستنه ړنګول غواړئ چې د دردناك الهي عذاب چت ئې تم کړی. د عذاب په راتلو کې د ځنډ وجه دا نه ده چې تاسو د الهي عذاب مستحق نه يئ، بلکې وجه ئې دا ده چې د الهي سنت مطابق د راتلو نېټه ئې نه ده رارسېدلې او موانع له منځه نه دي تللي.

همداراز فرمايي:

فَلَوْلَا كَانَ مِنَ ٱلْقُرُونِ مِن قَبْلِكُمْ أُوْلُواْ بَقِيَّةٍ يَنْهَوْنَ عَنِ ٱلْفَسَادِ فِى ٱلْأَرْضِ إِلَّا قَلِيلًا مِّمَّنْ أَنجَيْنَا مِنْهُمْ ۗ وَٱتَّبَعَ ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ مَآ أُتْرِفُواْ فِيهِ وَكَانُواْ مُجْرِمِينَ ﴿١١٦﴾ وَمَا كَانَ رَبُّكَ لِيُهْلِكَ ٱلْقُرَىٰ بِظُلْمٍ وَأَهْلُهَا مُصْلِحُونَ﴿١١٧﴾ هود: ١١٦-١١٧

نو ولې تر تاسو مخکينيو پېړيو کې داسې عقلمن نه ول چې په زمکې کې ئې د فساد مخنيوی کولی، مګر ډېر لږ ئې چې ومو ژغورل، او هغو چې ظلم ئې کولو په هغه څه پسې شول چې په هغه کې ئې عيش عشرت په برخه کېدو، او جنايتکاران ول. او ستا رب داسې نه دئ چې کلي په داسې حال کې تباه کړي چې استوګن ئې مصلحين وي.

- دلته د مخکينيو قومونو د دې حالت په اړه حيرانتيا ښودل شوې چې ولې په دوی کې له لږو کسانو پرته داسې صالح او عقلمن خلك نه وو چې په زمکې کې ئې د فساد مخنيوی کولی، دغه عقلمن او صالح ټولګی

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

وژغورل شو او نور هلاك شول!! هلاك شوي هغه ظالمان ول چې په خپل عيش عشرت پسې شول، داسې ظالمانه تګلاره او کړنلاره ئې غوره کړې وه چې دوی ته عيش عشرت ورپه برخه کړي. دلته قرآن د دغو هلاك شوو څو ځانګړتياوو ته ګوته نيسي: ظالمان ول، د عيش عشرت په لټه کې ول، جنايتکاران ول او په زمکې کې ئې فساد خور کړی وو. يعني دوی د خپلې هوسايني او ترفه لپاره د ظلم او جنايت لار غوره کړې وه، د دغو ظالمانو او مُترَفينو د عيش عشرت لپاره ډېرو خپل هر څه له لاسه ورکول او د دوی د هوس قرباني کېدل، دوی په ټولنې کې د فساد خورولو، جناياتو او د نورو په حق د تېرې له لارې ځان ته هوسا او مرفه ژوند برابرولو، په ټولنې کې د هغو عقلمنو او صالح کسانو شمېر ډېر لږ وو چې د فساد مقابله ئې کوله، الله تعالی همدا لږکی وژغورو او د مفسدينو، ظالمانو، مترفينو او جنايتکارانو د عيش عشرت ټغر ئې ټول کړ. دا ستا د رب نه بدلېدونکی سنت دئ چې د يوې سيمې په اوسېدونکو تر هغه عذاب نه رالېږي چې استوګن ئې صالحان وي، د عذاب لېږلو پرېکړه هغه مهال کوي چې د ټولنې غالب اکثريت د ترفه او عيش عشرت لپاره د فساد، ظلم او جنايت لار غوره کړي، د زړه سواندو دعوتګرانو وړوکی صالح ټولی په خپلې خوا کې ونه زغمي او د دوی مخالفت ته ملا وتړي، الله تعالی يوازې دغه مهال د صالح ټولې د ژغورنې او د ظالمانو د کلکې مؤاخذې او نيونې پرېکړه کوي.

رسول الله صلی الله عليه و سلم تر بعثت وړاندې او د دې لپاره چې يو (صالح) انسان وو؛ ټولو قريشو خوښولو او له هغه سره ئې مينه درلوده؛ خو کله چې د (مصلح) په توګه راڅرګند شو؛ نو همدغو چې پرون ئې د ده درناوی کولو؛ سخته دښمني ورسره پيل کړه؛ پرون ئې د امين او صالح په نامه يادولو او نن ئې د ساحر، مجنون په نامه!! قرآن د شعيب عليه السلام په ارتباط فرمايي چې خپل قوم ته ئې وويل:

deenodanish.com ځخه ښکته شوی له Deen-o-Danish

... وَمَآ أُرِيدُ أَنۡ أُخَالِفَكُمۡ إِلَىٰ مَآ أَنۡهَىٰكُمۡ عَنۡهُۚ إِنۡ أُرِيدُ إِلَّا ٱلۡإِصۡلَٰحَ مَا ٱسۡتَطَعۡتُۚ وَمَا تَوۡفِيقِيٓ إِلَّا بِٱللَّهِۚ عَلَيۡهِ تَوَكَّلۡتُ وَإِلَيۡهِ أُنِيبُ٨٨ هود: ۸۸

... او زه نه غواړم په هغه څه کې ستاسو مخالفت وکړم چې زه مو ترې منع کوم، زه خو تر هغه چې توانېږم له اصلاح پرته بل څه نه غواړم، توفيق (بريا) مي يوازي د الله په مرستي (پوري تړلی) دئ، پر هغه مي توکل دئ او د ده په لوري مي رجوع ده.

شعيب عليه السلام د خپلو مخاطبينو په ځواب کې ويلي:

اې زما قومه! آيا د دې پروا نه لرئ چې په داسي حال کې زما مخالفت کوئ چې زما رب زما لارښوونه کړې، په سمه لار ئې د تلو توفيق راکړی، تګلاره مي روښانه او پيغام مي څرګند دئ، پر ما ئې پېرزوينه کړې، هم ئې سم فکر، سمه عقيده او نېک اخلاق راپه برخه کړي او هم غوره او پاکيزه رزق، له بدو اخلاقو او له حرام رزق ئې ساتلی يم. آيا دې ته پام نه کوئ چې زه هغه څه ته تاسو رابلم چې په خپله پرې عمل کوم، داسي خو مي نه دي غوښتي چې په هغه څه کې ستاسو مخالفت وکړم چې زه مو ترې منع کوم، زه خو د هغو خلکو په څېر نه يم چې نور له بدو منع کوي خو په خپله ځان نه ترې ساتي، ګورئ چې زه خو تر هغه چې توانېږم له اصلاح پرته بل څه نه غواړم، توفيق (بريا) مي يوازي د الله په مرستي (پوري تړلی) دئ، نه له ده پرته بل مرستندوی لرم او نه له بل چا؛ څه طمع او هيله؛ پر هغه مي توکل دئ او د ده په لوري مي رجوع ده.

۱۳-عدالت او قسط

قرآن عدالت او قسط د پيامبرانو عليهم السلام يوه أساسي دنده او د

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

الله تعالى د کتاب يوه أساسي برخه او د هغه د نزول موخه ګڼي او فرمايي:

لَقَدۡ أَرۡسَلۡنَا رُسُلَنَا بِٱلۡبَيِّنَٰتِ وَأَنزَلۡنَا مَعَهُمُ ٱلۡكِتَٰبَ وَٱلۡمِيزَانَ لِيَقُومَ ٱلنَّاسُ بِٱلۡقِسۡطِۖ وَأَنزَلۡنَا ٱلۡحَدِيدَ فِيهِ بَأۡسٞ شَدِيدٞ وَمَنَٰفِعُ لِلنَّاسِ وَلِيَعۡلَمَ ٱللَّهُ مَن يَنصُرُهُۥ وَرُسُلَهُۥ بِٱلۡغَيۡبِۚ إِنَّ ٱللَّهَ قَوِيٌّ عَزِيزٞ ٢٥

الحديد: ۲۵

يقيناً چې خپل پيغمبران مو له څرګندو نښو سره ولېږل او لدوی سره مو کتاب او ميزان ولېږلو چې خلك پر عدالت قائم وي او هغه اوسپنه مو رالېږلې (پيدا کړې) چې په هغې کې شديد جنګ دئ او خلکو ته (ډېرې) ګټې، او چې الله هغه خلك معلوم کړي چې په غياب کې د ده او د ده د پيغمبرانو ملتيا کوي، يقيناً چې الله عزتمن ځواکمن دئ.

د دې مبارك آيت لارښوونې دا دي:

- الله تعالى خپل پيغمبران له څرګندو لارښوونو او دلائلو سره رالېږلي او د دوی په لاس ئې (کتاب: احکام او قوانين) او (ميزان: د حق او باطل د تفکيك او تشخيص معيار) لېږلي، په دې موخه چې خلك په خپلو کړنو او تصرفاتو کې عدالت او قسط مراعات کړي.
- اوسپنه ئې پيدا کړې چې په هغې کې د شديد جنګ امکانات هم شته او خلکو ته د ډېرو ګټو امکانات هم، داسي وسائل هم ترې جوړېدی شي چې د سختو جګړو باعث کېږي او داسي وسائل هم چې خلکو ته ډېرې ګټې رسوي.
- له بيناتو، کتاب او ميزان سره د پيغمبرانو لېږنه او له دغو خصوصياتو او ځانګړتياوو سره د اوسپني پيدايښت د دې لپاره دي چې الله تعالى هغه خلك معلوم کړي چې په غياب کې د ده او د ده د پيغمبرانو ملتيا کوي.

deenodanish.com ځخه ښکته شوی Deen-o-Danish

- الله تعالی عزټمن ځواکمن دئ.

دا مبارك آیت نه یوازې د پیغمبرانو علیهم السلام د دعوت خلاصه او د دوی د بعثت موخه مور ته راښیي بلکې د اوسپني په اړه یوه وړاندوینه زمور مخې ته ږدي، هغه مهال چې دا آیت نازلېدو نه له اوسپني د سختو سختو جګړو په اړه پراخه استفاده کېدله او نه د نورو ګټورو وسائلو په جوړولو کې، له اوسپني پراخه استفاده ډېره وروسته پیل شوه او په یوویشتمي پېړۍ کې خپل اوج ته ورسېده، همداراز په دې آیت کې د هغو مجاهدینو په اړه هم یوه دقیقه وړاند وینه زمور په وړاندې ځلېږي چې دغه مهال به د الله تعالی په لار کې جهاد کوي، ځکه دلته د هغو مجاهدینو یادونه شوې چې د پیغمبر په غیاب کې او هغه مهال به د الله تعالی په لار کې جهاد کوي چې اوسپنه به د سختو جګړو مهمه وسیله وي!!

علمي څېړنې وایي چې په زمکې کې د اوسپني مقدار تر ټولو نورو فلزاتو زیات دئ، نن د وسلو او نورو آلاتو په جوړولو کې له اوسپني تر بل هر فلز زیاته استفاده کېږي، د اوسپني ځانګړتیاوو دا امتیاز ورکړی چې په صنعت کې زیاته استفاده ترې وشي، خو د اوسپني دا اهمیت هغه مهال جوت شو چې انسان له علمي پلوه ډېر وړاندې ولاړ او د ډول ډول وسائلو د جوړولو پوهه او امکانات ئې په برخه شول، که څوك اوس د اوسپني په اړه ووایي چې د جنګي وسائلو په جوړولو کې د اوسپني لویه وندې ده او د انسان جنګ ته ئې شدت او پراخ ابعاد ورکړل او انسان تر نورو فلزاتو زیاته ګټه ترې اخلي نو دا نه د تعجب خبره ده او نه د حقیقت خلاف، خو که چا دا خبره دوه درې پېړۍ وړاندې کړې وی؛ نه چا ورسره منله او نه ئې صحیح ګڼله!! خو قرآن څوارلس پېړۍ وړاندې همدا وړاندوینه وکړه او دا دئ ترسره شوه.

دې ته مو پام وي چې مسلمان حاکم، حکم، قاضي او مصلح په دې ګمارل شوي چې د خلکو تر منځ به د حکمیت او قضاوت په ارتباط دوې

deenodanish.com ځخه ښکته شوی Deen-o-Danish

خبري مراعاتوي: (عدالت) او (قسط)؛ عدل يعني دا چې ټول خلك به برابر او يو شان ګڼي؛ قوم، نسب، اجتماعي حيثيت او مقام ته له پام پرته، بايد د دوی تر منځ په توپير او تفاوت قائل نه شي او يوه ته پر بل ترجيح ورنه کړي، مصلح، حکم او قاضي په دې مکلف دي چې د پرېکړي، مصالحې، قضاوت او حکميت په دوران کې به د قضيې دواړو لوريو ته په يوه سترګه ګوري، دواړه به برابر ګڼي که څه هم يو ئې امير المؤمنين او بل يو يهودي وي، که څه هم يو لوری حکومت او بل لوری يوه وړوکې ډله وي، او قسط يعني دا چې هر لوري ته خپل جائز حق ورکړی شي، نه کم نه زيات، په ټولني کې امنيت او صلح د (عدل) او (قسط) له تأمين پرته نه شي راتلی، هغه صلح واقعي صلح نه ده چې عدل او قسط په کې مراعات نشي، الله تعالی هغه اجتماعي نظام او زعامت خوښوي چې عدل او قسط تأمين کړي او هغه مصلح خوښوي چې مقسط هم وي، نه هر د صلحي او مصالحې مدعي. مسلمانان بايد داسي زعيم او مشر غوره کړي چې د ظلم او بې عدالتي مخينه ونه لري، په قومي تعصباتو او اجتماعي توپيرونو او تبعيض باورمن نه وي او د ده سوابقو ته په پام سره مطمئن وي چې د اقتدار پر کرسۍ له ناستي وروسته به عدالت او قسط تأمينوي.

له دغو آيتونو اندازه لګولی شئ چې قرآن د اسلامي ټولني د زعيم او مشر د مواصفاتو او مشخصاتو په اړه څومره تفصيلي او دقيق بحثونه او ځلانده لارښوونې لري، که دې ته ورته آيتونه او هغه چې په ترڅ کې ئې د غير اسلامي ټولني د زعماءو ځانګړتياوي څېړل شوې؛ راغونډ کړو؛ نو يقيناً چې پرېږ او ضخيم کتاب ترې جوړېږي، زموږ هغه معترض دوست ته يوازې هغه (۹) صفات په نظر ورغلي چې شاه ولي الله رحمه الله راغونډ کړي، لومړی ئې (بلوغ) او وروستنی ئې قريشيت!. بلوغ ئې صحيح دئ او قريشيت ئې ناسم! د دې دقيق، مستند او پر نصوصو مبتني دلائل مو وړاندي کړل.

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

مورِ څنګه نظام غواړو؟

که څه هم د نظام خبره باید هلته وشي چې افغانانو خپلواکي ترلاسه کړې وي، ټول بهرني فوځونه له هېواد وتلي وي او افغانان له بهرني ګواښ او تهدید پرته، د خپلو باورونو، اعتقاداتو او دود دستور مطابق، خپل برخلیك وټاکلی شي او د خپلې خوښې نظام جوړ کړی شي؛ خو د دې لپاره چې ځینې خلك غواړي په دې پوه شي چې مورِ د هېواد لپاره څنګه نظام خوښوو، د ریاستي او پارلماني نظامونو په اړه څه نظر لرو او کوم یو د هېواد لپاره غوره ګڼو، د دوی په ځواب کې لاندې وضاحتونه ضروری ګڼو:

۱- د افغانانو غوڅ اکثریت اسلامي نظام غواړي، د اسلام لپاره ځې قربانی ورکړي، له اسلام پرته په بل څه نه راضي کېږي، که بل نظام د وسلې په زور او د بهرنیو لاسوهنو، سازشونو او فشارونو له لارې د دوی په هېواد وتپلی شي؛ پایله به ځې د شوروي اتحاد د وسلو او فوځونو په زور د تپل شوي نظام پایله وي او فقط تر هغه به دوام کوي چې افغان ولس ځې د نسکورولو توان او فرصت ترلاسه کړي.

۲- افغانان اوس اسلامي نظام له غیر اسلامي نظام تر ډېره حده پېژندی شي، د جهاد په کلونو کې دوی له اسلام هومره څه زده کړي چې اوس ځې څوك په آسانۍ نه شي غولولی.

۳- اسلامي نظام هغه دئ چې په هغه کې: اسلامي شریعت د ټولو قوانینو یوازینی مأخذ وي، ټولې شخړې او منازعات د اسلامي شریعت په رڼا کې حل و فصل شي، چارواکي په خپلو ټولو اجرءاتو کې شریعت ته التزام ولري.

٤- زعیم له ملت سره په مشوره مکلف وي او د ملت له استازو جوړه شوې شوری تر ټولو با صلاحیته مرجع وي.

٥- د چارواکو په واك کې صلاحیتونه او ملي شتمني امانت وګڼل شي.

٦- د ولس معلن او بلا اجبار بیعت او رأی د نظام د مشروعیت بنسټ

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

وي او ولسمشر د ولس په خوښه غوره شي.

د دغو اصولو په رڼا کې موږ د هېواد لپاره داسې نظام غواړو چې:

ولس مشر به د ملت په خوښه او د آزاد، معلن او غیر اجباري بیعت له لارې ټاکل کېږي، نه د معدودو کسانو له خوا او په پټه؛ د جومات په څېر ځای کې به ټاکل کېږي؛ نه په قصرونو کې، ټول خلفاء راشدین په جومات کې غوره شوي نه په کوم قصر یا پټ ځای کې، له بیعت وروسته خلیفه شوي؛ نه له بیعت مخکې، بیعت د خلیفه له انتخاب وروسته شکلي یا رسمي مراسم نه دي؛ بلکه خلیفه له همدې لارې غوره کېږي، خلیفه هغه دئ چې ملت ورسره بیعت وکړي، دا د کوم شخص یا کورنۍ موروثي حق نه دئ چې له پلار زوی ته په میراث پاته شي، دا د ملت امانت دئ چې په خپله خوښه به ئې اهل ته سپاري؛ هم د دې امانت د اهل تشخیص د ولس حق او وظیفه ده او هم ئې سپارل، یوازې هغه څوک د مسلمانانو جائز مشر ګڼل کېږي چې مسلمانانو په خپله خوښه انتخاب کړی وي او په خپله رضاء ئې ورسره بیعت کړی وي. په صندوق کې رأیه اچول د بیعت سِه نعم البدل دئ. ځکه مخامخ بیعت په یوې وړې ټولنې کې ممکن دئ نه په ستړي ټولنې کې.

منتخب مشر له یوې خوا په دې مکلف دئ چې په ټولو چارو کې به د شریعت په نسبت التزام لري، له بلې خوا له ولس سره په مشورې مکلف دئ. په اسلامي ټولنې کې امور په مشوره ترسره کېږي، نه دا چې حاکم آخري مرجع وي. د قوانینو مرجع په ترتیب سره قرآن، سنت، قیاس او اجماع ده؛ هغه عرف هم معتبر ګڼل کېږي چې له شریعت سره تعارض ونه لري. واکدار او هیڅا ته دا حق نه دئ ورکړی شوی چې له خپلې خوا قوانین صادر کړي. قضایا به د شریعت مطابق حل او فصل کېږي او امور به د خلکو په مشوره تر سره کېږي. اولی الامر هم له شریعت د انحراف په صورت کې مستحق العزل دئ او هم د استبداد، مطلق العنانې او د مشورې له اصل د انحراف په صورت کې.

deenodanish.com ځخه ښکته شوی Deen-o-Danish

په دې نظام کې چارواکی د ولس مالك الرقاب او د هېواد ټولواك نه؛ بلکې د ولس خادم او د دوی د امانتونو امین دئ. فقط په هغه صورت کې او تر هغه وخته د واك امانت له ده سره پاته کېدی شي چې د امانت اصلي خاوندان یعني ولس وغواړي او په امانتونو کې ئې خیانت نه وي کړی.

هم د ده صلاحیت د شریعت په رڼا کې او د مسلمانانو په خوښه ټاکل کېږي او هم ئې حقوق، وجائب او مسئولیتونه.

د اسلام له نظره هغه د ولس (مستخدم) دئ، نه آقا او بادار، د (خدمت) په دوران کې یوازې هومره (اجوره) ترلاسه کولی شي چې ولس ئې ورته ټاکي، واکمني ده ته په نورو مسلمانانو هیڅ مادي امتیاز نه بخښي.

په اسلامي ټولنې کې د مشر لپاره؛ د سلطان، پاچا، واکدار، حاکم او آمر په ځای د خلیفه نوم او مفهوم غوره شوی، چې ځای ناستي ته وایي، دا ځکه چې په اسلامي ټولنې کې مشر د خلکو له خوا غوره کېږي او د خلکو نائب او ځای ناستی وي، خلك ئې د بیعت له لارې غوره کوي، په ملي شتمنیو کې د ولس د استازي په توګه او د دوی په مشوره تصرف کوي. هغه (آمر) نه دی، (امیر) دئ، فرمانونه نه صادروي، کارونه ترسره کوي، د آمر او امیر ترمنځ فرق همدا دئ: آمر یعني امر کوونکی او حکم کوونکی او امیر یعني د امورو ترسره کوونکی او د چارو سنبالوونکی.

نظام باید داسې وي چې په دیکتاتوري او استبداد منتج نه شي. داسې نه چې واك د یوه کس یا کورنۍ په لاس کې پرېوځي؛ نو ټولواك شي او اقتدار د دغې کورنۍ موروثي حق.

اسلام؛ سلطنتي نظام هم د فساد او تباهۍ عامل ګڼي او هم ئې د انساني عدالت او برابرۍ مغایر. هغه اختیارات چې په سلطنتي نظام کې یوه (پاچا او سلطان) ته ورکول کېږي، اسلام دا اختیارات فقط د الله تعالی لپاره مختص کړي. د اسلام له نظره پاچا هغه څوك دئ چې ځان د خدای ځای ناستی ګڼي، که څه هم دا خبره په خوله نه کوي؛ قرآن د فرعون په اړه وایي

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

چې هغه ځان د خلکو (اله) او (رب اعلى) ګڼلو، يعني ځان ته ئې هغه اختيارات ورکړي وو چې يوازې له خدای سره ښايي. قرآن د فرعوني نظام څو ځانګړتياوي بيانوي:

الف: فرعون ځان (اله) ګڼي، د حلال او حرام، جائز او ناجائز د ټاکلو وروستۍ مرجع.

ب- ځان ته ټولواك وايي او د مصر د ټولو شتمنيو مالك.

ج- هغه خلك په ډلو ډلو وېشلي: مرفه او حاكمه طبقه، محرومه او محكومه طبقه، فوځ او له سياسي او اجتماعي پلوه واكمنه طبقه.

قدرت بايد په مرکز کې داسي متمرکز نه شي چې څو کسان د کودتا له لارې وکولی شي دا مرکز اشغال او په ټول هېواد مسلط شي او يا بهرني ځواکونه د مرکز په نيولو سره ټول هېواد اشغال کړي؛ هم بايد د کودتاګانو ټول امکانات د تل لپاره له منځه يووړی شي او هم بهرني ځواکونه داسي ګمان ونه کړي چې د مرکز په نيولو سره ټول هېواد نيولی شي.

نه داسي نظام چې په انارشيزم منتج شي او هېواد د تجزيې په لور وخوځوی او شرير ځواکونه؛ منطقوي، محلي او قومي استقلال او خپلواکي ته وهڅوي او يا بهرني ځواکونه د مرکز د ضعف په وجه د هېواد ځيني برخي اشغال کړی شي، نه له مرکز تېښته او نه په مرکز کې ذوب کېدل، بلکه د دواړو تر منځ تعادل، نه دا چې په مرکز د څو کسانو تسلط په دې منتج شي چې د هېواد او ولس هر څه د دوی د خوښي مطابق تغيير وموميی، فرهنګ، مذهب، اخلاق، دود دستور، خارجی او داخلی سياست، اقتصادي او اجتماعی نظام او هر څه، پنځه کمونست افسران کمونستي انقلاب اعلان کړي او پنځه د اروپا او امريکا په نايټ کلبونو کې ستر شوي سيکولران؛ د امريکا په زور په مرکز مسلط او په ټول هېواد امريکايي ډيموکراسي او کوبائي اخلاق مسلط کړي، راډيو، تلويزيون، اخبار او مجلې، مسجد او منبر د دوی په لاس کې پرېږدي.

deenodanish.com ځخه ښکته شوی له Deen-o-Danish

باید اجتماعی عدالت تأمین کړي، د مرکز او اطراف تر منځ ژور تفاوت رامنځته نه کړي. داسي نه چي ټول تسهیلات او وسائل د مرکز په واك کي وي او واکمنان او د مرکز اوسېدونکي ترې برخمن وي او د اطراف اوسېدونکي له ټولو ابتدائي تسهیلاتو محروم وي. داسي نه چي اطراف د مرکز قرباني شي، باید اطراف د مرکز د استحصال او استثمار وسیله نه وي، دا نه له عدالت سره اړخ لګوي او نه په هیڅ معیار او میزان کي د منلو دي چي سړك، برق، ګاز، پاکي اوبه، روغتونونه، پوهنتون، مکاتب او مدارس، پارکونه او ... په مرکز کي وي او د اطراف خلك له دې ټولو محروم!! په دې سره له یوې خوا عدالت تر پښو لاندي کېږي؛ له بلي خوا خلك له اطراف د مرکز په لور مخه کوي، په ښارونو کي ازدحام جوړېږي، اطراف ورو ورو تخلیه کېږي، زراعت او مالداري صدمه ګوري.

اسلام هغه نظام مردود ګڼي چي له غریب ئې اخلي او په مرفه او بډای طبقې ئې مصرفوي. د عدالت غوښتنه دا ده چي له شتمنو واخیستل شي او نادارو ته ورکړی شي. په اسلامي نظام کي دولت د محرومانو متکفل دئ، هغه مکلف دئ چي له شتمنو به عشر او زکات اخلي او محرومانو ته به ئې ورکوي. د دولت د ټولو عوائدو منبع په اصل کي خلك دي، که دا مالیه ده او که د ګمرکاتو محصول؛ د ګمرك اصلی تأدیه کوونکي هم خلك دي نه تاجران، تاجر چي د ګمرك په نامه څه ورکوي له عام اخیستونکو ئې بېرته تر لاسه کوي!

قرآن د دې مخالف دئ چي سرمایه د معدودو کسانو ترمنځ لاس په لاس شي، د محروم له مجبوریتونو ناروا استفاده وشي، بډای ضروري شیان احتکار کړي او په دې سره ئې بیع لوړه او له بې وزلو ګټه ترلاسه کړي، اسلام سود، احتکار او انحصار؛ د همدې لپاره حرام کړي چي دا د محرومانو له مجبوریت؛ د شتمنو د استفادې ذریعه ده.

د اجتماعي عدالت معنی دا ده چي د ټولني ټول وګړي برابر وګڼل شي،

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

له خلکو سره برابره معامله وشي، دولت په خپلو اجراءاتو کې دا برابري او عدالت مراعات کړي. واکمن دا حق نه لري چې ملي شتمني غنیمت وګڼي او په خپله خوښه په هغې کې تصرف وکړي. دا حق هم نه لري چې له دولتي حیثیت په استفادې سره کومه تجارتي او اقتصادي معامله ترسره کړي، داسي ګټه شریعت تحریم کړي.

د نوي درس تر پیل وړاندي اجازه راکړئ د پنځلسم درس په اړه دوه مزید وضاحتونه وکړم؛ هغه چې د درس په دوران کې پاته شوي وو، مهم دي او باید په هغه درس باندي علاوه شوي وی.

مخکینیو درسونو کې مو وویل چې الله تعالی غوښتل د یوه نوي مؤحد امت بنسټ کښېږدي، د دې لپاره ئې ابراهیم علیه السلام غوره کړ، هغه ئې له سترو آزموینو سره مخامخ کړ، له دې ټولو آزموینو بریالی ووت. لومړۍ آزموینه ئې هم د پلار شدید مخالفت وو، دومره چې تهدید ئې کړ، له کوره دي شړم او رجم کوم دي، له ما دي مخ ورک کړه او بیا د ټول قوم مخالفت، بیا له نمرود سره ټکر او تصادم، زندان ته تګ او په اور کې لوېدل، د اور په کنده کې د هغه اچول، دا ځکه چې هغه د نمرود بتان نسکور کړي وو، لا تنکی ځوان وو او په همدغسي تنکۍ ځوانۍ کې ئې هم د پلار مخالفت وزغملو، هم د قوم، نظام، حکومت او مستبد او ظالم واکمن. او بیا هجرت ته مجبور شو؛ له ټول عراق دوه کسان له هغه سره ملګري شوي، یوه ئې صادقه او وفامنه مېرمن سارا او بل ئې ځوانکی وراره لوط علیه السلام، له ټول قوم، له ټول عراق فقط دغو دوو کسانو په هغه باندي ایمان راوړی، د هغه ملګرتیا ئې کړې، شاید ډېرو وروسته وروباندي ایمان راوړی وي، ولې دې ته چمتو نه وو چې د هغه لپاره هجرت وکړي او مزید خطرونه ومني، بیا الله تعالی وغوښتل چې دی په دې مکلف کړي چې لاړ شي خپله مېرمن هاجر او د خپل ټی خور زوی اسماعیل علیه السلام د مکي په دښته او بیدیا کې یوازي پرېږدي، هلته چې نه اوبه وي، نه سیوری وو، نه ونه وه، نه بوټی وو، نه

deenodanish.com له Deen-o-Danish څخه ښکته شوی

حیوان وو او نه انسان وو. یوه تشه بیدیا وه، الله تعالی په همدغه ځای کې غوښتل چې خپل کور آباد کړي، او د دې کور آبادولو لپاره ئې هم داسې کس غوره کولو چې هغه باید له سختو امتحانونو تېر شوی وي، او واقعاً یو ستر مؤحد وي، مکلف شو چې خپله مېرمن او زوی همدلته په دې بیدیا کې یوازې پرېږدي، او په داسې حالت کې چې کله له دوی رخصتېدو نو هاجر ورته وویل: اې إبراهیم! مورِ په دې بیدیا کې چا ته پرېږدې؟ وئې ویل: ستاسو رب ته. او هغه هم چې یوه مؤحده او په خدای مینه مېرمن وه، ویل ئې خدای مورِ ته کافي دئ. بیا ابراهیم علیه السلام په دې مکلف شو؛ په زړښت کې چې د عمر آخري شېبې ئې وې، بوډا شوی وو، الله تعالی ورته زوی ورکړ؛ اسماعیل علیه السلام، تنکۍ ځوانۍ ته رسېدلی، په دې مکلف شو، په خپله رؤیا کې ئې په مکرره ولیدل چې خپل زوی ذبح کوي، فکر ئې وکړ چې ښایي الله تعالی غواړي؛ زه خپل زوی ذبح او قرباني کړم. زوی ته وایي: ګرانه زویه! زه داسې رؤیا ګورم، وګوره ستا نظر او مشوره څه ده؟ او هغه هم ورته وایي: پلار جانه! په څه چې مأمور شوی یې، هغه وکړه، إن شاء الله ما به صابر وممنې. همداسې وشول؛ هغه چمتو شو چې خپله غاړه د پلار په وړاندې پر زمکه کښېږدي، سر ئې غوځ شي. شهید پالونکی پلار او شهادت ته چمتو زلمی زوی، دا دواړه مکلف شول چې د الله تعالی کور همدلته جوړ کړي. کعبه د دغسې دوو سترو شخصیتونو په لاس جوړه شوې، او الله تعالی دا کور هم د دې لپاره جوړ کړی وو چې خلک د قصرونو او قبرونو له طواف وژغوري او راشي یوازې د خدای د کور طواف وکړي، د بل چا دړې ته ونه درېږي، له بل چا طمع ونه لري، د بل قبر او قصر طواف ونه کړي، طواف ئې یوازې د خدای د کور وي، له بل چا مرسته ونه غواړي، بل ته سر ټیټ نه کړي، یوازې د الله تعالی کور ته او د هغه د کور دړې ته طمع او هیله ولري، دا کور هم الله تعالی د همدې لپاره جوړ کړی وو، د کعبې د جوړولو اصلي موخه هم دا وه چې خلک له شرک وژغوري او یوازې

deenodanish.com ځخه ښکته شوی له Deen-o-Danish

د یو خدای عبادت او بندګي وکړي. دا کور د همدسې دوو شخصیتو او واقعي مؤحدینو په لاس جوړ شوی وو. ولې ابراهیم علیه السلام په دې مأمور شو چې خپل زوی ذبح کړي؟ هغه هم نه په صریح حکم بلکې په یوه رؤیا سره؟ خوب کي ئې لیدلي دي او د خوب تعبیر ئې داسې ایستلی دئ چې ښایي الله تعالی له ما همدا غواړي او په دې راضي کېږي چې خپل زوی د ده لپاره ذبح کړم. ولې؟ دوه وجوهات لري: لومړی دا چې مشرکینو کي عام عادت دا وو چې څوک به په خپل شرک کي ډېر مضبوط او قوي وو، نو خپل لومړی زوی به ئې د خپل بت او معبود په پښو کي ذبح کولو. په دې طمع او هیله چې په همدې به د هغه رب او معبود ترې راضي شي!! او قرآن هم دې ته اشاره کوي چې تر دې مخکي همدا د مشرکینو دود او عادت وو، چا به غوښتل په خپل شرک کي خپل قوت او مضبوط والی ثابت کړي او وښیي چې له خپل جعلي او کاذب معبود سره ډېره او کلکه مینه لري، نو هغه به خپل مشر او لومړنی زوی؛ چې انسان ته ډېر ګران وي، هماغه زوی به ئې ذبح کولو، الله تعالی وغوښتل چې دا سنت، دود او دستور د تل لپاره ختم کړي، او خلکو ته وښیي چې ستاسو رب؛ په دې نه راضي کېږي چې تاسو خپل زوی د هغه لپاره ذبح کړئ، دا دئ د ابراهیم علیه السلام په قصه کي مور ته همدا وایي چې ابراهیم علیه السلام چمتو شو خپل زوی ذبح کړي، اما الله تعالی د هغه په عوض کي د یوه پسه په ذبح کولو اکتفاء وکړه؛ د دې لپاره چې له دې وروسته به هیڅوك؛ د خدای په نامه خپل زوی نه ذبح کوي، د خدای لپاره به څاروی ذبح کوئ چې هم ئې خپله ترې وخورئ او هم ئې فقیر او مسکین ته ورکړئ. الله تعالی په دې راضي کېږي، الله تعالی فرمایي:

وَكَذَٰلِكَ زَيَّنَ لِكَثِيرٍ مِنَ الْمُشْرِكِينَ قَتْلَ أَوْلَادِهِمْ شُرَكَاؤُهُمْ لِيُرْدُوهُمْ وَلِيَلْبِسُوا عَلَيْهِمْ دِينَهُمْ وَلَوْ شَاءَ اللَّهُ مَا فَعَلُوهُ فَذَرْهُمْ وَمَا يَفْتَرُونَ

deenodanish.com له ډېنو ډانش څخه ښکته شوی

الانعام: ۱۳۷

او همداسي ډېرى مشرکينو ته د دوى شرکاءو د خپلو زامنو وژل ښايسته کړ، د دې لپاره چې په هلاکت کې ئې وغورځوي او خپل دين ورته شکمن کړي، او که الله غوښتلى نو دوى به دا کار نه وو کړى، نو دوى په خپلو افتراءاتو کې پرېږده.

يعني شرک د دې باعث شوى وو چې دوى خپل زامن د خپلو معبودانو په پښو کې ذبح کړي، دا کار ورته خپلو معبودانو ښايسته کړى وو، له دوى ئې طمع او هيله درلودله، دا ورته يو نيک او ښه کار برېښېدو، شرک همدې جهل او سفاهت ته تيار کړي وو، قرآن فرمايي چې دا جهل دئ، دا سفاهت دئ، او د دې سفاهت وجه د هغوى شرک او جعلي معبودان وو.

پارلماني که صدارتي نظام

دا هم يوه پوښتنه ده چې د افغانستان لپاره پارلماني نظام غوره دئ او که صدارتي نظام؛ کوم يو ئې له اسلام سره اړخ لګوي؟ دې ته مو بايد پام وي چې پارلماني نظام د بريتانيايي استعمار ميراث دئ او د بريتانيا له خوا د انګرېزانو په مستعمراتو کې رائج شوى. رياستي نظام امريکايانو معرفي کړى او دې ته ترجيح ورکوي چې په خپلو مستعمراتو کې دا نظام وګوري. دا دواړه نظامونه نه يوازې له دې ناحيې د اعتراض وړ او مردود دي چې د استعماري ځواکونو زېږنده دي؛ بلکې له دې پلوه هم چې بې شمېره نواقص لري، ځينې اساسي ستونزي او نواقص ئې دا دي:

- انتخابات ئې د قمار په څېر دي، له څو کاندیدانو؛ يو او هغه کس پارلمان ته ځي چې تر نورو ئې څو رأيي زياتې ترلاسه کړې وي، کېدى شي د ناکامو کاندیدانو مجموعي رأيي تر کامياب کانديد؛ زياتې وي.
- چا چې ناکامو کاندیدانو ته رأيه ورکړې؛ په پارلمان کې ممثل او استازى نه لري. په دې ترتيب پارلمان د يوه اقليت ممثل وي؛ نه د اکثريت او

له deenodanish.com څخه ښکته شوى Deen-o-Danish

نه د ټول ملت.

- دا د شتمنو او په ټولنې د حاکمې طبقې سلطې ته قانوني جواز برابروي، یوازې شتمن کسان کولی شي په دې انتخاباتو کې برخه واخلي او مصارف ئې متحمل شي، په ټولو هغو ملکونو کې چې دا راز انتخابات ترسره کېږي، له ناداري او درېیمي طبقې؛ هیڅوک د پارلمان غړیتوب نه شي ترلاسه کولی، اکثر غړي ئې د جګې طبقې او ډېر کم ئې له متوسطې طبقې وي. په انګرېز ډوله پارلماني نظام کې انتخابات په اصل کې د حاکم او مسلط سیاسي او اجتماعي نظام د بقاء او هغه ته د مشروعیت ورکولو وسیله وي. په سیاسی، اقتصادي او اجتماعي لحاظ مسلطه طبقه له دې لاري پارلمان ته لار مومي. په غربي هېوادو کې هغه نوماند بریالی کېږي چې د انتخاباتي کمپاین لپاره تر بل زیات مالي امکانات ولري او د کمپاین په دوران کې زیات مصارف وکړي!!
- د هېواد صدراعظم د معدودو کسانو له خوا غوره کېږي، د دې کار عیب او ضرر دا دئ چې د معدودو کسانو اخیستل ډېر آسان وي، هم ئې بهرني ځواکونه په آسانۍ اخیستی شي او هم هغه ډلې چې مالي امکانات ئې زیات وي او شتمن بهرني حامیان ولري. دا د افغانستان په شان یوه ملك ته چې له هري خوا د ځواکمنو رقیبانو په ولکه کې دئ؛ له احتیاط ډېر لري دئ چې د هېواد د مشر ټاکل په یوه وړوکې ټولګي پوري وتړل شي. که د هېواد د مشر ټاکل په ټول ملت پوري مربوط وي دا تر دې ډېر ډېر مصون دئ چې د پارلمان څو سوه غړو ته دا صلاحیت ورکړی شي.
- په پارلماني نظام کې باید صلاحیتونه د صدراعظم او جمهور رئیس تر منځ په یوه تناسب ووېشل شي، دا له یوې خوا د دوو ځواکمنو تر منځ د تنافس او سیالۍ ډګر پرانېزي، له بلې خوا د تشکیلاتو د تراکم باعث کېږي او له بلې خوا په عام ولس کې د شخړو او منازعاتو باعث. زمونږ د ګاونډیو هېوادونو تجربې زمونږ مخې ته پرتې دي. په پاکستان کې انګرېزانو دا نظام

deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

په ميراث پرېښود، خو تر اوسه يوه صدر اعظم هم خپله قانوني دوره تکميل نه کړی شوه، کله جمهور رئيس عزل کړی او کله ځواکمنو جنرالانو. په ايران کي هم د پارلماني نظام تجربه ناکامه شوه، ايرانيانو د انقلاب په لومړيو کلونو کي د رهبر او جمهور رئيس تر څنګ صدراعظم هم درلود، وروسته مجبور شول چي د صدراعظم پست او منصب حذف کړي. خو عجيبه دا ده چي په همدې ايران پوري تړلې ډلې د تهران په وينا په افغانستان کي پارلماني نظام غواړي!! پارلماني نظام د انګلستان او هند په څېر تشريفاتي ملکې او پاچا او بې واکه جمهور رئيس ته ضرورت لري، له دې پرته نه شي چلېدی. يوه ټولنه که وړه وي که سټره، که د يوې کورنۍ په اندازه وي او که د يوه ستر ملت په اندازه، په سر کي بايد يو قيم او رئيس ولري نه متعدد رئيسان او هر يو له خاصو صلاحيتونو سره، دا حتماً په نزاع او شخړو منتج کېږي. قرآن وايي: که د کائناتو واګي د دوو خدايانو په لاس کي وی نو تباه کېدو او هر يوه به هڅه کوله چي عرش ته ورسېږي او په بل برلاسی شي.

لَوۡ كَانَ فِيهِمَآ ءَالِهَةٌ إِلَّا ٱللَّهُ لَفَسَدَتَاۚ فَسُبۡحَٰنَ ٱللَّهِ رَبِّ ٱلۡعَرۡشِ عَمَّا يَصِفُونَ ٢٢ الانبياء: ۲۲

که په دوی دواړو (آسمان او زمکي) کي له الله پرته نور خدايان وی؛ دواړه حتماً تباه کېدل، نو د دوی له ستايلو د عرش پالونکي الله ته پاکي ده.

په دې مبارك آيت کي ويل شوي: که چېرې په آسمانونو او زمکي کي له الله تعالی پرته نور آلهه او معبودان وی، نو حتماً به دواړه تباه شوي وو، د زمکي او آسمانونو بقاء او دوام او په هغوی کي د تباهي له رامنځته کېدا مخنيوی؛ ښيي چي د آسمانونو او زمکي ټولواك رب؛ نه کوم شريك لري او نه کوم څه د ده د سلطې له عرشه بهر دي، له ټولو هغو عيبونو لوړ دئ چي مشرکان ئې الله تعالی ته منسوبوي.

دا د توحيد د اثبات او د متعددو خدايانو د غلطي انګېرنې د تردید په

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

ارتباط دومره مضبوط دلیل دئ چې هر عاقل او باضمیره انسان قانع کوي او د انکار هره پلمه ترې سلبوي؛ دا آیت وایي: د دې زمکې او آسمانونو پیدا کوونکی او پالونکی رب یو دئ، د عالم په اداره او سمبالولو کې هیڅوک له هغه سره شریك نه دئ، په آسمانونو او زمکې کې د یوه الله حکم نافذ دئ او له همدې یوې مرجع د ټولو ساتنه او پالنه کېږي، له همدې کبله د عالم د دې بې حسابه اجسامو او اجرامو ترمنځ ټکر او تصادم نه راځي او هر څه په خپل خپل مدار او مسیر کې اداره کېږي، د دې پراخ عالم په هیڅ برخي کې توپیر، تضاد، بې نظمي، تشه، خلا او تعارض نه موندل کېږي، که چېرې د دې خور او پراخ عالم اداره، حفاظت او ساتنه په مختلفو لاسونو کې وی، هرومرو به د ارادو اختلاف په ټکر او تصادم منتج کېدو او د دنیا نظم به متلاشي کېدو. د زمکې او آسمان ترمنځ یووالی او هم جهتي دا ثابتوي چې د دواړو خالق، پالونکی او ساتونکی یو دئ.

د کوم نظام په سر کې چې دوه رئیسان وي؛ داسي نظام؛ دوه اشترنګه ګاډي ته ورته وي؛ چې هره شېبه د دوو ډریورانو تر منځ؛ د مسیر بدلولو لانجه رامنځته کېدی او په ټکر منتج کېدی شي!!

په اسلامي نظام کې خلیفه؛ چې د ټول ولس له خوا غوره کېږي، د ولس په استازیتوب د ټولو دولتي چارو مسئول دئ. د خلفاء راشدینو په دوران کې مور نه د خلیفه ترځنګ د صدر اعظم مثال موندلی شو او نه د دوو چارواکو تر منځ د قدرت د وېش مثال. په دې اساس په ټول جرأت سره ویلی شو چې هغه نظام له اسلام سره اړخ نه لګوي چې په سر کې ئې دوه باصلاحیته چارواکي؛ د صدراعظم او جمهور رئیس په نامه ولري او قدرت د دوی تر منځ په یوه خاص تناسب ووېشل شي. داسي نظام نه یوازي له اسلام سره اړخ نه لګوي؛ بلکې په ټولو هېوادونو کې ئې بدې پایلې درلودلې او د عدم ثبات باعث او د چارواکو او ولس ترمنځ د شخړو او سیالۍ موجب ګرځیدلې. له اسلام سره هغه نظام اړخ لګوي چې ولسمشر ئې د ولس له خوا غوره شي، د

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

چارو واګي د ده په لاس کي وي، خو په خوا کي ئې داسي ځواکمنه او باصلاحيته شورى وي چې د ټول ملت استازيتوب کوي؛ نه د هغو کسانو چې بريالیو کاندیدانو ته ئې رأيه ورکړې، په شورى مکلف وي، قدرت او صلاحيت او په ملت پوري مربوط وسائل او امکانات امانت وګڼي او د شورى له پرېکړو سره سم په هغه کي تصرف وکړي، په شخصي ژوند او له ملي شتمنيو؛ په استفادې کي له هيڅ مسلمان؛ هيڅ امتياز ونه لري، هيڅ څه له مشورې پرته ونه کړي.

اسلامي نظام که غربي جمهوريت؟

هغه چې د امير د انتخاب په اړه له اسلامي لارښوونو واقف نه دي؛ او هغه چې د درباري مفتيانو له فتواګانو او نظرياتو متأثر شوي او هغه چې غواړي د خواصو او نخبه وو په لاس د امير ټاکل جائز ثابت کړي؛ او هڅه کوي چې د امير ټاکنه د ټولو مسلمانانو حق او وجيبه ونه منل شي؛ نو د دې پر ځای چې له قرآن، حديث او د صحابه وو له منهج؛ کوم سند او دليل وړاندي کړي؛ وايي: دا خو غربي جمهوريت او ديموکراسي ده؛ چې د جمهور رئيس ټاکل ئې د عام انتخاباتو له لاري وي؛ په دوى کي مو داسي شاغلي هم وليدل چې نه له ديموکراسي خبر دي، نه له جمهوريت، نه له غربي انتخاباتو او نه هم له اسلام!! اسلام ئې د مدينې اسلام نه بلکي د خپل کلي د هغه امام اسلام دئ چې له ټول اسلام ئې فقط دومره زده کړي چې وکولى شي په جومات کي د لمانځه امامت وکړي.

له همدغو شاغليو يوه ليکلي: زما د ناقصو معلوماتو له مخي شاغلى حکمتيار صاحب لومړى قلم وال دئ چې په دې باب جلا او مخالف نظر لري!! د نومورې په اند د امير ټاکل د اهل الحل و العقد دنده نه ده!! بلکي د يوه هېواد ولسمشر يا امير د عامو انتخاباتو له لاري ټاکل شرعي بولي!! کوم چې د غربي جمهوريت او ديموکراسۍ د ستر اصل په توګه ګڼل کېږي.

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

په دې اړه څو عرائض لرم:

- دې ښاغلي ته مو په ځواب کې لیکلي وو: تا خو په خپلې رسالې کې؛ د داسې لیکوالو او علماءو په نویو نویو نظریاتو استناد کړی چې له دیارلسمې پیړۍ وروسته او حتی په پنځلسمې پیړۍ کې راڅرګند شوي؛ او نظریات ئې هم داسې چې مخکینیو نه وو ویلي، څنګه هغوی ته د نویو نظریاتو وړاندې کولو حق ورکوي او نورو ته نه؟!
- په دې اړه ستا معلومات یقیناً چې ناقص دي، ځکه چې ټولو محققو علماءو، فقهاءو او امامانو همدا خبره کړې چې د مسلمانانو معلن او بلا اکراه بیعت د امارت لپاره لازمي شرط دئ، له معلن او غیر مکره بیعت پرته د هیڅا امارت نه مسلم کېږي. تاسو د دغو ټولو د متفقه خبرې په خلاف وایئ چې بیعت شرط نه بلکې د خلکو وجیبه ده، ګواکې امیر به د څو کسانو په خوښه ټاکل کېږي او خلك په دې مکلف دي چې له همدغه امیر سره به بیعت کوي!!
- که د څو کسانو بیعت کافي وي نو بیا خو ستا تر امیر وړاندې ګڼ شمېر داسې امیران تیار موجود وو چې په لکونو مسلمانانو ورسره بیعت کړی وو، د حزب اسلامي په انتخاباتو کې نږدې یو ملیون غړو برخه اخیستې وه او له خپل امیر سره ئې بیعت کړی وو، که په کندهار کې زر کسان راغونډ شو نو دا اوس د نصرت مېنې په پندغالي کې همدومره او هغوی ته ورته اهل حل و عقد راغونډېدی شي، آیا د دوی پرېکړه منې؟ زه بلنه درکوم راشئ زر نه بلکې پنځه سوه اهل الرأی یا اهل حل و عقد به د اسلامي معیارونو له مخې په ګډه غوره کړو او هغوی ته به اختیار ورکړو چې د هېواد لپاره په اتفاق یا د رأیو په اکثریت سره امیر غوره کړي، مونږ د دوی پرېکړه منو، آیا تاسو ئې منلو ته تیار یئ؟ مونږ دغه طرح؛ د طالبانو د اسلامي تحریك د رامنځته کېدو په لومړیو کې هم هغوی ته وړاندې کړه او پر افغانستان د امریکایي ځواکونو له یرغل وروسته هم؛ خو هغوی ورسره

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

موافقه ونه کړه!!

- که هر چا ته د خپلې خوښې خلك راغونډول او هغوی ته د اهل حل و عقد نوم ورکول او پر نورو د دوی پرېکړه واجب التعمیل ګڼل؛ جائز وګڼو؛ نو دا خو سترو سترو او خونړیو فتنو، پېښو او نښتو ته لار پرانیزي!!
- د ولس له لوري د امیر انتخاب د غربي جمهوریت ابتکار نه دئ، دا د اسلام هغه ستر افتخار دئ چې تر اسلام مخکې ئې د تاریخ په اوږدو کې نظیر نه مومو، د اسلام یو ستر افتخار د غربیانو په پښو کې مه ذبح کوئ، هغوی ته ئې مه منسوبوئ، کله چې د انسان په اوږده تاریخ کې؛ د لومړي ځل لپاره؛ د مسلمانانو لخوا؛ د عام ولس له لوري؛ په جومات کې د یوه ستر ملك خلیفه غوره شو، هغه مهال په غرب کې چا د دې تصور هم نشو کولی، هغه مهال غربیانو د جهل، اختناق او استبداد په تیارو کې ژوند کولو او پر غربي هېوادونو داسې دیکتاتورانو او امپراطورانو د توري او نېزې په زور حکومت کولو چې اقتدار ئې د خپلې کورنۍ مسلم او حتی الهي حق ګڼلو، له واکمن به اقتدار زوی، لور، ښځې او حتی د مور په رحم کې ماشوم ته په میراث پاته کېدو، همغسې لکه چې د یهودانو په لاس جوړ شوي یوه مذهب کې پنځه کلن ماشوم امام شو، پنځه کلن غائب ماشوم امام زمان شو!!
- د راشدینو خلفاءو اهل الرأی خو هغه صحابه وو چې په بدر کې ئې برخه اخیستې وه، هر اسلامي تحریك بدریان لري، د دوی بدریانو ته باید پر نورو داسې ترجیح ورکړی شي لکه صحابه وو چې خپلو بدریانو ته پر نورو ترجیح ورکوله، د افغانستان د اسلامي تحریك بدریان هغه دي چې له کمونیستانو سره ئې لومړۍ نښته پنځوس کاله د مخه په پوهنتون کې وه، یا هغه چې د داؤد په ضد ئې جهاد پیل کړ، یا هغه چې د ۱۳۵۷ کال د ثور په نهمه ئې جهاد شروع کړ، یا هغه چې لومړی ډز د دوی له لوري پر روسانو وشو، لومړی شهید د دوی وو، لومړی زخمي د دوی وو، لومړی بندي د دوی وو، لومړی مهاجر له دوی وو، زمور بدریان خو هغه دي چې د اسلام او

deenodanish.com ځخه ښکته شوی Deen-o-Danish

جهاد بيرغ د دوی په لاس ورپېډو، افغانان دوی راوېښ او جهاد ته چمتو کړل، دا خو ټول په حزب اسلامي کې دي، افغانانو ته خو د جهاد درس دوی ورکړی، يقيناً چې دوی به د ټولو هغو مجاهدينو په جهاد کې برابر شريك وي چې له دوی وروسته؛ د جهاد سنگر ته راوتلي او د اسلام لپاره ئې قربانۍ ورکړې.

- څوك چې د حزب اسلامي خلاف جنګېدلی؛ يا له اسلام سره د دښمني له کبله جنګېدلی او يا د بهرنيانو په اشاره جنګېدلی يا له اسلام د بې خبرۍ له کبله جنګېدلی. چا چې په هر دليل د حزب اسلامي مجاهدين وژلي، ځورولي او له دوی ئې هغه وسلې اخيستې چې له روسانو ئې غنيمت کړې وي؛ که ترقيامته نېك عملونه وکړي؛ دا ستره ګناه نشي جبرانولی!! څوك چې له حزب اسلامي سره جنګېدلی؛ الله تعالی سزا ورکړې، سمه ورځ ئې نه ده ليدلې؛ يا ايمان ترې تللی او کمونيستانو او روسانو ته په لاس اوږدولو مجبور شوی، يا اقتدار ترې تللی، يا ئې په زرګونو هغه جنګيالي وژل شوي چې له حزب سره جنګېدلي، يا هغه بهرنۍ او کورنۍ کړې ترې جلا شوې او د دوی له دښمنانو سره يوځای شوې چې د هغوی په وينا له حزب سره ئې د دښمني ملا وټرله او وجنګېدل.
- د چا په څنګ کې چې د حزب اسلامي خلاف جنګېدلي؛ څو ورځې وروسته له همغو سره په اوږدو او خونړيو جګړو کې ښکېل شوي؛ د چا په مرسته، ملګرتيا او اشاره چې له حزب اسلامي سره جنګېدلي؛ د همغو په لاس وژل شوي او سپك شوي!!
- د څو ورځو اقتدار ئې داسي وو چې نه په خپله پرې راضي او قانع ول، نه ئې ملګري، نه ولس او نه هم الله تعالی، نه ئې د دين لپاره مثبت او اغېزمن کار کړی او نه د دنيا لپاره د يادولو رغنده کار.

حقيقت دا دئ چې معدودو کسانو ته د امير د انتخاب واك سپارل؛ بد او خطرناك عواقب لري، دا ځکه چې د معدودو کسانو پېر پلور آسان او

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

ارزان وي، د افغانستان په څېر هېواد کې د دې کار عواقب تر بل هر ځای زیات خطرناك دي، مورِ شتمنو او کینه کښو دښمنانو محاصره کړي یو، د افرادو اخیستل ورته ډېر آسان کار دئ، زه ډېر داسي کسان پېژنم چې هم ئې د هرات او کابل په جرګو کې برخه اخیستې وه او هم ئې د کندهار او په پای کې بیا د کابل په لویي جرګې کې، له ټولو ئې د خپلې رأیې په مقابل کې رشوتونه ترلاسه کړي، هم ئې خپل دین او ایمان خرڅ کړی او هم خپل هېواد! که د امیر انتخاب په معدودو کسانو پوري مربوط شي تل به دا ترخه تجربه تکرارېږي، هرڅوك چې د اقتدار پر کرسۍ ناست وي یا تر نورو ډېرې پیسې ولري، دوی به اخلي او د خپلې خوښې فتواوي به پرې مهر کوي!!

انتخابات

د اسلام له نظره د انتخاباتو په ارتباط څه ویلی شو؟ جائز دي او که ناجائز؟ بېلګه او مثال ئې په اسلام کي مومو که نه؟ که انتخابات جائز وي نو مونږ به څه ډول انتخابات غواړو؟ اسلام د امیر د انتخاب حق ولس ته ورکړی که نه؟ دا هغه مهمه موضوع ده چې باید مسلمان وربانديي پوه وي او چې له اعتراض او انتقاد سره مخامخ کېږي او چې څوک ئې پوښتي؛ هغوی ته قانع کوونکی إسلامي ځواب وویلی شي. زمونږ باور دا دئ چې انتخابات په اصل کي هماغه بیعت دئ چې په نتیجه کي ئې امیر غوره کېږي، انتخابات یعني د بیعت یو مناسب بدیل. همغه استفتاء ده چې د عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه په لاس؛ مدینه منوره کي؛ څوارلس پېړۍ وړاندي ترسره شوې، او په نتیجه کي ئې یو ستر شخصیت؛ عثمان رضي الله عنه د امیر په توګه غوره شوی.

په اوسنیو شرائطو کي د دې استفتاء او انتخاباتو غوره طریقه کومه ده؛ چې هم ټول مسلمانان په کي برخه واخلي او که نوماندان ډېر وي؛ هغه مهال دوه وو، ابتداء کي شپږ وو، ځینې تېر شول، په پای کي دوه نفره پاته

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

شول، او د دوو ترمنځ استفتاء شوې، د مدیني له خلکو پوښتنه شوې چې د امارت لپاره له دغو دوو کوم درته مناسب او اهل برېښي؟ استفتاء یعنې فتوا غوښتل، رأی غوښتل، له خلکو پوښتنه کول؛ یعني انتخابات. د استفتاء او انتخاباتو تر منځ د معنی او مفهوم له پلوه هیڅ توپیر نشته، په دې استفتاء کي هغه مهال هم له نارینه وو پوښتنه شوې، هم له ښځینه وو، هم له مسافر پوښتنه شوې او هم له مقیم. ټول هغه کسان چې رسېدنه او پوښتنه ترې ممکنه وه، هغوی ته عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه؛ په دریو ورځو او شپو کي رسېدلی او پوښتنه ئې ترې کړې، له هر یوه ئې پوښتلې: د امارت لپاره څوک مناسب ګڼئ؟ د مدیني اکثریت ئې داسي موندلې چې عثمان رضي الله عنه ته ئې ترجیح ورکړې، عثمان رضي الله عنه د پیغمبر علیه السلام زوم وو، یوه او بیا ئې بله لور هغه ته په نکاح ورکړې، لوی شخصیت؛ په ډېر زیات سخاوت مشهور، پیغمبر علیه السلام ډېرو جرګو او مرکو ته لېږلی، د حدیبیې تر معاهدې وړاندي د پیغمبر علیه السلام له لوري مکي ته لېږل شوی وو، له ځینو سره د مذاکراتو لپاره، په همدې دوران کي پیغمبر علیه السلام ته اطلاع ورسېدله چې هغه په شهادت رسېدلی، ټول صحابه کرام ئې راغونډ کړل، د یوې وني تر سیوري لاندي، ټولو له رسول الله صلی الله علیه و سلم سره بیعت او تعهد کړی چې د عثمان رضي الله عنه انتقام به اخلو، دا بعیت، تعهد او ژمنه لاس په لاس ترسره شوې ده، په قرآن کي د دې تعهد او ژمنې یادونه شوې؛ د بیعت رضوان په نامه یاده شوې، دا بیعت رضوان د عثمان رضي الله عنه په ارتباط؛ له هغه د دفاع په موخه او که هغه په شهادت رسېدلی وی؛ د هغه له قاتلانو د انتقام بیعت وو. دغه بیعت ته الله تعالی دومره ارزښت ورکړ چې په قرآن کي ئې یادونه وکړه، او وئې فرمایل: له هغو خلکو الله تعالی راضي دئ چې له پیغمبر علیه السلام سره ئې دلته بیعت کړی، او فرمایي: د دغه بیعت پر مهال د الله تعالی لاس ستاسو د لاسونو د پاڅه وو، یعنې په حقیقت کي دا بیعت یوازي له پیغمبر

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

علیه السلام سره نه وو، بلکې له خپل رب سره تاسو بیعت کړی وو!! له دې اندازه لګولی شو چې د عثمان رضي الله عنه شخصیت څومره ستر وو؛ الله تعالی ته څومره محبوب او مسلمانانو ته څومره محترم؛ د هغه لپاره ټولو تعهد وکړ چې د خپل سر په بیه به د هغه انتقام اخلو. همدې ته د مدینې اکثریت مؤمنانو ترجیح ورکړه. طبعاً چې هغه د امارت لپاره تر علي رضي الله غوره وو، دلائل ئې دا دي: نبي علیه السلام دوه لونې په نکاح ورکړې، یوه په بلي پسې، عثمان رضي الله عنه په عمر پوخ وو، تر علي رضي الله عنه د هغه عمر زیات وو، علي رضي الله عنه لا دا مهال ځوان وو او د عمر او تجربې له پلوه؛ د امارت او خلافت لپاره مناسب نه وو، وروستی دلیل دا چې صحابه وو انتخاب کړی وو او تر علی رضي الله عنه ئې هغه ته ترجیح ورکړې وه، مونږ د صحابه وو رأی ته درناوی او احترام لرو؛ هغوی په اسلام ښه پوهېدل، هغوی د دوی دواړو ترمنځ ښه قضاوت کولی شو چې څوک دغه مهال د امارت لپاره افضل او غوره دئ. همدې ته په پام سره وایو: د انتخاباتو بنسټ؛ په بشري تاریخ کې؛ د لومړي ځل او لومړي مثال په توګه اسلام ایښی دئ، تر دې وړاندې تاسې په تاریخ کې د دې بېلګه او مثال نه شئ وړاندي کولی چې یو زعیم دي وفات شوی یا وژل شوی وي، بیا دي د ده له کورنۍ، زوی، ورور، مېرمن، لور، تره او نورو خپلوانو پرته؛ د ده یو فکري ملګری ځای ناستی ټاکل شوی وي او دا ځای ناستي دي هم د عام ولس په رأی انتخاب شوی وي، د عام ولس رأیي ته دي مراجعه شوې وي، نخبه وو او خواصو دي فیصله نه وي کړې، د قدرت خاوندانو دي خپلو منځونو کې اقتدار نه وي وېشلی او داسې څوک ئې نه وي راوړاندي کړی چې ځواکمنو او مخورو ته ئې هم خپل سهم او خپله برخه نه وي ورکړې، یو کس د ولس په رأی انتخاب شوی وي، دا اساس او بنسټ اسلام ایښی دئ، مونږ که د انتخاباتو خبره کوو همدې ته په پام سره ئې کوو، که په اسلام کې موروثي نظام وی مونږ به له هغه دفاع کوله. خو چې د خلیفه ټاکل د

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

مسلمانانو خوښي او انتخاب ته پرېښودل شوی، څلور خلفاء په جومات کې؛ د مسلمانانو په خوښه او د دوی د بیعت په نتیجه کې انتخاب شوي، او دا هم ځکه چې قرآن مؤمنانو ته لارښوونه کړې چې د امارت الهي امانت داسي چا ته وسپارئ چې اهل او وړ ئې وي. او د قرآني لارښووني عملي مثالونه؛ د صحابه وو په دور کې په خپلو سترګو او په تاریخ کې ګورو؛ همدې ته په پام سره وایو: انتخابات د امیر د ټاکلو اسلامي طریقه ده؛ بنسټ ئې اسلام ایښی دئ. انتخابات په اصل کې همغه بیعت دئ چې په نتیجه کې ئې امیر غوره کېږي، همغه استفتاء ده چې د عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه په لاس ترسره شوه او په نتیجه کې ئې عثمان رضي الله عنه امیر وټاکل شو.

په اوسنیو شرائطو کې د دې استفتاء او انتخاباتو غوره طریقه کومه ده؛ چې هم ټول مسلمانان په کې برخه واخلي؛ او که نوماندان ډېر وي؛ هغه غوره شي چې افضل وي او لازم مواصفات او وړتیاوي ولري، زموږ له نظره د انتخاباتو تر ټولو آسانه، مصونه، عادلانه او کم مصرفه طریقه دا ده چې:

داسي یو یا څو نوماندان وړاندي شي چې لازم مواصفات ولري او په شرائطو برابر وي؛ هماغسي لکه چې د عثمان رضي الله عنه د انتخاب په وخت کې وشول، یو معتبر او مقتدر هیئت باید د نوماندانو وړتیا وڅېړي او یوازي هغو ته د نوماندۍ اجازه ورکړي چې لازمه وړتیا او اهلیت ولري.

ټول هغه افغانان د هغوی په انتخاب کې برخه واخلي چې له شرعي پلوه د شهادت او ګواهي ورکولو حق لري؛ دا ځکه چې رأی ورکول په اصل کې شهادت ورکول او خپل وکیل ټاکل دي. چا ته رأی ورکول دا معنی لري چې ته شهادت ورکوې دا شخص د دې مقام لپاره تر نورو وړ او اهل شخص دئ او اعتراف کوې چې همدا شخص به د زعامت په مقام کې ستا وکیل وي.

دا نظر قطعاً ناسم دئ چې څوک فکر کوي؛ یوازي علماء به د امیر په انتخاب کي برخه اخلي، دلیل مو دا دئ چې صحابه وو داسې نه دي کړي، معدود علماء ئې راغونډ کړي نه دي چې امیر وټاکي، ټولو هغو کسانو په

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

انتخاباتو او د امیر په ټاکلو کې برخه اخیستې ده چې د شهادت او ګواهي ورکولو او د خپل وکیل د ټاکلو حق ئې درلودو. څوک چې لمانځه ته راتلی شو؛ د جومات دړه د هغه په وړاندې بنده نه وه، همدغو د امیر په انتخاب کې هم برخه اخیستې ده، زموږ عقیده او باور همدغه دئ. او د شهادت او ګواهي ورکولو له حق یوازې هغه څوک محروم دئ او د اسلام له نظره ئې شهادت اعتبار نه لري؛ چې فاسق وي او فاسق هغه دئ چې په یوې پاک لمنې مېرمني ئې تور لګولی او نه دئ توانېدلی چې څلور شاهدان وړاندې کړي، دا فاسق دئ او الله تعالی موږ ته لارښوونه کوي چې د هغه هیڅ شهادت به نه قبلوئ. هر څوک حق لري چې خپل وکیل وټاکي، د خپل نفس وکیل هم ټاکلی شي او د خپل مال هم، په نکاح کې هم یوه مېرمن او هلک کولی شي چې ځان ته وکیل وټاکي؛ چې د مهر پرېکړه هم هغه وکیل کولی شي او د دې نکاح د ټرون پرېکړه هم. موږ باور لرو چې د نکاح اهمیت تر دې ډېر ډېر زیات دئ چې یو څوک خپل امیر ته رأی ورکوي چې ته زما امیر او وکیل یې؛ یو څوک چې چا ته خپل نفس حواله کوي؛ ژمنه کوي چې له نن وروسته ته زما د ژوند د سفر ملګری یې، ګډه کورنۍ جوړوو او ته په دې کورنۍ کې زما قیم یې، دا تر دې ډېر اهمیت لري چې یو څوک یوه امیر ته رأی ورکوي، که په نکاح کې شریعت چا ته دا حق ورکوي چې د ځان وکیل وټاکي؛ نو د امیر د انتخاب حق هم لري.

څوك چې نوماند کېږي؛ باید معتبره مرجع ئې غوره، تزکیه او تأیید کړي؛ نه دا چې په خپله کاندید شي؛ غوراوی او تزکیه به ئې د خپلې ډلې او ګوند له لوري وي او تأیید ئې د نخبه وو یوه هیئت له لوري. یعني هر څوک په انفرادي توګه ځان د امارت لپاره راوړاندي او نوماند کولی نه شي، بلکي باید هغه داسي یوه مجموعه راوړاندي او نوماند کړي چې د امارت په دوران کې هم د ده په څنګ کې وي او د هغوی په مرسته هېواد اداره کړی شي، د هغوی په ملګرتیا وکولی شي موفق حکومت جوړ کړي؛ حکومت کول

deenodanish.com ځخه ښکته شوی Deen-o-Danish

او د یوه هېواد اداره کول؛ د یوه شخص او فرد کار نه دئ، دا قطعاً غلط کار دئ چې یو کس راپورته شي او ځان د امارت لپاره کاندي کړي؛ په داسي حال کې چې په ټول ملت کې معدود شمېر اغېزمن، مؤثر او آزمویل شوي شخصیتونه ئې هم په څنګ کې نه وي، سیاسي سابقه هم نه لري، په خوا کې کوم ګوند هم نه لري چې وکولی شي یو موفق حکومت جوړ کړي او هېواد اداره کړی شي، د داسي نوماندانو باید مخنیوی وشي. هر نوماند باید د یوې مرجع او مجموعې له لوري تزکیه شوی وي.

ټول افغانستان یوه انتخاباتي حلقه ومنل شي او دا مسئله د تل لپاره منتفي شي چې د نفوس له مخې او یا د اداري واحدونو په اساس دي انتخاباتي حوزې وټاکل شي. لکه چې همدا اوس معمول ده او بدي پایلې ئې په خپلو سترګو ګورو. موږ هغه سیستم او نظام غوره ګڼو چې ټول افغانستان یوه حوزه وګڼل شي.

هر افغان په هر ځای کې؛ په داخل او خارج کې؛ رأیه ورکړی شي، په دې به مکلف نه وي چې یوازي په خاصي انتخاباتي حوزې کې رأیه ورکولی شي.

رأیه یوازي یوه شخص او د هغه معاون ته نه بلکې د کاندید شوو مجموعي پلان، منصوبې، تګلاري او د دوی له لوري د جمهوري ریاست، مرکزي او ولایتي شوراګانو لپاره نومول شوو کسانو ته ورکړی شي. یعنې څوک چې د جمهوري ریاست لپاره کاندید کېږي؛ هغه یوازي یو داسي شخص نه دئ چې د اقتدار لاس ته راوړو لپاره په خپل سر او یوازي میدان ته راوتلی، بلکې هغه د یوې ډلې له خوا کاندید شوی، دا ډله کېدی شي یو حزب وي او یا یوه ائتلافي جبهه او یا یوه انتخاباتي مجموعه او د خاص کاندید ملاتړي، دا مجموعه به د ټول هېواد او دهېواد د اداري لپاره واضح منصوبه او کافي باکفائه پرسونل معرفي کوي، د جمهوري ریاست لپاره د دوی کاندید باید ملت ته ووایي چې تګلاره ئې څه ده او د هري انتخاباتي حوزې لپاره څوک اهل ګڼي. په دې سره ولس دا موقع ترلاسه کوي چې د خاصي

deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

تګلاري خاوند او د ده مجموعې ته رأیه ورکړي. دا ځکه چې حکومت کول د شخص کار نه دئ؛ د موفق حکومت جوړولو لپاره یوه داسي حزب ته اړ یو چې کافي شمېر اهل او متعهد غړي ولري، د هېواد اداره کولو توان، ظرفیت او کافي تجربه ولري، د مبارزې په دوران کې ځې ولس ته ښه امتحان ورکړی وي؛ په ملي قضایاوو کې ځې تل معقول او د ملي منافعو په ګټه مثبت دریځونه غوره کړی وي.

له انتخاباتو وروسته هره انتخاباتي مجموعه د خپلو ترلاسه کړو آراءو په تناسب د خپل اعلان شوي فهرست له لومړیو کسانو مجلس ته غړي لېږي، کومي مجموعې چې مثلاً ۳۰ سلنه آراء ترلاسه کړل، د دوی د لست له لومړیو نومونو به د مجلس د غړو دېرش په سلو کې غوره کېږي او چا چې تر دې کم یا زیات ترلاسه کړل؛ د خپلو آراءو په تناسب به له خپل اعلان شوي فهرست غړي معرفي کوي.

جمهور رئیس به هغه وي چې تر ټولو ځې زیاتې رأیې ترلاسه کړي.

په ځینو هېوادونو کې دې طریقې ته ورته انتخابات ترسره کېږي، ښه والی ځې په دې کې دئ چې:

۱- انتخابات یو ځل وي او د څو ځله رأی اخیستني، بې ځایه مصرف او د ولس له بې ځایه لالهانده کولو ډډه کېږي.

د محلي رقابتونو مخنیوی کېږي.

منتخب استازی ځان د خاصې سیمې او ولس وکیل نه بلکه د ټول ملت استازی ګڼي، په مجلس کې په ملي ګټو او مصالحو تأکید کوي؛ نه د موکلینو د خوشحالولو لپاره د خاصې سیمې لپاره د امتیازاتو ترلاسه کولو لپاره.

هر رأیه چې صندوق ته لوېږي اعتبار او وزن لري او په مجلس کې ممثل او استازی لري. داسي نه وي چې ناکام کاندید ته د رأی په ورکولو سره په مجلس کې د استازي او وکیل له درلودو محروم شي.

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

د انتخاباتو په اوسنیو سیستمونو کې ټول هغه کسان په پارلمان کې وکیل نه لري چې ناکام کاندید ته ئې رأیه ورکړې وي، او معمولاً د ناکامو کاندیدانو د رأیو شمېر د بریالیو کاندیدانو په نسبت څو چنده زیات وي، دغه پارلمان د یو اقلیت ممثل وي؛ نه د ټول ملت. هغه طریقه د انتخاباتو چې مور ئې وړاندې کوو، هره رأیه په پارلمان کې وکیل لري، هیڅ څوک بې وکیله نه پاته کېږي، دا ځکه چې هغوی یوه فهرست ته رأیه ورکړې، نه یو معین شخص ته، په دې انتخاباتو کې کامیاب او ناکام نشته، دا انتخابات د قمار په څېر نه دي، چې بس تصادفي یوه کس تر نورو یوه رأیه زیاته وګټله، هغه به بریالی وي او دا نور چې تر ده ئې په ګډه رأیه زیاته هم ده، او که د دوی له منځ یو او دوه کاندید شوي وی نو هغه به بریالی او دا بریالی به ناکام وو، خو هغو چې ناکامو کاندیدانو ته ئې رأیه ورکړې ده په پارلمان کې هیڅ وکیل نه لري.

په دې طریقې کې د ټولنې له اقلیتونو سره عادلانه چلن کېږي او د اقلیت او اکثریت معضله نه راپور ته کېږي.

په دې کې د انتخاباتي حلقو د تثبیت ضرورت هم منتفي کېږي، هر افغان په هر ځای کې رأیه ورکولی شي. په زاړه سیستم کې دا هم یوه لویه ستونزه ده چې انتخاباتي حوزې به څنګه ټاکل کېږي؟ څوک چې جمهور رئیس وي او په یوه قوم پوري تړلی، هغه به په خپلو سیمو کې ډېرې انتخاباتي حوزې جوړوي، مخکې همداسې شوي. په همدې موخه چې بیا په پارلمان کې زیات وکیلان ولري.

هره مجموعه هڅه کوي چې تر ټولو صالح کسان د کاندیدانو په فهرست کې معرفي کړي؛ چې د ملت باور او اعتماد ترلاسه کړي.

انتخابات د بډایانو او فیوډالانو له ولکې باسي او د درېیمې او متوسطې طبقې غوره او صالح کسانو ته هم لار پرانیزي.

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

ناسم تعبير؛ د غلطي ادعاء بنسټ

څو کاله وړاندي؛ د حزب اسلامي له لوري نشر شوې يوې رسالې کې د هغې رأيې په اړه بحث شوی چې د عباسيانو په دوران کې د درباري علماءو له لوري وړاندي شوې وه او د امير ټاکنه ئې په غوره شوو خواصو پورې تړلې وه،... يوه ښاغلي هڅه کړې چې له دې تبليغاتي وسيله جوړه کړي او داسي ئې تعبير کړي چې گواکې په دې وينا سره د اموي او عباسي حکامو د دوران سترو سترو علمي او مذهبي شخصيتونو ته هم سپکاوی شوی!! حال دا چې په رسالې کې ليکل شوي: "دا خبره چې راشد خلفاء د خواصو له لوري غوره شوي؛ يا هغه څوک کولی شي چې د امير د ټاکلو په اړه اسلامي لارښووني او ټول حقائق له پامه وغورځوي او يا هغه چې د کوم دربار مفتي وي. دا مفتيان د عربي ژبې يوه اصطلاح د اهل حل و عقد په نامه داسي کاروي لکه چې دا د قرآن د کوم آيت او يا د پيغمبر عليه السلام د کوم حديث برخه وي او ادعاء کوي چې د امير ټاکنه د اهل حل و عقد دنده ده!! په داسي حال کې چې دا اصطلاح د عباسي سلاطينو او امراءو د وخت زېږنده ده، دا اصطلاح او دا چې امير به د دوی له لوري ټاکل کېږي؛ نه په قرآن کې مومو او نه په احاديثو کې، نه په څرگندو الفاظو او نه تلويحاً، دا اصطلاح هغه مهال جوړه او رائج شوه چې جابرو سلاطينو زعامت موروثي کړ، د زعيم انتخاب ئې د خپلې خوښې خواصو حق وبالو او بيعت ئې داسي شکلي مراسم چې د زعيم له ټاکلو وروسته ترسره کېږي، هغه مهال چې امراء به د جومات په ځای په قصرونو کې غوره کېدل او دا صريحاً د قرآن او سنت او د صحابه وو د منهج خلاف او يو کرکجن بدعت وو." نه پوهېږو چې ليکوال د رسالې الفاظو ته نه دئ متوجه شوی او که ئې عمداً غوښتي چې غلط ئې تعبير کړي؛ همغه کار چې تل ئې په غرض او مرض اخته بيمار ليکوال کوي؛ لومړی د بل خبره غلطه تعبيروي او بيا همدا غلط تعبير د خپلو ناسمو نيوکو

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

او اعترضاتو بنسټ جوړوي!! دې جناب همدا کار کړی او پر درباري مفتيانو اعتراض ئې داسي تعبير کړی چې د عباسيانو او امويانو د دور د هغو لوړو لوړو شخصيتونو فقهي او علمي هڅو ته ئې هم وغزوي چې زمونږ امامان ئې هم په ضمن کې دي، دوی ته په درناوي سره وايو: علمي څېړنه او غيرمغرضانه قضاوت داسي نه وي، علمي څېړونکي هم خپله رأيه په دقت سره وړاندي کوي او هم د بل رأی سمه او په امانت سره تعبيروي. په رسالې کې نه دي ويل شوي چې دا اصطلاح جوړول صحيح کار نه وو، بلکې ليکل شوي چې د درباري مفتيانو له لوري د سلاطينو او امراءو په ګټه کارول ئې ناسم کار وو.

ليکوال په همدې لړ کې او له کوم ارتباط او مناسبت پرته ليکلي: "د دې خبرې ډېر ښه سپيناوی: چې اهل الحل و العقد د صحابه وو او عين د راشده خلافت پر مهال يو معلوم ټولی او خلك وو!! د پاکستان د جماعت اسلامي بنسټ اېښودونکي مولانا ابوالاعلی مودودي صاحب کړی!!" دا خبره همدلته نيمګړې پرېږدي او پرته له دې چې ووايي مولانا مودودي د خلفاءو د ټاکنې د څرنګوالي په اړه څه ويلي؛ دا ئې د عامو مسلمانانو کار ګڼلی که د خواصو؛ خلفاء په جومات کې او د ټولو مسلمانانو په خوښه غوره شوي که د خواصو له لوري؟ لومړی بيعت شوی او بيعت کوونکو پر امير خپل شرائط وضع کړي بيا ئې مشروط بيعت کړی او په دې توګه او له بيعت وروسته امير ټاکل شوی او که امير له کومي بلي لاري او له جومات بهر د خاصو وګړو له لوري غوره شوی او بيا خلکو بيعت کړی؟ خبره همداسي نيمګړې پرېږدي او وايي: حکمتيار صاحب د تفهيم القرآن په پښتو ژباړې باندې تقريظ ليکلی؛ يوه برخه ئې رااخلي او دا نتيجه ترې راباسي چې دوی له جماعت اسلامي سره نږدې مناسبات او اړيکي لري، او بيا د مولانا مودودي صاحب دا وينا رانقلوي: د رسول الله صلی الله عليه وسلم په زمانه کې د شورى لپاره مجلس شتون درلود، وروسته د خلفاءو رضی الله عنهم په زمانه کې دې

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

مجلس پراختیا پیدا کړه؛ تر دې چې د ځینو ذهینو خلکو په ګډون سره د شوری کړنو او هڅو عامه قبولیت ترلاسه کړ او دا هغه خلك وو چې ورته اهل الحل و العقد ویل کېده! ....

د دې جناب په ځواب کې لیکل شوي:

په دې خبري کې نه له تا او نه بل چا سره اختلاف لرو چې پیغمبر علیه السلام او راشدینو خلفاءو د شوری مجلسونه درلودل.

خو دا ادعاء چې دوی د اهل الحل و العقد په نامه یادېدل د هیڅا له لوري د منلو وړ نه ده، ځکه هغه مهال دا اصطلاح اصلاً نه جوړه شوې وه او نه کارول شوې، نه په روایاتو کې راغلې او نه په تاریخي اسنادو کې.

پیغمبر علیه السلام چې کله هم د مشوري ضرورت احساس کړی او کومه مهمه پېښه رامنځته شوې؛ نو بدریان ئې راغونډ کړي دي، د هغوی لپاره د خلفاء راشدینو په وخت کې له بدریانو پرته بل نوم نه دئ کارول شوی.

او هغه څوك چې ادعاء وکړي راشدین خلفاء د معدودو خلکو له لوري غوره شوي؛ د حقیقت خلاف خبره ئې کړې، دا ځکه چې ټول په جومات کې او د عامو مسلمانانو له مشروط بیعت وروسته ټاکل شوي؛ همدغه بیعت د هغوی امارت ته مشروعیت ورکړی؛ بیعت کوونکو هغوی ته ویلي: یوازې تر هغه ستا اطاعت کوو چې ته د خدای او د هغه د رسول اطاعت کوې.

دا هم باید واضح کړو چې موږ د مرحوم مولانا ابوالاعلی مودودي په شمول؛ د هر هغه چا قدر کوو چې د اسلام لپاره ئې کوم ستر یا ووړ کار کړی؛ حتی که په دې لار کې ئې یو ګام پورته کړی، یوه خبره ئې کړې، یو سنت ئې احیاء کړی، یو آیت ئې تفسیر، ترجمه او تبلیغ کړی، یو کس ئې اسلام ته رابللی، جومات ته ئې راوستلی او یوه مستحب کار ته ئې هڅولی، خو باید ووایو چې موږ له جماعت اسلامي سره هیڅ تنظیمي اړیکې او مناسبات نه لرو. ستاسو د معلومات لپاره باید ووایو چې د افغانستان ډلې

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

په دې توګه جوړې شوې: جمعیت اسلامي په پښور کې د جماعت اسلامي له لورې، حرکت انقلاب اسلامي په پښور کې د جمعیت علماء اسلام له لورې، اتحاد اسلامي په پښور کې د سعودي له لورې او مشر ئې د اخوان المسلمین له مشر سره بیعت وکړ، او لیکوال ته ویل شوې: ته په خپله سبه پوهېږې چې طالبان څنګه او کله رامنځته شول او چا ئې مرسته کوله؟!! یوازینۍ اسلامي ډله چې د هېواد دننه، پنځوس کاله او تر ټولو وړاندې په خپله د افغانانو په لاس جوړه شوې؛ حزب اسلامي دئ.

پوښتنه کوو: آیا له جماعت سره اړیکې درلودل یا پر تفهیم القرآن تقریظ لیکل او د مولانا ابوالاعلی مودودي د اسلامي هڅو قدرونه؛ جرم دئ؟!! جماعت اسلامي خو د حزب دومره مرسته نه ده کړې لکه د طالبانو، کله چې شمالي ائتلاف د حزب په ضد جنګېدو نو جماعت اسلامي بې طرف وو، خو هغه مهال چې طالبان له شمالي ائتلاف سره جنګېدل؛ جماعت د طالبانو پلوي کوله!! دا جماعت اسلامي وو چې د امریکایانو د برید پر مهال ئې د طالبانو په تأیید کې سترې مظاهرې کولې. امید دئ تاسو د تکفیري انقلابیونو له ډلې نه وئ چې مولانا ابوالاعلی مودودي رحمه الله تکفیروي، جماعت اسلامي ته نږدې کسان مباح الدم ګڼي او ډېر ئې په همدې نامه وژلي!! خو هغه چا ته د خپل استاد په سترګه ګوري او درناوی ئې کوي چې جنرال پرویز مشرف ته ئې د څو جریبه زمکې په بدل کې د اعتماد رأیه ورکړه (دا هم هغه مهال چې پرویز مشرف د طالبانو په خلاف جنګ کې د امریکایانو ملګرتیا ته ملاتړلې وه، اوه سوه مجاهدین ئې لاس پښې تړلې امریکایانو ته سپارلي وو!!)، له پیپلز پارټي او عوامي نیشنل پارټي سره ئې د څو کرسیو لپاره ائتلافونه کړي او د بې نظیر بهټو واکمني ئې منلې او د هغې په حکومت کې ئې برخه اخیستې!!

مورِ خو د امریکایانو د برید پر مهال له طالبانو هم خپل ملاتړ اعلان کړ، پر افغانستان د أمریکا برید مو په کله وغندلو او د یرغلګرو په ضد مو

deenodanish.com څخه ښکته شوی له Deen-o-Danish

جهاد اعلان کړ، عملاً مو جهاد پیل کړ؛ په داسي حال کي د طالبانو په څنګ کي ودرېدلو ته چمتو شوو چي ناټو د أمریکا تر مشرۍ لاندي د طالبانو خلاف د پراخ زمکني او هوائي برید پرېکړه کړې وه، په څرګندو الفاظو مو وویل چي د طالبانو د دې اقدام ډېره قدرونه کوو چي د خپل حکومت ړنګېدل ئې ومنل خو دښمن ته تسلیم نشول، اوس هم د ټولو هغو طالبانو قدر کوو او د وروڼو په سترګه ورته ګورو چي د امریکایانو په ضد جنګېږي، په وار وار مو ویلي چي له دغو طالبانو سره هرراز ملګرتیا او ګډ کار ته چمتو یو، موږ دا اعلان حتی له تهران کړی، له هغه تهران چي د طالبانو په ضد له امریکایانو سره یو ځای شو!! که څه هم طالبان له حزب سره بې موجبه جنګېدلي، او دا په داسي حال کي چي امریکایانو موږ ته ویل: موږ خو ستاسو په ضد نه بلکي ستاسو د دښمنانو په ضد جنګېږو، خو موږ ورته ویل: که مجبور شو نو د خپل افغاني رقیب سل کاله حکومت منلی شو خو د یوه بهرني اشغالګر یوه ورځ حکومت هم نه منو!!

د شمالي ټلوالي او طالبانو تر منځ د جګړو په مهال ځینو بهرنیو هېوادونو موږ ته مکرر بلنه راکوله چي په دې جګړې کي برخه واخلو؛ خو موږ ورته ویل: که د استاد رباني او ملا محمد عمر مجاهد له منځه د یوه منلو مجال او ضرورت رامنځته شي نو ملا محمد عمر ته سل ځله ترجیح ورکوو!! زموږ قضاوت د هر چا په اړه د ایمان او عقیدې په رڼا کي دئ؛ که دوست وي که دښمن، که خپل وي که پردی، که ملا وي که مکتبي، که جماعتي وي او که جمعیتي.

د امیر د عزل موجبات

د امیر لپاره چي کوم شرائط او مواصفات ټاکل شوي؛ لکه ایمان، بلوغ، عقل، حریت، صحت، امانت، شریعت ته التزام، په ما انزل الله حکم کول، په امورو کي مشوره، نارینه توب او نور؛ د دغو مواصفاتو له مخي هم ټاکل

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

کېږي هم عزل کېدی شي؛ په ځینو مواردو کې مستحق العزل دئ او په ځینو کې واجب العزل. یعني د عزل اسباب دا دي:

- صحي، رواني او عقلي ناروغي او دومره زړښت چې په سمه توګه د کار کولو توان له لاسه ورکړي.
- په امانتونو کې خیانت
- په هغو چارو کې له ولس سره عدم مشوره چې په ټولو پوري مربوط وي.
- هغه شرائطه نه مراعاتول چې له ملت سره ئې پرې ژمنه کړې.
- له دښمن سره یو ځای کېدل او د هغوی لپاره کار کول.
- شریعت ته عدم التزام.
- په ما انزل الله حکم نه کول.

په کوم امیر او د مسلمانانو د ټولني په مشر کې چې دغه خصلتونه ولیدل شي، مسلمانان کولی شي هغه عزل کړي. د دې په رڼا کې تاسو فیصله کولی شئ؛ دا اوږده موده چې پر افغانستان چا حکومت کړی؛ هغوی د حکومت کولو وړ وو که نه؟ او مسلمانان په دې مکلف وو که نه چې هغوی عزل کړي؟ ویلی شو چې په دې څو پېړیو کې زمونږ حکام آزاد نه وو، مستقل نه وو، ملت نه دي غوره کړي، یو مهال دوی په لندن کې غوره کېدل، پاچایان او د دوی ځای ناستي هم، له شاهي کورنۍ هم او له شاهي کورنۍ بهر هم؛ د تقرر او عزل پرېکړې ئې په کابل کې نه کېدلې، یا به په لندن کې کېدلې، یا په پېښور کې یا په ډهلي کې؛ او راتلل به هم له همدغو لارو. او بیا یو مهال په مسکو کې غوره کېدل، او ډېری ئې هم له شماله راتلل. او دا دئ اوس زمونږ مشران یا په بُن کې ټاکل شوي دي او پرېکړې ئې په واشنګټن کې کېږي؛ دا پرېکړه چې څوک باید د افغانستان جمهور رئیس وي او د دي ولس قیادت او زعامت چا ته وسپارل شي؟ د اسلام په

deenodanish.com ځخه ښکته شوی له Deen-o-Danish

نسبت چې هغوی څه کړي هغه تاسو ته معلوم دي. څومره ئې شریعت ته التزام درلود، قضایاوو کي ئې څومره په ما انز الله حکم کړی دئ؟ امانتونو کي ئې تصرف داسي چې هیڅ څه ته ئې د امانت په سترګه نه دي کتلي، د غنیمت په سترګه ئې کتلي دي. ولس ته ئې هم داسي لکه چې د دوی د مفتوحه سیمي استوګن وي، دوی ورباندي په زور مسلط شوي وي، ټولواک وي، په امانتونو کي هر ډول تصرف کولی شي، په زرګونو جریبه زمکه یوه کس ته هم ورکولی شي! که تاسو یوازي په کابل کي د زمکو د وېش او تصرف وضعیت او تاریخ لږ وڅېړئ، نو درته جوته به شي چې ډېري ډېري زمکي د هغو په واك کي دي چې یا د واکمنو او پاچایانو خپلوان وو؛ یا د واکمنو له لوري هغوی ته د خدمت په بدل کي ورکړی شوې او یا بهرنیو ځواکونو د افغانستان د اشغال په دوران کي هغوی ته ورکړې چې د اشغالګرانو په خدمت کي غلامان او مزدوران وو.

د عزل مرجع

د اسلامي دولت په اساسي قانون کي د دې وضاحت شوی چې د امیر او جمهور رئیس د عزل واك او صلاحیت کومي مرجع ته سپارل شوی. هلته راغلي:

سترہ شوری په دوه ثلثه رأیو سره کولی شي ولسمشر عزل کړي، دا شوری د ولسمشر په غوښتنه، د یو ثلث غړو په غوښتنه او د ولسي جرګې د دوه ثلثه غړو په غوښتنه دائرېدی شي.

سترہ شوری د افغان ولس د ارادې تر ټولو ستر مظهر دئ چې غړي ئې دا دي:

۱. د ولسي جرګې غړي
۲. د ولسوالیو او ولایاتو د جرګو رئیسان
۳. ولسمشر او د ستري محکمې رئیس

deenodanish.com څخه ښکته شوی له Deen-o-Danish

٤. د قانون ساتي شوری غړي

وزیران کولی شي د ستړي شوری په غونډو کې شرکت وکړي پرته له دې چې د رأی ورکولو حق ولري. د دې تفصیلات د اسلامي دولت اساسي قانون کې ولولئ.

لکه چې ګورئ موږ د سنا په نامه ېېل مجلس حذف کړی؛ مخصوصاً داسي سنا یا مشرانو جرګه چې جمهور رئیس کولی شي ګڼ شمېر انتصابي غړي معرفي کړي؛ او کله چې ئې زړه وغواړي کولی شي د خپلې رأیي خلاف غړي حذف کړي؛ یعني دا چې د سنا غړي د هغه مأمورین دي، د هغه په خوښه او امر به هري قضیې ته رأیه ورکوي او که ئې مخالفت وکړ نو کولی شي چې فوراً په فوق العاده فرمان سره ئې منفک کړي؛ دا هیڅ عقلي او منطقي توجیه نه لري چې یو کس د جرګې نیمایي غړي معرفي کړي. د داسي مجلس اهمیت به څه وي؟ موږ خو جرګه د دي لپاره غواړو چې هغه د ولس استازیتوب وکړي او د ولس په استازیتوب د حکومت پر کړنو نظارت وکړی شي. حکومت د دې شوری له مشورې پرته هیڅ تصرف ونه شي کړی، داسي جرګې یوازي په دیکتاتوري نظامونو کي موندلی شو؛ هلته چې ملت او رأی ئې هیڅ ارزښت نه لري؛ واکمن مطلق العنان او د ولس مالك الرقاب وي.

فیدرالي نظام

ځینې په افغانستان کې د فیدرالي نظام پلوي کوي؛ دا د افغانانو د کومې ډلې خپله نظریه نه ده؛ له هغو پردیو ئې تقلید او اقتباس کړې او د هغوی په وینا ئې مطرح کړې او تبلیغات ورته کوي چې غواړي افغانستان تجزیه کړي؛ د لومړي ځل لپاره دا نظریه د پنځو تنو امریکایي کانګریس مینانو له لوري وړاندي شوه؛ دوی پنځه شپږ تنه افغانان په اروپا کې راغونډ کړل؛ له دوی د خپلې نظریې د تأیید او حمایت ترلاسه کولو په موخه؛ او له دې غونډې یوه تبلیغاتي وسیله جوړول. امریکا له افغان مجاهدینو د غچ

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

اخیستلو په بیماریې اخته شوې؛ غواړي یا به افغانستان د دوی دائمي اډه وي او یا به دا هېواد تجزیه کوي؛ فیدرالي نظام رامنځته کول؛ دې موخې ته په رسېدو کې د دوی مرسته کوي. شوروي اتحاد هم د کمونستانو د اقتدار په آخري شپو ورځو کې دې ته ورته منصوبه درلوده؛ غوښتل ئې د شمال نه (۹) ولایتونه بېل کړي او کابل؛ بلخ ته انتقال کړي؛ شوروي مشاورینو د هغه مهال صدراعظم؛ حسن شرق ته همدا دنده سپارلې وه چې د خپلې خط مشي اعلانولو په ضمن کې به کابل بلخ ته انتقالول اعلانوي؛ د خط مشي متن د شوروي مشاور له لوري لیکل شوی او د پارلمان په وړاندې د ویلو لپاره ده ته سپارل شوې وه!! هغه دا کار ونه کړ؛ ښایي د دې لپاره چې د هغه مهال دوه وزیرانو؛ د دفاع او داخله وزیرانو؛ له دې طرحې سره مخالفت کړی وو؛ دا هغه څه دي چې حسن شرق، شهنواز تنې او ګلاب زوی پرې اعتراف کړی؛ منصوبه دا وه چې شوری نظار به هم له دې طرحې سره یو ځای کېږي؛ د همدې لپاره ډاکټر نجیب؛ د ګورباچوف په امر؛ تر څو میاشتو پورې دفاع وزارت؛ د احمدشاه مسعود لپاره تش پرېښی وو!! نن امریکایي ګانګریس مینان همدا ناکامه منصوبه پلي کول او بشپړول غواړي!!

دا د هر اشغالګر دائمي عادت وي چې په اشغال شوو سیمو کې لومړی اقتدار اقلیتونو ته سپاري؛ دا ځکه چې له قومي، اجتماعي او سیاسي پلوه وړوکې ډلې؛ پردیو ته ډېر مطیع وي، اقتدار ته په رسېدو کې هم د دوی مرهون وي، پر هغوی متکي او د اشغالګرو ځواکونو د مزید پاته کېدو غوښتونکي وي او د اکثریت په ضد له هغوی ښه استفاده کولی شي. که دې لومړني کار نتیجه ورنه کړه؛ نو بیا فیدرالي نظام رامنځته کوي؛ او اقلیتونو ته نیمه مستقلي سیمې په واک کې ورکوي؛ او که دا هم مؤثر ثابت نشو او له اشغالګرانو سره ئې د خپلو موخو په ترسره کېدو کې مرسته ونه کړه؛ نو بیا د تجزیې نسخه عملي کوي.

هر پوه افغان ته جوته ده چې فیدرالي نظام، د افغانستان په موجوده

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

ظروفو کې د هېواد له تجزیې پرته بله معنی او نتیجه نه لري، د یوه قوی نظام او ځواکمن ملي اردو په نشتوالي کې له فیدرالي نظام سره توافق په اصل کې د هېواد له وېش او تجزیې سره توافق دئ. هیڅ با احساس او وطنپال افغان؛ د فیدرالي نظام خبره نه کوي، مشبوه او مشکوکې او پردیو پوري تړلې کړی؛ د پردیو په وینا دا خبره کوي. هدف ئې د نورو هېوادونو په ګټه د افغانستان وېش دئ؛ نه ولایاتو ته د متناسب او مناسب واك او صلاحیت لېږدول.

د فیدرالي نظام پر ځای مور داسي نظام غوره او د ملي وحدت په ګټه ګڼو چې هر ولایت مقتدره ولایتي شوری ولري، په مرکزي شوری کې د خپل نفوس په تناسب غړي ولري؛ د هر ولایت خپل دولتي عوائد؛ لکه زکات، عشر او نور هغه مدارك او عوائد چې په مشخصه توګه په همغه ولایت پوري مربوط وي او د لویو کانونو او ګمرکي تعرفې په څېر ملي جنبه ونه لري؛ لومړی د اړوند ولایت پر مستحقینو او ضروري مواردو مصرف شي او پاته ئې مرکز ته انتقال شي. اسلامي لارښووني همدا غوښتنه کوي.

ملي اردو

په نظام کې د ملي اردو څرنګوالی او په ټولنې کې د هغه ونډه باید دقیقاً او د هېواد د موقعیت او د ټولنې د وضعیت له مخې مشخص شي. د افغانستان شرائط داسي دي چې د لاندې مشخصاتو اردو ته اړ یو:

۱- په خپلو ذاتي امکاناتو متکي محدود اردو، دومره چې په خپله ئې وپاللی او اکمال کړی شو.

۲- د اردو د اکمال په اړه باید پردیو ته له لاس اوږدولو ډډه وشي. د پردیو په مرستو جوړ شوی اردو یا د پردیو په خدمت کې وي، یا د پردیو شرائطو منلو ته اړ کېږي او یا په حساس وخت کې متلاشي کېږي او خپل شتون له لاسه ورکوي.

deenodanish.com څخه ښکته شوی له Deen-o-Danish

۳- په اردو زیاته تکیه نه ده په کار، ملت باید دفاع ته تیار کړو، د دفاع په کار کې باید ټول ملت برخه واخلي. باید د مکلفیت د دورې په اساس اردو جوړ کړو.

۴- اجړ اردو نه د افغانستان د شرائطو لپاره مناسب دئ او نه ئې د اکمال توان لري. د اردو یوازي هغه برخه باید دائمي وي چې بل بدیل ورته نه لرو؛ لکه افسران، پیلوټان، انجنیران، کوماندو، خاص قطعات او طبي پرسونل.

۵- ځیني د امریکایانو او انګرېزانو په مرسته د اردو روزنه او اکمال غواړي، خو ومولیدل چې دا اردو د امریکایانو تر قومندې لاندي د ملت په خلاف وجنګول شو. ځیني د اردو د اکمال لپاره مسکو ته لاس لمن اوږدوي، په داسي حال کې چې ومولیدل د روسانو په لاس روزل شوی اردو د ملت په ضد وجنګول شو.

۶- مورږ دعراق په سویه اردو نه شو جوړولی، خو ومولیدل چې دې اردو د امریکا د برید په وړاندي څومره او څو ورځي مقاومت وکړ او دا څوك وو چې د یرغلګرو په ضد وجنګېدل، اردو که ولس؟ اردو څو اونۍ مقاومت ونشو کړی خو ولسي جنګیالي تر هغه وجنګېدل چې د نفاق او کفر ګډه جبهه د دوی په ضد جوړه شوه؛ او په لسګونو زره ټنه باروت، بمونه او راکټونه ئې د عراق په سترو سترو او تاریخي ښارونو وورول. دا باید زمورږ او نورو لپاره لارښوونکي تجربه وي.

۷- دې ته ترجیح ورکوو چې هر څوك په خپل کور کې د وسلې ساتلو حق ولري؛ له کور بهر ایستل ئې د مجوز له مخي وي؛ د افغانستان ستراتیژیك موقعیت دا ایجابوي چې ټول ملت دفاع ته چمتو وي؛ هم وسله ولري او هم ئې د کارولو لازم مهارت او روزنه. دا له افغان ولس سره ستره او نه جبرانېدونکې جفا او لویه ګناه ګڼو چې ځینو د افغانانو د خلع سلاح کولو منصوبه پلې کړه؛ دا د دښمنانو په ګټه او غیر اسلامي

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

عمل وو؛ د ناټو لومړی کار همدا وو چې افغانان خلع سلاح کړي؛ دا د ډې ډې آر پر پروژې د دوی د پراخو لګښتونو موخه همدا وه چې وسله یوازې د هغو لاس کې وي چې دوی ئې غواړي او د ولس له لوري د دفاع او مقاومت امکانات د تل لپاره له منځه یوسي؛ په کومې ټولنې کې چې ولس له ځان د دفاع توان نه لري؛ هلته شریرو کړیو او جنایتکارانو ته دا مجال او فرصت په لاس ورشي چې غیر قانوني وسلې تر لاسه او د ولس پر عزت، مال او سر د تېري جسارت وکړي او هیڅوک ئې مخې ته ودرېدی نشي؛ حکومتونه که هر څومره ځواکمن وي؛ نشي توانېدی چې په ټول هېواد کې ډاډمن امنیت تأمین کړي؛ متحده ایالات؛ سره له دې چې ستر فوځ لري، په لکونو امنیتي ځواکونه او ستري ستري استخباراتي شبکې لري؛ په لکونو امنیتي تجهیزات لکه کامرې او د غږ ثبتولو وسائل په واک کې لري؛ ټلفوني ارتباطات کنټرولوي، له زمکې او فضاء خپل ښارونه څاري؛ بیا هم مجبور شوي چې خلکو ته د وسلو ساتلو مجوز ورکړي.

تعلیمي نظام؛ مدرسه او مکتب

همدا راز په نظام کې باید د تعلیم او تربیې څرنګوالی داسي وي چې:

- د افغان ولس په معتقداتو ولاړ وي، په غېږ کې ئې باایمانه، باهمته، سرلوړي او وطنپال زده کوونکي وروزل شي.
- په هېواد کې باید یوازې یو تعلیمی نظام رائج وي نه مختلف تعلیمي نظامونه او نصابونه. مختلف نصابونه او مختلف تعلیمی نظامونه د شخړو او اختلافاتو باعث ګرځي او د ملا او مکتبي جنګ راولاړوي.
- مدرسه او مکتب باید سره مدغم شي.
- تر دولسم پورې باید نصاب داسي وي چې هر زده کوونکی هم کافي او ضروري ديني زده کړه وکولی شي او هم له نورو ضروري علومو کافي زېرمه ترلاسه کړی شي. داسي چې په اختصاصي دوره کې هم ډاکټر او انجنیر

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

د دين په ټولو ضروري مسائلو پوه وي او هم قاضي او امام په ټولو ضروري انساني علومو مجهز وي.

- له دولسم وروسته بايد د تخصص دوره پيل شي، ځينې په ديني او شرعي علومو کې تخصص ترلاسه کړي او ځينې د طب، انجنيري، ساينس او نورو علومو په برخه کې.
- تعليمي نظام په مکتب او مدرسې وېشل؛ د انګرېزانو منصوبه وه؛ په دې سره وتوانېدل چې دين او ملا؛ په جومات کې محصور او محدود کړي؛ او ټولنه په مجموع کې او ټولې چارې ئې هغو ته په لاس ورکړي چې د دوی د خوښې تعليمي مراکزو کې روزل کېږي؛ د دواړو تعليمي نصاب هم داسې چې د ملا او مکتبي په جنګ منتج شي؛ په ديني مدرسو کې روزل شوی طالب بايد په وظيفې، خيرات، صدقات، او چندې وروزل شي؛ هر سحر او ماښام بايد د خلکو دروازه وټکوي او ډوډۍ راغونډه کړي او چې فارغ شي او د کوم جومات امامت ترلاسه کړي؛ بيا به هم د لمونځ کوونکو مرستو ته ستړګې په لار وي!! اما د مکتب متعلم د درس تر پايه؛ نه چا ته طمع او سؤال کوي او نه د چا دروازه ټکوي؛ ډاکټر، انجنير، مأمور، مدير، ولسوال، والي، وزير، سفير، پوليس، افسر او قومندان شي.

يقيناً چې دا انګرېزي تعليمي نظام؛ د دين او عالم د سپکولو لپاره رامنځته شوی؛ بايد تعويض شي.

د تعليمي نصاب په اړه دا هم ضروري برېښي چې ووايو:

د کليوالو مدرسو نصاب داسې وو او دئ چې پښتو، فارسي، تاريخ او جغرافيه او نور ضروري ورځني علوم نه په کې لوستل کېږي، د حديث له کتابونو يوازې مشکوٰة لولي او هغه هم د تبرك لپاره، په تفسيرونو کې د جلالين مختصر تفسير لولي خو د صرف او نحوي د تمرين لپاره او هغه هم د درسونو په پاى او لويه دوره کې، بخاري نه لوستل کېږي؛ دا ځکه چې امام بخاري رحمه الله له امام ابوحنيفه رحمه الله سره اختلاف درلود، قاعده

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

بغدادي، صرف، نحو، شرح مأته عامل، خلاصه كيداني، قدوري، كنز، عقائد نسفي، منطق ... د دغو مدرسو عمده او اساسي كتابونه دي، په دې نصاب كې د صرف او نحوي څو ابتدائي كتابونه او د فقهي څو مختصر كتابونه، د يونان د زړې او تاريخ وهلې فلسفې او منطق په څنګ كې لوستل كېږي، هغه فلسفه او منطق چې نه د چا د دنيا په درد خوري او نه د آخرت، خو پدغو مدرسو كې همدا له موډه لوېدلې فلسفه او منطق تر ټولو نورو مضامينو مهم ګڼل كېږي. دا په داسي حال كې چې پيغمبر عليه السلام؛ ابو ذر غفاری، بلال حبشي، صهيب رومي او سلمان فارسی ته هم د قرآن درس وركولو؛ پداسي حال كې چې نه په ليك لوست پوهېدل، نه ئې صرف او نحو او د يونان فلسفه او منطق لوستلی وو!! خو متأسفانه يو وخت زمونږ په محلي او كليوالو ديني مدرسو كې د قرآن له تدريس سره حساسيت ښودل كېدو او مخالفت ئې كېدو؛ هغه عالم ته به ئې د شك په سترګه كتل چې د قرآن تفسير او د احاديثو تدريس به ئې كولو، كه به چا په لويه دوره كې د قرآن تدريس جائز ګڼلو نو هلته به هم په قرآن كې نحوه لوستل كېده او تر هر څه زيات به په نحوي تحقيق تركيز كېدو!!

كاش طالبانو د خپل اقتدار په دوران كې يو جامع تعليمي نصاب جوړ كړی وی، مدرسه او مكتب ئې سره مدغم او يو واحد تعليمي نظام ئې رامنځته كړی وی، دا كار دومره ستر او مهم دئ چې د طالبانو د دنيا او آخرت لپاره كافي وو، البته طالبان له ډېرو ستونزو او پراخي اوږدې جګړې سره مخامخ وو؛ داسي مهمو كارونو ته فارغ نه شول. متأسفانه ځيني خلك په دې نه پوهېږي چې دا دوه ډول تعليمي نظامونه د استعمار د وخت پاته شوني دي او د دښمن له لوري پر مسلمانانو تحميل شوي، د ملا او مكتبي د جنګولو لپاره، د دين او ملا د تحقير او سپكاوي لپاره، د دې لپاره چې له مدرسې بايد د جومات داسي امام فارغ شي چې په هر څه كې خلكو ته محتاج وي، د خلكو دراوزو ته په ودرېدو مجبور وي، ډوډۍ، جامه او

deenodanish.com څخه ښكته شوی Deen-o-Danish

معیشت ئې د وظیفو، صدقاتو او خیراتونو له لاري تأمین شي، خو له مکتب به والي او وزیر وځي، معاش، کور او موټر به دولت ورکوي، د شرعیاتو له پوهنځي به قاضي وځي او د حقوقو له پوهنځي ولسوال، والي، سفیر، وزیر او څارنوال، مور غواړو دا حالت پای ته ورسوو، تر دولسم پوري باید په ټولو زده کوونکو یو عام او مشترك نصاب ولوستی شي، په دې ګډ نصاب کې هم باید د دیني علومو کافي برخه وي او هم د ساینسي علومو او د تاریخ، جغرافیې او ضروري ژبو مناسبه او اړینه برخه، له دولسم وروسته باید د تخصص دوره پیل شي، چې په دې دورې کې به ځینې د دیني علومو پوهنځیو ته ځې، ځینې طب، انجنیري، زراعت او نورو پوهنځیو ته، د حقوقو په نامه هغه پوهنځی چې غربي حقوق په کې لوستل کېږي، دا باید د شرعیاتو په پوهنځي کې مدغم شي، هلته به غربي حقوق یوازې له اسلامي حقوقو سره د مقارنې لپاره لوستل کېږي.

په دې سره به د ملا او مکتبي تر منځ اختلاف د تل لپاره پای ته ورسېږي، مور غواړو مکتب او مدرسه سره توحید کړو او د هېواد لپاره واحد تعلیمي نظام او واحد تعلیمي نصاب ولرو، داسي چې ډاکټر، انجنیر، والي او څارنوال مو په دین پوه وي او د جومات امام مو په ساینس او ورځنې علومو، مکتبي د ملا په اړه ونه وایي چې بې علمه او له دنیا بې خبره دئ او ملا د مکتبي په اړه ونه وایي چې بې دینه او ملحد دئ. له مکتب او پوهنتون سره حساسیت، له تعلیم او تربیې؛ د نجونو محرومول، د مکتب او مدرسې د توحید او د یوه جامع تعلیمي نصاب د جوړولو په ځای پداسي مدرسو او نصاب ټینګار چې نه د طالب آخرت ښېرازه کولی شي او نه دنیا، نه د قرآن، حدیث، اسلامي تاریخ، د هېواد تاریخ، لیك او لوست ښودنه په کې کېږي او نه د ورځني ژوند د ضروري علومو زده کړه، ... دا ستر ستر اشتباهات دي چې ځینې پرې اخته دي او عواقبو ته ئې متوجه نه دي.

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

آيا عيسى عليه السلام يو غيرسياسي پيغمبر وو؟

هغه چې ګمان کوي او د مسخه شوي مسيحيت اوسني وضعيت ته په پام سره وايي: د عيسى عليه السلام دين غيرسياسي وو؛ غلط شوي او دروغ وايي؛ د عيسى عليه السلام دين همدا د محمد عليه السلام دين وو، لکه چې محمد عليه السلام د قريشو له حاکم نظام او په سر کې ئې له ابوجهل سره مخامخ وو؛ همداسي عيسى عليه السلام؛ د خپل دور له رومي حکامو سره په مبارزه بوخت وو، د رومي حکامو تر تعقيب لاندي وو، د هغه د نيولو او وژلو په لټه کې ول، د خپلې سيمې پرېښودو ته اړ شو، له خپلو حواريونو او پلويانو ئې وغوښتل چې مبارزې ته چمتو شي او د ده ملګرتيا وکړي، مجبور شو ځنګله ته پناه يوسي، له دولسو ملګرو ئې يوه ورسره خيانت وکړ، د ده پناه ځى ئې د يهودو مذهبي مشرانو له لارې رومي واکمنو ته افشاء کړ، له رومي عسکرو سره يو ځاى؛ ځنګله ته ولاړ او هغه ئې په لاس ورکړ.

څوك چې په قرآن باور او ايمان لري؛ هغوى ته وايو: که د قرآن وينا او قضاوت د عيسى عليه السلام، پر ده د نازل شوي کتاب انجيل او بني اسرائيلو ته د ده د دعوت او مبارزې د څرنګوالي په اړه منځ نو د قرآن وينا په دې اړه دا ده چې عيسى السلام يو مجاهد وو؛ د رومي حکامو په ضد ئې مبارزه کړې او خپل پلويان او امت ئې د هغوى خلاف مبارزې ته بللي. قرآن خو په هغه ځاى کې چې مؤمنان د الله په لار کې د خپل مال او سر په بيع جهاد ته بلي نو هغوى ته وايي: د عيسى عليه السلام او د هغه د حواريونو او نږدې ملګرو په څېر د الله تعالى انصار شئ، او د هغه په لار کې جهاد وکړئ. يعني عيسى عليه السلام يو مجاهد وو او حواريون ئې انصار او د الله تعالى د لارې مجاهدين!!

قرآن فرمايي:

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ كُونُوٓاْ أَنصَارَ ٱللَّهِ كَمَا قَالَ عِيسَى ٱبۡنُ مَرۡيَمَ

deenodanish.com له Deen-o-Danish څخه ښکته شوی

لِلۡحَوَارِيِّـۧنَ مَنۡ أَنصَارِيٓ إِلَى ٱللَّهِۖ قَالَ ٱلۡحَوَارِيُّونَ نَحۡنُ أَنصَارُ ٱللَّهِۖ فَـَٔامَنَت طَّآئِفَةٞ مِّنۢ بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ وَكَفَرَت طَّآئِفَةٞۖ فَأَيَّدۡنَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ عَلَىٰ عَدُوِّهِمۡ فَأَصۡبَحُواْ ظَٰهِرِينَ ١٤ الصف: ١٤

اې هغو چې ايمان ئې راوړی! د الله انصار شئ، همغسي لکه چې د مريمې زوی عيسی حواريونو ته وويل: څوك مي د الله لوري ته ملتيا كوونكي دي؟ حواريونو وويل: موږ د الله انصار يو، نو د بني اسرائيلو يوې ډلې ايمان راوړ او بلې ډلې كفر وكړ، نو هغه مو د خپلو دښمنانو په خلاف تأييد كړل چې ايمان ئې راوړی وو، نو دوی غالب شول.

دلته مؤمنانو ته په خطاب كې ويل شوي:

- د خپل پيغمبر داسي ملتيا وكړئ لكه چې د عيسی عليه السلام حواريونو د هغه ملتيا وكړه، د دې معنی دا ده چې عيسی عليه السلام او د ده نړدې ملګرو جهاد كړی، دا جهاد په مال او نفس جهاد وو، ځكه په همدې لړ كې او د يوې تاريخي بېلګې په توګه د هغه يادونه شوې، متأسفانه ځيني د محرف بايبل د غلطو ويناوو تر اغېز لاندې؛ د عيسی عليه السلام په اړه داسي څه وايي چې ګواكې هغه نه يوازي كوم جهاد نه دئ كړی بلكې خپلو پلويانو ته ئې ويلي: كه چا د مخ په ښي لوري څپېړه دركړه؛ نو كېڼ لوری هم وروړوه!! بايبل وايي چې عيسی عليه السلام وويل: ويل شوي: كه چا د بل سترګه ورړنده كړه؛ سترګه به ئې ورړندېږي، او كه چا د بل غاښ مات كړ غاښ به ئې ماتېږي، خو زه وايم: كه چا تېری درباندې وكړ مقابله ئې مه كوه، حتی كه په ښي مخ ئې څپېړه دركړه؛ كېڼ مخ هم وروړوه، كه چا غوښتل د دې لپاره دي محكمې ته بوځي چې كميس دي درنه واخلي؛ خپله عبا هم وركړه، كه يو رومي عسكر درته ووايي چې دا بار تر يوه ميله يوسه؛ ته ئې تر دوه ميله ورسره يوسه!! تاسو اوږدلي چې له دوستانو سره

له deenodanish.com څخه ښكته شوی Deen-o-Danish

دوست اوسه او له دښمنانو سره دښمن، خو زه درته وایم: له خپلو دښمنانو سره مینه وکړئ!!

دا ویناوي قطعاً له ديني لارښوونو سره اړخ نه لګوي، ظلم ته تسلیمېدل او تېري ته غاړه ایښودل؛ نه یوازي له الهي لارښوونو سره سمون نه خوري؛ بلکي له هغو فطري غوښتنو سره هم اړخ نه لګوي چې الله تعالى د ټولو ژوو په خټه کې ایښې، له خپل ځان دفاع او د تېري مقابله کول یو فطري او د ژوند د بقاء لپاره یو ضروري عنصر دئ، الله تعالى هیڅکله انسان په داسي کار نه ګماري چې د ده د جِبلت او فطرت خلاف وي، له دې علاوه هغه څوک چې ظلم ته غاړه ږدي او ظالم ته سر ټیټوي؛ نه یوازي په خپل ځان ظلم کوي او ظالم ته جسارت ورکوي؛ بلکي په نورو هم ظلم کوي؛ ده ظالم ته دا جرأت ورکړ چې په نورو هم تېرى وکړي.

آیا د چا عقل دا خبره مني چې د عیسى علیه السلام په څېر یو عظیم لارښود، مرشد، مصلح او د شرك، ظلم او بې عدالتۍ په ضد لېږل شوی ستر پیغمبر به خلکو ته ویلي وي چې د رومي بې رحمو عسکرو په وړاندي داسي منقاد او مطیع اوسئ چې که درته وئې ویل: دا بار تر یوه میله یوسه؛ ته ئې تر دوه میله ورسره یوسه!! دا خبره خو له سرکاري مفتیانو او د ظالمانو په خدمت کې بوخت دین پلورونکو مذهبي مشرانو سره ښایي؛ نه له پیغمبرانو علیهم السلام سره!! راشئ وګورئ چې زمونږ ګران پیغمبر علیه السلام په دې اړه څه فرمایي:

عن أبي هريرةَ قال: جاء رجلٌ إلَى رسولِ اللهِ - صلى الله عليه وسلم - فقالَ: يا رسولَ اللهِ أرأَيتَ إن جاءَ رَجُلٌ يُريدُ أخذَ مالِي؟ قال: "فلا تُعطِه مالَكَ". قال: أرأَيتَ إن قاتَلَنِي؟ قال: "قاتِلْه". قال: أرأيتَ إن قَتَلَنِي؟ قال "فأَنتَ شَهيدٌ". قال: أرأيتَ إن قَتَلتُهُ؟ قال: "فهو في النّارِ". رَواه مسلمٌ

له ابوهریره رضي الله عنه روایت دئ چې یو سړی رسول الله صلى الله عليه

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

وسلم ته راغی او وئې ويل: يا رسول الله! د هغه چا په اړه څه وايي چې راشي او غواړي زما مال رانه اخلي؟ وئې فرمايل: خپل مال مه ورکوه، وئې ويل: که جګړه ئې راسره کوله؟ وئې فرمايل: ورسره وجنګېږه، وئې ويل: که ئې ووژلم؟ وئې فرمايل: نو ته به شهيد وې، وئې ويل: که مي هغه ووژلو؟ وئې فرمايل: هغه به په اور کې وي.

زمور ايمان او عقل خو دا خبره نه مني چې زمور د پيغمبر عليه السلام د ورور عيسى عليه السلام؛ خبره به دې ته ورته نه وه او له دې پرته به بل څه وه.

عيسى عليه السلام ته په منسوب قول کې له دښمنانو سره دوستي او مينه کول په داسي عامه صيغه ذکر شوي چې لازم دقت نه دئ په کې مراعات شوی، ټول دښمنان يو شانته نه دي، له ټولو سره ورته معامله نه شي کېدی، ځيني دښمنان داسي دي چې له هغوی سره دوستي کول له الله تعالی سره د دښمني کولو په معنی ده، د خدای او د هغه د دين له دښمنانو سره دوستي کول؛ د ايمان منافي او د الله تعالی د غضب وړ کار دئ؛ د منافق، مفسد او فاسق احترام کول او له هغوی سره دوستي پالل؛ هغه کار دئ چې هيڅ پيغمبر او هيڅ الهي کتاب ئې سپارښتنه نه کوي!!

قرآن فرمايي چې ټول الهي اديان د منهج او لارښوونو له پلوه سره ورته دي:

شَرَعَ لَكُم مِّنَ الدِّينِ مَا وَصَّى بِهِ نُوحًا وَالَّذِي أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ وَمَا وَصَّيْنَا بِهِ إِبْرَاهِيمَ وَمُوسَى وَعِيسَى أَنْ أَقِيمُوا الدِّينَ وَلاَ تَتَفَرَّقُوا فِيهِ كَبُرَ عَلَى الْمُشْرِكِينَ مَا تَدْعُوهُمْ إِلَيْهِ اللَّهُ يَجْتَبِي إِلَيْهِ مَن يَشَاء وَيَهْدِي إِلَيْهِ مَن يُنِيبُ ﴿١٣﴾ الشورى: ١٣

تاسو ته ئې د دين هغه طريقه ټاکلې چې نوح ته ئې د هغې سپارښتنه کړې

deenodanish.com خخه ښکته شوی له Deen-o-Danish

وه او هغه چې تا ته مو وحي کړې، او هغه چې ابراهیم، موسی او عیسی ته مو د هغې سپارښتنه کړې وه، او هغه دا چې دین قائم کړئ او په هغه کې مه متفرق کېږئ، مشرکینو ته هغه څه (منل) ګران دي چې ته ئې وربلې، الله هغه څوک خپل لوري ته غوره کوي چې دی ئې غواړي او هغه څوک هدایتوي چې د ده لوري ته انابت کوي.

د دې مبارکو آیتونو لارښوونې دا دي:

- الله تعالی تاسو ته همغه ديني تګلاره ټاکلې چې نوح علیه السلام ته ئې د هغې سپارښتنه کړې وه او اوس ئې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته د وحي له لارې ښودلې؛ همغه چې ابراهیم، موسی او عیسی علیهم السلام ته ئې د هغې سپارښتنه کړې وه، ټولو ته د الله تعالی سپارښتنه دا ده چې دین قائم او حاکم کړئ او په هغه کې مه متفرق کېږئ.

د دې معنی دا ده چې الله تعالی ټول پیغمبران او د دوی امتونه په دوو اساسي خبرو ګمارلي:

۱- د دین اقامه،

۲- او له مذهبي او ديني اختلاف ځان ساتل.

دلته له یوې خوا دغه دوه خبرې د هغې وحي خلاصه ښودل شوې چې د الله تعالی له لوري ټولو پیغمبرانو ته شوې، او له بلې خوا د ټولو انبیاوو شریعت او تګلاره یو شانته ګڼل شوې. دلته داسي نه دي ویل شوي چې په دین عمل وکړئ، بلکې ویل شوي چې دین قائم کړئ، د دې دواړو خبرو تر منځ ژور توپیرونه شته، په دین د عمل کولو معنی دا ده چې هر څوک په خپل شخصي ژوند کې همغه څه وکړي چې دین پرې مأمور کړی؛ خو (د دین قائمولو) معنی بېله ده او تر دې ډېر پراخ ابعاد لري، معنی ئې دا ده چې دین حاکم کړئ، په دین ولاړه ټولنه جوړه کړئ، داسي ټولنه چې هلته دین حکومت کوي، دا د ټولو پیغمبرانو علیهم السلام اساسي او لومړنۍ دنده وه،

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

له نوح علیه السلام تر محمد علیه السلام پورې؛ ټول پیغمبران په همدې ګمارل شوي وو، له دوی سره د مستکبرینو د مخالفت اساسي وجه هم؛ دغه وه، که دوی خلکو ته یوازې دا ویلی چې ځان اصلاح کړئ او د ټولني په ښه او بد کار مه لرئ، دا هڅه مه کوئ چې ستاسو پر ټولني دین په بشپړه توګه حاکم شي؛ نو هیڅکله به د حاکمو ځواکونو له جدي او شدید مخالفت سره نه مخامخ کېدل. همداراز د دوی د دوهم مأموریت معنی دا ده چې دا یو اجتماعي مأموریت دئ؛ وحدت او یوالی ایجابوي؛ دین د تفرق مخالف دئ؛ د دین خاوندان په دې مکلف کوي چې په یوه صف کې به راغونډېږي او له بېل بېل اوسېدو به ډډه کوي. همدا په دین کې له اختلاف او تفرق ډډه کول؛ د ټولو پیغمبرانو او د دوی د امتونو دوهم اساسي مأموریت دئ؛ حقیقت دا دئ چې الهي دین یو دئ، د ټولو پیغمبرانو شریعت او تګلاره یوه ده، دا تګلاره دوه رنګي نه قبلوي، محمد علیه السلام او د ده امت په همغه څه ګمارل شوي چې مخکني پیغمبران او د دوی امتونه پرې ګمارل شوي وو، هیڅ تفرق ته شرعي مبنی او توجیه نه شو موندلی؛ قرآن وایي چې دیني او مذهبي تفرق او اختلاف عمداً رامنځته شوی او هغو رامنځته کړی چې دوه ځانګړتیاوي ئې وې: غولوونکی علم ئې درلود او همدا علم ئې د نورو پر حقوقو د تېري لپاره کارولی.

- مشرکینو ته د هغه څه منل ګران دي چې ته ئې وربلې، چې هغه دین په بشپړه توګه قائمول او له تفرق ډډه کول دي. د هغوی هره ډله ځانته ځانته معبود لري، بېل بېل مذهب لري، د یوه رب او یوه دین او یوې تګلاري منل ورته ګران دي، له تا سره ئې د مخالفت سترہ وجه همدا ده.
- الله هغه څوک خپل لوري ته غوره کوي او د ده په لاري او د ده لوري ته د تلو توفیق ورکوي چې دی ئې غواړي او هغه څوک هدایتوي چې د ده لوري ته انابت کوي، او د دې معنی دا ده چې الهي لارښوونه د هغه چا په برخه کېږي چې د الله تعالی په لاري د تلو وړتیا او هوډ لري.

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

اسلام او رهبانیت

رهبانیت یعنی له دنیا او دنیایي چارو لاس اخیستل، له خلکو ګوښه کېدل او له دوی لري په کوم معبد کې په اذکارو او اورادو مشغولتیا؛ یعني په سیاسي او اجتماعي چارو کې مداخله نه کول؛ راشئ وګورو چې اسلام د رهبانیت په اړه څه ویلي، دا ستونزه او بدعت کله او د چا له لوري رامنځته شوې؟

حقیقت دا دئ چې حقیقي مذهب؛ تل د رهبانیت له ستونزي سره مخامخ شوی؛ د ژوندانه له حادو جریاناتو انزوا او غاړې ته کېدل، د ټولنېزو چارو په تنظیم او سمبالولو کې له فعال حضور ډډه کول، د خانقاه په کنج او د جومات او محراب په حصار کې د دین زنداني کول او په اورادو او اذکارو کې د مذهب خلاصه کول، هغه مصیبتونه او آفتونه دي چې د حق دین تل ورسره مخامخ شوی. پداسي حال کې چې دین تل له "شیطان" او "فرعون" سره په یوه وخت او هممهاله مبارزه کړې، د دنیا او آخرت ترمنځ ئې همغږي پیدا کړې او انسان ته ئې ویلي: دنیا دي جوړه کړه چې آخرت دي خراب نشي، ښه دنیا دي د ښه آخرت مقدمه ده، که دنیا دي خرابه وه په آخرت کې دي ځای جهنم دئ. حقیقت دا دئ چې په دنیا کې ستا کړنې یا د جنت قصرونه او باغونه جوړېږي او یا د دوزخ کندي او لمبې. خو ځینې راشي؛ له فرعون او نمرود سره د مقابلې توان او همت په ځان کې نه ګوري، د شر او فساد له ځواکونو سره د مبارزې او د خپلې دنیا او ټولنې د بدیو د اصلاح شهامت په ځان کې نه مومي؛ د دین دا برخه یوې خوا ته پرېږدي، یوازي د آخرت په برخې پورې وښلي (ونښلي)، له خلکو او له هغه څه چې په ټولنه کې ئې تېرېږي واټن نیسي او له نفس سره په جهاد اکتفاء او بسنه کوي، غواړي لدې لارې خدای ته ورسېږي او خپل آخرت جوړکړي، دوی نه پوهېږي چې خدای ته د رسېدو لار د خلکو له منځه تېرېږي، باید د خلکو

deenodanish.com څخه ښکته شوی له Deen-o-Danish

په خوا کې د خدای عبادت وکړو، باید ټوله زمکه عبادتځی وګرځوو او هره شپبه او د ژوندانه په ټولو اړخونو کې د خدای بندګان واوسو، عبادت یوازې ذکر، تسبیح، اوراد، رکوع او سجده نه دئ، عبادت یعنی هسې "اوسېدل" چې خدای امر کړی او همغسې ژوند کول چې دین ئې ښودنه کړې، نه پوهېږي چې د اسلام پیغمبر صلی الله علیه و سلم فرمایي: زموږ د دین رهبانیت جهاد دئ؛ نه پوهېږی چې رهبانیت په واقع کې هغه بدعت دئ چې خدای پرې امر ندئ کړی.

قرآن فرمایي:

... وَرَهْبَانِيَّةً ٱبْتَدَعُوهَا مَا كَتَبْنَٰهَا عَلَيْهِمْ.... الحدید: ۲۷

او هغه رهبانیت چې پخپله ئې ابداع او رامنځته کړ، موږ پرې نه وو لازم کړی.

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ أَنَّ رَجُلًا جَاءَهُ فَقَالَ أَوْصِنِي فَقَالَ سَأَلْتَ عَمَّا سَأَلْتُ عَنْهُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ قَبْلِكَ أُوصِيكَ بِتَقْوَى اللَّهِ فَإِنَّهُ رَأْسُ كُلِّ شَيْءٍ وَعَلَيْكَ بِالْجِهَادِ فَإِنَّهُ رَهْبَانِيَّةُ الْإِسْلَامِ وَعَلَيْكَ بِذِكْرِ اللَّهِ وَتِلَاوَةِ الْقُرْآنِ فَإِنَّهُ رَوْحُكَ فِي السَّمَاءِ وَذِكْرُكَ فِي الْأَرْضِ. رواه احمد

له ابوسعید الخدري رضی الله عنه روایت دئ چې یو سړی ئې خوا ته راغی او وئې ویل: ما ته توصیه وکړه، وئې ویل: په همدې اړه مي له رسول الله صلی الله علیه و سلم پوښتلي؛ تا ته له الله د وېرې سپارښتنه کوم چې د ټولو چارو سر(رأس) دئ، باید جهاد وکړې چې جهاد د اسلام رهبانیت دئ او د خدای ذکر او د قرآن تلاوت خپله مشغولتیا کړه چې په آسمان کې دي د خوشحالۍ وسیله او په زمکې کې دي په نېکه یادېدل دي.

په اسلام کې هیڅ رهبانیت نشته؛ د دې دین رهبانیت د خدای په لار کې

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

جهاد دئ، د خدای په لار کې د کور کلي پرېښودل او په سنګر کې اوسېدا؛ دا دئ زمونږ د دین رهبانیت.

مګر هغه دي نه دي اورېدلي چې پیغمبر علیه السلام؛ له یوې غزوې د راګرځېدو په مهال؛ هغه صحابي ته څه ځواب ورکړ چې غوښتل ئې رسول الله صلی الله علیه و سلم اجازه ورکړي؛ په یوې ګوښې او آرامه دره کې؛ د یوې ښکلې وړې چینې خوا ته؛ یوازې پاته شي او د خدای عبادت او بندګي وکړي؟!! ځواب په دې روایت کې ولولئ:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ مَرَّ رَجُلٌ مِنْ أَصْحَابِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِشِعْبٍ فِيهِ عُيَيْنَةٌ مِنْ مَاءٍ عَذْبَةٌ فَأَعْجَبَتْهُ لِطِيبِهَا فَقَالَ لَوِ اعْتَزَلْتُ النَّاسَ فَأَقَمْتُ فِي هَذَا الشِّعْبِ وَلَنْ أَفْعَلَ حَتَّى أَسْتَأْذِنَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ ذَلِكَ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لَا تَفْعَلْ فَإِنَّ مُقَامَ أَحَدِكُمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَفْضَلُ مِنْ صَلَاتِهِ فِي بَيْتِهِ سَبْعِينَ عَامًا أَلَا تُحِبُّونَ أَنْ يَغْفِرَ اللَّهُ لَكُمْ وَيُدْخِلَكُمُ الْجَنَّةَ اغْزُو فِي سَبِيلِ اللَّهِ مَنْ قَاتَلَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَوَاقَ نَاقَةٍ وَجَبَتْ لَهُ الْجَنَّةُ * رواه الترمذی

له ابو هریره رضی الله عنه روایت دئ چې د رسول الله صلی الله علیه و سلم له یارانو یو سړی له یوه داسي ناو تېرېدو چې د خوږو اوبو یوه وړوکې چینه ئې وه، خوښه ئې شوه او وئې ویل: کاش له خلکو ګوښه شوی وی او په دې ناو کې (د عبادت لپاره) اوسېدی او داسي به ونکړم تر هغه چې له رسول الله صلی الله علیه و سلم اجازه واخلم، دا ئې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته یاده کړه، و ئې فرمایل: داسي مه کوه، ځکه ستاسو د یوه تن مقام؛ د الله په لار جهاد کې؛ تر هغه اویا کاله لمانځه غوره دئ چې په خپل کور کې ئې کوي، آیا نه غواړئ خدای مو (د جهاد په وسیله) وبخښي او جنت

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

ته مو ننباسي؟ د خدای په لار کې وجنګېږئ؛ هغه څوک چې د اوښي دوه ځله لوشلو تر منځ ځنډ په اندازه؛ د خدای په لارکې وجنګېږي جنت ورته واجب شو.

اسلامي خلافت څنګه رامنځته کېدی شي؟

دا هم یوه مهمه موضوع ده چې که وغواړو؛ ټول اسلامي هېوادونه؛ متحد کړو؛ یو ستر متحد اسلامي خلافت جوړ کړو؛ چې یو او واحد ستر او ځواکمن مرکز ولري، کورنی او بهرنی سیاست ئې یو وي، دوست او دښمن ئې یو وي، د تېر اسلامي خلافت په څېر؛ په دې اړه مختلف نظریات وړاندې شوي؛ غوره ئې دا ده چې لومړی په ېلو ېلو اسلامي هېوادو کې اسلامي حکومتونه رامنځته شي، بیا د دوی د یووالي هڅه وشي او په لوی هېواد او خلافت کې ورو ورو مدغم شي.

که څه هم ستر ستر هېوادونه اکثراً د زور کارولو له لارې رامنځته شوي؛ خو که وغواړو په سوله ایزه توګه دې هدف ته ورسېږو؛ نو مناسبه طریقه ئې همدا ده. اروپایي هېوادو همدا لار غوره کړې؛ ګډ پارلمان ئې جوړ کړ، د منشي په نامه ئې د اتحادیې مشر وټاکلو، خپل داخلي او خارجي سیاستونه ئې توحید کړل، د یورو ګډه کرنسي ئې رامنځته کړه، د وېزې ضرورت ئې منتفي کړ او لګیا دي د مزید یووالي په لور درومي. تر دې وړاندې؛ جرمني، بریتانیا، فرانسې، روسیې ... د لویو امپراطوریو د جوړولو لپاره د جنګ او زور کارولو لار غوره کړه، د خونړیو او دوو نړیو والو جګړو باعث شول؛ چې په ترڅ کې ئې نږدې سل ملیونه انسانان ووژل شول؛ پرته له دې چې خپلو موخو ته ورسېږي.

د إسلامي خلافت د رامنځته کولو طبیعي او آسانه لار همدا ده.

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

تتمه

زه په پای کې ټول مخلص مسلمانان؛ هغه چې د اسلام او مسلمانانو په روان دردناك حالت ځوربږي، د اسلام عزت او غلبه او د مسلمانانو سرلوړي غواړي، په آزاد او مستقل افغانستان کې واقعي اسلامي نظام قائمول ئې د ژوند او مبارزې اصلي هدف دئ؛ دې ته رابلم چې یو بل ته د وروړۍ لاس ورکړي، په ګډه د دښمنانو مقابله وکړي، د راتلونکي اسلامي نظام د څرنګوالي په اړه په خپلو کې توافق وکړي، دا ژمنه وکړي چې هغه مسلمان امیر به مني او په اخلاص سره به بیعت ورسره کوي چې د افغان ولس اکثریت ئې د امارت لپاره اهل ګڼي، اقتدار ته د رسېدو لپاره به د مسلمان په ضد وسله نه کاروي، د امارت لپاره به یوازې یوه لار شرعي او جائز ګڼي چې هغه د مسلمانانو له لوري څرګند او بلا اکراه بیعت دئ، له نورو لارو به قدرت ته د رسېدو هڅه نه کوي، داسي حالت به راولي او داسي افغانستان به راتلونکي نسل ته په میراث پرېږدي چې په هغه کې به اقتدار د ولس امانت ګڼل کېږي، واکمنان به د شریعت تابع او د خلکو په خدمت کې وي، اقتدار به نه د چا منصوصي حق ګڼل کېږي او نه موروثي حق، هیڅ واکمن به نشي کولی چې مطلق العنان دیکتاتور تري جوړ شي، له ولس سره داسي معامله وکړي لکه له خپلو غلامانو او اسیرانو سره او په بیت المال کې هر راز تصرف د ځان مسلم حق وګڼي، داسي نظام چې په هغه کې د اقتدار لاس ته راوړو لپاره نه زور او وسله وکارول شي؛ نه یوه مرمۍ وویشتل شي او نه یو ځاځکی وینه توی شي.

مورږ ټولو مجاهدینو ته وایو چې سخته او اوږده جګړه په مخکې لرو، د نړۍ ټول کفري ځواکونه زمورږ او د ټول اسلامي امت په ضد متحد شوي، منافقین او روافض ئې هم په خوا کې ودرېدلي، د اسلامي نړۍ منافق او مفسد حکام ئې هم ملګرتیا کوي، سفر اوږد وګڼئ او له لوړو ژورو ډك،

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

یوازې د الله تعالی په فضل او پېرزوینه او په خپلو کې د یووالي په صورت کې دا اوږد سفر پلي کولی او سرمنزل ته رسېدلی شو، مه پرېږدئ چې مخکنۍ ترخې تجربې تکرار شي، د غلطو سیاستونو او ناسمو دریځونو په وجه مسلمانان په خپلو کې سکېل شي او یو د بل په ضد له کافرانو مرستې غوښتو ته ځان اړ وګڼي او همغه څه وشي چې نن ئې په خپل هېواد او د نړۍ په ډېرو نورو اسلامي هېوادو کې په خپلو سترګو ګورو!! الهي له دې حالته تا ته پناه درورو! ته په خپل فضل او مرحمت سره مسلمانان هدایت کړې او له دې بدې وضعې او دردناک حالت ئې وژغورې. آمین

سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أشهد أن لاَ إِلٰهَ إِلاَّ أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

فهرست

عنوان	صفحه
مقدمه	۱
دین او سیاست	۷
هر الهي دین په حقیقت کې یو سیاسي دین دئ	۸
قیادت	۱۰
قیادت د هر نهضت پیلامه	۱۷
قانون	۲۲
حکومت	۲۸
اول- موروثي زعامت:	۳۹
دوهم- د خواصو په خوښه او رأیه د امیر ټاکل	٤٥
دریم-د ولیعهد او ځای ناستي تعیین	٥١
بیعت تر امارت وړاندي دئ که وروسته؟	٦٠
آیا اقلیت دا حق لري چې د اکثریت پریکړه ونه مني؟	٦١
څلورم- آیا موجود خلیفه؛ کولی شي راتلونکی خلیفه وټاکي	٧١
پنځم- څو نوماندان ټاکل چې یو ئې تړې امیر شي	٧٤
شپږم-د تغلب او استیلاء له لاري قدرت ته رسېدل	٧٧
قرآن د خلیفه او ملك (پاچا) په اړه څه وایي؟	٧٩
د لومړي خلیفه تعیین څنګه وو؟	٨١
آیا عوام د امیر په ټاکلو کې د څه ویلو حق نه لري؟	٨٧
اووم- د زعیم ټاکلو په اړه د قرآن لارښوونه	٩٠

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

له هغو سره به څه کېږي چې له بیعت ډډه کوي؟.....۹۷
له چا سره به بیعت کوو؟.....۱۰۰
له دوهم امیر سره به څه کېږي؟.....۱۰۲
له باغیانو سره څه کېدی شي؟.....۱۰۳
د اسلامي نظام په اړه مختلف نظریات.....۱۰۵
ځیني وایي: د امارت لپاره موده ټاکل جائز نه دي!!.....۱۰۵
لومړي خلیفه هیڅکله امارت نه دئ غوښتی.....۱۱۳
په زور مسلط شوی امیر؛ دوزخي دئ!!.....۱۱٤
آیا د مشر لپاره موده ټاکل جائز دي؟.....۱۱۸
د مشر لپاره القاب.....۱۲۲
د مشر مواصفات؛ د شاه ولي الله رحمه الله له نظره.....۱۲٦
آیا ضروري ده چې امیر به قریشي وي؟.....۱۲۹
اسلامي شوری.....۱٤۲
آیا امیر د شوری د پرېکړو په مراعات مکلف دئ؟.....۱۵۰
د قرآن له نظره د غیراسلامي نظامونو شوری.....۱۵۹
آیا قرآن کافي او بشپړ نه دئ؟.....۱٦۲
آیا د امیر تر څنګ د صدراعظم ټاکل صحیح دي؟.....۱۷۵
که د صحابه وو په څېر شخصیتونه نشته! نو څه به کوو؟.....۱۷۹
آیا علي رضي الله عنه غدیر خم کې ځای ناستی ټاکل شوی؟.....۱۸۹
غدیر خم کې څه تېر شوي؟.....۱۹۸
آیا روایت د عقل په تله تللی شو؟.....۲۰٤
د اسلامي خلیفه او امیر اطاعت.....۲۰٦
په یوه وخت کې له دوو خلفاءو سره بیعت.....۲۰۸
د خلیفه او امیر عزلول.....۲۱۲

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

د امیر لپاره موده ټاکل ۲۱۷
متغلب څوك دئ؟ ۲۱۹
د مسلمان وژل په کومو حالتونو کې روا دي؟ ۲۲٤
آیا زمونږ وروستي حکومتونه متغلب حکومتونه وو؟ ۲۲٦
په قرآن کې د مشر او قائد مواصفات ۲۲۹
۱ـ امانت ۲۳٦
۲ ـ کفائه او لازم استعداد ۲۳۸
۳ ـ علم ۲٤۱
٤ ـ قائد باید د ولس لپاره قدوه او بېلګه وي ۲٤۳
٥ ـ یوازي له الله تعالی د اجر او بدلې طمع ۲٤٥
٦ ـ توکل ۲٥۰
۷ ـ شجاعت ۲٥۳
۸- د الله تعالی په لار کې د اذیتونو ګالل ۲٦۰
۹ ـ د خلکو د هدایت تلوسه او د ملګرو په اړه زړه سوی: ۲٦۲
۱۰ـ حساس ضمیر ۲٦٤
۱۱ـ فصاحت ۲٦٦
۱۲- مسلمان زعیم باید مصلح وي ۲۷۰
۱۳-عدالت او قسط ۲۷٥
مورږ څنګه نظام غواړو؟ ۲۷۹
پارلماني که صدارتي نظام ۲۸۷
اسلامي نظام که غربي جمهوریت؟ ۲۹۱
انتخابات ۲۹٥
ناسم تعبیر؛ د غلطي ادعاء بنسټ ۳۰۳
د امیر د عزل موجبات ۳۰۷

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

د عزل مرجع ۳۰۹
فيدرالي نظام ۳۱۰
ملي اردو ۳۱۲
تعليمي نظام؛ مدرسه او مکتب ۳۱٤
آيا عيسى عليه السلام يو غيرسياسي پيغمبر وو؟ ۳۱۸
اسلام او رهبانيت ۳۲٤
اسلامي خلافت څنګه رامنځته کېدی شي؟ ۳۲۷
تتمه ۳۲۸
فهرست ۳۳۰

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

د کتاب له متن

دا کتاب د هغو ۱۸ درسي حلقو د بحثونو او ســـــــؤال - ځواب مجموعه ده چې د دین او ســیاســـت تر عنوان لاندې؛ د حزب اســلامي په مرکزي دفتر کې او هره اونۍ دوه ځلي ترسره شــوې؛ هري حلقې یو نیم ساعت وخت نیولی، ګڼ شــمېر مینه والو پکې شرکت کړی؛ د بریا تلویزیون له لوري خپره شوې او دا دئ اوس د کتاب په بڼې کې خپرېږي.

د اسلامي نظام په اړه څو ابتدائي پوښتنې چې له هر مســلمان او غیر مسلمان سره شته؛ دا دي:

مشر به ئې څوک وي؟ مواصفات به ئې څه وي؟ د چا له لوري او د څومره مودې لپاره به غوره کېږي؟ صـــــلاحیتونه ئې کوم، مسئولیتونه ئې کوم او امتیازات ئې کوم دي؟

آیا څوک کولی شي امیر عزل کړي؟ د عزل موجبات ئـې کوم دي؟ د عزلولو صلاحیت ئې چا ته سپارل شوی؟ کومه مرجع به ئې عزل کوي؟ که شرائط د عزل فراهم شوو او یوشرعي امیر چې د بیعت له لارې تاکل شوی؛ د دې وړ وو چې هغه عزل شي؛ دا فیصــله به څوک کوي؟ که خلکو غوره کړی وي خو وروسته وګوري چې هغه د خپلو اجراءاتو او تصرفاتو، د عمر ډېروالي او زړښت، جسمي یا روانې تکلیف او بېمارۍ له کبله د زعامت وړ نه دئ او عزلول ئې وغواړي؛ څنګه به ئې عزلوي، څوک به ئې د عزلولو پرېکړه کوي؟



له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

ډیر ښه څخه ښکته شوی deenodanish.com له Deen-o-Danish